د علماو، طلباو، مقررینو او عامو مسلمانانو دپاره په مختلفو موضوعګانو

د تقریرونو یوه مُفصله، مُعتمده، علمي، او تحقیقي ذخیره

اصلاحي مدلل تقریرونه

# اِصلاحي

# مُدلل تقریرونه

شپږم جلد

تالیف
ابوالشمس مولانا نورالهدیٰ عفي عنه
مُدرس دارالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی، مردان

زیر اهتمام
کفایت الله ارماني
0344-9995990

مکتبه اعزازیه
محله جنګي پشاور

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797

دَ قرآن کریم، نبوي احادیثو او د امت د اَسلافو د قیمتي اقوالو، اِصلاحي نصیحتونو، عِلمي لطائِفو او د عِبرت نه ډَک زړه راښکونکو مُعتمدو واقعاتو په رڼا کښې. د معاشرې د اِصلاح، خَوفِ خُدا، د حقوق الله او حقوق العبادو اَهمیت او د دارینو د سَعادت او نیک بختئ په باره کښې. د علماؤ، طلباؤ، مُقرّرینو او عامو مسلمانانو د پاره یوه مفصّله مُعتَمَده عِلمي او تحقیقي ذَخِیره:

# اِصلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِیْرُوْنه

## جلد ٦

تالِیف

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی، مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د كتاب نوم: اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه جلد ٦

مؤلف: اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآنِ اكاخيل كالونى مردان

فون نمبر ٠٣٠٦ ٥٤٤٧١٧٤

كمپوزر: مؤلف پخپله

د چاپ كال: ١٤٣٩هــ ق ، ١٣٩٦هــ ش، مطابق ٢٠١٧ ء

نوټ: د كتاب ټول حقوق د مكتبه اعزازيه سره محفوظ دي

مكتبه اعزازيه

محله جنګي پښاور

زير اهتمام

كفايت الله ارماني

٠٣٤٤-٩٩٩٥٩٩٠

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سریزه ( د شپږم جلد )

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰی رَسُوْلِهِ الْكَرِيْم . اَمَّا بَعْد !

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ . اَلشُّكْرُ لِلّٰهِ . د الله جل جلاله په فضل و کرم او توفیق سره د " اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه " کتاب شپږم جلد هم د شپ و ورځ د محنت نه پس اوس پوره شو ، ستاسو په لاس کې دی .

اِنْ شَاءَ الله **همدغه سلسله به جاري ساتم** ، ځکه ډیرې اهمې موضوع ګانې اوس هم پاتې دي ، چې په راتلونکو جلدونو کې به یې شاملې کړم ، اُمید شته چې دغه جلدونه به ډیر زر د خطابت دې علمي میدان ته رااووځي .

ځکه چې کله ما ددې کتاب سره د مینه لرونکو اهلِ علمو دا نه ختمیدونکې شوق او جذبه اُوکته نو خپل څه ذاتي مصروفیات مې کم کړه ، او هغه وخت مې هم د کتاب تالیف ته ورکړو .

**خوشخبري** : اِنْ شَاءَ الله **اُووَم جلد** به هم په نزدې وخت کې رااُووځي ، په هغې کې به د مونځ ، روژې ، حج ، اخترونو ، جهاد او نورو اهمو موضوع ګانو باندې د فقهي مسائلو سره سره تفصیلي تقریرونه وي ، باقي پاتې موضوع ګانې به اِنْ شَاءَ الله په وروستې جلدونو کې اُولیکم . .

## د خوشحالۍ دویم خبر

په عربۍ او اُردو ژبه کې داسې کتابونه شته چې هغه د بې نُقطو حروفو او بې نُقطو کلماتو نه جوړ شوي دي ، خو د پښتو ژبې په دې دومره اُوږد تاریخ کې تر اوسه پورې چا داسې کتاب یا رساله نده لیکلې چې هغه ټوله رساله د بې نُقطو حروفو او بې نُقطو کلماتو نه جوړه شوې وي .

د الله ﷻ په فضل وكرم او مدد سره ما عاجز بنده په اول ځل باندې په پښتو ژبه کې د وعظ و نصیحت متعلق داسې رساله اولیکله چې په ټوله رساله کې د ټکي واله حرف نشته ، بلکه ټوله رساله مې د بې ټکو حروفو نه جوړه کړې ده ، چې دا د اسلام د خدمت سره سره د پښتو ژبې هم یو عظیم خدمت دی . نوم یې دی : " د عِلم او کماله ډکه رِساله "

ددې شپږم جلد په آخر کې مې د نمونې دپاره صرف اوله حصه رانقل کړې، نوره مکمل رساله به اِنْ شَاءَ الله ځان له چاپ شي .

الله تعالی دې دا ټول کتابونه په خپل دَربار کې قبول او منظور کړي ، او چا چې د مونږ سره د ظاهري وسائلو په برابرولو کې مرَسته کړې : که هغه د کتابونو اخیستل وي ، یا نور وسائِل برابرول وي ، نو د رِیا نه د بچ کیدو په خاطر د هغوی نوم نه اَخلم خو الله تعالی دې دوی ټولو ته ددې اَجر په دواړه جهانه ورکړي ، رَبِّ کائنات دې د دوی په مال اَولاد او عُمر کې برکت واچوي . او الله ربّ العزت دې دا ټول کتابونه د معاشرې د اِصلاح سبب او ګرځوي.

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن .

په خصوصي دُعاګانو کې مې مه هیرَوئ .

ستاسو د دُعاوُ اُمید وار :

**ابوالشمس نُورُالهدٰی عفی عنه**

**نوټ :** که د کتاب متعلق یا بله څه مفید مشوره وي نو په دې نمبر رابطه کولی شئ.

موبائل نمبر : ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# اجمالي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه (د شپږم جلد) | ت |
| ۲. | ١. په اِسلام کې د حلال کسب اهمیت او فوائد | ۱ |
| ۳. | ٢. د حلال خوراک اهمیت او فوائد | ۴۸ |
| ۴. | ٣. د حرام خوراک سزاګانې او نقصانات | ۸۷ |
| ۵. | ٤. د مُشتبِه شیانو نه ځان ساتل | ۱۲۴ |
| ٦. | ٥. د سُود خوړلو سزاګانې او نقصانات | ۱٦۷ |
| ۷. | ٦. د نبي علیه السلام معجزات | ۱۸۷ |
| ۸. | ٧. نبي ﷺ ته د مخکینې پیغمبرانو په نسبت بهترینې معجزې ورکړې شوې وې | ۲۷۴ |
| ۹. | ٨. یو څو ضروري فِقهي مسائل | ۳۲۲ |
| | ٩. د عِلم او کماله ډکه رساله | ۳۸۰ |

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# تفصيلي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه (د شپږم جلد) | ت |
| | **۱. په اِسلام کې د حلال کسب اهمیت او فوائد** | ۱ |
| ۲. | حلال کسب او تجارت هم عظیم عبادت دی | ۳ |
| ۳. | په قرآن کریم او احادیثو کې د حلال کسب اَهمیت | ۴ |
| ۴. | حلال کسب او حلاله روزي ګټل فرض دي | ٦ |
| ۵. | اِسلام بې کاره کس نه خوښوي | ۷ |
| ٦. | د خپل لاس ګټه ډیره بهتره ده | ۷ |
| ۷. | په تورات کې د حلال کسب حکم | ۹ |
| ۸. | الله ﷻ کسب ګر مؤمن خوښوي | ۱۰ |
| ۹. | د حلال رِزق طلب کوونکي کس مقام | ۱۰ |
| ۱۰. | خپل اَولاد له حلال رِزق ګټل "جِهاد فِي سَبِيلِ الله" دی | ۱۱ |
| ۱۱. | په بعضې حالاتو کې حلال کسب کوونکي ته په خالِصه عبادت کوونکي ... | ۱۲ |
| ۱۲. | حلال کسب کول په کار دي | ۱۵ |
| ۱۳. | د امامِ احمد بن حنبل رحمه الله نه پوښتنه | ۱۵ |
| ۱۴. | د حلال کسب په باره کې د حضرت عُمر رضی الله عنه وینا | ۱٦ |
| ۱۵. | د حلال رِزق ګټلو په باره کې د لقمان حکیم خپل ځوي ته نصیحت | ۱۷ |
| ۱٦. | نبي علیه السلام د کسب کوونکي (مِحنت کش) لاس ښکل کړی | ۱۷ |
| ۱۷. | نبي علیه السلام د مِحنت کش او مزدورکار د پاره د رحمت دُعا کړی | ۱۹ |
| ۱۸. | په حلال کسب کولو سره ګناهونه معاف کیږي | ۱۹ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹. | د حَلال رزق طلب کولو په وجه د فرضي عباداتو پريخودل ناجائز دي | ۲۰ |
| ۲۱. | د يو لوهار ( آهنگر ) اوچت مقام | ۲۲ |
| ۲۲. | د عزت دارُ مدار په کسبونو ندې بلکه په تقوی دی | ۲۴ |
| ۲۳. | **اَهم کسبونه الله ﷻ د وَحي په ذريعه خپلو پيغمبرانو ته خودلي** | ۲۴ |
| ۲۴. | د پائې او گادي اِيجاد د حضرت آدم عليه السلام په ذريعه شوی | ۲۵ |
| ۲۵. | د بَحري جِهاز ( کِشتی ) جوړولو اِبتداء د حضرت نوح عليه السلام په ذريعه شوی | ۲٦ |
| ۲٦. | د زغرې جوړولو اِبتداء د حضرت داؤد عليه السلام په ذريعه شوی | ۲۷ |
| ۲۷. | د حضرت داؤد عليه السلام د مَعاش ذريعه زغرې جوړول وو | ۲۸ |
| ۲۸. | فِقهي مسئله | ۲۹ |
| ۲۹. | د فنِ کتابت شروع د حضرت آدم عليه السلام او حضرت اِدريس عليه السلام نه شوی | ۳۱ |
| ۳۰. | د علمِ فلکيات او رياضي شروع د حضرت اِدريس عليه السلام په ذريعه شوی | ۳۱ |
| ۳۱. | د نبي عليه السلام په زمانه کې د کسب زده کولو اِهتمام | ۳۱ |
| ۳۲. | زمينداري او بَاغ بَاني کول هم د انبياء کرامو سنت دی | ۳۲ |
| ۳۳. | **تجارت کول هم د انبياء کرامو سُنت دی** | ۳۳ |
| ۳۴. | نبي عليه السلام هم تجارت کړی | ۳۳ |
| ۳۵. | د صحابه کرامو تجارت | ۳۴ |
| ۳٦. | د حضرت عمر رضي الله عنه تجارت | ۳۵ |
| ۳۷. | د حضرت عثمان رضي الله عنه تجارت | ۳٦ |
| ۳۸. | زمونږ اَسلافو هم د ديني خدمت سره سره تجارت کړی | ۳٦ |
| ۳۹. | په لسو کې نهه حصې رِزق په تجارت کې دی | ۳۷ |
| ۴۰. | د ريښتيني اَمانت دار تاجِر د پاره زيرې | ۳۷ |
| ۴۱. | مخکيني پيغمبرانو هم مِحنت او مزدوري کړی | ۳۸ |
| ۴۲. | نبي عليه السلام هم محنت او کار کړی | ۴۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۴۳. | ورکوونکې لاس د اخيستونکي نه بهتر دى | ۴۱ |
| ۴۴. | جائز مال و دولت هم د مومن د پاره د الله ﷻ يو نعمت دى | ۴۲ |
| ۴۵. | په بعضې حالاتو کې درهم او دينار ته هم ضرورت وي | ۴۴ |
| ۴۶. | د څلورو کسانو د پاره کسب نه کول اَولى دي | ۴٦ |
| ۴۷. | د غونډ تقرير خلاصه | ۴۷ |
| | **۲. د حلال خوراک اهميت او فوائد** | ۴۸ |
| ۴۸. | د حلال خوراک په باره کې حُکم | ۴۹ |
| ۴۹. | مخکيني ټولو پيغمبرانو ته د حلال خوراک حکم شوې ؤ | ۵۰ |
| ۵۰. | د "حلال" لغوي او شَرعي تعريف | ۵۱ |
| ۵۱. | د حلال او حرامو پيژندلو حکم | ۵۱ |
| ۵۲. | حلال خوراک د دِين بُنياد دى | ۵۲ |
| ۵۳. | د حلال خوراک په وجه انسان مُستجاب الدعوات ګرځي | ۵۲ |
| ۵۴. | د حلال خوراک او حلال کسب کولو په وجه د جنت مُستحِق کيدل | ۵۳ |
| ۵۵. | په حلال خوراک سره انسان ته د نيکو اَعمالو توفيق ملاويږي | ۵۴ |
| ۵٦. | د حلال خوراک په وجه تر سهره پورې د قرآن کريم د يو آيت نه سل مسائل... | ۵۵ |
| ۵۷. | په حلال خوراک سره زړه مُنوّر کيدل . او په ژبه د حِکمت چيني جاري کيدل | ۵۷ |
| ۵۷. | د دارالعلوم ديوبند اُستاذانو ته د شاه جي دَعوت | ۵۸ |
| ۵۸. | الله ﷻ صِرف حلال مال قبلوي | ۵۹ |
| ۵۹. | حلال مال په بهترين ځاى کې خرچ کيږي | ٦۰ |
| ٦۰. | د تقوى په وجه د مشکلاتو نه وتل . او د غيبي خزانو نه فراخه رزق ملاويدل | ٦۲ |
| ٦۱. | ټولو مخلوقاتو ته رزق ورکوونکې الله ﷻ دى | ٦۴ |
| ٦۲. | په الله ﷻ باندې توکّل او اِعتماد په کار دى | ٦۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۳. | په تقدير کې ليکل شوي رزق به انسان ته ضرور رَسي | ۶۸ |
| ۶۴. | د امام زاهدي رحمه الله واقعه | ۶۹ |
| ۶۵. | د خُوش طبعی واقعه | ۷۰ |
| ۶۶. | مقرر شوي رزق په خپله جُمات ته راوړل | ۷۲ |
| ۶۷. | همدغه شان يوه بله واقعه | ۷۳ |
| ۶۸. | تړل شوي کس ته د کارغه په ذريعه رزق وَرکول | ۷۴ |
| ۶۹. | رَندې مرغی ته رزق ملاويدل | ۷۵ |
| ۷۰. | يو رُوند ځناور ته د رزق رسولو انتظام | ۷۶ |
| ۷۱. | غَرڅَنی هوسی ماشومې جينی ته شپږ مياشتې شوده ورکول | ۷۷ |
| ۷۲. | د "رِضوان" فرښتې په ذريعه اُوبه ملاويدل | ۷۹ |
| ۷۳. | د لبنان په غره کې يو نابينا بزرګ ته ديرش کاله پورې د يوې مرغی په .... | ۸۰ |
| ۷۴. | خلاصه | ۸۵ |
| | **۲. د حرام خوراک سزاګانې او نقصانات** | ۸۷ |
| ۷۵. | د حرام خوراک نه د بَچ کيدو حکم | ۸۸ |
| ۷۵. | په حرام خوراک خوړلو سره دُعاګانې نه قبليږي | ۹۰ |
| ۷۶. | چې تر څو پورې حرامه جامه د انسان په بدن پرته وي د ده مونځ نه قبليږي | ۹۳ |
| ۷۷. | چې تر څو پورې په خېټه کې حرام خوراک وي د انسان عبادات نه قبليږي | ۹۴ |
| ۷۸. | د حرام مال نه جوړه شوې غوښه د جهنم مُستحق ده | ۹۷ |
| ۷۹. | بې اِجازته د مالِ غنيمت نه د يو څادر راخيستو په وجه په جهنم کې سوزيدل | ۹۹ |
| ۸۰. | د حرام مال او دُهوکې په وجه آخِره خاتِمه خرابيدل | ۹۹ |
| ۸۱. | ۱ . اوله واقعه : | ۹۹ |
| ۸۲. | ۲ . دويمه واقعه | ۱۰۰ |
| ۸۳. | د حرامې آمدنی او دُهوکې په وجه په عذابِ قبر کې مُبتلاء کيدل | ۱۰۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۸۴. | د يوې سنتې په وجه په عذابِ قبر کې مُبتلاء کيدل | ۱۰۲ |
| ۸۵. | ۱. اوله واقعه | ۱۰۲ |
| ۸۶. | ۲. دويمه واقعه | ۱۰۴ |
| ۸۷. | د حرام خوراک په وجه ګناهونو ته رَغبت پيدا کيږي | ۱۰۴ |
| ۸۸. | د مولانا يعقوب نانوتوي رحمه الله واقعه | ۱۰۵ |
| ۸۹. | د حرام خوراک په وجه د نيکيو توفيق سَلب کيږي | ۱۰۶ |
| ۹۰. | د حرام مال اَنجام ډير بَد وي | ۱۰۶ |
| ۹۱. | حرام مال په غلطو ځايونو کې خرچ کيږي | ۱۰۷ |
| ۹۲. | د حرام خوراک نه پرهيز | ۱۰۸ |
| ۹۳. | په حرام مال کې برکت نه وي | ۱۰۸ |
| ۹۴. | په ظلم سره د بل چا د مال اخيستو سزا | ۱۰۹ |
| ۹۵. | د حرام مال نه صدقه ورکول نه قبليږي | ۱۱۳ |
| ۹۶. | د غلط فهمۍ اِزاله | ۱۱۴ |
| ۹۷. | د خپل اَولاد د پاره ځان د جهنم اُور ته غورځول ندي په کار | ۱۱۵ |
| ۹۸. | په قيامت کې د هر بنده نه څلور ضروري پوښتنې | ۱۱۵ |
| ۹۹. | په آخِره زمانه کې د حلالو او حرامو په مينځ کې تمييز نه کول | ۱۱۶ |
| ۱۰۰ | د يوې شُبهې جواب | ۱۱۷ |
| ۱۰۱ | چې کله انسان د حلال رِزق حاصلولو اِراده اُوکړي نو الله ﷻ ورته وسائل.. | ۱۱۷ |
| ۱۰۲ | خپل خواهشات کنټرول کول، او د حرامو نه ځان ساتل | ۱۱۸ |
| ۱۰۳ | د څلويښتو کالو پوزې د يَخ شوې اينې ( جِګر ) خواهش کول | ۱۱۸ |
| ۱۰۴ | د ابوتراب نخشبي رحمه الله خواهش | ۱۱۹ |
| ۱۰۵ | مسلمان د جنت د نِعمتونو نه مکمل غافِل دی | ۱۲۰ |
| ۱۰۶ | د غونډ تقرير خلاصه | ۱۲۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | ٤. د مُشتبه شیانو نه ځان ساتل | ۱۲۴ |
| ۱۰۷ | د مُشتَبِه شیانو نه ځان ساتلو سره دِین او عزت محفوظ وي | ۱۲۶ |
| ۱۰۸ | د حدیث تشریح | ۱۲۶ |
| ۱۰۹ | د مُتقِي جوړیدو د پاره کامِل اِحتیاط په کار دی | ۱۲۷ |
| ۱۱۰ | د تقوی او بزرګی مِعیار په مُعاملاتو باندې دی | ۱۲۹ |
| ۱۱۱ | د مُشتبِه شیانو نه پرهیز او اِحتیاط | ۱۲۹ |
| ۱۱۲ | د نبي علیه السلام اِحتیاط | ۱۳۰ |
| ۱۱۳ | د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله اِحتیاط | ۱۳۱ |
| ۱۱۴ | د حضرت عُمر رضي الله عنه اِحتیاط | ۱۳۵ |
| ۱۱۵ | د اَسلافو اِحتیاط | ۱۳۸ |
| ۱۱۶ | د امام ابوحنیفه رحمه الله اِحتیاط | ۱۳۹ |
| ۱۱۷ | د نیم سیب معاف کولو د پاره د بُخارا نه بَلخ ته لس ورځې مزل کول | ۱۴۰ |
| ۱۱۸ | د بل چا د دیوال نه معمولي خاوره راخیستو باندې تَنبِیه | ۱۴۱ |
| ۱۱۹ | د بل چا د دیوال نه معمولي خاورې راخیستو په وجه څلویښت کاله ژړا کول | ۱۴۲ |
| ۱۲۰ | د ظالِم په لاس راوړل شوې خوراک نه خوړل | ۱۴۳ |
| ۱۲۱ | د مریض په وفات کیدو سَمدستي ډیوه مړه کول | ۱۴۳ |
| ۱۲۲ | د سفیان ثوري رحمه الله اِحتیاط | ۱۴۴ |
| ۱۲۳ | د امام احمد بن حنبل رحمه الله اِحتیاط | ۱۴۵ |
| ۱۲۴ | د عبدالله بن مبارک رحمه الله اِحتیاط | ۱۴۵ |
| ۱۲۵ | د اِمام نخعي رحمه الله اِحتیاطې | ۱۴۶ |
| ۱۲۶ | د حلال رِزق پسې د ابراهیم بن اَدهم رحمه الله سفرونه کول، او د مشتبه... | ۱۴۶ |
| ۱۲۷ | د قاضي ابوبکر بزار اِحتیاط، او ددې وِرته ښه ثَمَره ملاویدل | ۱۴۹ |
| ۱۲۸ | د مُشتبِه مال نه د مسلمانانو زَنانهٔ پرهیز او اِحتیاط | ۱۵۴ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ١٢٩ | د ميمونه بنت اَقرع رحمها الله اِحتياط | ١٥٥ |
| ١٣٠ | د بشر بن الحارث رحمه الله د خور "مُخّه" اِحتياط | ١٥٦ |
| ١٣١ | چې کله انسان د الله ﷻ تابعدار شي نو هر شی دده حکم مني | ١٥٩ |
| ١٣٢ | ١ . د حضرت سلمان فارسي ﷺ په وينا هوسۍ او مرغۍ راتلل | ١٥٩ |
| ١٣٣ | ٢ . د يو شپونکي کرامت | ١٦٠ |
| ١٣٤ | ٣ . د سفيان ثوري رحمه الله سره د سپي خبرې | ١٦١ |
| ١٣٥ | ۴ . شيبان راعي رحمه الله د ځنګل زمرې د غوږ نه اُونيوه | ١٦١ |
| ١٣٦ | ۵ . د سفيان ثوري رحمه الله سره د يوې بَلبلې محبت | ١٦٣ |
| ١٣٧ | د الله ﷻ په نزد د مسلمان ډير لوي شان او لويه مرتبه ده | ١٦۴ |
| ١٣٨ | د غونډ تقرير خلاصه | ١٦٦ |
| | **۵ . د سُود خوړلو سزاګانې او نقصانات** | ١٦٧ |
| ١٣٩ | په اسلام کې په بعضو طريقو سره د مال ګټلو نه مَنع راغلې | ١٦٩ |
| ١۴٠ | سُود خورو ته د الله او د رسول ﷺ طرفه اعلانِ جنګ | ١٦٩ |
| ١۴١ | د قيامت په ورځ د سُود خورو د پاره بَد اَنجام | ١٧٠ |
| ١۴٢ | د سُود مال آخِر هم ختميږي | ١٧١ |
| ١۴٣ | د سُود مال بې برکته وي | ١٧٢ |
| ١۴۴ | د سُودي مال مِثال | ١٧٢ |
| ١۴۵ | سُود خُور ته حقيقي آرام و راحت نه وي حاصل | ١٧۴ |
| ١۴٦ | په سُود خورو باندې د نبي عليه السلام لعنت | ١٧۴ |
| ١۴٧ | د سُود يو دِرهم د شپږ ديرشو (٣٦) زِناګانو نه لويه ګناه ده | ١٧۵ |
| ١۴٨ | د سُود کمه درجه ګناه داده لکه يو انسان چې د خپلې مور سره زِنا اوکړي | ١٧٧ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۴۹ | د سُود په وجه د الله ﷻ د عذاب مُستحق کيدل | ۱۷۷ |
| ۱۵۰ | سُود خواره د زلزلې په وجه هلاکيدل | ۱۷۸ |
| ۱۵۱ | د سُود خوَرو د پاره د جهنم زيرى | ۱۷۸ |
| ۱۵۲ | د سُود په وجه قحط سالي راتلل | ۱۷۹ |
| ۱۵۳ | د سُود خوَرو بَد حالت | ۱۷۹ |
| ۱۵۴ | سُود خوَړل ګناه کبيره ده | ۱۸۳ |
| ۱۵۵ | د نبي عليه السلام پېشَن ګويي | ۱۸۴ |
| ۱۵۶ | د سُود اَخلاقي او اِقتصادي نقصانات | ۱۸۵ |
| ۱۵۷ | د غونډ تقرير خلاصه | ۱۸۵ |
| | **٦. د نبي عليه السلام معجزات** | ۱۸۷ |
| ۱۵۸ | هر پيغمبر ته مُعجزې ورکړل شوي | ۱۸۸ |
| ۱۵۹ | هر پيغمبر ته د هغه وخت مناسب مُعجزه ورکړل شوي | ۱۸۹ |
| ۱۶۰ | نبي عليه السلام ته د وَرکړل شوو مُعجزو تعداد | ۱۹۱ |
| ۱۶۱ | د مُعجِزې لغوي او اِصطلاحي معنى | ۱۹۲ |
| ۱۶۲ | د مُعجزاتو بيانولو فائده | ۱۹۳ |
| ۱۶۳ | عِناد کوونکو کافرانو ته د مُعجزاتو په ليدلو هم اِيمان نصيب نه شو | ۱۹۳ |
| ۱۶۴ | د عِناد په وجه بيا په مُعجِزه هم يقين نه پيدا کيږي | ۱۹۵ |
| ۱۶۵ | د ټولو نه لويه مُعجزه "قرآن کريم" | ۱۹۷ |
| ۱۶۶ | د شَقُّ الْقَمَرْ (يعنى د سپوږمۍ دوه ټوټې کيدلو) معجزه | ۱۹۸ |
| ۱۶۷ | د مِعراج واقعه | ۲۰۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ١٦٨ | د نبي علیه السلام د ګوتو مبارکو نه د اوبو وتلو مُعجزه | ۲۰۲ |
| ١٦٩ | د نبي ﷺ او ذِکرُ الله نه د لرې والي په وجه د قجورې د اوچې تنې نه د ژړا. | ۲۰۵ |
| ١٧٠ | د نبي ﷺ د لاس مُبارک په راخکلو سره د صحابي ماته خپه جوړېدل | ۲۰۸ |
| ١٧١ | د نبي علیه السلام په دَمولو سره زَخم ښه کیدل | ۲۱۰ |
| ١٧٢ | **په خوراک کې د برکت معجزې** | ۲۱۱ |
| ١٧٣ | د غزوه خَندق په موقع د حضرت جابر رضي الله عنه دعوت ( د چیلۍ وړوکې بچې او لږې اُوربشې زر (۱۰۰۰) کسانو ته په مړه ګیډه رسیدل ) | ۲۱۱ |
| ١٧٤ | د حضرت ابو طلحه رضي الله عنه دعوت (لږ خوراک د اَتیا کسانو د پاره کافي کیدل) | ۲۱۴ |
| ١٧٥ | د نبي ﷺ د دُعا په برکت معمولي خوراک یو لک کسانو ته رسیدل | ۲۱۷ |
| ١٧٦ | د یوې پیالۍ مِقدار خوراک درې سوه کسانو ته رسیدل | ۲۱۸ |
| ١٧٧ | د یوې چیلۍ جِګر یو سَل دیرش کسانو په مړه خېټه اُوخوړو او بیا هم پاتې شو | ۲۲۱ |
| ١٧٨ | په نیم وَسق اُوربشو کې د برکت مُعجزه | ۲۲۲ |
| ١٧٩ | د نبي ﷺ د دُعا په برکت یَو وِیشت قجورې په کلونو کلونو اِستعمالول | ۲۲۳ |
| ١٨٠ | په قجورو کې د برکت بله مُعجزه | ۲۲۴ |
| ١٨١ | یوه پیاله شوده (پَی) ډیرو صحابه کرامو په مړه ګېډه اُوڅکل | ۲۲٦ |
| ١٨٢ | په نبي علیه السلام باندې د اُونو او کانړو سلام اچول | ۲۳۰ |
| ١٨٣ | په یو سفر کې درې مُعجزې ښکاره کیدل ( د اُوښ شکایت ، د اُونو سلام اچول ماشوم ته شِفاء ) | ۲۳۱ |
| ١٨٤ | د نبي ﷺ په رابللو سره اُونه د خپل ځای نه راتلل | ۲۳۳ |
| ١٨٥ | د کِیکر اُونې د نبي علیه السلام د رِسالت ګواهي ورکړه | ۲۳٦ |
| ١٨٦ | د قجورې غُنچَک د نبي علیه السلام د رِسالت ګواهي ورکړه | ۲۳۸ |
| ١٨٧ | هُوسۍ د نبي علیه السلام د رِسالت ګواهي ورکړه | ۲۳۹ |
| ١٨٨ | لیوه د نبي علیه السلام د نبوّت خبر ورکړو | ۲۴۰ |

| صفحه | موضوع | نمبرشمار |
|---|---|---|
| ۲۴۳ | وريتې شوې غوښې نبي عليه السلام ته د زَهرو اِطلاع وركړه | ۱۸۹ |
| ۲۴۵ | د نبي ﷺ د خُلې مباركې اُوبه په كوهي كې اچولو سره اُوچ كوهي د اُوبو .. | ۱۹۰ |
| ۲۴۶ | په غَزوه حُنين كې د نبي ﷺ په يو مُوټي خاورې سره د څلور زره كافرانو دواړه سترګې د خاورو نه ډكيدل | ۱۹۲ |
| ۲۴۷ | نبي ﷺ د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه د مور د پاره د اِسلام راوړلو دُعا اوكړه. | ۱۹۳ |
| ۲۴۹ | د باران په حَق كې دُعا كول او سَمدستي قبليدل | ۱۹۴ |
| ۲۵۱ | د نبي ﷺ د لاس مبارک راښكلو او دُعا په بركت سره د اُوچې چيلۍ په غُلانځه كې شُوده پيدا كيدل | ۱۹۵ |
| ۲۵۳ | د نبي ﷺ د سوَرلۍ په بركت سست رَفتاره آس هم تېز رَفتاره شو | ۱۹۶ |
| ۲۵۴ | د هِجرت په موقع د مُعجزې ښكاره كيدل ( د سُراقه بن مالک نه د حفاظت واقعه) | ۱۹۷ |
| ۲۵۶ | **د نبي عليه السلام پيشن ګوياني صادقيدل** | ۱۹۸ |
| ۲۵۶ | ۱. د يو كس متعلق خبر وركول چې د مرګ نه پس به دازمكه نه قبلوي | ۱۹۹ |
| ۲۵۸ | ۲. د يو كس متعلق د جَهنمي كيدو خبر وركول | ۲۰۰ |
| ۲۶۱ | ۳. د جنګ نه مخكې د مَقتول كافرانو نومونه او د لاشونو غورځيدو ځايونه صحابه كرامو ته ښودل | ۲۰۱ |
| ۲۶۲ | ۴. د يو مُنافق د مرګ خبر وركول | ۲۰۲ |
| ۲۶۳ | ۵. د يهوديانو د قبرونو اَحوال معلومول | ۲۰۳ |
| ۲۶۴ | د نبي ﷺ په زَمانه كې ډيرو مسلمانانو د مُعجزاتو ليدلو نه بغَير اِيمان راوړی | ۲۰۴ |
| ۲۶۶ | خلاصه : | ۲۰۵ |
| ۲۶۷ | دُعا | ۲۰۶ |
| ۲۶۸ | **د نبي عليه السلام يو څو نورو مُعجِزاتو ته اِشاره كول** | ۲۰۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| | **۷. نبي ﷺ ته د مخکيني پيغمبرانو په نسبت بهترينې معجزې ورکړې شوې وې** | ۲۷۴ |
| ۲۰۸ | د مقرِّرينو حضراتو د پاره ضروري تَنبِيه | ۲۷۵ |
| ۲۰۹ | تمهيدي خبره | ۲۷۷ |
| ۲۱۰ | نبي ﷺ ته د حضرت نوح ﷺ د معجزې نه بهترينه معجزه ورکړې شوې وه | ۲۷۸ |
| ۲۱۱ | نبي عليه السلام ته د حضرت صالح ﷺ د معجزې نه بهترينه معجزه ورکړې شوې وه | ۲۸۰ |
| ۲۱۲ | نبي عليه السلام ته د حضرت ابراهيم ﷺ د معجزاتو او کمالاتو نه بهترينې معجزې او کمالات ورکړې شوي وو | ۲۸۱ |
| ۲۱۳ | نبي عليه السلام ته د حضرت موسى ﷺ د معجزاتو نه بهترينې معجزې ورکړې شوې وې | ۲۹۰ |
| ۲۱۴ | د آمسا نه رڼا تلل | ۲۹۲ |
| ۲۱۵ | رڼا پيدا کيدل | ۲۹۳ |
| ۲۱۶ | د خپې د غټې ګتې نه رڼا پيدا کيدل | ۲۹۳ |
| ۲۱۷ | د کوړې د سَر نه رڼا تلل | ۲۹۳ |
| ۲۱۸ | نبي عليه السلام ته د حضرت داوُد ﷺ د معجزاتو نه بهترينې معجزې ورکړې شوې وې | ۲۹۹ |
| ۲۱۹ | نبي عليه السلام ته د حضرت سليمان ﷺ د معجزاتو نه بهترينې معجزې ورکړې شوې وې | ۳۰۲ |
| ۲۲۰ | نبي عليه السلام ته د حضرت عيسى ﷺ د معجزو نه بهترينې معجزې ورکړې شوې وې | ۳۰۷ |

| | |
|---|---|
| د نبي ﷺ په لاس مُبارک باندې د وفات شوو کسانو راژوندي کیدل | ۲۲۱ |
| د نبي ﷺ په دُعا سره پیدائشي ړوند او لاعِلاجه مرَضونو واله مریضان ښه کیدل | ۲۲۲ |
| ۱. د نبي ﷺ د دُعا په برکت د ړوند دواړه سترګې بینا شوی | ۲۲۳ |
| ۲. د نبي ﷺ په دَمولو سره د سترګو ختم شوې نظر واپس راتلل | ۲۲۳ |
| ۳. د نبي ﷺ په برکت بهَر راوتلې سترګه واپس جوړه شوه | ۲۲۴ |
| ۴. د نبي ﷺ په لاړو مبارکو سره خوږ سترګې ښه کیدل | ۲۲۵ |
| د نبي ﷺ په برکت نور لاعلاجه مرضونه ښه کیدل | ۲۲۶ |
| د ابو مسلم خولاني په دُعا سره د سترګو ختم شوې نظر واپس راتلل | ۲۲۷ |
| د غونډ تقریر خلاصه | ۲۲۸ |
| د معجزاتو بیانولو فائده | ۲۲۹ |
| دُعا | ۲۳۰ |

## ۸. یو څو ضروري فِقهي مسائل

| | |
|---|---|
| بې کاره څیز د اَعلیٰ څیز سره یو ځای کول، او بیا د اَعلیٰ څیز په قیمت خرڅول ناجائز دي | ۲۳۱ |
| د میخې د شودُو (پېو) سره د غوا شوده مِلاوُول او خرڅول | ۲۳۲ |
| د عیب دار څیز خرڅول | ۲۳۳ |
| بَیعه په شرط د "بَراءَت مِنَ العُیُوب" صحیح ده | ۲۳۴ |
| په قرض باندې یو شی ګران خرڅول جائز دي | ۲۳۵ |
| په قِسطونو باندې د یو څیز اخیستل او خرڅول | ۲۳۶ |
| د مساوي حقوقو په وخت قرعه اَندازي کول (یعنی کِشت اَچول) جائز دی | ۲۳۷ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳۸ | د بَيعانې ( اِدوانس، بَيانې ) روپۍ ضبط کول ناجائز دي | ۳۲۷ |
| ۲۳۹ | د قطعي بيع نه روستو بغير د دواړو د رَضا مندۍ نه د بيع فسخ کولو حق هيچا ته نشته | ۳۲۸ |
| ۲۴۰ | مشتري چې په روپو کې تال مَټول کوي نو بائع بَيعه فسخ کولې شي | ۳۲۸ |
| ۲۴۱ | په رَضامَندۍ سره د بَيع فسخ کولو نه روستو د پښيمانتيا روپۍ اخيستل حرامې دي | ۳۲۹ |
| ۲۴۲ | د صرافۍ کاروبار جائز دی | ۳۳۰ |
| ۲۴۳ | د مرغانو اخيستل او خرڅول جائز دي | ۳۳۰ |
| ۲۴۴ | د کمپنيانو د طرفه چې د خپلو مصنوعاتو په اخيستلو کوم اِنعام مقرر شي هغه اخيستل جائز دي | ۳۳۱ |
| ۲۴۵ | د غنمو اُوړه کولو په عِوض کې مشين واله ته غنم يا اُوړه ورکول | ۳۳۱ |
| ۲۴۶ | د تريشَر واله ته په مزدورۍ کې غنم ورکول | ۳۳۳ |
| ۲۴۷ | يو څيز په مختلفو رِيټونو ( قيمتونو ) خرڅول جائز دي | ۳۳۴ |
| ۲۴۸ | د اِنټرنيټ په ذريعه اخيستل او خرڅول جائز دي | ۳۳۴ |
| ۲۴۹ | ژوندي څرګان په تول (يعنی وزَن) سره خرڅول جائز دي | ۳۳۵ |
| ۲۵۰ | د کافر سره د نوکرۍ کولو حکم | ۳۳۵ |
| ۲۵۱ | د تصنيف يا طباعت حقوق خرڅول جائز دي | ۳۳۶ |
| ۲۵۲ | د يو څيز د اخيستلو د پاره پيشګي روپۍ ورکول جائز دي | ۳۳۷ |
| ۲۵۳ | که فاحشې ښځې يا کافر کوهې کِنيستې وي د دې اُوبه څکل جائز دي | ۳۳۸ |
| ۲۵۴ | په ناجائزه کارونو کې د اِستعماليدونکو دَوايانو خرڅولو حکم | ۳۳۸ |
| ۲۵۵ | په کرائې باندې د نيول شوې دُکان يوه حِصه بل کس ته په کرائې ورکول | ۳۳۸ |
| ۲۵۶ | د زمکې قبضه پريخودلو په عِوض کې روپۍ اخيستل ناجائز دي | ۳۳۹ |
| ۲۵۷ | په پُوخ مَن سره لرګي اخيستل او بيا په کچه مَن خرڅول | ۳۴۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۵۸ | د ګیرې خرېلو یا انګرېزي وېښتانو جوړلو په عِوض کې مزدوري اخیستل ناجائز ده | ۳۴۱ |
| ۲۵۹ | کوم نائي چې ګیره خرائي هغه ته په کرایه دُکان ورکول ناجائز دی | ۳۴۱ |
| ۲۶۰ | په کرایه باندې د دُکان نیولو په وخت د پګړی ورکولو حکم | ۳۴۲ |
| ۲۶۱ | په اُوړي کې د شُودو خرابېدو نه د بچ کېدلو د پاره په دې کې واوره اچول ناجائز دي . | ۳۴۴ |
| ۲۶۲ | د آزادو ښځو خرڅول ناجائز دي | ۳۴۵ |
| ۲۶۳ | د سَندرو ( موسیقي ) آلات اخیستل او خرڅول ناجائز دي | ۳۴۶ |
| ۲۶۴ | د ګمراه کُن کتابونو تجارت کول ناجائز دی | ۳۴۶ |
| ۲۶۵ | د ذِي رُوح تصویرانو خرڅول او اخیستل ناجائز دي | ۳۴۷ |
| ۲۶۶ | د تصویرانو واله اَخبار خرڅول | ۳۴۸ |
| ۲۶۷ | د غلا څیز اخیستل ناجائز دي | ۳۴۸ |
| ۲۶۸ | چې د چا ګټه حرامه وي د هغه نه څه څیز اخیستل | ۳۴۹ |
| ۲۶۹ | چې حرام مال انسان ته په میراث کې راپاتې شي د دې د استعمالولو حکم | ۳۴۹ |
| ۲۷۰ | که د یو کس پلار دُهوکه او مِلاوَټ کوي ، د ځوي د پاره د دې ګټې نه د خوراک کولو حکم | ۳۵۰ |
| ۲۷۱ | د پیپسي او ډیو په بوتلو کې سُوډا واټر اچول او خرڅول ناجائز دي | ۳۵۰ |
| ۲۷۲ | د نَسوارو اِستعمالولو حکم | ۳۵۱ |
| ۲۷۳ | هر قِسمه نشه ئي شیان استعمالول ممنوع دي | ۳۵۲ |
| ۲۷۴ | د شرابو خرڅول ناجائز دي | ۳۵۲ |
| ۲۷۵ | د سِګرټو کاروبار کول | ۳۵۳ |
| ۲۷۶ | د غیر مُسلمه ملکونو نه د راغلي خوراک څکاک د څیزونو استعمالولو حکم | ۳۵۳ |
| ۲۷۷ | په اِجاره باندې د څاروي ساتلو حکم | ۳۵۴ |
| ۲۷۸ | غوا یا مېښه په نیم کاره ساتل صحیح ندي | ۳۵۵ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۷۹ | د کميشَن اخيستو شرعي حيثيت | ۳۵٦ |
| ۲۸۰ | د زمکې د خرڅولو او اخيستلو په وخت کمِيشن اخيستل جائز دي | ۳۵۷ |
| ۲۸۱ | د دَلالۍ په عِوض اُجرت اخيستل | ۳۵۸ |
| ۲۸۲ | په غوائي باندې د غوا مَال کولو په عِوض کې اُجرت اخيستل ناجائز دی | ۳۵۹ |
| ۲۸۳ | بل کس ته د دُهوکې ورکولو د پاره د يو شي قيمت زياتول يا کمول | ۳٦۱ |
| ۲۸۴ | د سَمَک لِنک په ذريعه د حاصل شوې گټې حکم | ۳٦۱ |
| ۲۸۵ | په بَيع کې دا شرط لګول باطل دی چې " که ته دا څيز خرڅوی نو صِرف په ما به يې خرڅوی " | ۳٦۲ |
| ۲۸٦ | د بَيع قبلَ القبض (يعنی د قبضه نه کولو نه مخکې د يو څيز خرڅولو ) حکم | ۳٦۲ |
| ۲۸۷ | زمکه قَبلَ القَبض خرڅول جائز دي | ۳٦۳ |
| ۲۸۸ | د ښځو باريک لباس خرڅول | ۳٦۳ |
| ۲۸۹ | د انسان وِينه اخيستل او خرڅول | ۳٦۴ |
| ۲۹۰ | د انساني اَنداmونو خرڅول ناجائز دي | ۳٦۴ |
| ۲۹۱ | په کوم پروګرام کې چې ډول سُورنا غږول شوي وي په هغې کې د شرکت حکم | ۳٦٦ |
| ۲۹۲ | د بې نمازه او سُود خور د دَعوت قبلولو حکم | ۳٦۷ |
| ۲۹۳ | د حرام کاروبار واله کس هديه قبلول | ۳٦۷ |
| ۲۹۴ | د حلال او حرام مخلوط مال نه دعوت کول | ۳٦۸ |
| ۲۹۵ | د زياتې گټې د پاره ذخيره اَندوزي کول | ۳٦۹ |
| ۲۹٦ | د جَعلي سندُونو په وجه د حاصلې شوې نوکرۍ د تنخواه حکم | ۳٦۹ |
| ۲۹۷ | د لارو په هوټلو کې د ډرائيورانو د پاره مفت خوراک کول | ۳۷۰ |
| ۲۹۸ | اِنعامي بانډز اخيستل سُود او جواري ده | ۳۷۱ |
| ۲۹۹ | د اِنعامي سکيمونو يا اِنعامي ټِکټونو اخيستل او خرڅول ناجائز دي | ۳۷۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۰۰ | د بینک د سُود د روپو حکم | ۳۷۲ |
| ۳۰۱ | په حرامې طریقې سره د حاصل شوي مال حکم | ۳۷۳ |
| ۳۰۲ | په سُود باندې قرضه ورکول ناجائز ده | ۳۷۳ |
| ۳۰۳ | چا ته د کاروبار د پاره قرض ورکول او مُعینه ګټه ورنه اخیستل ناجائز ده | ۳۷۳ |
| ۳۰۴ | بیمه ( اِنشُورنِس ) ناجائز دی | ۳۷۴ |
| ۳۰۵ | د بیمه روپۍ چې وارِث ته راپاتې شي د دې حکم | ۳۷۹ |
| ۳۰۶ | **د علم او کماله ډکه رساله** | ۳۸۰ |
| ۳۰۷ | خوشخبري | 395 |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ﴾ .الجمعة آيت ۱۰ .

# په اِسلام کې د حَلال کسب اَهميت او فوائدِ

تالِيف


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيض القُرآن اكاخيل كالونى مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# په اِسلام کې د حلال کسب اَهميت او فوائد

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ نَحۡمَدُهُ وَنَسۡتَعِيۡنُهُ وَنَسۡتَغۡفِرُهُ وَنُؤۡمِنُ بِهٖ وَنَتَوَکَّلُ عَلَيۡه. وَنَعُوۡذُبِاللّٰهِ مِنۡ شُرُوۡرِ اَنۡفُسِنَا وَمِنۡ سَيِّئَاتِ اَعۡمَالِنَا مَنۡ يَّهۡدِهِ اللّٰهُ فَلَامُضِلَّ لَهٗ وَمَنۡ يُّضۡلِلۡهُ فَلَاهَادِيَ لَه. وَنَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحۡدَهٗ لَاشَرِيۡکَ لَهٗ وَنَشۡهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُه.

اَمَّابَعۡدُ فَاَعُوۡذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی فِي الۡقُرۡآنِ الۡمَجِيۡدِ وَالۡفُرۡقَانِ الۡحَمِيۡد:

﴿ فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانۡتَشِرُوۡا فِی الۡاَرۡضِ وَابۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِ اللّٰهِ وَاذۡکُرُوا اللّٰهَ کَثِيۡرًا لَّعَلَّکُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴾. (١)

وَقَالَ تَعَالٰی: ﴿ يٰاَيُّهَا النَّاسُ کُلُوۡا مِمَّا فِی الۡاَرۡضِ حَلٰلًا طَيِّبًا وَّلَاتَتَّبِعُوۡا خُطُوٰتِ الشَّيۡطٰنِ اِنَّهٗ لَکُمۡ عَدُوٌّ مُّبِيۡنٌ ﴾. (٢)

وَقَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ : مَاکَسَبَ الرَّجُلُ کَسۡبًا اَطۡيَبَ مِنۡ عَمَلِ يَدِهٖ... (٣)

وَقَالَ عَلَيۡهِ السَّلَام : مَا اَکَلَ اَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيۡرًا مِنۡ اَنۡ يَّاۡکُلَ مِنۡ عَمَلِ يَدِهٖ. وَاِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ دَاوُدَ عَلَيۡهِ السَّلَامُ کَانَ يَاۡکُلُ مِنۡ عَمَلِ يَدِهٖ . (٤)

صَدَقَ اللّٰهُ الۡعَظِيۡم

---

(١) سورة الجمعة آية ١٠ .

(٢) سورة البقرة آية ١٦٨ .

(٣) أخرجه ابن ماجه بَابُ الحَثِّ عَلَى المَكَاسِبِ رقم الحديث ٢١٣٨ و صححه الالباني صحيح ابن ماجه رقم ١٧٣٩ ، نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم الأحاديث الواردة في أكل الطيبات ج ٢ ص ٤٩١ رقم الحديث ٣ .

(٤) صحيح البخاري كِتَابُ البُيُوعِ بَابُ كَسْبِ الرَّجُلِ وَعَمَلِهِ بِيَدِهِ رقم الحديث ٢٠٧٢، مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول رقم الحديث ٢٧٥٩ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦٣١ .

# حلال کسب او تجارت هم عظیم عبادت دی

محترمو مسلمانانو ورونو ! په قرآن کريم او اَحاديثو کې ځای په ځای د حلال خوراک اَهميت او ترغيب راغلی ، همدارنګې د حرام خوراک نه د بچ کيدو ډير تاکيد راغلی ، دغه وجه ده چې په حلالې طريقې سره تجارت کول ، مال و دولت ګټل ، زراعت يا بله مزدوري کول د اِسلام په نظر کې خالِصه دُنياداري نه ده بلکه دا هم د دينِ اسلام يوه اَهمه حصه او عظيم عبادت دی ، خو شرط دادی چې په دې سره د انسان نيت صحيح وي ، او د شرعي حدودو موافِق وي . (۱)

يعنی که يو انسان دا کارونه په دې نيت سره کوي چې زه د سوال نه بچ شم ، د خپل ځان او نورو خلقو واجِبي حقوق اداء کړم ، يا زما په دې کارونو سره نورو مسلمانانو او مُلک ته فائده اُورسي ، او ورسره ورسره دا تجارت د شَرعي حُدودو په دائره کې دننه وي نو په دې سره ده دا کارونه هم عبادت جوړيږي ، او دا ده د پاره د دُنيا او آخرت د کاميابۍ ذريعه جوړيږي .

د اِسلام حُسن دادی چې که يو مسلمان د اِسلامي اُصولو موافِق کار کوي نو دا ده د پاره عبادت دی .

د اِسلام نه مخکې به دين او عبادت صرف په عبادت ګاهو کې وُ ، بهَر به دُنيا وه ، ليکن اِسلام مسلمانانُو ته داسې طريقې اُوخودی چې د هغې په وجه که دې په بازار کې حلاله مَزدوري کوي نو دا هم دِين دی ، که دُکانداري کوي نو دا هم دِين دی ، که سياست و حکومت کوي نو دا هم دِين دی ، که د بي بي او بچو حقوق اداء کوي نو دا هم دِين دی ، تر دې پورې چې که دې خوراک ، څکاک او تلل کوي نو دا هم دِين دی خو چې کله په دې کارونو کې نيت صحيح وي ، او د شريعت موافق وي .

(۱) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : اَلعبادةُ عشرة أجزاءٍ تسعة منها في طلب الحلال . رواه ابو منصور الديلمي ، احياء علوم الدين كتاب الحلال والحرام ج۲ ص ۹۰ ، ذكره الزبيدي في الاتحاف ۶/۸ ، نزهة الناظرين ص ۳۳۷ كتاب آداب الكسب .

# په قرآن کريم او احاديثو کې د حلال کسب اَهميت

په قرآن کريم او احاديثو کې د حلال کسب ډير اَهميت بيان شوی.

الله رب العزت د حلال کسب په باره کې حکم کړی:

﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللهِ وَاذْكُرُوا اللهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾. (١)

ترجمه: پس هر کله چې ( د جُمعې ) مونځ پوره اَداء شي نو په زمکه کې خوَاره شئ، او د الله ﷻ فضَل ( يعنی حلال رزق (٢) ) اُولټوئ.

همدارنګې الله رب العزت د ورځې رُوزي ګټل په طور د اِحسان ذکر کړی، فرمايي:

﴿ وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴾. (٣)

ترجمه: او مونږ دا ورځ ذريعه د معاش ګرځولی (چې په دې کې تاسو حلاله روزي ګټئ)

الله جلّ جلاله د حضرت داوُد عليه السلام په باره کې فرمايي:

﴿ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْ بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنْتُمْ شَاكِرُوْنَ ﴾. (۴)

ترجمه: او مونږ حضرت داوُد عليه السلام ته د زغَرو جوړولو چَل ستاسو د فائدې د پاره خودلې وُ، چې دا تاسو په جنګ کې ( د تُورې د ګوزار او نقصان نه ) بچ کړي، پس آيا تاسو شکر کوونکي يئ؟

(١) سورة الجمعة آية ١٠.

(٢) مفسرينو هم په دې آيت کې د '' فَضْلِ الله '' نه د رزق طلب کول اخيستي دي: وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللهِ. اى الرزق. تفسير مظهري سورة الجمعة آية ١٠، تفسير زاد المسير ج۴ ص ٢٨۴، تفسير بغوي ج۴ ص ٩٣، تفسير مدارک ج٣ ص ۴٨٢ سورة الجمعة آية ١٠. وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللهِ: يعني الرزق، وهذا أمر إباحة ... وقيل قوله فانتشروا في الأرض ليس لطلب دنيا ولكن لعيادة مريض وحضور جنازة و زيارة أخ في الله. وقيل وابتغوا من فضل الله هو طلب العلم. وعن عراك بن مالك أنه كان إذا صلى الجمعة إنصرَفَ فوَقَفَ على بابِ المسجد وقال: اَللّٰهمّ أَجَبْتُ دَعوتَك وصلّيتُ فَرِيْضَتَكَ وَانْتَشَرْتُ كما أمَرْتَنِيْ فَارْزُقْنِيْ مِنْ فَضْلك وأَنْتَ خيرُ الرّازقين. تفسير خازن ج۴ ص ٢٩۴ سورة الجمعة آية ١٠.

(٣) سورة النبا آية ١١.

(۴) سورة الأنبياء آية ٨٠.

**فائده** : په دې آيت کې الله ﷻ حضرت داوٗد عليه السلام ته د زغرو جوړولو حِکمت دا بيان کړی چې " دا زغرې تاسو په جنګ کې د تورې د ګوزار نه بچ کړي " ، او ورسره ورسره الله ﷻ د زغرې جوړولو دا چَل خودل د اِنعام په طور ذکر کړی.

ددينه دا معلومه شوه چې کله د يو کسب په ذريعه خلقو ته نَفع رسي ، او دده په کې د خلقو د خِدمت نيت وي نو دداسې کسب په زده کولو او خودلو کې هم ثواب دی. (١)

دغه وجه ده چې ډيرو اَنبياء کرامو مختلف قِسمه کسبونه او کارونه کړي.

هم دارنګې صحابه کرامو هم بَحري او بَرّي تجارتونه کړي. (٢)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : طَلَبُ الْحَلَالِ وَاجِبٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ. (٣)

د حلال مال طلب کول په هر مسلمان واجب دي.

د ابوداوٗد شريف ( اُوردِ ) حديث دی ، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يو سوال کوونکي ته د کار کولو حکم اوکړو : إِذْهَبْ فَاحْتَطِبْ وَبِعْ ...... هٰذَا خَيْرٌ لَّكَ مِنْ أَنْ تَجِيْءَ الْمَسْأَلَةُ نُكْتَةً فِيْ وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (٤)

---

(١) اسلامي معيشت کي خصوصيات اور صنعتي تعلقات ص ٤١.

(٢) وَكَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَّجِرُوْنَ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ويعملون في نخيلهم والقدوة بهم . احياء علوم الدين كتاب آداب الكسب والمعاش ج٢ ص ٦٣ ، نزهة الناظرين ص ٢٣٨ كتاب آداب الكسب.

(٣) كنز العمال كِتَابُ الْبُيُوْعِ من قسم الاقوال الباب الأول: في الكسب الفصل الأول : في فضائل الكسب الحلال ج ٤ ص ٥ رقم الحديث ٩٢٠٤ ، اوسط الطبراني ج٨ ص ٢٧٢ رقم الحديث ٨٦١٠ ، كذا في مجمع الزوائد ج ١٠ ص ٢٩١.

(٤) دا واقعه په ابوداوٗد شريف کې داسې ذکر ده : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ، أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ ، فَقَالَ « أَمَا فِي بَيْتِكَ شَيْءٌ ؟ » قَالَ : بَلَى . حِلْسٌ نَلْبَسُ بَعْضَهُ وَنَبْسُطُ بَعْضَهُ ، وَقَعْبٌ نَشْرَبُ فِيهِ مِنَ الْمَاءِ . قَالَ : « ائْتِنِي بِهِمَا » . قَالَ : فَأَتَاهُ بِهِمَا . فَأَخَذَهُمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ ، وَقَالَ : « مَنْ يَشْتَرِي هٰذَيْنِ ؟ » قَالَ رَجُلٌ : أَنَا ، آخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ . قَالَ . « مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ مَرَّتَيْنِ ، أَوْ ثَلَاثًا » . قَالَ رَجُلٌ : أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمَيْنِ . فَأَعْطَاهُمَا إِيَّاهُ ، وَأَخَذَ الدِّرْهَمَيْنِ وَأَعْطَاهُمَا الْأَنْصَارِيَّ ، وَقَالَ : « اشْتَرِ بِأَحَدِهِمَا طَعَامًا فَانْبِذْهُ إِلَى أَهْلِكَ ، وَاشْتَرِ بِالْآخَرِ قَدُومًا فَأْتِنِي بِهِ » . فَأَتَاهُ بِهِ . فَشَدَّ فِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُودًا بِيَدِهِ . ثُمَّ قَالَ لَهُ : « اذْهَبْ فَاحْتَطِبْ وَبِعْ ، وَلَا أَرَيَنَّكَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا » . فَذَهَبَ الرَّجُلُ يَحْتَطِبُ وَيَبِيعُ ، فَجَاءَ وَقَدْ أَصَابَ عَشْرَةَ دَرَاهِمَ . فَاشْتَرَى بِبَعْضِهَا ثَوْبًا ، وَبِبَعْضِهَا طَعَامًا . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « هٰذَا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَجِيءَ الْمَسْأَلَةُ نُكْتَةً فِي وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ... سنن ابي داود كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَا تَجُوزُ فِيهِ الْمَسْأَلَةُ رقم الحديث ١٦٤١ ، ابن ماجه باب بيع المزايدة رقم ٢١٩٨ ، مشكاة المصابيح باب من لا تحل له المسالة و من تحل له الفصل الثاني رقم ١٨٥١.

لاړ شه ، لرګي جَمع کړه او خرڅوه ( دا کس لاړ ، لرګي به يې راوړل او خرڅول به يې ، څو ورځې پس راغی نو لس دِرهمه يې ګټلي وو ) رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل : دا ستا د پاره ددې نه ډير بهتر دی چې دا سوال د قيامت په ورځ ستا په مخ باندې د ذِلت داغ جوړ شوې ښکاره شي .

د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَأَنْ يَحْتَطِبَ أَحَدُكُمْ حُزْمَةً عَلَى ظَهْرِهِ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ أَحَدًا، فَيُعْطِيَهُ أَوْ يَمْنَعَهُ . (١)

په تاسو کې چې يو کس په خپله شا باندې د لرګو ګيډې راوړي دا دده د پاره ددې نه ډير بهتر دی چې د يو چا نه سوال اوکړي ، هغه به يې ده ته يا ورکړي او يا به يې ورنه منع کړي .

## حلال کسب او حلاله روزي ګټل فرض دي

د مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ . (٢)

د حلال رِزق طلب کول د ( مونځ ، روژې ، زکوة ، حج وغيره ) فرائضو نه پس فرض دي .

**فائده** : په دې مختصر حديث کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم بهترين علوم او بهترين اصول ذکر کړي چې د دين د اولني فرائضو ( يعنی اَرکانِ اسلام ) نه پس په دويمه درجه کې اَهمه فريضه حلال رِزق طلب کول دي .

يعنی اول د انسان په ذِمه باندې مونځ ، روژه ، زکوة ، حج وغيره اداء کول فرض دي ، بيا ددې نه پس په ده باندې د خپل ځان او خپل اهل و عيال د پاره حلاله نفقه ګټل فرض دي .

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الْبُيُوعِ بَابُ كَسْبِ الرَّجُلِ وَعَمَلِهِ بِيَدِهِ رقم الحديث ٢٠٧٤ ، و رقم الحديث ٢٣٧٤ باب بيع الحطب والكلاء ، و اخرجه مسلم في الزكاة باب كراهة سؤال الناس رقم الحديث ١٩٤٢ ، ورواه الترمذي والنسائي .

(٢) مشكاة المصابيح كِتَابُ الْبُيُوعِ بَابُ الْكَسْبِ وَطَلَبِ الْحَلَالِ الفصل الثالث رقم الحديث ٢٧٨١ ، السنن الكبرى للبيهقي باب كسب الرجل وعمله بيده رقم ١١٦٩٥ ، كنزالعمال كِتَابُ الْبُيُوعِ من قسم الاقوال الباب الأول: في الكسب الفصل الأول : في فضائل الكسب الحلال ج ۴ رقم الحديث ٩٢٣١ .

**نوټ** : دا حديث اګر چې د سَنَد په اِعتبار سره ضعيف دی ، خو ليکن د ټول اُمت علماء په دې مُتفِق دي چې دا حديث د معنی په اِعتبار سره صحيح دی ، او ټولو قبول کړی . اصلاحي خطبات ج ١٠ ص ١٨٥ .

البته که د يو انسان خپل اهل و عيال نه وي ، دده په ذِمه د چا نفَقه واجب نه وي ، او دده ضروريات پوره کول د بل چا په ذِمه وي نو بيا په ده باندې حلال کسب کول فرض نه دي.(١)

**اسلام بې کاره کس نه خوښوي :** په اسلام کې د عيسايانو په شان رَهبانيت نشته چې انسان هر څه پرېږدي ، ځنګل ته لاړ شي ، او هلته د الله ﷻ ذکر کوي ،

بلکه چې کله د انسان په ذِمه باندې د خپل ځان او د خپل اهل و عيال نفَقه واجب وي نو اسلام دده د پاره د اَرکانِ اسلام اَداء کولو نه پس حلال رِزق ګټل فرض کړي دي .

اوس که دا انسان بيکاره ناست وي ، هيڅ کار نه کوي نو دا سړې د فرضو په پرېخودو باندې ګناهګار دی . ځکه شريعت دا نه خوښوي چې انسان دې هميشه سست او بې کاره ناست وي ، او د خلقو نه دې سوال کوي ، د همدې وجې نه رسول الله صلی الله عليه وسلم د حلال رِزق طلب کول د فرضي عباداتو نه پس فرض او ګرځول . (٢)

په قرآن کريم او احاديثو کې دا مضمون په واضحه الفاظو ذکر دی چې د نتائجو دَارُو مَدار په کسب او عمل باندې دی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعٰى ﴾ . (٣)

ترجمه : نشته د انسان د پاره مګر هغه چې ده يې کوشش او کړو .

يعنی هر انسان ته به هماغه څه ملاوېږي د کوم چې دې کوشش کوي . (٤)

## د خپل لاس ګټه ډېره بهتره ده

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) مظاهر حق شرح مشكاة ج٥ في تشريح الحديث المذكورة .

(٢) اصلاحي خطبات لمولانا تقي عثماني دامت بركاتهم العالية ج ١٠ ص ١٨٦ .

(٣) سورة النجم آية ٣٩ .

(٤) **نوټ** : ددې آيت تعلق لکه څرنګې چې د آخرت د اُمورو سره دی همدارنګې د محنت ، مزدورۍ ، زراعت وغيره سره هم دی ، ځکه لکه څرنګې چې مونځ ، روژه ، زکوة وغيره عبادات دي همدغه شان حلال رزق ګټل ، مِحنت او مَزدوري کول هم عبادت دی .

مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ . وَإِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ . (١)

تر او سه هيچا د خپل لاس د ګټې نه بهتر خوراک ندې خوړلى ، او بيشکه د الله ﷻ نبي " حضرت داؤد عليه السلام " به هم د خپل لاس په محنت سره ګټلې شوې روزي خوړه .

يعنې په خوراک کې بهترين خوراک هغه دى چې انسان يې د خپل لاس په محنت اوګټي، او وې خوري . دغه وجه ده چې حضرت داؤد عليه السلام به د حکومت چلولو سره سره زغرې جوړولى ، بيا به يې هغه خرڅولى ، د ګټې په يوه حصه به يې خپل ضروريات پوره کول ، او دوه حصې به يې په فقيرانو خيرات کولى .

په احاديثو کې د خپل لاس ګټې ته پاکيزه او بهترين کسب ويل شوى ، د مشکوة شريف حديث دى ، د رسول الله ﷺ نه پوښتنه اوشوه :

يَا رَسُولَ اللّٰهِ ! أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ ؟

اې د الله ﷻ رسوله ! کوم کسب ډير پاکيزه او افضل دى ؟

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل :

عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ . وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُورٍ . (٢)

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الْبُيُوعِ بَابُ كَسْبِ الرَّجُلِ وَعَمَلِهِ بِيَدِهِ رقم الحديث ٢٠٧٢، مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول رقم الحديث ٢٧٥٩ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦٣١ .

(٢) عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ : قِيْلَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ ! أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ ؟ قَالَ : عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ ، وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُوْرٍ . مشكاة المصابيح كِتَابُ الْبُيُوعِ بَابُ الكسب وطلب الحَلَال الفصل الثالث رقم الحديث ٢٧٨٣ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٤٤١١ ، ورقم ٥١٩ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢١٥٨ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٠٣٩٧ باب اباحة التجارة ، كنز العمال كِتَابُ الْبُيُوعِ من قسم الاقوال الباب الأول: في الكسب الفصل الأول : في فضائل الكسب الحلال رقم الحديث ٩١٩٦ .

وفي رواية : سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ أَوْ أَفْضَلُ ؟ قَالَ: « عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ . وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُوْرٍ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم كتاب البيوع ج ٢ ص ١٢ رقم الحديث ٢١٥٨ ، وقال الحاكم صحيح الاسناد و لم يخرجاه ، وقال الذهبي : صحيح ، وصححه الالباني في الجامع الصغير .

د انسان په خپل لاس باندې ګټه کول، او هر هغه بيع چې هغه مقبول وي ( يعنی د شرعي اُصولو او قواعدو موافق وي ) .

د ترمذي شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلْتُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ، وَإِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ . (۱)

بيشکه تاسو چې څه خورئ په دې کې ډېر پاکيزه ( او اَفضل ) هغه دی چې ستاسو د خپلې ګټې نه حاصل شوې وي، او بيشکه ستاسو اولاد هم ستاسو ګټه ده .

د حديث د دويمې جُملې مطلب دادی چې که والدين محتاج وي ګټه نشي کولی نو د دوی د ژوند ضروريات پوره کول په ځوي باندې واجب دي، او دوی ته د خپل اَولاد ګټه خوړل جائز دي .

**په تورات کې د حلال کسب حکم :** په توراه کې هم د حلال کسب او د خپل لاس د ګټې ترغيب راغلې دی. امام احمد بن حنبل رحمه الله په "کتابُ الزّهد" کې ليکلي دي :

وليد بن عمرو فرمايي چې ماته دا خبره په مُعتمدې طريقې سره رارسيدلې ده چې په تورات کې دا خبره ليکلې ده، الله تعالی فرمايي :

اِبْنَ آدَمَ ! حَرِّكْ يَدَيْكَ أَفْتَحْ لَكَ بَابًا مِنَ الرِّزْقِ . وَأَطِعْنِيْ فِيْمَا أَمَرْتُكَ فَمَا أَعْلَمَنِيْ بِمَا يُصْلِحُكَ . (۲)

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ الأَحْكَامِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ الوَالِدَ يَأْخُذُ مِنْ مَالِ وَلَدِهِ رقم الحديث ۱۳۵۸، سنن ابن ماجه باب ما للرجل من مال ولده رقم الحديث ۲۲۹۰، مشكاة المصابيح كِتَابُ الْبُيُوعِ بَابُ الكسب وَطلب الحَلَال الفصل الثاني رقم الحديث ۲۷۷۰، كنز العمال رقم الحديث ۹۲۲۵ .

وفي رواية : إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلَ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهِ . وَإِنَّ وَلَدَهُ مِنْ كَسْبِهِ . سنن ابن ماجه كِتَابُ التِّجَارَاتِ بَابُ الحَثِّ عَلَى المَكَاسِبِ رقم الحديث ۲۱۳۷، سنن النسائي باب الحث على الكسب رقم الحديث ۴۴۴۹، كنز العمال رقم الحديث ۹۲۲۴، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث رقم ۱۵۷۴۷، صحيح ابن حبان رقم ۴۲۵۹ ذكر الاخبار عن اباحة اخذ المرء من مال ولده ... مشكاة المصابيح رقم الحديث ۲۷۷۰ .

(۲) كتاب الزهد للامام احمد بن حنبل رحمه الله ج۱ ص ۷۱ رقم الحديث ۴۳۳، ترغيب المسلمين في الرزق الحلال و طعمة الصالحين لمولانا موسى خان روحاني بازي رحمه الله ص ۲۲۲ .

اې د آدم ځويه ! ته خپل لاسونه خوزوه ( يعني حلال کسب کوه ) زه به تاته د رِزق دروازه کلاوٰ کړم ، او ما چې درته د کومو اَحکاماتو حکم کړی په هغې کې زما اِطاعت کوه ، ځکه ستا په مَصلحتونو او ضرورتونو زه ښه خبر داريم (دا به درله زه پوره کوم) .

## الله ﷻ کسب ګر مؤمن خوښوي

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُؤْمِنَ الْمُحْتَرِفَ . (١)

بيشکه الله ﷻ (په حلالې طريقې سره) کسب کوونکې مؤمن خوښوي .

## د حلال رِزق طلب کوونکي کس مقام

د مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا اِسْتِعْفَافًا عَنِ الْمَسْأَلَةِ وَسَعْيًا عَلَى أَهْلِهِ وَتَعَطُّفًا عَلَى جَارِهِ لَقِيَ اللهَ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهُ مِثْلُ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ . (٢)

څوک چې حلاله دُنيا ددې د پاره طلب کوي چې د سوال نه پرې بچ شي ، د خپل اَهل و عيال د پاره نَفقه پيدا کړي ، او د خپلو ګاونډيانو سره مهرباني ( او اِحسان ) اوکړي نو دا کس به د الله ﷻ سره په داسې حالت کې مخامخ کيږي چې مَخ به يې د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په شان (روښانه) وي .

(١) رواه الطبراني في المعجم الاوسط جزء ٨ ص ٨٣ رقم ٨٩٣٤ ، وفي الكبير ، مجمع الزوائد ٤ / ٦٢ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٤٠٦ ثواب الاكتساب من جهات الحل والعمل باليد .

(٢) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا اِسْتِعْفَافًا عَنِ الْمَسْأَلَةِ وَسَعْيًا عَلَى أَهْلِهِ وَتَعَطُّفًا عَلَى جَارِهِ لَقِيَ اللهَ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهُ مِثْلُ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ . وَمَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا مُكَاثِرًا مفَاخِرًا مرَائِيًا لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ » . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ . وَأَبُو نُعَيْمٍ فِي الْحِلْيَة . مشكاة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الثالث رقم الحديث ٥٢٠٧ ( ٥٣ ) ، كنز العمال رقم الحديث ٩٢٢٧ ، ابن ابي شيبة ٧ / ١٦ ، وذكره الزبيدي في الاتحاف ٥ / ٤١٤ ، نزهة الناظرين كتاب آداب الكسب ص ٣٣٧

## خپل اَولاد له حلال رِزق ګټل ''جهاد فِي سَبِيلِ الله'' دی

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې که يو کس د خلقو د اِحتياج نه د بچ کيدلو د پاره د خپل ځان او خپل اَهل و عيال د پاره حلال کسب کوي او حلاله روزي ګټي نو دا هم ''جِهَادٌ فِيْ سَبِيْلِ الله'' دی، او د ډيرو عباداتو نه بهتر دی.

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ سَعٰى عَلٰى عِيَالِهٖ مِنْ حِلِّهٖ فَهُوَ كَالْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَمَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا فِيْ عَفَافٍ كَانَ فِيْ دَرَجَةِ الشُّهَدَآءِ . (١)

څوک چې د خپل اولاد د پاره د حلال رِزق په ګټلو کښې کوشش کوي نو دا داسې دی لکه د الله ﷻ په لاره کښې جِهاد کوونکې کس، او څوک چې د سوال نه د بَچ کيدو د پاره حلاله دُنيا طلب کوي نو دې به د شهيدانو په درجه کښې وي.

حضرت کعب بن عُجرة رضي الله عنه فرمايي چې يو کس په نبي عليه الصلوٰةُ والسلام باندې تېر شو، کله چې د نبي عليه السلام صحابه کرامو دده قوت او چُست والې اُوليده نو وې ويل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! لَوْ كَانَ هٰذَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

اې د الله رسوله! که چيرته دا کس د الله ﷻ په لاره کښې وی (نو څومره به ښه وُ).

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

إِنْ كَانَ خَرَجَ يَسْعٰى عَلٰى وَلَدِهٖ صِغَارًا فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَإِنْ خَرَجَ يَسْعٰى عَلٰى أَبَوَيْنِ شَيْخَيْنِ كَبِيْرَيْنِ فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَإِنْ كَانَ يَسْعٰى عَلٰى نَفْسِهٖ يَعِفُّهَا فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَإِنْ كَانَ خَرَجَ

(١) اخرجه الطبراني فى الاوسط من حديث ابي هريرة ، احياء علوم الدين ج٢ ص ١٢٢ الباب الاول فى فضيلة الحلال ومذمة الحرام طبع مكتبه رشيديه كوئټه ، و رواه البيهقي فى السنن الكبرى ج ٧ ص ٥٧٩ ، كنزالعمال ج۴ ص ١٠ رقم الحديث ٩٢٣٥ ، إلقاء الحرام والشبهات في طلب الرزق ج١ ص ١٩ .

رِيَاءً وَتَفَاخُرًا فَهُوَ فِي سَبِيْلِ الشَّيْطَانِ . (١)

که چيرته ـ ا کس ددې د پاره راأوتې وي چې د خپلو ورو بچو د پاره خواري وکړي (او حلال رزق ورله اوګټي) نو دا د الله ﷻ په لاره کې دی ، او که دا ددې د پاره راأوتې وي چې د خپلو بُوډاګانو والدينو د پاره خواري اوکړي نو بيا هم د الله ﷻ په لاره کې دی ، او که ددې د پاره راوتی وي چې د خپل ځان د پاره خواري کوي ، او خپل ځان د سوال نه بچ کوي نو بيا هم د الله په لاره کې دی ، او که دا راأوتې وي او د رِياء او فخر د پاره خواري کوي نو دا بيا د شيطان په لاره کې دی .

# په بعضې حالاتو کې حلال کسب کوونکي ته په خالِصه عبادت کوونکي فضيلت حاصل دی

په بعضې حالاتو او وختونو کې د فرائضو اداء کولو سره سره حلال زرق طلب کوونکي مِحنت کش انسان ته په هغه عابِد باندې فضيلت ورکړې شوې دی چې هغه مسلسل په مونځونو ، تلاوتونو او نوافلو کې مشغول وي او حلال کسب نه کوي .

ددې لاندې څو واقعاتو نه به درته دا مضمون ښه واضحه شي .

١ . په مراسيلو د ابوداؤد کې ذکر دي چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په صحابه کرامو کې څه خلقو (د نبي ﷺ د وړاندې) د خپل يو ملګري صفت کولو ، او ويل يې :

---

(١) عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ : مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ . فَرَأَى أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَلَدِهِ وَنَشَاطِهِ مَا أَعْجَبَهُمْ . فَقَالُوْا : يَارَسُوْلَ اللهِ ! لَوْ كَانَ هٰذَا فِي سَبِيْلِ اللهِ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنْ كَانَ خَرَجَ يَسْعٰى عَلٰى وَلَدِهٖ صِغَارًا فَهُوَ فِي سَبِيْلِ اللهِ . وَإِنْ خَرَجَ يَسْعٰى عَلٰى أَبَوَيْنِ شَيْخَيْنِ كَبِيْرَيْنِ فَهُوَ فِي سَبِيْلِ اللهِ . وَإِنْ كَانَ يَسْعٰى عَلٰى نَفْسِهٖ يَعِفُّهَا فَهُوَ فِي سَبِيْلِ اللهِ . وَإِنْ كَانَ خَرَجَ رِيَاءً وَتَفَاخُرًا فَهُوَ فِي سَبِيْلِ الشَّيْطَانِ . رواه الطبراني و رجاله رجال الصحيح ، المعجم الوسيط للطبراني ج٧ ص ٥٦ رقم الحديث ٦٨٣٥ باب الميم ، و رواه المنذري ٢ /٥٢٤ ، ٣ /٦٣ ، والهيثمي في المجمع ٤ /٣٢٥ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٤٠٦ ثواب الاكتساب من جهات الحل والعمل باليد .

همدغه شان واقعه په احياء العلوم کې هم ذکر ده ج ٢ ص ٦١ الباب الاول في فضل الكسب والحث عليه ، كيمياے سعادت الاصل الثالث .

مَا رَأَيْنَا مِثْلَ فُلَانٍ قَطُّ . مَا كَانَ فِي مَسِيْرٍ إِلَّا كَانَ فِي قِرَاءَةٍ ، وَلَا نَزَلْنَا مَنْزِلًا إِلَّا كَانَ فِي صَلَاةٍ .

مونږ د فلانکي په شان کس ترا وسه پورې نه دې ليدلى ، ده په هر سفر کې تلاوت کولو ، و په هر ځاى کې به يې چې پړاؤ واچولو نو مونځ به يې کولو .

نبي عليه السلام ورنه پوښتنه وکړه : دده د اَولاد کفالت څوک کوي ؟ ..... تر دې پورې چې نبي عليه السلام پوښتنه وکړه چې دده اُوښ او څاروي له ګیاه څوک وراچوي ؟ صحابه کرامو اوفرمايل : مونږ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

فَكُلُّكُمْ خَيْرٌ مِنْهُ . (١)

پس تاسو ټول د هغه نه بهتر يئ .

٢ . حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يو سفر کې ملګري وو ، په مونږ کې بعضې خلقو ( نَفلي ) روژه نيولې وه ، او د بعضو نه وه ، په يوه سخته ګرمه ورځ کې مونږ په يو ځاى کې پَړاؤ واچول ( نزدې څه سورې نهٔ ) چې د چا سره به څادرۇ هماغه سره به ډير سورې ؤ ، بعضو په کې د خپل لاس په ذريعه د ګرمۍ نه ځان بچ کول ، چې کومو خلقو روژه نيولې وه هغوى خو ( د نفلي روژې او سختې ګرمۍ په وجه ) يو طرف ته څملاست ، او چا چې روژه نه وه نيولى هغوى دا ټول کارونه اوکړه ، خيمې يې اُولړولى ، څاروو ته يې اُوبه ورکړى .

نبي عليه السلام وفرمايل : نن ورځ ټول ثواب هغه خلقو اوګټل چا چې ( نفلي ) روژه نه وه نيولى . (٢)

٣ . په رواياتو کې راځي چې حضرت عيسى عليه السلام يو کس اُوليده ، پوښتنه يې ورنه اوکړه :

مَا تَصْنَعُ ؟ ته څه کار کوى ؟

(١) وَفِي " مَرَاسِيْلِ أَبِي دَاوُدَ " عَنْ أَبِي قِلَابَةَ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمُوْا يُثْنُوْنَ عَلَى صَاحِبٍ لَهُمْ خَيْرًا . قَالُوْا : مَا رَأَيْنَا مِثْلَ فُلَانٍ قَطُّ . مَا كَانَ فِي مَسِيْرٍ إِلَّا كَانَ فِي قِرَاءَةٍ . وَلَا نَزَلْنَا مَنْزِلًا إِلَّا كَانَ فِي صَلَاةٍ . قَالَ : فَمَنْ كَانَ يَكْفِيْهِ ضَيْعَتَهُ ؟ حَتَّى ذَكَرَ : مَنْ كَانَ يَعْلِفُ جَمَلَهُ أَوْ دَابَّتَهُ ؟ قَالُوْا : نَحْنُ . قَالَ : فَكُلُّكُمْ خَيْرٌ مِنْهُ . جامع العلوم والحكم ابن رجب الحنبلي ج٢ ص ٢٩٦ ، اِتّقاء الحرام والشبهات في طلب الرزق ج١ ص ٢٣ .

(٢) نداے منبر ومحراب ج٢ ص ١٥٦ .

أَتَعَبَّدُ. زه د الله ﷻ عبادت کوم.

حضرت عيسى عليه السلام ورته وفرمايل: ستا د خوراک انتظام څوک کوي؟ ( يعني ستا د خوراک بوج په چا دی؟ ) ، هغه ورته وويل: زما ورور ( زما د خوراک بندوبس کوي ). حضرت عيسى عليه السلام ورته وفرمايل:

أَخُوكَ أَعْبَدُ مِنْكَ. (١)

ستا ورور د تانه ډير زيات عبادت ګزار دی.

۴. د مشهور بزرګ " ابراهيم رحمه الله " نه چا پوښتنه اوکړه چې: آيا ستا په نزد باندې ريښتينې تاجِر بهتر دی؟ يا هغه کس چې صرف عبادت کوي؟ ( او څه کسب وغيره نه کوي ). ده ورته وويل:

اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ أَحَبُّ إِلَيَّ ، لِأَنَّهُ فِيْ جِهَادٍ ، يَأْتِيْهِ الشَّيْطَانُ مِنْ طَرِيْقِ الْمِكْيَالِ وَالْمِيْزَانِ وَمِنْ قِبَلِ الْأَخْذِ وَالْعَطَاءِ ، فَيُجَاهِدُهُ . (٢)

ريښتينې تاجِر ( کوم چې فرضي عبادات هم کوي ، او ورسره ورسره تجارت هم کوي دا تاجِر ) ما ته د عبادت ګزار بنده نه ډير خوښ دی ، ځکه ريښتينې تاجِر په جهاد کې مصروف وي ، وجه داده چې شيطان ده ته د کيل ، وزن او لين دين د لارې نه راځي ( ده ته په دې کې دُهوکه ورکول غواړي ) ليکن دا تاجر د دې شيطان خلاف جهاد کوي ، د دُهوکې او دروغو نه ځان ساتي ( او عبادت ګزار خو صرف عبادت کوي ، د معاملاتو د لارې نه شيطان ده ته دهوکه نه ورکوي چې دې د هغه خلاف جهاد اوکړي ).

---

(١) وَرُوِيَ أَنَّ عِيْسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ رَأَى رَجُلًا فَقَالَ: مَا تَصْنَعُ؟ قَالَ أَتَعَبَّدُ. قَالَ: مَنْ يَعُوْلُكَ؟ قَالَ: أَخِيْ. قَالَ: أَخُوْكَ أَعْبَدُ مِنْكَ. احياء علوم الدين ج٢ ص ٧٠ كتاب آداب الكسب والمعاش الباب الاول في فضل الكسب والحث عليه طبع دارالكتب العلمية بيروت ، كيمياې سعادت ، كنزالعمال ج۴ ص١٢٣ رقم الحديث ١٨٥۴ ، القاء الحرام والشبهات في طلب الرزق ج١ ص ٢١.

(٢) وَسُئِلَ إِبْرَاهِيْمُ عَنِ التَّاجِرِ الصَّدُوْقِ أَهُوَ أَحَبُّ إِلَيْكَ أَمِ الْمُتَفَرِّغُ لِلْعِبَادَةِ؟ قَالَ: اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ أَحَبُّ إِلَيَّ ، لِأَنَّهُ فِيْ جِهَادٍ ، يَأْتِيْهِ الشَّيْطَانُ مِنْ طَرِيْقِ الْمِكْيَالِ وَالْمِيْزَانِ وَمِنْ قِبَلِ الْأَخْذِ وَالْعَطَاءِ ، فَيُجَاهِدُهُ . احياء علوم الدين ج٢ ص ٧٢ كتاب آداب الكسب والمعاش الباب الاول في فضل الكسب والحث عليه طبع دارالكتب العلمية بيروت ، كيمياې سعادت.

# حلال کسب کول په کار دي

چونکه دا دُنيا دَارُ الأَسباب ده ، لهذا د رِزق د حصول د پاره ظاهري اَسباب اِختيارول په کار دي.

حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي :

لَا يَقْعُدُ أَحَدُكُمْ عَنْ طَلَبِ الرِّزْقِ ، يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ " . فَقَدْ عَلِمْتُمْ أَنَّ السَّمَاءَ لَا تُمْطِرُ ذَهَبًا وَّلَا فِضَّةً . (١)

په تاسو کې دې يو کس د رِزق طلب کول ( او حلال کسب کول ) نه پرېږدي ، او صرف دا دې نه وايي چې " اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ " اې الله ! ماته رِزق راکړې ( بلکه دا دې خامخا حلال کسب هم کوي ) ، ځکه تاسو ته معلومه ده چې آسمان سره زَر او سپين زَر نه راوَروي.

( يعنی الله ﷻ په دې قادِر دی چې بغير د کسب کولو انسان ته رِزق ورکړي ، خو ليکن د هغه عادت دادی چې په څه حيلې سره انسان ته رِزق ورکوي نو ځکه حلال کسب کول په کار دي ).

**د امامِ احمد بن حنبل رحمه الله نه پوښتنه :** د امامِ احمد بن حنبل رحمه الله نه چا پوښتنه اوکړه چې تاسو د هغه کس په باره کې څه وايئ چې په کور يا جُمات کې ناست وي ، او وايي لَا أَعْمَلُ شَيْئًا حَتّٰى يَأْتِيَنِيْ رِزْقِيْ . زه هيڅ کار نه کوم ، ماته به الله ﷻ همدلته رِزق راکوي.

امامِ احمد بن حنبل رحمه الله ورته ووېل :

ذَا رَجُلٌ جَهِلَ الْعِلْمَ ، أَمَا سَمِعَ قَوْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللهَ جَعَلَ رِزْقِيْ تَحْتَ ظِلِّ رُمْحِيْ . (٢) ، (٣) .

(١) احياء علوم الدين ج٢ ص ٧١ كتاب آداب الكسب والمعاش الباب الاول في فضل الكسب والحث عليه طبع دارالكتب العلمية بيروت ، كيمياي سعادت ص ٢١٤ طبع دارالاشاعت .

(٢) مسند احمد جز ٩ ص ١٢٣ رقم ٥١١٤ ، و ص ١٢٤ ورقم ٥١١٥ واسناده صحيح .

(٣) احياء علوم الدين ج٢ ص ٧٢ كتاب آداب الكسب والمعاش الباب الاول في فضل الكسب والحث عليه طبع دارالكتب العلمية بيروت ، كيمياي سعادت .

دا سړي جاهِل دی ، ده ته عِلم او شريعت ندې معلوم ، آيا ده د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره نده اَوريدلی ، هغه فرمائلي : بيشكه الله ﷻ زما رِزق زما د نېزې د سورې لاندې ايخې دی ، ( يعنی په جهاد کې ) .

# د حلال كسب په باره كې د حضرت عُمر ﷜ وينا

١ . حضرت عمر ﷜ فرمايي :

مَامِنْ مَوْضِعٍ يَأْتِيْنِي الْمَوْتُ فِيْهِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ مَوْطِنٍ أتسوقُ فِيْهِ لِأَهْلِيْ أَبِيْعُ وَأَشْتَرِيْ . (١)

ماته په بل ځای کې مرګ راتلل دومره خوښ نه دي څومره چې زه دا خوښوم چې زه په بازار کې د خپل اهل و عيال د پاره بيع او شِراء کې مصروفه يم ، او په دې حالت کې ماله مرګ راشي . ( يعنی زه د حلال رِزق ګټلو په وخت وفات کيدل خوښوم ) .

٢ . حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي : چې کله زه يو کس اوګورم او ماته ښه ( مُعزز ) ښکاره شي ، نو زه دده متعلق پوښتنه اوکړم :

أَلَهُ حِرْفَةٌ ؟ آيا دده څه حلال کسب شته ؟

که خلق راته ووايي چې : نه ( هيڅ کار نه کوي ) .

سَقَطَ مِنْ عَيْنِيْ . (٢)

نو دا کس زما د نظر نه اُوغورځي ( يعنی زما په زړه کې چې دده کوم عظمت وُ هغه ختم شي ) .

٣ . حضرت عمر رضي الله عنه به دا هم فرمايل :

مَكْسَبَةٌ فِيْهَا بَعْضُ الدَّنَاءَةِ خَيْرٌ مِنْ مَسْأَلَةِ النَّاسِ . (٣)

هغه کسب چې په کې څه لږه ملامتيا وي دا د خلقو نه د سوال کولو نه ډير بهتر دی .

---

(١) احياء علوم الدين ج٢ ص ٧٢ كتاب آداب الكسب والمعاش الباب الاول في فضل الكسب والحث عليه طبع دارالكتب العلمية بيروت .

(٢) عَنْ عُمَرَ قَالَ : إِنِّي لَأَرَى الرَّجُلَ فَيُعْجِبُنِيْ . فَأَقُوْلُ : لَهُ حِرْفَةٌ ؟ فَإِنْ قَالُوْا : لَا . سَقَطَ مِنْ عَيْنِيْ . كنزالعمال ج٤ ص ١٢٣ رقم الحديث ٩٨٥٨ ، إتقاء الحرام والشبهات في طلب الرزق ج١ ص ٢٠ .

(٣) علي المتقي كنزالعمال ج٤ ص ١٢٢ رقم الحديث ٩٨٥٤ ، إتقاء الحرام والشبهات في طلب الرزق ج١ ص ٢١ .

## د حلال رِزق ګټلو په باره کښې د لقمان حکيم خپل ځوي ته نصيحت

لقمان حکيم خپل ځوي ته نصيحت کوي ، او ورته فرمايي :

يَا بُنَيَّ ! اِسْتَغْنِ بِالْكَسْبِ الْحَلَالِ عَنِ الْفَقْرِ فَإِنَّهُ مَا افْتَقَرَ أَحَدٌ قَطُّ إِلَّا أَصَابَهُ ثَلَاثُ خِصَالٍ: رِقَّةٌ فِيْ دِيْنِهٖ . وَضُعْفٌ فِيْ عَقْلِهٖ . وَذَهَابُ مُرُوْءَتِهٖ . وَأَعْظَمُ مِنْ هٰذِهِ الثَّلَاثِ اِسْتِخْفَافُ النَّاسِ بِهٖ . (١)

اې ځويه ! د حلال کسب په کولو سره ځان د فقيرۍ نه خلاص کړه ، ځکه چې څوک هم بل ته محتاج شي نو په ده کښې درې خَصلتونه خامخا راځي :

١ . په دين کښې يې کمزوري (او تَنګي) راځي . ٢ . عقل يې کمزورې کيږي .
٣ . مُروءَت ( او غيرت ) ورنه ځي . او ددې نه غټ نقصان يې دادی چې خلق ده ته سپَک ګوري .

## نبي عليه السلام د کسب کوونکي (مِحنت کش) لاس بُشکل کړی

اِسلام د هغه خلقو حوصله اَفزائي کړی او د هغوی اُوچت مقام او مرتبه يې بيان کړی کوم چې په حلالې طريقې سره مِحنت او مَزدوري کوي ، او حلال کسب يې د الله ﷻ د قُرب ذريعه ګرځولی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم پخپله په څو موقعو باندې د مِحنت کش لاس چَپ (بنکل) کړی :

١ . يو ځل حضرت جابر رضي الله عنه د نبي عليه السلام سره مصافحه اوکړه نو دده لاسونه نبي عليه السلام ته څه زِيګ او دَاغدار معلوم شو ، رسول الله ﷺ ورنه پوښتنه اوکړه :

چې (ستا په لاسونو باندې) دا داغ څه شي دی ؟ هغه ورته ووېل :
اې د الله رسوله ! زه د نَعل بندۍ (يعنی څاروو ته د نالونو ټک وهلو) کار کوم ، او په دې سره خپل بال بچ له حلال رِزق راپيدا کوم .

(١) احياء علوم الدين ج٢ ص ٧١ كتاب آداب الكسب والمعاش الباب الاول في فضل الكسب والحث عليه طبع دارالكتب العلمية بيروت ، نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين كتاب آداب الكسب والمعاش... ص ٣٢٨ .

نبي عليه السلام دده لاسونه چَپ ( ښُکل ) کړه ، او وې فرمايل :

هٰذِهٖ يَدٌ لَا تَمَسُّهَا النَّارُ .

دا داسې لاسونه دي چې دا به د جهنم اُور نه مسه کوي . (١)

٢ . همدغه شان واقعه د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه په باره کې هم نقل ده ، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د غزوه تبوک په موقع باندې دا خپل قائم مقام جوړ کړې وُ ، دې به چې د مسلمانانو د خِدمت نه فارغه شو نو بيا به يې د خپلو ضرورياتو د پاره لرګي راکټ کول ، کله چې نبي عليه السلام واپس تشريف راوړو ( او ده ورسره مصافحه اوکړه ) نو پيغمبر عليه السلام دده په لاس کې داسې سختي محسوس کړه کومه چې مخکې دده په لاسونو کې نه وه ، پوښتنه يې ورنه اوکړه : چې د څه شي په وجه ستا دا لاسونه سخت شوي ؟

( ده ورته خپله واقعه بيان کړه چې لرګي مې کټ کول ) ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته چې سبَب معلوم شو نو دده لاسونه يې راپورته کړه او چَپ ( ښُکل ) يې کړه ، او وې فرمايل :

" دا داسې لاسونه دي چې ديته د جهم اُور هيڅ کله نه رسي " . نبي عليه السلام درې پيرې دا خبره اوکړه . (٢)

فائده : دا څومره لوي عزت او شرافت دی چې سردارِ دوجهان محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم د محِنت کش لاس په هغه مبارکه خُله باندې ښکل کړه په کومه خُله باندې به چې د وَحي آيتونه تلاوت کيده .

(١) لدای ممبر و محراب ج٣ ص١٥٨ بحواله اسدالغابة .

په اُسد الغابة کې دا واقعه د يو بل صحابي په باره کې ذکر ده : روی أنس بْن مالك : أنَّ رَسُول اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لمّا أقبل من غزوة تبوك ، استقبله سعد الأنصاري ، فصافحه النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثمّ قال : ما هذا الذي أكتب يديك ؟ قال : يا رَسُول اللهِ ! أضرب بالمر والمسحاة فأنفقه عَلَى عيالي . فقبل يده رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وقال: " هٰذه يد لا تمسها النار " . اسدالغابة ج٢ ص ٢٢٠ رقم ١٩٦٧ .

(٢) لدای ممبر و محراب ج٣ ص١٥٨ .

## نبي علیه السلام د مِحنت کش او مزدور کار د پاره د رحمت دُعا کړې

نبي ﷺ په څو موقعو باندې د مِحنت کش او مزدورکار د پاره رحمت دُعا کړې.

١ . د مسجدِ نبوي جوړېدو په وخت يو صحابي په ډېر مَهارت سره خَټه جوړوله، نبي عليه السلام (ددې په ليدو) خوشحاله شو، او وې فرمايل:

الله تعالى دې په هغه کس رحم او کړي چې په يو کار کې مهارت پيدا کړي.

بيا يې دې صحابي ته وفرمايل: ته همدا کار کوه ځکه ماته په نظر راځي چې ته دا ښه کولې شې. (١)

٢ . يو ځل حضرت علي رضي الله عنه يوې يهودنړې ښځې له په مزدورۍ باندې د کوهي نه اُوبه را اُوويستې، د هرې بوقې راويستلو په عوض کې په يوه قجوره ورسره خبره شوې وه، حضرت علي رضي الله عنه دومره ډېرې بوقې راوويستې چې ددې په وجه يې لاسونه زخمي شو، کله چې د کار نه فارغه شو قجورې يې د ځان سره راواخيستې، او د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضِر شو، پوره واقعه يې ورته بيان کړه، نبي عليه السلام دده تعريف اوکړو، او د هغه قجورو نه يې څه اُوخوړې. (٢)

## په حلال کسب کولو سره ګناهونه معاف کيږي

١ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ أَمْسٰى كَالًّا مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ أَمْسٰى مَغْفُوْرًا لَهُ . (٣)

---

(١) سنن ابن ماجه، نداى ممبر و محراب ج٣ ص١٥٧ .

(٢) نداى ممبر و محراب ج٣ ص١٦٦ .

(٣) المعجم الاوسط للطبراني جز ٧ ص ٢٨٩ رقم ٧٥٢٠ ، الترغيب والترهيب ٢ / ٥٢٤ ، كنز العمال كِتَابُ الْبُيُوْعِ من قسم الاقوال الباب الأول: في الكسب الفصل الأول: في فضائل الكسب الحلال ج ٤ رقم الحديث ٩٢١٤ ، و خرّج الطبراني باسناده عن عائشة رضي الله عنها، مجمع الزوائد ٤ / ٦٣ ، و رواه الزبيدي في الاتحاف ٦/٩ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٤٠٦ ثواب الاكتساب في جهات الحل والعمل باليد .

و في رواية: مَنْ بَاتَ كَالًّا فِيْ طَلَبِ الْحَلَالِ بَاتَ مَغْفُوْرًا لَهُ . ابن عساكر عن انس، كنز العمال رقم الحديث ٩٢١٥ . چا چې په داسې حالت کې شپه تېره کړه چې د حلال رزق په طلب کولو کې ستړی وُ نو ده په داسې حالت کې شپه تېره کړه چې ده ته بخنه کړې شوې ده .

٢ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مِنَ الذُّنُوبِ ذُنُوبٌ لَا يُكَفِّرُهَا إِلَّا الهَمُّ بِطَلَبِ المَعِيشَةِ . (١)

په دې ګناهونو کې بعضې داسې ګناهونه دي چې هغه بل شی نه ختموي بلکه صرف د رِزق طلب کولو غم ( او کوشش ) دا ختموي .

٣ . د بعضې اسلافو نه دا خبره نقل ده چې کله يو بنده د حلال خوراک اَوله نوړۍ اُوخوري نو په دې سره دده مخکيني ټول ګناهونه معاف کړې شي ، او څوک چې د حلال رِزق په طلب کولو کې ذِلت برداشت کړي تَسَاقَطَتْ عَنْهُ ذُنُوبُهُ كَتَسَاقُطِ وَرَقِ الشَّجَرِ .

نو په دې سره دده ګناهونه داسې رژيږي لکه د( خزان په موسم کې د ) اُونو نه چې پاڼې رژيږي . (٢)

## د حلال رِزق طلب کولو په وجه د فرضي عباداتو پريخودل ناجائز دي

محترمو مسلمانانو ! په دې کې هيڅ شک و شُبه نشته چې حلال رِزق ګټل فرض دي ، او دا هم د دين حصه ده ، ليکن په دې ځان پوهه کول غواړي چې ددې فرضيت دعباداتو ( مونځ ، روژې ، زکوة ، حج وغيره ) د فرضيت نه پس دی .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

طَلَبُ كَسْبِ الحَلَالِ فَرِيضَةٌ بَعْدَ الفَرِيضَةِ . (٢)

د حلال رِزق طلب کول د ( مونځ ، روژې ، زکوة ، حج وغيره ) فرائضو نه پس فرض دي .

يَعنی اول د انسان په ذِمه باندې مونځ ، روژه ، زکوة ، حج وغيره اداء کول فرض دي ، بيا ددې نه پس په ده باندې د خپل ځان او خپل اهل و عيال د پاره حلاله نفقه ګټل فرض دي .

---

(١) اخرجه الطبراني في الاوسط ، و ابونعيم في الحلية ، والخطيب في الاوسط المتشابه ، احياء علوم الدين ج٢ ص ٣٢ ، وص ٦١ .

(٢) وَقَالَ بَعْضُ السَّلَفِ : إِنَّ أَوَّلَ لُقْمَةٍ يَأْكُلُهَا العَبْدُ مِنْ حَلَالٍ يُغْفَرُ لَهُ مَا سَلَفَ مِنْ ذُنُوبِهِ . وَمَنْ أَقَامَ نَفْسَهُ مَقَامَ ذِلٍّ فِي طَلَبِ الحَلَالِ تَسَاقَطَتْ عَنْهُ ذُنُوبُهُ كَتَسَاقُطِ وَرَقِ الشَّجَرِ . احياء علوم الدين ج٢ ص ٩١ كتاب الحلال والحرام .

(٢) مشكاة المصابيح كِتَابُ البُيُوعِ باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثالث رقم الحديث ٢٧٨١ ، السنن الكبرى للبيهقي باب كسب الرجل وعمله بيده رقم ١١٦٩٥ ، كنز العمال كِتَابُ البُيُوعِ من قسم الاقوال الباب الأول: في الكسب الفصل الأول: في فضائل الكسب الحلال ج ٤ رقم الحديث ٩٢٣١ .

بعضې خلق په ډير افراط کې مبتلاء دي هغوی ته چې دا معلومه شوه چې حلال رزق ګټل فرض دي او دا د دين يوه حصه ده نو دوی ددې په طلب کولو کې دومره مخکې لاړه چې ددې په وجه که ورنه مونځ قضاء کيږي نوهم څه پَرواه يې نه وي ، که روژې يا نور فرضي عبادات ورنه پاتې کيږي نو هم څه پَرواه يې نه وي ، او که څوک دوی ته د مونځ کولو وواييي نو ورته وايي چې :

" دا مونږ کوم حلال رِزق ګټو دا هم د دين يوه حصه او عبادت دی ، که مونځ يا نور فرضي عبادات رانه پاتې شي نو دا خير دی "

خبردار ! نبي کريم صلی الله عليه وسلم په مذکوره حديث کې صراحةً دا اوفرمايل چې د حلال رِزق ګټلو مرتبه د مانځه او نورو فرضي عباداتو نه پس ده .

اوس که د فرضي عباداتو او حلال رِزق ګټلو په مينځ کې ټکراؤ راشي نو ترجيح به دې فرضي عباداتو ته ورکولې شي ، بيا په دويمه مرتبه کې به د حلال رِزق ګټل وي .

بل دا چې حلال رزق ګټل د انسان مقصدِ اَصلي نه دی بلکه دا يو ضرورت دی ، د همدې ضرورت په بُنياد په قرآن کريم او احاديثو کې ددې د طلب کولو ترغيب بيان شوی .

بلکه د انسان مقصدِ اصلي د الله ﷻ عبادت او بندګي ده ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴾ . (١)

ترجمه : او ما ندي پيدا کړي پيريان او انسانان مګر ددې د پاره چې دوی زما عبادت اوکړي.

د فارسۍ ژبې يو شاعر وايي :

زِندګي آمد براې بَندګي ۞ زندګي بې بَندګي شرمندګي

لهذا انسان ته په کار دي چې د خپل اَولاد د پاره حلال کسب کوي خو چې کله د مانځه يا بل فرضي عبادت وخت راشي نو بيا به دا فرضي عبادت مخکې کولې شي ، او په همدې کې د انسان د دواړو جهانو فائده هم ده ، ځکه الله ﷻ به په دُنيا کې دده په کسب کې برکت واچوي ، او په آخرت کې به ورته لوړې مرتبې هم ورکړي .

(١) سورة الذاريات آية ٥٦ .

# د يو لوهار ( آهنگر ) اوچت مقام

مفتي اعظمِ پاکستان " مفتي محمد شفيع رحمه الله " يوه واقعه رانقل کړی چې : مشهور فقيه ، مُحدِّث او بزرگ " حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله " چې کله وفات شو نو يو چا دې په خوب کې اوليده ، پوښتنه يې ورنه اوکړه ، الله تعالى درسره څه معامله اوکړه ؟ ده ورته ووېل : الله تعالى راسره ډېره د فضل او اِحسان معامله اوکړه ، ډېر زيات نِعمتونه يې راله راکړه ، ليکن زما د کور مخې ته چې کوم لوهار اُوسيده هغه ته چې الله ﷻ کوم مقام ورکړو هغه يې ماته رانه کړو .

کله چې دا کس د خوب نه راپاڅيده نو په زړه کې يې شوق راپيدا شو چې ددې لوهار معلومات کوم چې دا څوک دی ؟ او څه کار کوي ؟ چې د عبدالله بن مبارک رحمه الله نه هم اُوچت مقام الله ﷻ ورکړو ، ( حالانکه عبدالله بن مبارک رحمه الله به د احاديثو او فِقهې دَرسونه کول ، تهجد او عبادت به يې کولو ، او ډېر لوي مُتّقي او بزرگ شخصيت وُ ) .

نو دا کس ددې لوهار د تلاش کولو پسې اُووت ، کله چې د عبدالله بن مبارک رحمه الله مَحلې ته اُورسيده نو يقيني د هغه د کور مخې ته د يو لوهار کور وُ ، خو هغه هم په نزدې ورځو کې وفات شوې وُ ، دې کس د لوهار د بي بي نه پوښتنه وکړه چې : ستا خاوند به څه کار کولو ؟ هغې ورته ووېل :

هغه به ټوله ورځ د لوهارۍ کار کولو ، اُوسپنې به يې کټ کولې ، ( پَلک به يې وهلو ، تَبرګي او نور شيان به يې جوړول ) .

دې کس ورته ووېل : ماته د هغه څه خاص عمل او خاصه هغه نيکي اُوښايه چې هغه کوله ، ځکه چې ما عبدالله بن مبارک رحمه الله په خوب کې اُوليده ، هغه راته ووېل چې الله تعالى دې لوهار ته د مانه هم اُوچت مقام ورکړی .

دې بي بي ورته د خاوند " لوهار " دوه عملونه بيان کړه چې په هغه کې دا دوه خصوصي کارونه او عادتونه وو :

١ . د ډېر ستړي واله په وجه د تهجدو په نه کولو افسوس کول .

٢ . د آذان په اُوريدو سره سَمدستي مُتّصِل د لوهارۍ کار بندول .

يا دې بې بې ددې تفصيل دا سې بيان کړو :

چې کله به هغه ټوله ورځ د لوهارۍ کار اوکړو ، پَلک به يې اووهلو ، اُوسپنې به يې کټ کړې ، يا به چې کور ته راغې نو ډير به ستړې ؤ ، چونکه د مونږ سره نزدې د عبدالله بن مبارک رحمه الله کور دی هغه به د شپې د تهجدو د پاره راپاڅيده ، او تر سهَره پورې به د خپل کور په چَت باندې په عبادت مشغول ؤ .

کله به چې زما خاوند دا عبدالله بن مبارک رحمه الله په تهجدو اُوليده نو ډير اَرمان به يې اوکړو چې :

" کاش ، ماته هم دومره وخت مِلاؤ شوې وی چې تر سهره پورې ما هم تهجد کولی ، حالانکه زه ټوله ورځ د لوهارۍ کار اوکړم ، سخت ستړې يم ، د ډير ستړي والي په وجه يا نشم راپاڅيدی " .

نو هغه به د ستړي والي په وجه د تهجدو په نه کولو افسوس ښکاره کول .

دويم عادت په هغه کې دا ؤ چې کله به هغه د لوهارۍ په کار کې مصروف ؤ ، په پَلک باندې به يې اُوسپنه وهله ، او پَلک به يې سَر طرف ته اُوچت کړو ، او په دې وخت کې به يې آذان واوريده نو بيا به يې دا مناسبه نه ګڼړله چې په دې پَلک باندې دې اُوسپنې له ګوذار ورکړي ، بلکه پَلک به يې د سَر نه شا طرف ته اُوغورځول ، او ويل به يې چې :

" د آذان اَوريدو نه پس اوس ما له مناسب نه دي چې زه دې اُوسپنې له ګوذار ورکړم "

دې کوم کس چې دا خوب ليدلې ؤ هغه چې دا خبره واوريده نو وې ويل : الله ﷻ چې ددې لوهار مرتبه په عبدالله بن مبارک رحمه الله باندې اُوچته کړې وه نو ددې وجه همدا عادت ؤ . (١)

**عبرت** : محترمو ! تاسو واوريده چې دې لوهار هم حلال کسب کولو ليکن چې کله به يې آذان واوريده نو بيا به يې مانځه ته ترجيح ورکوله ، نو ځکه الله ﷻ دومره لوي مقام ورکړې ؤ .

---

(١) اصلاحي خطبات لمولانا تقي عثماني صاحب ج ١٠ ص ٢٠٣ .

لهذا د حلال رِزق طلب کولو په وجه به فرضي عبادات ( مونځ ، روژه ، زکوة ، حج وغيره ) نشي پريخودلی . ځکه د حلال رزق ګټلو مرتبه د فرضي عباداتو نه پس ده .

بل دا چې کسب کول يا حلال رزق ګټل د انسان د ژوند مقصودِ اَصلي ندی ، بلکه مقصودِ اَصلي د الله ﷻ عبادت او بَندګي کول دي ، خو د دې سره سره به انسان حلال رزق هم ګټي .

## د عِزت دارُ مدار په کسبونو ندې بلکه په تقوی دی

په اِسلام کې د عزت او ذِلت دارومدار په کسبونو ندی بلکه په تقوی او پرهيزګاری دی ، لهذا که يو کس هر قِسمه جائز کسب او مزدوري کوي که هغه مُوچي توب ( چَمياري توب ) ، يا بَيتُ الخلاء صفا کول وي خو چې د ده نيت صحيح وي ، او په ده کې تقوی او پرهيزګاري وي نو دا کس د الله ﷻ په نزد باندې مُعززدی ، او ده ته په دې باندې اَجر و ثواب ملاوېږي بعضې کسبونو ته سپَک کتل دا د هِندوانو رَسم دی ، او يو مُتکبّرانه تصوّر دی . د اسلام حُسَن دادی چې په دې کې هر هغه کسب قابلِ اِحترام دی چې هغه د حلال رِزق ګټلو ذريعه وي ، د خدمتِ خَلق او ضرورتونو پوره کولو نيت په کې شوې وي ، نو په داسې کسب باندې انسان ته ثواب هم ملاوېږي . (١)

## اَهم کسبونه الله ﷻ د وَحي په ذريعه خپلو پيغمبرانو ته خودلي

محترمو مسلمانانو ! که مونږ د اَنبياء کرامو ژوند اوګورو نو هغوی به عبادت هم کولو ، دَعوت و تبليغ به يې هم کولو ، او ورسره ورسره به يې د حلال رزق پيدا کولو د پاره محنت او کوشش هم کولو .

د حلال کسب او ضروري شيانو د کاريګری د اَهميت اَندازه تاسو د دې نه هم معلومولې شئ چې د انسان د ضرورت د پاره ځومره اَهم کسبونه او کاريګرياني دي دا ټول الله ﷻ اول د وَحي په ذريعه خپلو پيغمبرانو ته خودلي ، بيا د ضرورت موافق په مختلفو زمانو کې په دې کې ترقي شوی .

(١) اسلامي معيشت کي خصوصيات اور نظامِ سرمايه داري ص ١٢٣ .

حافظ شمس الدين ذهبي رحمه الله په خپل کتاب " اَلطِبُّ النَّبَوِيّ " کې ذکر کړي : چې د انسان د ژوند د پاره څومره اَهم کسبونه او کاريګرياني دي " لکه د کور جوړول، کپړې جوړول، اُوني کرَل، د خوراک شيان تيارول، د سورلۍ او مال وړلو راوړلو د پاره د پايو واله ګاډي جوړول او چلول " دا ټول کسبونه او کاريګرياني الله ﷻ د وَحي په ذريعه اول خپلو پيغمبرانو ته خودلي. (۱)

ددې يو څو مثالونه ستاسو د وړاندې ذکر کوم :

## د پائې او ګاډي اِيجاد د حضرت آدم عليه السلام په ذريعه شوی

اولني پيغمبر حضرت آدم عليه السلام ته چې کومه وَحي راغلې وه د هغې اکثره حصه د کروَندې، زمکې آبادلو، او مختلف قِسمه کسبونو متعلق وه.

د پيټي ( بُوج ) د پورته کولو او وړلو د پاره د پايَو ( ټېرونو ) په ذريعه د چليدونکي ګاډي اِيجاد هم ددې سلسلې يوه کړۍ ده ، چې دا حضرت آدم عليه السلام ته د وَحي په ذريعه خودلې شوې ؤ ، ددې اِيجاد په ذريعه په دُنيا کې يو اِنقلابي تبديلي راغله چې " نيغ حرکت په ګول حرکت بدل شو " .

د علي ګړ باني سر سيد صاحب ليکلي دي چې : تر اُوسه پورې مختلف قِسمه نوي نوي ګاډي اِيجادات شوي، خو ددې ټولو دارومدار په پَايه (ټېر) باندې دی.

د غوا ګاډي او خرګاډي نه رانيولی تر د ريل ګاډي او اَعلی قِسمه موټرو پورې په دې ټولو کې پَايه (ټېر) استعماليږي ، لهذا د ټولو نه اَولنې او لوي اِيجاد کوونکې د ګاډو به هغه څوک وي چا چې دا پايه اِيجاد کړی، ځکه د ټولې دُنيا د مشينرۍ رُوح په پايه باندې دی، او د پائې ايجاد کوونکې حضرت آدم عليه السلام دی، چې ده ته دا د وَحي په ذريعه خودل شوې وه.

معلومه شوه چې د ضروري شيانو کاريګري او کسبونه دومره اَهم دي چې دا پيغمبرانو ته د وَحي په ذريعه خودل شوي . (۲)

(۱) تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة سبا في تشريح آية ۱۰ ، ۱۱ .

(۲) تفسير معارف القرآن سورة هود في تشريح آية ۳۷ ، اسلامي معيشت کي خصوصيات اور نظامِ سرمايه داري ص ۱۲۳ .

همدارنګې د جامو ( کپړو اُودلو او ) جوړولو کار هم د حضرت آدم علیه السلام نه شروع شوی . همدارنګې دِرهم او اَشرفی هم حضرت آدم علیه السلام جوړې کړی ، او ورسره ورسره یې زمینداري هم کړی . (۱)

# د بَحري جِهاز ( یعنی کِشتئ ) جوړولو اِبتداء د حضرت نوح علیه السلام په ذریعه شوی

د طوفانِ نُوح نه د بَچ کیدلو د پاره الله ﷻ حضرت نوح علیه السلام ته د کِشتئ جوړولو حکم اوکړو ، حالانکه په دغه وخت کې نه چا کِشتئ پېژنده ، او نه چاته د کِشتئ جوړولو طریقه ورتله ، خو د وَحي په ذریعه حضرت نوح علیه السلام ته ددې د جوړولو طریقه اُوخودلې شوه ، په قرآن کریم کې ددې بیان شته ، الله رب العزت حضرت نوح علیه السلام ته وَحي اوکړه :

﴿ وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا ﴾ . (۲)

ترجمه : او ته جوړه کړه کِشتئ زمونږ په نِګرانئ کې ، او زمونږ په حُکم سره ( یعنی زمونږ د وَحي مطابق ) .

په اَحادیثو کې دا خبره ذکر ده چې حضرت جبرائیل علیه السلام د وَحي په ذریعه حضرت نوح علیه السلام ته د کِشتئ جوړولو طریقه اُوخوده ، حضرت نوح علیه السلام د سال (ساج ) د لرګي نه دا کِشتئ جوړه کړه .

په څنې تاریخي روایتونو کې ددې کشتئ اَندازه دا خودلې شوی چې دا درې سوه (۳۰۰) ګزه اُوږده وه ، پنځوس ( ۵۰ ) ګزه پلنه وه ، دیرش ( ۳۰ ) ګزه لوړه وه ، درې ( ۳ ) چته وه ، ښي طرف او چَپ طرف په کې داسې رُوښن دانونه هم وو چې هغه به کلاویدل .

بهر حال د کِشتئ جوړولو دا کاریګري د ټولو نه اول د وَحي په ذریعه حضرت نوح علیه السلام ته اُوخودې شوه ، بیا وخت په وخت په کې ترقي اوشوه . (۳)

(۱) للدای معبر ومحراب ج۳ ص ۱۶۹ .

(۲) سورة هود آية ۳۷ .

(۳) تفسیر معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله سورة هود في تشريح آية ۳۷ .

# د زغرې جوړولو ابتداء د حضرت داؤد علیه السلام په ذريعه شوی

د اوسپنې زغرې جوړولو چَل د ټولو نه اول حضرت داؤد علیه السلام ته د وَحي په ذريعه خودلې شوې وُ ، چې په دې سره به انسان په جنګ کې د تورو او نېزو د ګوزار نه محفوظ كيده . نن صبا هم د اوسپنې داسې جاکټونه او زغرې جوړولې شي چې په اَغوستو سره يې انسان د آتشي اَسلحې نه محفوظ كيدې شي ، او ددې ضرورت مسلمانانو او غيرمسلمو ټولو ته دی.

حالانکه ددې کسب او کاريګرۍ بُنياد ايخودونکې حضرت داؤد علیه السلام دی چې ده ته الله جلّ جلاله د وَحي په ذريعه ددې طريقه خودلې وه ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْ بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنْتُمْ شَاكِرُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او مونږ حضرت داؤد علیه السلام ته د زغَرو جوړولو چَل ستاسو د فائدې د پاره خودلې وُ ، چې دا تاسو په جنګ کې ( د تُورې د ګوزار او نقصان نه ) بچ کړي ، پس آيا تاسو شکر کوونکي يئ ؟

په دې آيت کې الله ﷻ د زغرې جوړولو دا چَل خودل د اِنعام په طور ذکر کړی ، او په دې باندې يې د شکريې اداء کولو تلقين کړی.

په "سورة سبا" کې ددې زغرې جوړولو تفصيل الله ﷻ داسې بيان کړی :

﴿ وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ ، أَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ ﴾ . (۲)

ترجمه : او مونږ حضرت داؤد علیه السلام ته اوسپنه نرمه کړه ( او حکم مو ورته اوکړو ) چې ته پوره پوره زغرې جوړوه ، او ددې د کړۍ په جوړولو کې اَندازه ساته ( يعنى ددې کړۍ په مناسب اندازې سره جوړوه ، چې ټولې يو شان وي ) .

فائده : په دې آيت کې د زغرو جوړولو سره سره ددې په کړيو کې د توازن بَر قرار ساتلو حکم شوی چې کړۍ دې ټولې سره يو شان وي ، څه غټې ، څه ورې ، څه نرۍ او څه ډبلې نه

(۱) سورة الأنبياء آية ۸۰ .
(۲) سورة سبا آية ۱۰ ، ۱۱ .

دي په کار ، بلکه ټولې په يو اندازه جوړول په کار دي ، چې په دې سره به ددې مضبوطوالې او حُسن هم برقرار پاتې وي .

ددې نه دا معلومه شوه چې په کاريګرۍ کښې د ظاهري حُسن لحاظ هم ساتل په کار دي ، ځکه خو الله جَلَّ جَلالُهُ حضرت داؤد عليه السلام ته ددې خاص حکم اوکړو . (١)

## د حضرت داؤد عليه السلام د مَعاش ذريعه زغرې جوړول وو

په " تفسير ابن کثير " کښې د حافظ ابن عساکر رحمه الله په روايت سره نقل دي چې : حضرت داؤد عليه السلام به د خپل خلافت او سلطنت په زمانه کښې خپل شکل بدل کړو ، بهر به راأووت ، او د مختلفو طرفونو نه د راتلونکو خلقو نه به يې پوښتنې کولې چې

" داؤد عليه السلام څنګه سړې دی ؟ "

( چونکه د حضرت داؤد عليه السلام په سلطنت کښې عدل و انصاف زيات وُ ، هرچا په اطمينان سره ژوند تيرول ، هيچا ته څه شکايت نه وُ )

نو هر کس به د حضرت داؤد عليه السلام د عبادت ، اخلاقو او عدل صفت کولو ، (حضرت داؤد عليه السلام به په دې مدح او عدل و انصاف سره د الله جَلَّ جَلالُهُ شکريه اداء کوله ) ، الله جَلَّ جَلالُهُ د انسان په شکل يوه فرښته ده ته راأوليږله ، کله چې داؤد عليه السلام ددې فرښتې سره ملاؤ شو ، او ددې نه يې هم هماغه پوښتنه اوکړه کومه به يې چې د نورو خلقو نه کوله (چې داؤد عليه السلام څنګه سړې دی ؟ ) ، نو دې فرښتې ورته ووېل :

هُوَ خَيْرُ النَّاسِ لِنَفْسِهِ وَلِأُمَّتِهِ. إِلَّا أَنَّ فِيْهِ خَصْلَةً لَوْ لَمْ تَكُنْ فِيْهِ كَانَ كَامِلًا .

داؤد عليه السلام په ټولو خلقو کښې د خپل ځان او اخپل اُمت ( يعنی رَعيت ) د پاره ډير بهترين کس دی ، مګر په ده کښې يو عادت دی که دا په کښې نه وی نو بيا به بالکل کامِل وُ .

داؤد عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه :

مَا هِيَ ؟ هغه کوم عادت دی ؟

فرښتې ورته ووېل : يَأْكُلُ وَيُطْعِمُ عِيَالَهُ مِنْ مَالِ الْمُسْلِمِيْنَ . يَعْنِيْ : بَيْتَ الْمَالِ .

---

(١) تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة سبا في تشريح آية ١٠ ، ١١ .

دې خپل خوراک او د خپل اهل و عيال خوراک د مسلمانانو د مال (بيتُ المال) نه اخلي.

کله چې حضرت داؤد عليه السلام دا خبره واوريده نو الله ﷻ طرف ته متوجه شو، دُعا يې اُوغوښته چې: يا الله! ماته يو کار اُوښايه چې زه يې د خپلو لاسونو په مزدورۍ سره کوم، او ددې په ګټې سره زه د خپل ځان او خپل اهل و عيال ګوزاره او کفالت اوکړم (او د مسلمانانو خدمت او حکومت بغير د معاوضې اوکړم). نو الله ﷻ دده دُعا قبوله کړه:

فَأَلَانَ لَهُ الْحَدِيْدَ، وَعَلَّمَهُ صَنْعَةَ الدُّرُوْعِ. فَعَمِلَ الدِّرْعَ. وَهُوَ أَوَّلُ مَنْ عَمِلَهَا.

الله ﷻ اُوسپنه دده د پاره نرمه کړه، او ده ته يې د زغرو جوړولو ځل اُوخوده، ده زغره جوړه کړه، دې اولنې کس دی چې زغره يې جوړه کړه. (١)

**فقهي مسئله**: د مسلمانانو خليفه او بادشاه که خپل ټول وخت د حکومت په کارونو کې مصروفه کړې وي نو شرعًا دده ته دا جائز دي چې د خپل ځان او خپل اهل و عيال د پاره د بيتُ المال نه درميانه خرچه واخلي، ليکن که بيا هم څه بل صورت د ګوزارې کېدې شو نو دا بيا ډيره بهتره ده.

حضرت داؤد عليه السلام ته الله ﷻ د دُنيا ټولې خزانې سپارلې وې، سره زَر، سپين زَر او جواهرات ورسره ښه فراښه وو، بيا الله ﷻ اِجازت هم ورکړې وُ چې ته په بيتُ المال کې

(١) وَقَدْ ذَكَرَ الْحَافِظُ ابْنُ عَسَاكِرَ فِيْ تَرْجَمَةِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ .... أَنَّ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، كَانَ يَخْرُجُ مُتَنَكِّرًا، فَيَسْأَلُ الرُّكْبَانَ عَنْهُ وَعَنْ سِيْرَتِهِ. فَلَا يَسْأَلُ أَحَدًا إِلَّا أَثْنَى عَلَيْهِ خَيْرًا فِيْ عِبَادَتِهِ وَسِيْرَتِهِ وَمَعْدَلَتِهِ. صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ. قَالَ وَهْبٌ: حَتَّى بَعَثَ اللهُ مَلَكًا فِيْ صُوْرَةِ رَجُلٍ، فَلَقِيَهُ دَاوُدُ، فَسَأَلَهُ كَمَا كَانَ يَسْأَلُ غَيْرَهُ، فَقَالَ: هُوَ خَيْرُ النَّاسِ لِنَفْسِهِ وَلِأُمَّتِهِ، إِلَّا أَنَّ فِيْهِ خَصْلَةً لَوْلَا تَكُنْ فِيْهِ كَانَ كَامِلًا. قَالَ: مَا هِيَ؟ قَالَ: يَأْكُلُ وَيُطْعِمُ عِيَالَهُ مِنْ مَالِ الْمُسْلِمِيْنَ. يَعْنِيْ: بَيْتَ الْمَالِ. فَعِنْدَ ذٰلِكَ نَصَبَ دَاوُدُ عَلَيْهِ السَّلَامُ إِلَى رَبِّهِ فِي الدُّعَاءِ أَنْ يُعَلِّمَهُ عَمَلًا بِيَدِهِ يَسْتَغْنِيْ بِهِ وَيُغْنِيْ بِهِ عِيَالَهُ، فَأَلَانَ لَهُ الْحَدِيْدَ، وَعَلَّمَهُ صَنْعَةَ الدُّرُوْعِ. فَعَمِلَ الدِّرْعَ. وَهُوَ أَوَّلُ مَنْ عَمِلَهَا. فَقَالَ اللهُ: {أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ} يَعْنِيْ: مَسَامِيْرَ الْحَلَقِ. قَالَ: وَكَانَ يَعْمَلُ الدِّرْعَ، فَإِذَا ارْتَفَعَ مِنْ عَمَلِهِ دِرْعٌ بَاعَهَا، فَتَصَدَّقَ بِثُلُثِهَا، وَاشْتَرَى بِثُلُثِهَا مَا يَكْفِيْهِ وَعِيَالَهُ، وَأَمْسَكَ الثُّلُثَ يَتَصَدَّقُ بِهِ يَوْمًا بِيَوْمٍ إِلَى أَنْ يَعْمَلَ غَيْرَهَا. تفسير ابن كثير ج٦ ص٢٩٨ سورة سبا آية ١١، تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي شفيع رحمه الله سورة سبا آيت ١٠، ١١.

هر قسمه تصرّف کوی تاته ددې اجازت دی ، ددې د تاسره هيڅ حساب نشته (١) ليکن الله ﷻ أنبياء کرام په ډير اوچت مقام باندې ساتل غواړي نو ځکه ورسره دا واقعه راپيښه شوه، يا به حضرت داوُد عليه السلام ددې دومره لوي حکومت سره سره زغرې جوړولی ،او ددې په ګټه به يې خپله ګوزاره کوله . (٢)

ددې نه معلومه شوه چې د خلقو د ضرورت پوره کولو د پاره څه کار کسب زده کول د انبياء کرامو سنت دی ، او چې نيت صحيح وي نو په دې سره انسان ته اجر و ثواب هم ملاويږي .

نبي عليه السلام فرمايي چې : کوم صنعت کار ( کاريګر ) په خپل کار کې صحيح نيت لري ( يعنی د حلال رزق د ګټلو ، او د خلقو د خدمت کولو ) نو دده مثال به د حضرت موسی عليه السلام د مور په شان وي چې تې يعنی سينه يې خپل بچي له ورکوله ، او مُعاوضه يې د بل (يعنی فرعون) نه اخيسته . (٣)

يعنی که يو کاريګر په خپل کار کې د ثواب او د خلقو د خدمت نيت اوکړي نو ده ته به ددې أجر هم ملاويږي ، او ورسره ورسره به ده ته ددې کاريګرۍ دُنياوي نفع هم ملاويږي .

يا مثلاً يو ګلکار په مزدورۍ باندې مدرسه جوړوي نو که دده په کې صرف د خپلو روپو ګټلو نيت وي نو ده ته به صرف همدا ملاويږي ، او که دده په کې نيت دا وي چې ددې مدرسې او جُمات نه به خلقو ته فائده رسي او د ثواب نيت اوکړي نو ده ته به ثواب هم رسي، او ورسره ورسره به مزدوري هم ورته ملاويږي . (۴)

(١) الله ﷻ ورته فرمايلي وو : فَامْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ . سورة ص آية ٣٩ .

(٢) تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة سبا في تشريح آية ١٠ ، ١١ .

(٣) تفسير ابن كثير ، تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله في تشريح سورة طه آية ۴٠ ، وسورة انبياء آية ٨٠ .

(۴) تفسير معارف القرآن في تشريح سورة انبياء آية ٨٠ .

## د فنِ کتابت (يعنی د ليکلو د فن) شروع د حضرت آدم ﷺ او حضرت اِدريس ﷺ نه شوی

حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې د حضرت آدم عليه السلام نه پس اول ليکل حضرت ادريس عليه السلام اوکړه، او د عربي ليکلو مُوجِد حضرت اسماعيل عليه السلام دی. (۱)

په روايت کې دي چې حضرت ادريس عليه السلام اولنې هغه شخصيت دی چې هغه قلم استعمال کړو. (۲)

## د علمِ فلکيات او رياضي شروع د حضرت اِدريس ﷺ په ذريعه شوی

حضرت ادريس عليه السلام اولنې هغه کس دی چې ده د علمِ فلکياتو ابتداء کړی، ځکه ده ته الله ﷻ د آسمانونو، ستورو، او د دوی په مينځ کې د کشَش او رُموزو عِلم ورکړې وُ، او دې يې د علمِ عدد، او علمِ حساب عالِم جوړ کړې وُ. (۳)

په تاريخ الحکماء کې ذکر دي چې د طوفانِ نوح نه مخکې چې په دُنيا کې څومره علوم رائِج وو د هغې تولو مُعلِم اول حضرت ادريس ﷺ وُ، لکه علمِ طب، يا نور علوم. (۴)

## د نبي عليه السلام په زمانه کې د کسب زده کولو اِهتمام

د نبي عليه السلام په زمانه کې هم د کسب (او هُنَر) زده کولو ډير اِهتمام کولې شو، ددې يو مثال دادی چې دوه مشهور صحابه کرامو " حضرت عروة بن مسعود ﷺ، او

(۱) کتابت حديث عهد رِسالت و عهد صحابه ميں ص ۴۰ بحواله العقد الفريد لابن عبد ربه وکتاب التوقيعات ج۳ ص ۳، اسلامي معيشت کي خصوصيات اور صنعتي تعلقات ص ۱۲۹.

(۲) تفسير بغوي (معالم التنزيل) تحت آية: واذکر في الکتاب ادريس... ج۵ ص ۲۳۷، و قصص القرآن ج۱ ص ۹۰ بحواله صحيح ابن حبان، اسلامي معيشت کي خصوصيات اور صنعتي تعلقات ص ۱۳۰.

(۳) قصص القرآن ج۱ ص ۹٦ بحواله تاريخ الحکماء للعلامة جمال الدين القطفي رحمه الله.

(۴) قصص القرآن ج۱ ص ۱۰۰ اسلامي معيشت کي خصوصيات اور صنعتي تعلقات ص ۱۳۰.

حضرت غيلان بن سلمة رضي الله عنه " د جنګي سازو سامان هنر يادولو د پاره جُرَش ته سفر اوکړو ، هلته يې د دَبَّابَه . مِنْجَنِيق او ضُبُور جوړولو چَل زده کړو . (۱)

## زمينداري او بَاغ بَاني کول هم د انبياء کرامو سنت دی

علامه سيوطي رحمه الله په خپل تفسير " الدّرالمنثور " کې ذکر کړي چې حضرت آدم عليه السلام ، حضرت ابراهيم عليه السلام ، او حضرت لوط عليه السلام به زمينداري کوله . (۲)

په خپله د نبي عليه السلام په باره کې د احاديثو په کتابونو کې مشهوره واقعه ذکر ده چې دوی د سلمان فارسي رضي الله عنه د مدد د پاره د مديني منوّرې په يو باغ کې د قجورو درې سوه ( ۳۰۰ ) اُونې په خپل لاس مبارک باندې اُوکرلی ، د نبي عليه السلام په برکت سره د کال تيريدو نه مخکې مخکې ټولو اُونو قجورې اُونيوی . (۳)

همدارنګې نبي عليه السلام په خپلو احاديثو مبارکو کې د اُونو کرلو فضيلت بيان کړی . (۴)

---

(۱) تاريخ الامم والملوک للطبري ج۲ ص ۳۵۳ ، البداية والنهاية ج۳ ص۵۵۳ غزوة الطائف .

دَبَّابَه : دا يو قِسم جنګي ګډۍ وُ ، ددې نه به هغه کار اخيستلې شو کوم چې نن صبا د ټينک نه اخيستلې شي ، دغه وجه ده چې په عربۍ کې ټينک ته دَبَّابَه وايي .

او د مِنْجَنِيق نه به هغه کار اخيستلې شو کوم چې نن صبا د توپ نه اخيستلې شي .

ضُبُور : دا د ډرګي لويه آله وه ، ددې د پاسه به څرمن وه ، ددې په واسطه به د دُشمن قلعې ته ورتله ، او حمله به يې پرې کوله ، ددې استعمال هم د دَبَّابَه په شان وُ . منجد

(۲) الدرالمنثور ج۱ ص۸۸ ، اسلامي معيشت کي خصوصيات اور نظامِ سرمايه داري ص۱۲۳ .

(۳) سيرة المصطفى ج۱ ص۴۲۴ .

(۴) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا إِلَّا كَانَ مَا أُكِلَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةً . وَمَا سُرِقَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ . وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ مِنْهُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ . وَمَا أَكَلَتِ الطَّيْرُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ . وَلَا يَرْزَؤُهُ أَحَدٌ إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةٌ » . صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ الْغَرْسِ وَالزَّرْعِ رقم الحديث ۱۵۵۲ جز ۳ ص ۱۱۸۸ .

وَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَغْرِسُ مُسْلِمٌ غَرْسًا . وَلَا يَزْرَعُ زَرْعًا . فَيَأْكُلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ . وَلَا دَابَّةٌ . وَلَا شَيْءٌ . إِلَّا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةٌ » . صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ الْغَرْسِ وَالزَّرْعِ رقم الحديث (۹) ۱۵۵۲ جز ۳ ص ۱۱۸۸ .

# تجارت کول هم د انبياء کرامو سُنت دی

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي : چې حضرت هود عليه السلام او حضرت صالح عليه السلام به ( د دعوت او تبليغ سره سره ) تجارت کولو. (۱)

## نبي عليه السلام هم تجارت کړی

په خپله رسولُ الله صلی الله عليه وسلم هم تجارت کړی ، کله د مُشارکت په طور ، او کله د مُضاربت په طور.

۱ . حضرت عبدالله بن سائب رضي الله عنه فرمايي چې په زمانه جاهليت کې ( يعنی کله چې ما اِيمان نه وُ راوړی ) زه د نبي عليه السلام د تجارت ملګرې ووم ، کله چې زه مديني منوّرې ته راغلم نو رسولُ الله صلی الله عليه وسلم راته وفرمايل :

آيا ته ما پيژنی ؟ ما ورته ووېل : ولې نه ، تاسو خو زما د تجارت شريک وال ملګرې وی ، او ډير ښه شريک وال وی ، ځکه تاسو نه د چا خبره څنډوله ، او نه به مو په څه خبره جګړه کوله. (۲)

۲ . امّ المؤمنين حضرت خديجه رضي الله عنها د عربو د شريف خاندان يوه مالداره زَنانه وه ، د قريشو قافله به چې کله د تجارت د پاره تلله ، نو دې به هم خپل مال چاته په مُضاربت ورکړو (۳) ، او ددې قافلې سره به يې اُوليږل ، کله چې د نبي عليه السلام عُمر پنځه ويشت (۲۵) کاله شو ، د دوی اَمانت او دِيانت هر چاته معلوم وُ ، نو حضرت خديجې رضي الله عنها دوی ته خبر وراُوليږلو چې تاسو زما د تجارت مال شام ته ويسی ، زه به تاسو ته د نورو په نسبت زياته نفع درکړم.

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم چې کله د خپل تره ابو طالب مالي مُشکلات اوکته نو دا پيغام يې قبول کړو ، د حضرت خديجې رضي الله عنها د غلام " مَيسَره " سره شام ته روان شو ، کله چې د شام نه واپس راغی ، او مالِ تجارت يې حضرت خديجې رضي الله عنها ته

(۱) الدرالمنثور ج۱ ص۸۸ .

(۲) سيرة مصطفی ج۱ ص۹٦ بحواله الاصابة.

(۳) " مُضَارَبَت " ديته وايي چې مال د يو کس وي ، عمل د بل کس وي ، او په نفع کې دواړه شريک وي.

أوسپارل ، نو د نبي عليه السلام په برکت سره حضرت خديجې رضي الله عنها ته دومره نفع حاصله شوه چې د دې نه مخکې ورته دومره نفع نه وه حاصله شوی .

حضرت خديجې رضي الله عنها چې د دوی د پاره څومره نفع مقرر کړې وه د هغې نه زياته يې ورله ورکړه . (۱)

د بعضې تاريخي رواياتو نه معلوميږي چې نبي عليه السلام د شام د سفر نه مخکې هم د حضرت خديجې رضي الله عنها مال د تجارت د پاره د عربو بعضو علاقو ته وړې وُ . (۲)

د شام د سفر نه دوه (۲) مياشتې او پنځه ويشت (۲۵) ورځې پس حضرت خديجې رضي الله عنها په خپله رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته د نکاح پيغام وراُوليږل ، نبي عليه السلام د خپل تره په مشوره باندې دا قبول کړو ، د نکاح په وخت د نبي ﷺ عمر پنځه ويشت (۲۵) کاله وُ ، او د حضرت خديجې رضي الله عنها عمر څلويښت (۴۰) کاله وُ . (۳)

## د صحابه کرامو تجارت

ډيرو صحابه کرامو هم تجارت کولو لکه : حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ، حضرت عثمان رضي الله عنه ، حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ، او حضرت زبير رضي الله عنه .

حالانکه دا پنځه صحابه کرام په عشره مبشره کې داخل دي .

عشره مبشره هغه لس کسان دي چې هغوی ته په دُنيا کې د جنت زيرې ورکړې شوې وُ .

(۱) سيرة مصطفى ج۱ ص۹۹ .

(۲) رسول الله صلى الله عليه وسلم کي سياسي زندگي از ڈاکٹر حميد الله صاحب ص ۴۹ ، اسلامي معيشت کي خصوصيات اور صنعتي تعلقات ص ۱۳۷ .

(۳) سيرة مصطفى ج۱ ص ۱۱۱ ، ۱۱۲ .

علماء کرامو په دې موضوع باندې مستقل کتابونه ليکلي ، او په دې کې يې د هغه صحابه کرامو نومونه او واقعات ليکلي کومو به چې تجارت کولو . (١)

## د حضرت عمر رضي الله عنه تجارت

١ . همدارنګې حضرت عمر رضي الله عنه به هم تجارت کولو ، دغه وجه ده چې حضرت عمر رضي الله عنه ته په هماغه وخت کې د نبي عليه السلام بعضې احاديث نه رسيدلي ، چې ددې وجه حضرت عمر رضي الله عنه په خپله داسې بيان کړې وه :

أَلْهَانِي الصَّفْقُ بِالْأَسْوَاقِ . (٢)

زه په بازار کې تجارت مصروفه کړې ووم ، ( نو ځکه راته بعضې احاديث نه وو رارسيدلي ) .

٢ . يو کرت حضرت عمر رضي الله عنه په خپل دورِ خلافت کې بازار ته لاړو ، نو ويې کته چې تجارت کوونکي اکثره خلق هغه وو کوم چې د بهر نه راغلي وو ، په دې کتلو سره ډير خفه شو ، بيا يې د خاصو خاصو خلقو سره ددې په باره کې خبرې اوکړې ، خلقو ورته ووېل: چې الله ﷻ مونږ د فتوحاتو او مالِ غنيمت په وجه د تجارت نه مُستغني کړځولي يو ، ځکه تجارت نه کوو ) .

ده ورته ووېل : که چيرته تاسو همداسې اوکړه ( او دا تجارت پرېږدئ ) نو بيا به تاسو سړي ددې ( کافرانو ) د سړو محتاج شئ ، او ستاسو ښځې به د دوی د ښځو محتاجې شي .

٣ . علامه عبدالحي کتاني رحمه الله ليکلي دي : چې د حضرت عمر رضي الله عنه فِراست ددې اُمت په باره کې بالکل صحيح ثابِت شو ، ځکه چې د کله نه مسلمانانو شرعي طريقې سره

---

(١) شيخ الحديث حضرت مولانا زکريا رحمه الله په دې موضوع يو رساله ليکلې چې نوم يې دی " فضائل تجارت " . همدارنګې په يو بل کتاب " التراتيب الادارية " ج٢ ص١٠ تا ٣٢ کې هم په دې موضوع ليکل شوي ، په دې کې يې د صحابه کرامو د مختلف قسمه شيانو د تجارت ذکر کړی .

(٢) أَلْهَانِي الصَّفْقُ بِالْأَسْوَاقِ . يَعْنِي الْخُرُوجَ إِلَى تِجَارَةٍ . صحيح البخاري كتاب البيوع باب الخروج في التجارة رقم الحديث ٢٠٦٢ ، ورقم ٧٣٥٣ ، صحيح مسلم كتاب الاداب باب الاستئذان رقم الحديث ٤٠٠٩ .

تجارت پرېښې دی او غیر مسلمو شروع کړې دی نو اُمتِ مسلمه د غیر مسلمو محتاجه شوی دی . (۱)

## د حضرت عثمان رضي الله عنه تجارت

۱ . د حضرت عثمان رضي الله عنه تجارت خو ډېر مشهور دی ، الله تعالی دده په تجارت کې داسې برکت اچولې ؤ چې دده د نوم سره لفظ د" غني " استعمالیده (یعنی عثمان غني ) .

چې کله هم مسلمانانو ته یا اسلامي حکومت ته د مال ضرورت راغلی نو ده په کې پوره مدد کړی ، نبي علیه السلام چې کله د غزوه تبوک د پاره چَنده اوکړه نو حضرت عثمان رضي الله عنه په کې درې سوه(۳۰۰ ) اُوښان د سازو سامان نه ډک ورکړه . (۲)

۲ . په یو بل روایت کې ورسره دا هم شته چې حضرت عثمان رضي الله عنه په دې موقع باندې زر ( ۱۰۰۰ ) دِیناره هم په چَنده کې ورکړی ، پېغمبر علیه السلام دا دینار اَړول راړول، او وې وفرمایل :

مَا ضَرَّ ابْنُ عَفَّانَ مَا فَعَلَ بَعْدَ هٰذَا .

د نن نه پس حضرت عثمان ﷺ ته هیڅ عمل نقصان نشي رسولی . ( نبي علیه السلام دوه پېرې دا خبره اوکړه ) . (۳)

## زمونږ اَسلافو هم د ديني خدمت سره سره تجارت کړی

که مونږ د خپلو اَسلافو ( علماؤ ، مُحدّثینو او مفسّرینو ) په ژوند باندې نظر واچوو نو هغوی هم د قرآن کریم او احادیثو د دَرس سره سره حلال کسب هم کړی .

که یو طرف ته به یې په زرهاؤ شاګردانو ته دیني سبقونه خوده نو بل طرف ته به یې د حلال رِزق پیدا کولو د پاره مختلف کسبونه هم کول :

(۱) فضائل تجارت ص ٦٦ ، بحواله التراتيب الادارية ج ۲ ص ۲۱ ، اسلامي معيشت كي خصوصيات اور صنعتي تعلقات ج ۲ ص ۲۱ .

(۲) فضائل تجارت ص ٦٦ ، بحواله مشكوة .

(۳) فضائل تجارت ص ٦٨ .

چا به د دَرس سره سره د کپړو تجارت کولو ، چا به زميندارې کوله ، چا به قصابي کوله ، چا به صابون جوړول ، او چا به مزدوري کوله .

د مشهور مُحدِّث خطيب بغدادي اُستاذ " ابوعلي دهّان " به تېل خرڅول .

امام ابوحنيفه رحمه الله او عبدالله بن مبارک رحمه الله به د کپړو تجارت کولو .

همدارنګې علامه ابن جوزي رحمه الله به هم د کپړو تجارت کولو .

حافِظُ الحديث " ابن روميه " رحمه الله به دوايانې خرڅولې .

د " مختصر القدوري " مصنف به کټوې جوړولې . (۱)

## په لسو کښې نهه حصې رِزق په تجارت کښې دی

رسول الله صلی الله عليه وسلم موقع په موقع خپل اُمت ته په حلالې طريقې سره د تجارت ترغيب ورکړی ، فرمايي :

عَلَيْكُمْ بِالتِّجَارَةِ فَإِنَّ فِيهَا تِسْعَةَ أَعْشَارِ الرِّزْقِ . (۲)

تاسو تجارت کوئ ، ځکه په لسو کښې نهه حصې رِزق په تجارت کښې دی .

## د رېښتيني اَمانت دار تاجِر دپاره زېرې

محترمو مسلمانانو ! د جائز تجارت د اَهميت اَندازه تاسو ددې نه هم معلومولې شی چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د رېښتيني اَمانت دار تاجِر د پاره بهترين زېرې اَورولی ، نبي عليه السلام فرمايي :

اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ الْأَمِيْنُ مَعَ النَّبِيِّيْنَ ، وَالصِّدِّيْقِيْنَ ، وَالشُّهَدَاءِ . (۳)

---

(۱) نداى منبر ومحراب ج۳ ص ۱۷۰ .

(۲) احياء علوم الدين كتاب آداب الكسب والمعاش ج۲ ص ٦۲ .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبُيُوعِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي التُّجَّارِ وَتَسْمِيَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاهُمْ رقم الحديث ج۲ ص ٥٠٦ رقم الحديث ۱۲۰۹ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۱۳۴ ، شرح السنة للبغوي كتاب البيوع باب اباحة التجارة رقم الحديث ۲۰۲٥ ، كنز العمال كتاب البيوع الباب الاول فى الكسب الفصل الاول فى فضائل الكسب ج۳ رقم الحديث ۹۲۱۷ ، الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۷۸۲ ترغيب التجارة فى الصدق ، و رواه الدارمي باب التاجر الصدوق رقم ۲٥۳۹ ، والدار قطني ج ۳ ص ۷ رقم الحديث ۱۸ .

کوم تاجر چې رېښتيني او اَمانت دار وي نو دا به د قيامت په ورځ د انبياء کرامو ، صدّيقينو او شُهداوُ سره وي.

همدارنګې نبي عليه السلام د بَد دِيانته تاجرانو د پاره سخت وعيد ذکر کړی :

إِنَّ التُّجَّارَ يُبْعَثُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فُجَّارًا . إِلَّا مَنِ اتَّقَى اللهَ ، وَبَرَّ ، وَصَدَقَ . (١)

بېشکه تاجران به د قيامت په ورځ نافرمانه راپاڅولې شي ( يعنی د دوی حشَر به د نافرمانه واله خلقو سره وي ) بغير د هغه تاجرانو نه چې هغوی په (تجارت) کې تقوی اِختيار کړه ، قسم يې پوره کړو ، او رېښتيا يې وويل.

## مخکيني پيغمبرانو هم مِحنت او مزدوري کړی

ډېرو پيغمبرانو د عبادت ، دُعاګانو او دعوت و تبليغ سره سره د حلال رِزق ګټلو د پاره مِحنت ، ملازمت او مزدوري هم کړی ، او مختلف قِسمه جائز کارونه يې کړي ، د نمونې د پاره درته د يو څو پيغمبرانو کسبونه پيش کوم.

١. د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

كَانَ زَكَرِيَّاءُ نَجَّارًا . (٢) حضرت زکريا عليه السلام ترکاڼ وُ.

يعنی ذريعهٔ معاش يې همدا ترکاڼي وه. (٣)

٢. مفسّرينو ليکلي : إِنَّ إِدْرِيْسَ كَانَ خَيَّاطًا. (٤) حضرت ادريس عليه السلام دَرزي ( ټېلر ) وُ

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبُيُوعِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي التُّجَّارِ وَتَسْمِيَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاهُمْ رقم الحديث ج٢ ص٥٠٦ رقم الحديث ١٢١٠ ، وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . ابن ماجه باب التوقي في التجارة رقم الحديث ٢١٤٦ ، صحيح ابن حبان ذكر اثبات الفجور للتجار .. وقال الالباني صحيح ، الصحيحة ٩٩٤ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢١٤٤ ، كنز العمال الباب الثاني في البيع الفصل الاول في آداب البيع رقم الحديث ٩٤٣٧ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ١٧٨٥ ترغيب التجار في الصدق ... ، و رواه البيهقي كتاب البيوع باب كراهية اليمين في البيع ج٥ ص٢٦٦ ، وقال الذهبي : صحيح .

(٢) صحيح مسلم كتاب الفضائل بَابٌ فِي فَضَائِلِ زَكَرِيَّاءَ عَلَيْهِ السَّلَامُ رقم الحديث ٢٣٧٩ ، سنن ابن ماجه ابواب التجارات باب الصناعة ص١٥٦ ، مسند احمد ج١ ص١١٣ .

(٣) شرح مسلم للنووي تحت الحديث المذكور ( رقم ٢٣٧٩ ) .

(٤) تفسير ابن كثير ج ٥ ص ٢٤١ سورة مريم آيت ٥٦ ، الدرّ المنثور للعلامة سيوطي رحمه الله ج١ ص ٨٨ .

يعنی د دَرزي توب کار به يې کولو .

۳ . په بعضې تاريخي رواياتو کې ذکر دي چې د حضرت هود عليه السلام او د لقمان عليه السلام ذريعهٔ معاش هم همدا دَرزي توب وُ . (۲)

۴ . سعيد بن المسيب رحمه الله د لقمانِ حکيم په باره کې هم دا نقل کړي :

کان لقمان الحکيم خَيّاطًا . (۳) لقمان حکيم هم دَرزي توب کولو .

۵ . حضرت آدم عليه السلام ، حضرت ابراهيم عليه السلام ، او حضرت لوط عليه السلام زمينداري کړی.

۶ . حضرت نوح عليه السلام ترکاڼي کړی . ۷ . حضرت هود عليه السلام او حضرت صالح عليه السلام تجارت کړی . ۸ . حضرت داوُدِ عليه السلام به زغرې جوړولی . ۹ . حضرت سليمان عليه السلام به ټوکرۍ او زَنبيلونه جوړول . ۱۰ . حضرت شعيب عليه السلام به ښاروي ساتل ، ددې وَرۍ او شوده به يې خرڅول . ۱۱ . حضرت موسی عليه السلام به ګډې او چيلۍ څرولی . (۴)

---

(۲) محاضرات الادباء ج۱ ص۲۲۷ .

(۳) ربيع الابرار ج۱ ص۲۲۷ .

قال ابن عباس رضي الله عنهما : کان آدم عليه السلام حراثا . و نوح نجارًا . و إدريس خياطًا . و إبراهيم و لوط ذراعين . و صالح تاجرًا . و داؤد زرادًا . وموسی وشعيب و محمد صلی الله عليهم الصلوة والسلام رعاة . نزهة الناظرين کتاب آداب الکسب والمعاش ص ۳۳۸ .

وَفِي الآثار أَنّ آدم عَلَيْهِ السَّلَام لما هَبَط إِلَی الأَرض أَتاهُ جِبْرَائِيل عَلَيْهِ السَّلَام بِالحِنطَةِ وَأمره بِأَنْ يَزْرَعهَا . فزرعها وسقاها وحصدها وداسها وطحنها وخبزها ... وَكَذَا نوح عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ نجارا يَأْكُل مِن كسبه . وَإِدْرِيس عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ خيَاطًا . وابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ بزازا ... وَدَاوُد عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ يَأْكُل من كسبه ... وَسليمَان صلوَات الله عَلَيْهِ كَانَ يصنع المكاتل من الخوص فيأكل مِن ذَلِك . وزَكَرِيا عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ نجارا . وَعِيسَى عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ يَأْكُل من غزل أمه . وَرُبمَا كَانَ يلتقط السنبلة فيأكل من ذَلِك وَهُوَ نوع اكتِسَاب . وَنَبِينَا صلى الله عَلَيْهِ وَسلم كَانَ يرْعَى فِي بعض الأَوْقَات ... وَفِي حَدِيث السَّائِب بن شريك عَن أَبِيه رَضِي الله عَنهُ قَالَ كَانَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم شَرِيكي . وَكَانَ خير شريك لايداري وَلَا يُمَارِي أَي لايلاج ولا يخاصم . قيل فِي مَاذَا كَانَت الشّركَة بَيْنكُمَا ؟ فَقَالَ فِي الأدم . وازدرع رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم بالجرف على مَا ذكره مُحَمَّد رَحمَه الله فِي كتاب المُزَارعَة ليعلم أَنّ الكسب عَن طَرِيق المُرْسلين عَلَيْهِم السَّلَام . کتاب الکسب لامام محمد بن الحسن الشيباني

(۴) لدائی منبر و محراب ج۳ ص ۱۶۹ .

# نبي عليه السلام هم محنت او کار کړی

د نبوت د کارونو سره سره نبي عليه السلام تجارت او نور کارونه هم کړي.

١. د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: چې ټولو پيغمبرانو ګډې څرولی دي، صحابه کرامو ورنه پوښتنه اوکړه: آيا تاسو هم ګډې چيلی څرولی؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل:

نَعَمْ. كُنْتُ أَرْعَاهَا عَلَى قَرَارِيطَ لِأَهْلِ مَكَّةَ. (١)

آو، ما هم (په ځوانۍ کې) د اهلِ مکهٔ چيلۍ د څو قيراطو په عوض کې څرولي دي.

٢. همدارنګې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مسجدِ نبوي جوړولو په وخت کاڼي راوړي دي. (٢)

٣. د غزوه خندق په موقع يې د خندق کنستلو او خاورې وړلو کې پوره کار کړی. (٣)

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپلې څپلۍ او جامې په خپله ګنډلی، او د کور کار به يې هم کولو. (٤)

٤. همدارنګې نبي عليه السلام به خپلې جامې په خپله صفا کولی، چيلۍ به يې په خپله رالوشله، او خپل کار به يې په خپله کولو. (٥)

٥. يو ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرام د يوې غزا نه واپس راتلل، دوی يو ګډ ذبح کول او غوښته، يو کس وويل چې زه به يې ذبح کړم، دويم وويل چې زه به ورنه څرمن اُوباسم، دريم وويل چې زه به يې پوخ کړم، نبي عليه السلام اوفرمايل:

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « مَا بَعَثَ اللهُ نَبِيًّا إِلَّا رَعَى الْغَنَمَ ». فَقَالَ أَصْحَابُهُ: وَأَنْتَ؟ فَقَالَ: « نَعَمْ. كُنْتُ أَرْعَاهَا عَلَى قَرَارِيطَ لِأَهْلِ مَكَّةَ ». صحيح البخاري كتاب الاجارة بَابُ رَعْيِ الْغَنَمِ عَلَى قَرَارِيطَ ج٢ ص ٢٢١ رقم الحديث ٢٢٦٢.

(٢) صحيح البخاري كتاب مناقب الانصار بَابُ مَقْدَمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ الْمَدِينَةَ رقم الحديث ٣٩٣٢.

(٣) صحيح البخاري رقم الحديث ٢٨٣٧، و رقم ٤١٠١، و رقم ٤١٠٥.

(٤) مسند احمد ج١ ص ١٦٧ رجاله رجال الصحيح، قال العراقي في الاتحاف شرح الاحياء ج٧ ص ٩٨.

(٥) شمائل ترمذي باب ما جاء في تواضع رسول الله صلى الله عليه وسلم ص٢٣، ومسند احمد ج٦ ص ١٢١.

زه به لرګي راجمع کړم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم لرګي راجمع کړه. (١)

محترمو مسلمانانو ! انبياء کرامو چې د عباداتو او د عوت و تبليغ سره سره مختلف قسمه کسبونه او کارونه کړي دا يې د ځان نه ندي کړي، بلکه دا ورته الله ﷻ په خپله دې تلقين کړي ؤ، ځکه يو پيغمبر هم د الله ﷻ د حکم او اجازت نه بغير هيڅ کار نه کوي، او په دې کې ډير حکمتونه هم دي:

اول دا چې په دې کې اُمتيانو ته ترغيب دی چې د حلال رِزق ګټلو د پاره څه حلاله ذريعهٔ معاش پيدا کړي چې د نورو خلقو د سوال نه محفوظ وي.

دويم دا چې څوک دې کسبونو ته په سپَک نظر او نه ګوري، او چاته د يو کسب کولو پيغور ورنه کړي، ځکه په دې مشهور کسبونو کې هر کسب يو پيغمبر کړی. په اِسلام کې د عزت او ذِلت دارو مدار په کسبونو نه دی، بلکه په تقوی او پرهيزګاری دی.

## ورکوونکې لاس د اخيستونکي نه بهتر دی

امام غزالي رحمه الله په مکاشفة القلوب کې دا واقعه رانقل کړی چې ابراهيم بن ادهم رحمه الله او شقيق بلخي رحمه الله دواړه په مکه معظمه کې سره يو ځای شو، ابراهيم بن ادهم ورته وويل: تا دا دومره مرتبه څنګه حاصله کړه؟ او شروع دې د څه شي نه کړې وه؟

شقيق بلخي رحمه الله ورته وويل: زه يو ځل په يوه دَشته کې روان ووم، هلته مې يو مرغی اُوليده چې دواړه وَزرې يې ماتې شوې وی، او په زمکه پرته وه، په زړه کې مې د خبره تېره شوه چې: نن دا ګورم چې دې ته الله ﷻ رزق په څه طريقې سره ورکوي؟ نو يوې څنډې ته کيناستم، ګورم چې يوه بله مرغۍ راغله په خُله کې يې مُلخ ؤ، او دې مات وَزرې مرغۍ له يې په خُله کې ورکړو، نو د ځان سره مې وويل:

کوم ذات چې دې مات وَزرې مرغۍ له بله مرغۍ مقرر کړې ده، او دې ته هغه مقرر شوې رِزق راوړي هاغه ذات په دې هم قادر دی چې زه هر چيرته يم ماته خپل مقرر شوې رِزق راکړي. نو د هماغه وخت نه مې کار کسب پريخود، او د الله ﷻ عبادت ته مې ملا اُوتړله.

(١) ندای منبر و محراب ج٣ ص١٦٣.

ابراهيم بن أدهم رحمه الله ورته وويل :

ته ولې د هغه روغې مرغۍ په شان ځان نه جوړوې چې هغې مات وزرې مرغۍ د پاره د خوراک اِنتظام کولو؟ چې الله ﷻ دې په عوض کې غټ مقام درکړي، آيا تا د پيغمبر عليه السلام دا حديث نه دې أوريدلی؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِّنَ الْيَدِ السُّفْلٰى. (١)

وركوونكې أوچت لاس د اخيستونكي ټيټ لاس نه ډير بهتر دی.

د مسلمانۍ د عَلاَئِمو نه يوه دا علامه هم ده چې هغه به د أوچتې مرتبې په لټون کې وي چې په ټولو امورو کې أوچت مقام ځان ته حاصل کړي، ددې د پاره چې د أبرارو او نيکو خلقو په قطار کې شامل شي.

شقيق بلخي رحمه الله په دې أوريدو سره د ابراهيم بن أدهم رحمه الله لاس أونيوه، چَپ (ښکل) يې کړو، او ورته وې ويل :

اې ابو اسحاق ! بيشکه ته زمونږ استاذ يې (ستاسو خبره صحيح ده). (٢)

## جائز مال و دولت هم د مومن د پاره د الله ﷻ يو نعمت دی

مال و دولت که چيرته په جائزه طريقې سره وي نو دا هم د الله ﷻ يو قابلِ قدر نعمت او د هغه خاص فضل دی.

په دې کې شک نشته چې که يو انسان د فقيرۍ سره سره صبر و تحمل کولې شي، او د عِفت او پاکدامنۍ ژوند تېرولې شي نو بيا دداسې فقيرۍ ډيره أوچته درجه ده، او نبي عليه السلام هم د ځان د پاره همدا فقيري خوښه کړې، او ددې دُعا به يې کوله.

---

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ. وَهُوَ يَذْكُرُ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ عَنِ الْمَسْأَلَةِ « اَلْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى. وَالْيَدُ الْعُلْيَا الْمُنْفِقَةُ. وَالسُّفْلَى السَّائِلَةُ ». صحيح مسلم بَابُ بَيَانِ أَنَّ الْيَدَ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى رقم الحديث ٩٤ (١٠٣٣).

(٢) مكاشفة القلوب باب ٣٠.

ليکن که يو انسان ته الله ﷻ په جائزې طريقې سره مال و دولت ورکړي او ده ته ددې سره سره د شکر او په صحيح ځايونو کې د خرچ کولو توفيق ملاؤ شي نو بيا دا مال و دولت هم د الله ﷻ د طرفه يو قابلِ قدر نعمت او خاص فضل دی .

د مشکوة شريف حديث دی ، حضرت عَمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم يو کس را اُوليږل چې اَسلحه او جامې راواخله ، او ماته راشه . کله چې زه نبي عليه السلام ته راغلم ، دوی اَودس کولو ، ماته يې وفرمايل :

يَا عَمْرُو ! إِنِّيْ أَرْسَلْتُ إِلَيْكَ لِأَبْعَثَكَ فِيْ وُجْهٍ يُسَلِّمُكَ اللهُ وَيُغْنِمُكَ وَ أَزْعَبَ لَكَ زَعْبَةً مِنَ الْمَالِ .

اې عمرو ! ما دتا پسې کس ددې د پاره درليږلې ؤ چې زه تا د يو مُهِم پسې ليږم ، الله تعالى به تا صحيح سالِم واپس راولي ( هغه مُهم به ستا په لاس فتح شي ) ، او الله تعالى به تاته غنيمت درکړي ، او تاته به د مال بهترينه حصه ملاؤ شي .

عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي : ما ورته وويل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَا كَانَتْ هِجْرَتِيْ لِلْمَالِ ، وَمَا كَانَتْ إِلَّا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ .

اې د الله ﷻ رسوله ! ما خو هِجرت د مال د پاره نه ؤ کړی ، بلکه زما هجرت خالِصه د الله او د رسول د رَضا د پاره ؤ .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل :

نِعِمَّا بِالْمَالِ الصَّالِحِ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ . (١)

( اې عمرو ! ) د نيک بنده د پاره جائز او پاکيزه مال ډير بهتر ( او قابلِ قدر نعمت ) دی.

(١) عَن عَمرِو بنِ العَاصِ قَالَ : أَرسَلَ إِلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَنِ اجْمَعْ عَلَيْكَ سِلَاحَكَ وَثِيَابَكَ ثُمَّ ائْتِنِيْ » قَالَ : فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ . فَقَالَ : « يَا عَمْرُو ! إِنِّيْ أَرسَلتُ إِلَيكَ لِأَبْعَثَكَ فِيْ وَجْهٍ يُسَلِّمُكَ اللهُ وَيُغْنِمُكَ وَأَزْعَبُ لَكَ زَعْبَةً مِنَ الْمَالِ . » فَقُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَا كَانَتْ هِجْرَتِيْ لِلْمَالِ ، وَمَا كَانَتْ إِلَّا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ . قَالَ : « نِعِمَّا بِالْمَالِ الصَّالِحِ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ » مشكاة المصابيح رقم الحديث ٣٧٥٦ (١٢) ، شرح السنة للبغوي ص ١١٠٩ .

امام بخاري رحمه الله په " الادب المفرد " کې چې دا حديث رانقل کړی نو د حديث آخري الفاظ يې دا رانقل کړي چې نبي عليه السلام عمرو بن العاص رضي الله عنه ته وفرمايل :

يَا عَمْرُو ! نِعْمَ الْمَالُ الصَّالِحِ لِلْمَرْءِ الصَّالِحِ . (۱)

اې عمرو ! پاک او حلال مال د نيک سړي د پاره ډير ښه دی .

**فايده** معلومه شوه چې که يو انسان ته الله جل جلاله جائز او حلال مال ورکړي او بيا په دې باندې د شکرېې او په صحيح ځای کې ددې د خرچ کولو توفيق هم ورکړي نو دا د الله جل جلاله يو نعمت او خاص فضل دی ، دغه وجه ده چې په انبياء کرامو کې حضرت داؤد عليه السلام ، حضرت سليمان عليه السلام ، حضرت ايوب عليه السلام ، حضرت يوسف عليه السلام او نورو ډيرو پيغمبرانو ته الله جل جلاله د مال و دولت دا نعمت ورکړې ؤ ، او په اکابرو صحابه کرامو کې حضرت عثمان رضي الله عنه ، حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ، حضرت زبير بن عوام رضي الله عنه او نورو ډيرو صحابه کرامو ته الله جل جلاله دا نعمت ورکړې ؤ .

## په بعضې حالاتو کې دِرهم او دِينار ته هم ضرورت وي

۱ . د مشکوة شريف روايت دی چې حضرت مِقدام بن مَعدِي کرِب رضي الله عنه ( د شُودو د پاره يو ځاروې ساتلې ؤ ، چې شوده به يې ترې رالوشل ، نو دده ) وينځې به دا شوده خرڅول او ددې قيمت به حضرت مقدام رضي الله عنه په خپله اخيسته ، چا ورته ووېل :

سُبْحَانَ اللهِ . أَتَبِيْعُ اللَّبَنَ وَتَقْبِضُ الثَّمَنَ ؟

سبحان الله ، ته شوده خرڅوې او ددې قيمت په خپله اَخلې ؟

( دې خلقو ته د شودو خرڅول نا آشنا معلوم شو ) .

ده ورته ووېل : ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه آوريدلي دي چې فرمايل يې :

(۱) الادب المفرد ج۱ ص ۱۱۲ رقم الحديث ۲۹۹ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۳۲۱۰ ذکر الاباحة للرجل يجمع المال من حلّه اذا قام بحقوقه فيه .

لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَنْفَعُ فِيهِ إِلَّا الدِّينَارُ وَالدِّرْهَمُ. (١)

په خلقو باندې به داسې زمانه راشي چې په دې کې به بل شی فائده نه ورکوي بلکه صرف دِرهم او دينار به فائده ورکوي.

**فائده**: حضرت مِقدام بن مَعدي کرِب رضي الله عنه د خپل کار د جَواز د پاره د نبي عليه السلام حديث پيش کړو، مطلب يې دا وُ چې خپل جائز څيز خرڅول او دِرهم و دينار حاصلول څه بَده خبره نده. که دا عزيمت نه وي نو رخصت خو خامخا دی. (٢)

٢. سفيان ثوري رحمه الله فرمايي:

كَانَ الْمَالُ فِيمَا مَضَى يُكْرَهُ. فَأَمَّا الْيَوْمَ فَهُوَ تُرْسُ الْمُؤْمِنِ. وَقَالَ لَوْلَا هٰذِهِ الدَّنَانِيْرُ لَتَمَنْدَلَ بِنَا هٰؤُلَاءِ الْمُلُوكُ. مَنْ كَانَ فِي يَدِهِ مِنْ هٰذِهِ شَيْءٌ فَلْيُصْلِحْهُ فَإِنَّهُ زَمَانٌ إِنِ احْتَاجَ كَانَ أَوَّلَ مَنْ يَبْذُلُ دِيْنَهُ. (٣)

په تيره زمانه کې به مال بَد ګڼړلې شو، (ځکه هلته به زُهد او قَناعت زيات وُ، او د خلقو ضرورتونه به پوره کيدل) خو نن صبا دا دمؤمن د پاره ډال دی، سفيان ثوري رحمه الله دا هم وفرمايل: که د مونږ سره دا دِينار نه وی نو د نن صبا باشاهانو او اُمراؤ به مونږ پائمال کړي وی، لهذا د چا سره چې په لاس کې ددې مال نه څه شی وي نو هغه دې ددې اِصلاح اوکړي، (يعنی ددې حفاظت دې اوکړي او هسې دې نه ضائع کوي) ځکه دا داسې زمانه ده که په دې کې څوک محتاج شي نو دې به اول هغه کس وي چې دې به خپل دين پائمال کوي.

---

(١) عَنْ أَبِي بكرِ بنِ أبِي مريمَ قَالَ: كَانَتْ لِمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ جَارِيَةٌ تَبِيْعُ اللَّبَنَ وَيَقْبِضُ الْمِقْدَامُ ثَمَنَهُ فَقِيْلَ لَهُ: سُبْحَانَ اللهِ. أَتَبِيْعُ اللَّبَنَ وَتَقْبِضُ الثَّمَنَ؟ فَقَالَ نَعَمْ. وَمَا بَأْسٌ بِذَلِكَ. سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: «لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَنْفَعُ فِيهِ إِلَّا الدِّيْنَارُ وَالدِّرْهَمُ» رواه احمد، مشكاة المصابيح ج٢ ص ٨٤٧ رقم الحديث ٢٧٨٣ (٢٦)، كنز العمال رقم الحديث ٦٣٣٧.

(٢) معارف الحديث حصه هفتم كتاب المعاملات ص ٢٨٣.

(٣) رواه في شرح السنة، مشكاة المصابيح جز ٣ ص ١٣٥٥ رقم الحديث ٥٢٩١ بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمَالِ وَالْعُمُرِ لِلطَّاعَةِ الفصل الثالث.

## د څلورو کسانو د پاره کسب نه کول اَولی دي

که د يو چا سره مال و دولت نه وي ، او نه يې څه بله ذريعه وي او په ده باندې د خپل اهل و عيال نفقه فرض وي نو د داسې کس د پاره حلال کسب او تجارت کول فرض او ضروري دي ، ددې د پاره چې د خپل ځان او خپل اهل و عيال د نفقې پيدا کولو په باره کې د خلقو د سوال او اِحتياج نه بچ شي ، او په احاديثو کې ددې ډير تاکيد هم راغلی . ( لکه مخکې چې په تفصيل سره تېر شو ) .

البته امام غزالي رحمه الله په " احياء العلوم " کې ذکر کړي چې څلور کسان داسې دي چې که چيرته دوی ته حلال رزق بغير د سوال کولو او بغير د خلقو د اِحتياج نه ملاويږي نو د داسې خلقو د پاره بيا کسب نه کول بهتر دي ، هغه څلور کسان دادي :

١ . داسې عابد چې په عباداتو ، اَورَادو او ظاهري عباداتو کې مشغول وي ( لکه په خانقاهو کې ناست عبادت گزار ) .

٢ . داسې صوفي چې د هغه په باطن او زړه باندې د صوفياؤ د احوالو او مکاشفاتو لارې کلاؤ شوې وي .

٣ . داسې عالِم چې هغه د علومِ ظاهريه ؤ په خوَرولو کې مشغوله وي او خلق په ديني کارونو کې د هغې نه نفع اخلي ، لکه مفتي ، مفسِّر ، مُحدِّث وغيره .

۴ . داسې کس چې هغه د مسلمانانو په مَصالحو کې مشغوله وي ، او حکومتي تنخواګانې د دوی د پاره کافي کيږي ، لکه بادشاه ، قاضي وغيره .

نو چې کله ددې مذکوره خلقو حوائج بغير د سوال کولو نه پوره کيږي نو داسې خلقو ته بيا د کسب کولو په نسبت په همدې خپلو کارونو کې مشغوليدل افضل دي .

د همدې وجې نه الله جل جلاله رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته دا وَحی کړې وه :

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِيْنَ . (١)

ترجمه : پس ته پاکي بيانوه په تعريف کولو د خپل رب سره ، او ته د سجده کوونکو نه شه .

ددې وَحې يې ورته نه وه کړی چې : وَكُنْ مِنَ التَّاجِرِيْن . چې ګني ته د تاجرانو نه شه .

---

(١) الحجرات آيت ٩٨ .

همدارنګې چې کله حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته د مسلمانانو خلافت حواله شو ، او هغه د رِزق پيدا کولو د پاره تجارت ته اووت نو صحابه کرامو ورته وويل چې :
ته د مسلمانانو اُمور سنبالوه او د ضرورت موافق خرچه د بيتُ المال نه اَخله ، ځکه که ته په تجارت کولو مشغول شې نو د مسلمانانو مَصالِح او اَهم کارونه پاتې کيږي. (۱)

## د غونډ تقرير خلاصه

محترمو مسلمانانو ! ددې دومره آيتونو ، احاديثو او واقعاتو نه دا معلومه شوه چې په اِسلام کې د حلال کسب او محنت کولو ډير اَهميت بيان شوی ، ددې ډير فضائل بيان شوي ، همدارنګې د رِښتيني او اَمانت دار تاجِر فضائل بيان شوي ، د مَزدور او مِحنت کش حوصله اَفزائي شوی ، د دوی سره د ظلم او بې اِنصافۍ کولو نه منع راغلی .

الله جَلَّ جَلَالُهٗ دې مونږ ته دا توفيق راکړي چې د عبادت سره سره د خپل ځان او خپل اَولاد د پاره حلال کسب اوکړو ، او د خپل اَولاد د پاره حلال رِزق اوګټو .

الله رب العزت دې مونږ ټولو ته فراخه او حلال رِزق راکړي ، او مونږ ټول دې د ناجائز کسب او حرام خوراک نه اُوساتي . آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ** : ددې موضوع متعلق ضروري فِقهي مسائل ددې کتاب په آخر کې ذکر دي ، د صفحه ۳۲۲ نه شروع دي ، د هغې نه ځانله د موقعې مناسب اِنتخاب وکړه .

ابوالشمس عفي عنه

(۱) وتركُ الكسب أفضل لأربعة : ۱ . عابد بالعبادات البدنيّة ۲ . أو رجل له سير بالباطن وعمل بالقلب في علوم الأحوال والمكاشفات ۳ . أو عالم مُشْتَغِلٍ بِتَرْبِيَةِ عِلمِ الظَّاهِرِ مِمَّا يَنْتَفِعُ النَّاسُ به في دينهم كالمفتي وَالْمُفَسِّرِ وَالْمُحَدِّثِ وَأَمْثَالِهِمْ ۴ . أَوْ رَجُلٍ مُشْتَغِلٍ بِمَصَالِحِ المسلمين وقد تكفل بأمورهم كالسلطان والقاضي والشاهد فهؤلاء إذا كانوا يُكْفَوْنَ مِنَ الأَمْوَالِ الْمُرْصَدَةِ لِلْمَصَالِحِ أَوِ الأَوْقَافِ الْمُسْبَلَةِ عَلَى الْفُقَرَاءِ أَوِ الْعُلَمَاءِ فَإِقْبَالُهُمْ عَلَى مَا هُمْ فِيهِ أَفْضَلُ مِنِ اشْتِغَالِهِمْ بِالْكَسْبِ . ولهذا أوحي إلى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِيْنَ . ولم يوح إليه أن كن من التاجرين لأنه كان جامعًا لهذه المعاني الأربعة إلى زيادات لا يحيط بها الوصف وَلِهَذَا أَشَارَ الصَّحَابَةُ عَلَى أَبِي بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ بِتَرْكِ التِّجَارَةِ لَمَّا وَلِيَ الخِلَافَةَ إِذْ كَانَ ذٰلِكَ يَشْغَلُهُ عَنِ الْمَصَالِحِ وَكَانَ يَأْخُذُ كِفَايَتَهُ مِنْ مَالِ الْمَصَالِحِ . وَرَأَى ذٰلِكَ أَوْلَى ثُمَّ لَمَّا تُوُفِّيَ أَوْصَى بِرَدِّهِ إِلَى بَيْتِ الْمَالِ وَلَكِنَّهُ رَآهُ فِي الإِبْتِدَاءِ أَوْلَى . احياء علوم الدين ج۲ ص ۷۲ كتاب آداب الكسب والمعاش ط دار الكتب العلمية بيروت ، كيمياى سعادت .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

﴿ یَا أَیُّهَا النَّاسُ کُلُوْا مِمَّا فِی الْأَرْضِ حَلَالًا طَیِّبًا ﴾ . البقرة آیة ۱۶۸

# د حَلال خوراک اَهمیت او فوائدِ

تالیف

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِیَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د حلال خوراک اَهميت او فوائد

اَلْحَمْدُ لِحَضْرَةِ الْجَلَالَةِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُ الْفَضْلِ وَالْعَدَالَةِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوْا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَّلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ إِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴾. (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا إِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴾ . (۲)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ أَكَلَ طَيِّبًا ، وَعَمِلَ فِيْ سُنَّةٍ ، وَأَمِنَ النَّاسُ بَوَائِقَهٗ دَخَلَ الْجَنَّةَ . (۳)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

## د حلال خوراک په باره کې حُکم

محترمو مسلمانانو ورونو ! په قرآن کريم او اَحاديثو کې په ډيرو ځايونو کې د حلال خوراک اَهميت بيان شوی ، او انسانانو ته بيا خاصکر مؤمنانو ته د حلال او پاکيزه څيزونو د خوړلو حکم شوی . الله رب العزت فرمايي :

(۱) سورة البقرة آية ۱٦٨ .

(۲) سورة المومنون آية ٥١ .

(۳) المستدرک على الصحيحين للحاكم كتاب الاطعمة ج۴ ص۱۱۷ رقم الحديث ۷۰۷۳ وقال الحاكم هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه ، وقال الذهبي : هذا حديث صحيح ، سنن الترمذي باب ٦۰ رقم الحديث ۲٥۲۰، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۷۸ ( ۳۹ ) ، كنز العمال كتاب البيوع الباب الاول في الكسب الفصل الاول في فضائل الكسب الحلال ج۴ رقم الحديث ۹۲۱۳ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۴۰۷ ثواب الاكتساب من جهات الحلّ والعمل باليد .

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾. (١)

ترجمه: اې خلقو! په زمکه کې چې کوم حلال پاکيزه شيان دي تاسو هغه خورئ، او د شيطان د قدمونو پيروي مه کوئ، بيشکه هغه خو ستاسو د پاره ښکاره دُښمن دی.

بل ځای الله جل جلاله فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴾. (٢)

ترجمه: اې د ايمان خاوندانو! تاسو خورئ د هغه پاکيزه شيانو نه کوم چې مونږ تاسو ته درکړي دي، او د الله ﷻ شکريه اداء کوئ که چيرته تاسو (په ريښتيا) صِرف د هغه عبادت کوی.

## مخکيني ټولو پيغمبرانو ته د حلال خوراک حکم شوی ؤ

د حلال خوراک د اَهميت اَندازه تاسو ددې نه هم معلومولې شئ چې د مخکيني ټولو پيغمبرانو په دِينونو کې هم د حلال خوراک کولو حکم ؤ، او هر پيغمبر ته د حلال خوراک او په ښو کارونو باندې د هميش والي تاکيد کړې شوې ؤ، الله رب العزت فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾. (٣)

ترجمه: اې رسولانو! تاسو پاکيزه (او حلال) څيزونه خورئ، او (هميشه) نيک عملونه کوئ، بيشکه زه په هغه کارونو باندې ښه خبريم کوم چې تاسو کوی.

**فائده**: په دې آيت کې الله جلّ جلاله د حلال او پاکيزه خوراک کوُلو حکم مخکې کړی،

---

(١) سورة البقرة آية ١٦٨.

(٢) سورة البقرة آية ١٧٢.

په سورة النحل کې هم هغه مضمون ذکر دی، الله تعالى فرمايي: ﴿ فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا وَاشْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴾. سورة النحل آية ١١٤.

بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي أَنتُم بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴾. سورة المائدة آية ٨٨.

(٣) سورة المومنون آية ٥١.

او بيا يې ورپسې د نيکو اَعمالو کولو حکم کړی ، ددينه هم د حلال خوراک اَهميت معلوميږي. (١)

بل دا چې په ظاهره باندې اگر چې د پاکيزه خوراک او نيکو اعمالو په مينځ کې هيڅ مناسبت نه معلوميږي ليکن علماؤ ليکلي چې د پاکيزه خوراک او نيکو اعمالو کولو په مينځ کې ډير قوي تعلق دی ، ځکه د حلال او پاکيزه خوراک په کولو سره انسان ته په خپله د نيکو اعمالو توفيق ملاويږي.

## د '' حلال '' لغوي او شرعي تعريف

حلال په لغت کې مباح ته وايي (٢) ، او دا ضد د حرام دی.

او شرعي تعريف يې دا دی :

اَلْحَلَالُ هُوَ الْمُبَاحُ الَّذِيْ اِنْحَلَّتْ عَنْهُ عَقْدُ الْحَظرِ وَاَذِنَ الشَّارِعُ فِيْ فِعْلِهٖ. (٣)

حلال هغه مباح ته وايي چې ددې نه منع نه وي راغلي ، او شارِع ددې د کولو اِجازت ورکړې وي.

## د حلال او حرامو پيژندلو حکم

د حلال او حرامو پيژندل په هر مُکلّف مسلمان باندې فرضِ عين دي ، ددې د پاره چې ده ته په دين کې پوره بَصيرت حاصل شي ، او په ناجائزو کارونو کې واقع نه شي ، او د اِسلام د احکامو مخالفت او نه کړي ، ځکه حرامو ته حلال ويل ، يا حلالو ته حرام ويل کفر دی. (۴)

(١) أَمَرَ بِالْأَكْلِ مِنَ الطَّيِّبَاتِ قَبْلَ الْعَمَلِ . احياء علوم الدين ج٢ ص ٨٩ الباب الاول في فضيلة الحلال ومذمة الحرام .

(٢) نخبة من العلماء ، المعجم الوسيط ج١ ص١٩٣ .

الاولى ان يقال : الحلال هو المطلق من قيد الحظر . ابن الأثير الامام مجد الدين ابي السعادات المبارک ابن محمد الجزري ، النهاية في غريب الحديث والاثر ج١ ص ٤٢٨ .

(٣) اتقاء الحرام والشبهات في طلب الرزق ج١ ص ١١ .

(۴) حكم معرفة الحلال والحرام : ومعرفة الحلال من الحرام فرض عين على كل مسلم مكلف ليكون على بصيرة من دينه حتى لا يقع في المحظور ويخالف احكام الاسلام . فإن من اعتقد الحلال حرامًا او بالعكس فإنه يكفر . اتقاء الحرام والشبهات في طلب الرزق ج١ ص ١١ .

## حلال خوراک د دِين بُنياد دی

محترمو مسلمانانو ! په دين کې د حلال خوراک مثال داسې دی لکه د آبادۍ د پاره بُنياد ، اوس که چيرته بُنياد ځومره مضبوط وي همدومره به دا آبادي هم مضبوطه وي او په پوره توګه به صحيح روانه وي ، او که چيرته بُنياد کمزورې وي نو دا آبادي به هم کمزورې وي او آخر به را اوغورځيږي . (١)

## د حلال خوراک په وجه انسان مُستجاب الدعوات ګرځي

کله چې انسان حلال خوراک کوي نو ددې په وجه الله ﷻ انسان مُستجابُ الدّعوات ګرځوي ، يعنی دده دُعاګانې قبلوي .

په يو روايت کې راځي چې په يوه موقع باندې حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نبي عليه السلام ته وفرمايل : يَا رَسُولَ اللهِ ! اُدْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِيْ مُسْتَجَابَ الدَّعْوَةِ .

اې د الله رسوله ! تاسو د الله ﷻ نه زما د پاره دُعا اوغوارئ چې ما مُستجَابُ الدّعوات اوګرځوي ( يعنی زما دُعاګانې قبليږي )

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : يَا سَعْدُ ! أَطِبْ مَطْعَمَكَ تَكُنْ مُسْتَجَابَ الدَّعْوَةِ . (٢)

---

(١) ومثل الطعمة من الدّين مثل الأساس من البُنيان ، فإذا ثبت الأساس وقوي إستقام البُنيان وارتفع ، وإذا ضعف الأساس واعوج انهار البنيان ووقع . احياء العلوم ج٢ ص١٢٢ كتاب الحلال والحرام ط مكتبه رشيديه كوئته .

(٢) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : تُلِيَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : { يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا } فَقَامَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! اُدْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِيْ مُسْتَجَابَ الدَّعْوَةِ . فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « يَا سَعْدُ ! أَطِبْ مَطْعَمَكَ تَكُنْ مُسْتَجَابَ الدَّعْوَةِ ، وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَقْذِفُ اللُّقْمَةَ الْحَرَامَ فِي جَوْفِهِ مَا يُتَقَبَّلُ مِنْهُ عَمَلُ أَرْبَعِينَ يَوْمًا ، وَأَيُّمَا عَبْدٍ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنَ السُّحْتِ وَالرِّبَا فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ » . المعجم الاوسط جز ٦ ص ٣١٠ رقم الحديث ٦٤٩٥ ، ورواه الطبراني في الصغير ، الترغيب والترهيب ٦/ ٢٢٥ ، صفوة التفاسير ج١ ص١٠٣ ، وهكذا ذكره الزبيدي في الاتحاف ٥ / ٤١ ، والهيثمي في المجمع ١٠ / ٢٩٥ ، نزهة الناظرين ... كتاب آداب الكسب والمعاش ص ٣٥٥ .

وَعَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ : مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَسْتَجِيبَ اللهُ دَعْوَتَهُ فَلْيُطِبْ طُعْمَتَهُ . وَعَنْ سَهْلِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ : مَنْ أَكَلَ الْحَلَالَ أَرْبَعِيْنَ صَبَاحًا أُجِيْبَتْ دَعْوَتُهُ . جامع العلوم والحكم ج١ ص ٢٧٥ .

اې سعد ! خپل خوراک پاک ( حلال ) کړه نو ته به مُستجابُ الدعوات شې ( يعنې به الله جَلَّ جَلَالُهُ ستا هره دُعا قبلوي ) .

# د حلال خوراک او حلال کسب کولو په وجه د جنت مُستحِق کيدل

١ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ أَكَلَ طَيِّبًا . وَعَمِلَ فِيْ سُنَّةٍ . وَأَمِنَ النَّاسُ بَوَائِقَهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ . (١)

څوک چې حلال خوراک کوي ، په سُنتو باندې عمل کوي ، او خلق دده د شَر نه محفوظ وي نو دا کس به جنت ته داخل شي .

٢ . رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په يوه موقع وفرمايل :

اَلدُّنْيَا خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ . مَنِ اكْتَسَبَ فِيْهَا مَالًا مِنْ حِلِّهِ وَأَنْفَقَهُ فِيْ حَقِّهِ أَثَابَهُ اللهُ عَلَيْهِ وَأَوْرَدَهُ جَنَّتَهُ . وَمَنِ اكْتَسَبَ فِيْهَا مَالًا مِنْ غَيْرِ حِلِّهِ وَأَنْفَقَهُ فِيْ غَيْرِ حَقِّهِ أَحَلَّهُ اللهُ دَارَ الْهَوَانِ . (٢)

دُنيا سَرسبز و شاداب او خوَږه ده ، څوک چې په دې کې په حلالې طريقې سره مال اُوګټي او په صحيح ځايونو کې يې خرچ کړي الله جَلَّ جَلَالُهُ به ده ته خپله رَضا ورکړي ، او جنت ته به يې داخل کړي ، او څوک چې مال په حرام او ناجائزه طريقو سره اُوګټي او په ناجائزه ځايونو کې يې خرچ کړي نو الله جَلَّ جَلَالُهُ به دا د ذِلت په ځای ( يعنی جهنم ) کې اُوغورځوي .

---

(١) المستدرک على الصحيحين للحاكم كتاب الاطعمة ج٤ ص١١٧ رقم الحديث ٧٠٧٢ وقال الحاكم هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه ، وقال الذهبي : هذا حديث صحيح ، سنن الترمذي باب ٦٠ رقم الحديث ٢٥٢٠، مشكاة المصابيح رقم الحديث ١٧٨ ( ٣٩ ) ، كنزالعمال كتاب البيوع الباب الاول في الكسب الفصل الاول في فضائل الكسب الحلال ج٤ رقم الحديث ٩٢١٣ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٤٠٧ ثواب الاكتساب من جهات الحلّ والعمل باليد .

(٢) خرّج البيهقي باسناده عن ابن عمر رضي الله عنهما ، وذكره السيوطي في الجامع الصغير ، و رواه السيوطي في الدّر المنثور ٢٠٤/٢ ، والزبيدي في الاتحاف ١٢/٦ ، الترغيب والترهيب كتاب البيوع وغيرها الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره جزء ٢ ص ٣٤٨ رقم الحديث ٢٦٧٧ ، كنزالعمال ج٣ ص١٨٣ رقم الحديث ٦٠٧٦ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٤٠٢ ثواب الاكتساب من جهات الحل والعمل باليد .

٣ . د امام اَوزاعي رحمه الله ملاقات د ابراهيم بن اَدهم رحمه الله سره په داسې حالت کې اوشو چې ابراهيم بن ادهم رحمه الله په سَر باندې د لرګو ګيډې راخيستې ؤ ، امام اوزاعي ورته وويل :

يَا اَبَا اِسْحَاق ! إِلَى مَتٰى هٰذَا ؟ إِخْوَانُكَ يَـكْفُوْنَكَ .

اې ابو اسحاق ! تهٔ به تر څو پورې دا کسب کوې ؟ ستا اِسلامي وروڼه ستا د پاره کافي دي ( هغوی به کسب کوي او تاته به د ضرورت موافق درکوي ) ، ده ورته وويل : اې ابو عمرو ! ما پرېږده ، ځکه ماته دا خبره رارسيدلې ده چې :

مَنْ وَقَفَ مَوْقِفَ مذِلَّةٍ فِيْ طَلَبِ الْحَلَالِ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . (١)

څوک چې د حلال رِزق په طلب کولو کې د ذِلت په ځای کې اُودريده نو دده د پاره جنت واجب شو .

## په حلال خوراک سره انسان ته د نيکو اَعمالو توفيق ملاويږي

چې کله انسان حلال خوراک کوي په دې سره ده ته د نيکو اَعمالو کولو توفيق ملاويږي ، ځکه د حلال خوراک نه چې کومه وينه پيدا کيږي دا په ټول وجود کې ګردَش کوي ، ددې ښه اَثر بيا په زړه او دِماغو هم غورځي ، د انسان په زړه کې نرمي او د الله ﷻ نه خَوف پيدا کيږي ، د آيتونو او اَحاديثو په اَوريدو سره انسان الله ﷻ طرف ته متوجه کيږي ، په زړه کې يې نُور پيدا کيږي ، نيک کارونه کول ورته آسانيږي ، په دِماغو کې يې پاکيزه خيالات پيدا کيږي ، په خپل ژوند کې يو جدا کيفيت او سکون محسوسوي ، او د انسان د هر اَندام نه په خپله د شريعت موافق اعمال صادريږي .

علماء کرامو د پوهې د پاره يو مثال ورکړی چې د حلال خوراک مثال داسې دی لکه د صفا پټرولو په شان .

---

(١) و رُوِيَ أَنّ الْأَوزاعي لقي إبراهيم بن أدهم رحمهم الله وعلى عنقه حزمة حطبٍ . فقال له : يَا أَبَا إِسْحَاق ! إِلَى مَتٰى هٰذَا ؟ إِخْوَانُكَ يَـكْفُونك . فقال : دَعْنِيْ عَنْ هٰذَا يَا أَبا عمرو ! فإنّه بَلَغَنِيْ أَنَّهُ مَنْ وَقَفَ مَوْقِفَ مذلّةٍ فِي طلبِ الحلال وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . احياء العلوم ج٢ ص ٧٢ كتاب آداب الكسب والمعاش الباب الاول في فضل الكسب والحث عليه ط دارالكتب العلمية بيروت ، نزهة الناظرين ... كتاب آداب الكسب والمعاش ص ٣٣٩ .

اوس که چيرته په ګاډي کې صفا پټرول واچولې شي نو دا به په صحيح طريقې سره رفتار کوي ، او که پټرول په کې خراب واچولې شي نو اول خو به دا ګاډې د سره ځي نه ، او که روان هم شي نو ډير ډزار به کوي ، صحيح مزل به نه کوي .

همدغه شان که د انسان په خيټه کې حلال او پاکيزه خوراک وي نو په دې سره به انسان په شريعت باندې صحيح روان وي ، دده د هر اندام نه به په خپله نيک اعمال صادريږي ، او که دده په خيټه کې حرام خوراک وي نو دده د هر اندام نه به خامخا غلط کارونه کيږي :

سترګې به يې غلطې استعماليږي ، دماغ به يې غلط استعماليږي ، لاس خپې او ژبه به يې غلط استعماليږي ، ځکه په خيټه کې چې دا کوم حرام خوراک دی او ددينه کومه وينه پيدا شوی دا په ټول وجود کې خوره شوی نو لازمي به ددې غلط اثر په ټول وجود باندې کيږي .

# د حلال خوراک په وجه ترسهره پورې د قرآن کريم د يو آيت نه سل (۱۰۰) مسائل راويستل

امام احمد بن حنبل رحمه الله لوي عالم او د مستقل مذهب امام دی ، دا د امام شافعي رحمه الله شاګرد دی (ډير ورته ګران ؤ) . امام شافعي رحمه الله په مصر کې اوسيده ، دې شاګرد ته يې خط اوليکل چې :

" ډيره موده شوی ملاقات مو سره نه دې شوی که موقع درته پيدا شوه نو مصر ته راشه ځکه نور ډير علماء هم ستاسو د ملاقات شوق لري " .

امام احمد بن حنبل رحمه الله ورته په جواب کې اوليکل چې په فلانکي تاريخ به مصر ته درأورسم . په هماغه تاريخ باندې امام شافعي رحمه الله د خپل شاګرد د استقبال د پاره راأووت ، بادشاه وقت هم د امام شافعي رحمه الله معتقد ؤ ، هغه هم د خپلو وزيرانو سره د راأورسيده نو په ډير عزت او احترام سره دده استقبال اوشو ، شپې له د امام شافعي رحمه الله کورته راغله ، دده بچي هم ډير خوشحاله وو چې نن مونږ کره يو لوي امام ميلمه شوی ، ماسخوتن د خوراک وخت راغی ، امام شافعي رحمه الله خوراک راوړو ، نو امام احمد بن

حنبل رحمه الله په داسې انداز کې خوراک اوکړو لکه یو کس چې د خوراک ډیر حریص وي او د ډیرو ورځو نه یې څه نه وي خوړلي ، زر زر یې سَمه ډیره روټۍ اُوخوړه ، کله چې د خوراک لوښي کورته لاړه نو د امام شافعي رحمه الله بچو د پلار نه پوښتنه اوکړه چې تا خو ویل : " دا ډیر لوي امام دی " نو دا څنګه امام دی ؟ ده خو د عوامو په شان په مړه خیټه ډیره روټۍ خوړلې ده ، حالانکه د نیکانو شان دا دی چې دوی به لږ خوراک کوي او عبادت به ډیر کوي .

امام شافعي رحمه الله ورته وویل : ما هم دا خبره محسوسه کړه خو پوښتنه ورنه ځکه نه شم کولی چې زه کوربه یم او هغه میلمه دی ، که پوښتنه اوکړم نو هغه به بَدګماني اوکړي چې ګني د خپلې روټۍ غم ورسره دی .

بهر حال کله چې ماسخوتن د اُوده کیدو وخت راغی ( دوی مانځه ته لاړه ) د امام شافعي وړو وړو لورانو دده د پاره په خپل لاس باندې کټ جوړ کړو ، او ورسره یې په یوه لوټه کې اُوبه هم کیښودی ، دده د پاره چې کله دا شپې د تهجدو د پاره راپاڅي نو په دې به اَودس اوکړي . امام احمد بن حنبل رحمه الله چې کله سهر مانځه ته راپاڅیده او جُمات ته لاړه ، دا ماشومانې د بسترې راټولولو د پاره راغلې نو وې کته چې لوټه هماغه شان د اُوبو نه ډکه ده . کله چې امام شافعي رحمه الله کور ته راغی ، دوی ورته وویل :

پلاره ! تا خو ویل چې " دا ډیر لوي امام دی " ، حالانکه ده خو یو خوراک هم ډیر اوکړو ، او بل د شپې د تهجدو د پاره هم ندې راپاڅیدلی ، ځکه د اُوبو لوټه هماغه شان ډکه پرته ده .

امام شافعي رحمه الله چې کله بهر راغی نو د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه یې پوښتنه اوکړه : اې احمد بن حنبل ! په تاسو کې دا تبدیلي د کله نه راغلې چې یو خو مو خوراک ډیر اوکړو ، او بیا شپې درته د تهجدو موقع هم ملاؤ نه شوه .

امام احمد بن حنبل رحمه الله مُسکې شو او ورته وې ویل : چې کله تا خوراک راوړو او کیدې خود ، ما چې ورته اوکته نو ما داسې حلال او پاکیزه خوراک چیرته په عُمر کې نه ؤ لیدلی ، ځکه د آسمان د طرفه په دې حلال خوراک باندې داسې اَنوارات او برکات راوریده چې دده په وجه غوندې کور مُنوّر ؤ ، دده په لیدلو سره زما په زړه کې د الله ﷻ د ذِکر

کیفیت پیدا شو ، ما اراده اوکړه چې زه دا څومره خوړې شم نو وې خورم ، ځکه هیڅ پته نه لږي چې بیا به ماته داسې حلال او پاکیزه خوراک ملاؤ شي یا نه ، نو ځکه ما په ډیر حرص او تادۍ سره ډیر اوخوړ ، اوس که زه شپږ یا اووه ورځې نور څه او نه خورم نو زما هیڅ پرواه نشته ، زما د پاره همدا کافي دی.

بیا ما ددې حلال خوراک دوه برکتونه اُولیده : یو عِلمي برکت ، او بل عَملي برکت.

عِلمي برکت مې دا اُولیده چې په ما باندې د عِلم دَروازې کلاؤ شوی ، ځکه کله چې زه په کټ کې څملاستم نو ما د قرآن کریم د یو آیت نه تر سهره پورې سل ( ۱۰۰ ) داسې فِقهي مسئلې رااُوویستی چې هغه تر اوسه ماته نه وی معلومی.

او ددې حلال خوراک عَملي برکت مې دا اُولیده چې د ماسخوتن په اَودس باندې ما تهجد هم اوکړه ، او د سهر مونځ مې هم پرې اوکړو ، ځکه تر سهَره پورې ما د مسائلو استنباط کولو ، زما اَودس ندې مات شوی ، نو ځکه ما د لوټې اُوبه ندي استعمال کړي.

امام شافعي رحمه الله چې دا خبره واوریده نو ډیر خوشحاله شو ، کور ته چې لاړ خپلو بچو ته یې وویل : ما درته نه ویل چې امام احمد بن حنبل رحمه الله د وخت لوی اِمام ، مُتّقي او پرهیزګار دی ، بیا یې بچو ته صحیح صورتِ حال بیان کړو ، نو د بچو یې هم تسلي اوشوه. (۱)

## په حلال خوراک سره زړه مُنوّر کیدل ، او په ژبه د حِکمت چینې جاري کیدل

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَنْ أَكَلَ الْحَلَالَ أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا نَوَّرَ اللهُ قَلْبَهُ وَأَجْرٰى يَنَابِيْعَ الْحِكْمَةِ مِنْ قَلْبِهٖ عَلٰى لِسَانِهٖ. (۲)

---

(۱) تحفة الطلباء والعلماء ص ۲۰٦ ، کشکول حکایات ص ۱۰٦.

(۲) اخرجه ابو نعیم في الحلية ، احياء علوم الدين ج۲ ص ۱۲۲ الباب الاول في فضيلة الحلال ومذمة الحرام ط مكتبه رشيديه كوئته ، وذكره ابن رجب الحنبلي في جامع العلوم والحكم ۱ / ۱۰۷ ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين الفصل الثاني في الحث على الورع وتوقي الشبهات ص ۳۵۵.

څوک چې څلويښت ورځې حلال خوراک اوکړي نو (ددې په وجه) الله ﷻ د داسې کس زړه مُنوّر کوي ، او دده د زړه نه دده په ژبه باندې د حِکمت چینې جاري کوي .
يو شاعِر وايي :

سِرّ دين صِدق مَقَال اکلِ حلال ❁ خلوت و جلوت تماشا ئے جمال

عِلم و حکمت زايد از نانِ حلال ❁ عشق و رقّت آيد از نانِ حلال .

او دا خبره په تجربې سره هم ثابته ده چې کوم کس حلال خوراک کوي په دې سره دده په زړه کې يو نُور پيدا کيږي ، نيکو اَعمالو ته يې شوق پيدا کيږي ، او د الله ﷻ قُرب ورته نصيبه کيږي .

## د دارالعلوم ديوبند اُستاذانو ته د شاه جي دَعوت

د دارالعلوم ديو بند مُهتمم " حکيم الاسلام قاري محمد طيب رحمه الله " يوه واقعه رانقل کړی چې : زمونږ د ديوبند په بزرګانو کې يو بزرګ وُ ، شاه جي عبدالله نوم يې وُ ، تعليم يې نه وُ کړی ، ليکن صاحبِ نِسبت (وليُ الله) وُ ، هر وخت به په ذکر و اَذکارو کې مشغول وُ . هغه خپل بال بچ له د حلال رِزق پيدا کولو ذ پاره دا کار کولو چې وَابنه (ګياه) به يې خرڅول ، په هاغه وخت کې به يې د وَښو يو بَنډل په شپږ پيسو خرڅول ، نه به يې ددې نه زياتې اخيستې او نه کمې .

د ديوبند په کلي کې چې د چا څاروي وو هغوی به په قطار کې ده ته ولاړ وُ ، دده نه به يې وابنه اخيسته ، ځکه هر کس دا غوښته چې دا برکت ماته حاصل شي .

شاه جي چې به دا شپږ پيسې اُوګټلی نو په دې کې به يې دوه پيسې په هماغه ځای کې په فقيرانو باندې تقسيم کړی ، په دوه پيسو به يې د کور خرچه اوکړه ، او دوه پيسې به يې په هره ورځ جَمع کولی ، ټول کال به چې څه پيسې جَمع شوی نو ده به په دې باندې د دارالعلوم ديوبند اُستاذانو له دَعوت اوکړو ، په دې دعوت کې به حضرت مولانا محمد قاسم رحمه الله ، مولانا رفيع الدين رحمه الله ، مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله او د دارالعلوم ديوبند اولنې مُدرِّس مولانا محمد يعقوب رحمه الله هم شريک وُ ، کله به په کې حاجي اِمداد الله رحمه الله هم شريک شو ، دا به په کال کې صرف يوه پېره دعوت وُ .

د دارالعلوم ديوبند مهتمم قاري محمد طيب رحمه الله فرمايي چې ما د خپلو بزرګانو نه اَوريدلي دي چې مولانا يعقوب رحمه الله به فرمايل :

مونږ ټولو به غوښل كال ددې دعوت اِنتظار كولو چې كله به د شاه جي په كور كې خوراک خورو .

ځكه كله به چې مونږ د هغه په كور كې خوراک اوكړو نو ددې حلال خوراک به دا اثرۇ چې تر څلويښتو ورځو پورې به مونږ په خپل زړه كې ددې نُورانيت محسوسول ، او هر وخت به زمونږ په زړه كې د مانځه ، تلاوت او د الله ﷻ د ذِكر جَذبه راپورته كيده . نو ځكه به مونږ ټول كال ددې يو دعوت اِنتظار كولو . (۱)

فائده : دا د حلال خوراک اثرۇ چې په زړه كې به يې نُورانيت پيدا كول ، او د عباداتو جَذبه به يې راپورته كوله .

## الله ﷻ صرف حلال مال قبلوي

د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا . (۲)

بيشكه الله ﷻ ( د هر قِسمه عيبونو نه ) پاک ذی ، صرف پاک ( صدقات او اَعمال ) قبلوي ( كوم چې د عيبونو او د نيت د فساد نه پاک وي ) .

په قرآن مجيد كې هم الله ﷻ د طيب مال نه د اِنفاق حكم كړی ، الله رب العزت فرمايي :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ إِلَّا أَن تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ

---

(۱) خطبات حكيم الاسلام ج۳ ص ۲۰۸ ، حضرت مولانا تهانوي كے پسنديده واقعات ص ۵۱ .

(۲) صحيح مسلم بَابُ قَبُولِ الصَّدَقَةِ مِنَ الْكَسْبِ الطَّيِّبِ وَتَرْبِيَتِهَا ۶۵ ( ۱۰۱۵ ) ، سنن ترمذي رقم الحديث ۲۹۸۹ ؛ مشكاة المصابيح كتاب البيوع باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول رقم الحديث ۲۷۶۰ ، كنز العمال رقم الحديث ۳۲۲۳۶ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۶۳۹۲ ، الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۷۱۷ الترغيب في طلب الحلال والاكل منه .

حَمِيدٌ﴾.(١)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو ( د الله ﷻ په لاره کې ) هغه پاکیزه څیزونه خرچ کړی کوم چې تاسو ګټلي دي ، او کوم چې مونږ تاسو د پاره د زمکې نه راویستلي دي ، او تاسو د رَدي ( ناکاره ) څیز اِراده مه کوئ چې د هغې نه ( د الله ﷻ په لاره کې ) خرچ کوی ، حالانکه تاسو په خپله ددې رَدي څیز اخیستونکي نه یی مګر دا که تاسو په هغې سترګې پټې کړی ، او په دې پوهه شی چې الله ﷻ بې نیازه او د تعریف لائِق دی .

## حلال مال په بهترین ځای کې خرچ کیږي

کله چې د یو سړي مال حلال وي نو دا په بهترین ځای کې خرچ کیږي ، او مستحقینو ته په خپله رسیږي ، ددې په باره کې درته یوه بهترینه واقعه بیانوم :

شیخ علي متقي عارف بالله رحمه الله فرمایي : چې یو نیک سړي به حلال کاروبار کولو ، او د هغه دا معمول وُ چې څه به یې اوګټل نو هغه به یې په درې ( ۳ ) حصو تقسیم کړه ، یوه حصه به یې صدقه کړه ، دویمه به یې په خپل ضروریاتو کې اولږوله ، او دریمه به یې په تجارت کې خرچ کړه . یوه ورځ ده له یو مالدار کس راغی او ورته وې ویل : اې شیخ ! زه غواړم چې څه مال د الله ﷻ په لاره کې خرچ کړم نو ماته څوک مستحق اُوښایه چې هغه ته یې ورکړم .

شیخ ورته وویل : اول حلال مال پیدا کړه ، بیا چې هغه ته د الله ﷻ په لاره کې خرچ کوی نو هغه به په خپله مستحقینو ته رسي او په بهترین ځای کې به مَصرف کیږي .

دې دُنیا دار سړي دا خبره په مُبالغه باندې حمَل کړه ( او هسې فضول خبره ورته معلومه شوه ) ، نو دې شیخ ورته وویل : ښه ده ، ته لاړ شه ، او تا ته چې څوک د صدقې ډیر مستحق معلومیږي او ستا زړه پرې اُوسوزي نو هغه ته د خپل مال نه څه صدقه ورکړه .

کله چې دا سړې روان شو نو په لاره کې ورته یو کس په مخه ورغی چې په ظاهره ډیر زیات غریب معلومیده او په خپه باندې ګډ هم وُ ، ده چې دا ولیده نو زړه کې یې وویل : چې

(١) سورة البقرة آية ٢٦٧ .

دا کس خو ډير زيات غريب ، مستحق او معذور دی نو خپل مال يې هغه ته صدقه کړو. په صباباندې دا مالدار کس په لاره تيريده چې هماغه پرونۍ فقير په يو ځای کې د بل ملګري سره ولاړ دی او هغه ته خپله واقعه داسې بيانوي چې :

"پرون په ما باندې يو مالدار سړي د غريب ګمان وکړو ، او څه صدقه يې راته راکړه ، ما هغه روپۍ په شراب نوشۍ او بدکارۍ کې خرچ کړی ".

دې مالدار چې دا خبره واوريده نو سخت خفه شو ، دې شيخ ته راغی او هغه ته يې ټوله واقعه بيان کړه .

شيخ چې دا واقعه واوريده نو هغه ورله خپل يو درهم ورکړو ، او ورته وې ويل چې کله ته د دې ځای نه اُوځې نو تاته چې اول هر څوک په مخه درشي نو هغه ته دا دِرهم صدقه ورکړه.

کله چې دا مالدار سړې دده نه راووت ، نو په لاره کې ورته اول داسې کس په مخه ورغی چې په ظاهره باندې ښه مالدار معلوميده ، ځکه صفا کپړې يې اچولې وی ، په لاس کې ورسره څه وو ، د ظاهري شکل نه بهترين او شريف سړې معلوميده ، نو دې مالدار کس اول دا سوچ وکړو چې ده ته څنګه دا درهم ورکړم ؟ دا خو په ظاهره مالدار معلوميږي او مستحق نه دی ، خو چونکه شيخ ورته حکم کړې ؤ چې اولني کس ته به دا درهم ورکوی نو ځکه يې همده ته دا درهم ورکړو .

کله چې هغه سړي دا درهم واخيست نو دوباره شا ته روان شو او يو زوړ کنډَر ته داخل شو ، هلته يې څه اوغورځول ، او په هغه اخوا طرف د کنډر نه اووت ، دا مالدار سړې هم دده پسې شاته ورغی ، چې وې کتل نو په کنډر کې يوه مړه کونتره پرته وه ، دا د هغه سړي پسې په منډه ورغی ، او قسَم يې ورته ورکړو چې صحيح حال به راته وايې چې ته څوک يې ؟ ستا اِقتصادي حالات څنګه دي ؟ او په دې مړه کونتره دې څه کول ؟

هغه ورته وويل : زه يو غريب سړې يم ، د څه بيمارۍ په وجه مزدوري نه شم کولی ، زما واړه واړه بچي دي ، په کور کې د خوراک د پاره هيڅ شی هم نه ؤ ، د چا نه سوال هم نشم کولی، ما د خپلو بچو ولږه کتل نشوه برداشت کولی ، د ډيرې پريشانۍ په حالت کې د کور نه راووتلم چې د بچو د پاره د خوراک څه راپيدا کړم ، سَرګردانه ګرځيدم ، هيڅ شی په لاس رانغی ، زما بچي چونکه د ډيرې ولږې په وجه په اِضطراري حالت کې وو نو ما دا مړه

کونتره راواخيسته چې دا به ورله ويسم ، ځکه هغوی مجبور دي ، د خوراک بل څه نشته .
کله چې الله تعالی ستا په ذريعه ماته دا درهم راکړو نو ما په هغه کنډر کې واپس هغه مړه کونتره اوغورځوله ، ځکه په دې درهم به ورله اوس د خوراک څه واخلم .
کله چې دې مالدار سړي دا خبرې واوريدې نو سترګې يې وغړيدې ، او د شيخ خبره ورته راياده شوه چې هغه خو ريښتيا ويلي وو چې :
" کله مال حلال وي نو دا په خپله په صحيح ځای کې مصرف کيږي او خپل مستحق ته رسيږي ". (١)
لهذا انسان ته په کار دي چې اول خپل کارو بار حلال کړي ، په حلاله طريقه مال اوګټي نو بيا به الله ﷻ ده ته په بهترينو ځايونو کې د لږولوتوفيق ورکوي ، او مستحقينو ته به رسيږي . په حديث کې هم راځي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :
لَا يَقْبَلُ اللهُ إِلَّا الطَّيِّبَ . (٢)
الله تعالی صرف حلال مال قبلوي .

## د تقوی په وجه د مشکلاتو نه وتل . او د غيبي خزانو نه فراخه رزق ملاويدل

محترمو مسلمانانو ! د تقوی او پرهيزګارۍ په وجه الله ﷻ د خپلو بندګانو سره دا وعده کړې چې د مُشکلاتو نه به ورته د وتلو لاره آسانه کړم ، او د داسې ځای نه به ورته رِزق ورکړم چې د سره به يې د هغه ځای نه ګمان هم نه وي .
نو که مونږ هم د حرام او مُشتبِه مال نه ځان اوساتو ، په ځان کې تقوی او پرهيزګاري پيدا کړو نو الله به مونږ ته هم د مُشکلاتو نه د وتلو لار آسانه کړي ، او د داسې ځای نه به راته رِزق راکړي چې زمونږ ګمان به هم نه وي .
حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دا آيت تلاوت کړو :

(١) مظاهر حق شرح مشکوة ج٣ باب فضل الصدقة في ضمن الفصل الاول حديث ١ .
(٢) رواه البخاري ٢ / ١٣٤ ، ٩ / ١٥٢ ، واحمد ٢ / ٣٣١ ، والبيهقي ٤ / ١٧٧ ، مشکوة باب فضل الصدقة الفصل الاول حديث ١ .

﴿ وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَّهُ مَخْرَجًا . وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ، وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ، إِنَّ اللهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ﴾ . (۱)

ترجمه : څوک چې د الله نه اُوويريږي نو الله ﷻ به دده د پاره ( د هر مُشکل نه ) د خلاصي لاره جوړه کړي ، او د داسې ځاى نه به ورته رزق ورکړي چې دده به پرې ګماه هم نه وي ، او څوک چې په الله ﷻ باندې توکل کوي نو همدا الله ﷻ دده د پاره کافي دى ، بيشکه الله ﷻ خپل حکم ( په هر حال کې ) پوره کوونکې دى ، بيشکه الله د هر شي د پاره يوه اَندازه مقرر کړې .

حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايي چې يا نبي عليه السلام ( ماته ) وفرمايل :

« يَا أَبَا ذَرٍّ ! لَوْ أَنَّ النَّاسَ كُلَّهُمْ أَخَذُوْا بِهَا لَكَفَتْهُمْ »

اې ابوذر ! که چيرته ټولو خلقو دذې آيت په مُقتضٰى باندې عمل کولى ( يعنى تقوى يې په ځان کې پيدا کړې وى او په الله ﷻ باندې يې توکّل کړې وى ) نو دا آيت به د ټولو د پاره کافي شوې وى ( يعنى الله ﷻ به ټولو خلقو ته د هر مُشکل نه د وتلو لاره آسانه کړې وى ، او ټولو ته به يې د داسې ځاى نه رزق ورکړې وى چې د دوى به ورباندې ګمان هم نه وُ ) .

حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايي :

فَجَعَلَ يَتْلُوْهَا عَلَيَّ ، وَيُرَدِّدُهَا ، حَتّٰى نَعَسْتُ " . (۲)

---

(۱) سورة الطلاق آية ۲ ، ۳ .

(۲) عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : جَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتْلُوْ هٰذِهِ الْآيَةَ : { وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَّهُ مَخْرَجًا } حَتّٰى فَرَغَ مِنَ الْآيَةِ . ثُمَّ قَالَ : « يَا أَبَا ذَرٍّ ! لَوْ أَنَّ النَّاسَ كُلَّهُمْ أَخَذُوْا بِهَا لَكَفَتْهُمْ » . قَالَ : فَجَعَلَ يَتْلُوْهَا عَلَيَّ ، وَيُرَدِّدُهَا ، حَتّٰى نَعَسْتُ . اخرجه احمد في كتاب الزهد جز ۱ ص ۴۰ رقم ۲۴۵ زُهْدُ أَيُّوْبَ عَلَيْهِ السَّلَامُ . ترغيب المسلمين ص ۳۱ ؛

وفي رواية : يَا أَبَا ذَرٍّ ! إِنِّيْ لَأَعْرِفُ آيَةً لَوْ أَنَّ النَّاسَ كُلَّهُمْ أَخَذُوْا بِهَا لَكَفَتْهُمْ ﴿ وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَّهُ مَخْرَجًا . وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ قَدْرًا ﴾ . ( حم ن هـ حب ک ) عن ابي ذر ، كنز العمال جزء ۱ ص ۵۸۳ رقم الحديث ۲۶۴۴ ، و ج ۲ ص ۵۲۴ رقم ۳۶۶۲ .

نبي عليه السلام ( د ډير تاکيد د پاره ) بار بار دا آيت ماته تلاوت کولو ، دومره ډيرې مسلسل اُولوستو حتّى چې ماته خوب راغى .

**فائده** : ددې آيت او حديث نه هم دا معلومه شوه چې د تقوى په برکت سره انسان ته د حلال رزق دروازې کلاويږي ، او د داسې ځاى نه به ورته رزق ورکولې شي چې دده به د هغه ځاى نه گمان هم نه وي ، بيا پيغمبر عليه السلام ددې آيت مضمون مُستحکم کولو د پاره تاکيدًا دا آيت باربار لوستلو .

ډير خلق داسې دي چې هغوى په حرامې طريقې سره رِزق طلب کوي لکه په رِشوت ، سود ، ظلم او دُهوکې سره ، حالانکه دوى ته پته نشته چې د الله ﷻ سره کوم رزق دى دا په اِطاعت او د الله ﷻ په فرمانبردارۍ سره طلب کولې شي .

## ټولو مخلوقاتو ته رِزق ورکوونکې الله ﷻ دى

په دې کې هيڅ شک و شُبه نشته چې د رِزق معامله صرف د الله ﷻ په قدرت کې ده ، او ټولو مخلوقاتو ته رِزق ورکوونکې الله ﷻ دى ، چاته چې اوغواړي رزق ورله فراخه کړي ، او چاته چې اوغواړي نو رِزق ورله تنگ کړي ، البته الله ﷻ په نيکو اعمالو او تقوى سره د رِزق د فراخۍ وعده کړې .

الله ﷻ په اَزل کې د ټولو انسانانو د رِزق فيصله کړې ده ، په اَزل کې چې څومره رزق د انسان د پاره مقرر شوى ، په هغې کې نه کمې کيږي ، او نه زياتى ( البته انسان به د حلال رزق پيدا کولو د پاره جائز کسب ، تجارت يا مزدوري خامخا کوي ) .

په دُنياوي ژوند کې د انسان ډير ضرورتونه وي خو ليکن په دې کې غټ او بنيادي ضرورتونه درې دي :

١ . کپړې ( جامې ) ٢ . ځاى ٣ . خوراک .

دا درې په کې ضروريات اَصليه دي ، ليکن په دې کې د جامو او ځاى ضرورت دومره زيات نه دى ځکه يوه جوړه جامې د انسان ډير وخت کيږي ، او کور هم چې انسان يو ځل جوړ

کړي نو ډيره زمانه کار کوي ، البته د خوراک ضرورت ډير زيات دی ، ځکه په هره ورځ درې پيرې (سهر ، غَرمه ، ماښام ) د خوراک ضرورت راځي .

د همدې وجې نه انسان هر وخت د خوراک حاصلولو په فِکر کې ډُوب او سَرګردانه وي ، او ددې په حاصلولو کې ډير حريص وي .

نو الله ﷻ انسان ته په قرآن مجيد کې ځای په ځای دا خبره واضحه کړه چې ټولو مخلوقاتو ته رِزق ورکول زما په ذِمه دي . الله تعالى فرمايي :

﴿وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا﴾ . (١)

ترجمه : او په مخ د زمکه باندې داسې هيڅ ساه لرونکې جاندار نشته مګر د هغې ټولو رِزق (ذِمه واري) په الله ﷻ باندې ده .

په يو بل آيتِ مبارکه کې الله ﷻ فرمايي :

﴿أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَآءُ وَيَقْدِرُ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ﴾ . (٢)

ترجمه : آيا دوی نه دي کتلي چې الله تعالى چاته اوغواړي هغه ته رزق فراخه کوي ، او چاته يې ( چې اوغواړي نو هغه ته رِزق ) تنګوي ، بيشکه په دې کې نخې د عِبرت دي د هغه قوم د پاره چې هغوی ايمان لري .

په سورة الذّاريات کې ذکر دي الله تعالى فرمايي :

﴿وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ﴾ . (٣)

ترجمه : او په آسمان کې ستاسو رِزق دی ، او هغه څه هم چې د تاسو سره يې وعده کولې شي .

---

(١) سورة هود آية ٦ .

(٢) سورة الروم آية ٣٧ .

همدا مضمون د قرآن کريم په نورو ډيرو آيتونو کې هم ذکر دی ، الله تعالى فرمايي : ﴿إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَآءُ وَيَقْدِرُ إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًا بَصِيْرًا﴾ . سورة بني اسرائيل ( الاسراء ) آيت ٣٠ .

(٣) سورة الذاريات آية ٢٢ .

..............

بلکه د انسان رِزق خو د مخکې نه ليکل شوی وي ، د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

چې کله نُطفه د مور په رَحِم کې د څلويښتو يا پنځه څلويښتو شپو شي نو يوه فرښته دې نُطفې ته راشي او الله ﷻ ته دا عرض اوکړي

يَا رَبِّ ! أَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ ؟ اې ربه ! دا بَد بخت اوليکم که نيک بخت ؟

نو د الله ﷻ د طرفه چې ورته کوم حکم ملاوْ شي هماغه شان اوليکلې شي .

بيا پوښتنه اوکړي :

أَيْ رَبِّ ! أَذَكَرٌ أَوْ أُنْثَى ؟ اې ربه ! دا هلک دی او که جينۍ ؟

نو ( د الله ﷻ د طرفه چې ورته کوم حکم ملاوْ شي ) هماغه شان اوليکلې شي .

وَيُكْتَبُ عَمَلُهُ وَأَثَرُهُ وَأَجَلُهُ وَ رِزْقُهُ . ثُمَّ تُطْوَى الصُّحُفُ فَلَا يُزَادُ فِيهَا وَلَا يُنْقَصُ " . (١)

بيا دده عمَل ، دده عُمر او دده رِزق هم اوليکلې شي ، بيا صحيفې بَندې کړې شي او په دې کې نور نه زيادت کولې شي او نه کمې .

**فائده** : ددې آيتونو او احاديثو نه معلومه شوه چې د هر حيوان رزق د الله ﷻ په ذمه دی ، او د رِزق فراخي او تَنگي د الله ﷻ په قبضه کې ده ، عقل او هوښيارتيا ته په دې کې هيڅ دَخل نشته ، دغه وجه ده چې د ډيرو هوښيارانو رزق به تَنگ وي ، او د ډيرو کم عقلو رِزق به فراخه وي .

(١) عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " يَدْخُلُ الْمَلَكُ عَلَى النُّطْفَةِ بَعْدَ مَا تَسْتَقِرُّ فِي الرَّحِمِ بِأَرْبَعِينَ أَوْ خَمْسَةٍ وَأَرْبَعِينَ لَيْلَةً . فَيَقُولُ: يَا رَبِّ ! أَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ ؟ فَيُكْتَبَانِ . فَيَقُولُ : أَيْ رَبِّ ! أَذَكَرٌ أَوْ أُنْثَى ؟ فَيُكْتَبَانِ . وَيُكْتَبُ عَمَلُهُ وَأَثَرُهُ وَأَجَلُهُ وَ رِزْقُهُ . ثُمَّ تُطْوَى الصُّحُفُ فَلَا يُزَادُ فِيهَا وَلَا يُنْقَصُ " .
صحيح مسلم كتاب القدر باب كَيْفِيَّةِ خَلْقِ الْآدَمِيِّ فِي بَطْنِ أُمِّهِ وَكِتَابَةِ رِزْقِهِ وَأَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَشَقَاوَتِهِ وَسَعَادَتِهِ رقم الحديث ٢٦٤٤ .

# په الله ﷻ باندې توکل او اِعتماد په کار دی

اګر چې حلال کسب کول او مزدوري کول هم سنت او ضروري ده ، ليکن ددې سره سره به بيا هم اِعتماد او بَهروسه په الله ﷻ باندې وي ، همدا مطلب ددې آيت هم دی :

﴿ حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ﴾ . (١)

ترجمه : الله تعالی زمونږ د پاره کافي دی او هغه ښه کارساز دی .

او همدا مطلب ددې آيت دی چې :

﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ﴾ . (٢)

ترجمه : اې الله ! مونږ همدا ستا عبادت کوو ، او هم د تا نه مدد غواړو .

لهذا انسان ته په کار دي چې د رزق په معامله کې دومره پريشانه او فِکرمَند نشي چې ددې په وجه ورنه فرضي عبادات هم پاتې شي ، ځکه د انسان مقصدِ حيات د الله ﷻ عبادت کول دي ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴾ . (٣)

ترجمه : او ما نه دي پيدا کړي پېريان او انسانان مګر ددې د پاره چې دوی زما عبادت اوکړي .

د افسوس خبره داده چې د انسان په ذِمه کوم اَصلي کارؤ يعنی عبادت کول ، هغه ده پرېښې دی ، او د کوم شي ذِمه واري چې الله ﷻ اخيستې ده په هغې کې دا دومره وَرنَنوتې دی چې څلېريشت (٢٤) ګهنټې يې په دِماغو باندې د رزق ګټلو غَم سور وي ، او د فرضي عباداتو هيڅ پرواه نه ساتي .

---

(١) سورة آل عمران آية ١٧٣

(٢) سورة الفاتحة آية ٥ .

(٣) سورة الذاريات آية ٥٦ .

حالانکه انسان ته به صرف هماغه رزق ملاويږي کوم چې دده سره په تقدير کې ليکلې شوې وي ، که دې هر څومره مَنډه اُووهي نو د هغې نه زيات نشي حاصلولی ، نو ددې نتيجه دا را ووته چې انسان نه دُنيا بنه کړه او نه آخرت .

د نن صبا مسلمانانو حالت د اُردو ژبې يو شاعِر په دې شعر کې بيان کړی :

نه خدا هي مِلا نه وِصالِ صَنم ۞ نه اِدهر کے رہے نه اُدهر کے رہے

## په تقدير کې ليکل شوې رِزق به انسان ته ضرور رَسي

محترمو مسلمانانو ! کوم رزق چې د انسان سره په اَزل کې ليکل شوې وي دا به انسان ته ضرور رَسي ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ الرِّزْقَ لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ اَكْثَرَ مِمَّا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ . (١)

بيشکه مرګ چې انسان څومره طلب کوي ددې نه زيات رزق انسان طلب کوي ( يعنی کوم رزق چې د انسان سره ليکل شوې وي دا رزق مسلسل ددې انسان په تلاش کې وي ، د انسان مرګ ده له دومره نه تلاش کوي څومره چې دا رزق دا انسان تلاش کوي ) .

په يو روايت کې راځي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَوْ أَنَّ ابْنَ آدَمَ هَرَبَ مِنْ رِزْقِهِ كَمَا يَهْرُبُ مِنَ الْمَوْتِ لَأَدْرَكَهُ رِزْقُهُ كَمَا يُدْرِكُهُ الْمَوْتُ . (٢)

که چيرته بني آدم دخپل رزق نه داسې اُوتختي لکه څرنګې چې د مرګ نه تختي نو دده دا رزق به دې داسې رالاندې کړي لکه څرنګې چې مرګ دې رالاندې کوي .

(١) روه الطبراني عن ابي الدرداء رقم الحديث جزء ٦ ص ٤٧٣ رقم الحديث ١٦٦٠٩ .

وفي رواية : إِنَّ الرِّزْقَ لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ . رَوَاهُ أَبُو نُعَيْمٍ فِي « الحِلية » . مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٣١٢ ، الترغيب والترهيب ج٢ ص ٣١٢ رقم الحديث ١٧٠٣ ، و رواه ابن حبان في صحيحه جزء ٨ ص ٣١ رقم الحديث ٣٢٣٨ ، و رواه الطبراني باسناد جيد ، كنز العمال ج١ ص ٢٦٧ كتاب البيوع باب في طلب الرزق .

وفي رواية : اَلرِّزْقُ أَشَدُّ طَلَبًا لِلْعَبْدِ مِنْ أَجَلِهِ . الجامع الصغير رقم الحديث ٥٨٦٤ ، و حسنه المحدث الالباني عن ابي الدرداء من رواية القضاعي ، انظر حديث رقم: ٣٥٥١ في صحيح الجامع .

(٢) حلية الاولياء و طبقات الاصفياء جز٧ ص ٩٠ ، الجامع الصغير و زيادته جز ١ رقم الحديث ٩٣٧١ ، حكم الألباني : حسن . انظر حديث رقم: ٥٢٤٠ في صحيح الجامع.

# د امامِ زاهدي رحمه الله واقعه

يو ځل امامِ زاهدي رحمه الله اِراده اوکړه چې زه دا يقين حاصل کړم چې الله ﷻ هرچاته رِزق په کومه طريقه وَر رسوي؟ نو دې ددې مقصد د پاره ځنګل ته روان شو، بيا يو غَرته اُوخته، په غَر کې يو غار ته ننَوت، او د غار په يو ګُنج (ګَټ) کې کيناست، د ځان سره يې وويل:

كُنْتُ أَنْظُرُ كَيْفَ يَرْزُقُنِيْ هُنَارَبِّيْ ؟ زه ګورم چې زما رَب ماته دلته رزق څنګه رارسوي؟

(د الله ﷻ شان ګوره) د يوې قافلې نه لاره وَرکه شوه (د همدې ځنګل او غَر طرف ته راروان وو)، په دوی باندې سخت باران شروع شو، دوی د باران نه د بچ کيدلو د پاره يو غار تلاش کولو، نو دغه غار يې اُوليده په کوم کې چې امامِ زاهدي ناست وُ.

کله چې د قافلې واله دې غار ته داخل شو نو په دې کې يې امام زاهدي اُوليده، ده ته يې آواز اوکړو: اې عبدالله! ، خو ده جواب ورنه کړو، دوی وويل: کيدې شي د ډيرې يخنۍ د وجې دا سړې د خبرو قدرت نشي لرلی، نو اُور يې بَل کړو او دې يې ورته ګرم کړو، د قافلې واله دده سره بيا خبرې شروع کړې خو ده بيا هم جواب ور نکړو، دوی خپل مينځ کې وويل: کيدې شي اُوږې شوې وي ځکه خبرې نشي کولی، نو خوراک يې ورته نزدې راوړو، ده ته يې د خوراک د پاره اِشاره اوکړه خو ده خوراک نه کولو، د قافلې واله وويل: کيدې شي د ډير وخت نه ده څه نه وي خوړلي دا روټۍ به نشي خوړی، نو شوده (پَی) يې ورله ګرم کړه، خوږه پالوده يې ورله ورنه جوړه کړه او ده ته يې وَر وړاندې کړه خو ده بيا هم او نه خوړه، دوی وويل: ده ډيره موده خوراک نه دې کړی نو کيدې شي چې دواړه ژامې يې جَم شوې وي او اوس د خوراک د پاره نه کلاويږي.

نو د دوی نه دوه کسان راپاځيده چې په زوره باندې دده خُوله کلاوُ کړي، کله يې چې دده خُوله په زوره کلاوُ کړه او نوَرې يې ورله په خوله کې واچوله نو امامِ زاهدي اُوخندل، دوی ورته وويل: آيا ته ليونې يې؟ ده ورته وويل: نه، زه ليونې نه يم، ليکن ما دا معلومه چې الله ﷻ ماته رزق څنګه راکوي؟

فَعَيَنْتُ اَنَّهُ يَرْزُقُنِيْ وَيَرْزُقُ عَبْدَهُ حَيْثُ كَانَ . وَاَيْنَ كَانَ . وَكَيْفَ كَانَ . (۱)

پس زه پوهه شوم چې الله ﷻ ماته، هر بنده (او هر مخلوق ته) رزق ورکوي که دا په هر ځای کې وي، او هر څنګه حالت کې وي.

## د خوش طبعۍ واقعه

ددې ځای مناسب د خوش طبعۍ یوه واقعه درته بیانوم اګر چې د عبرت نه ډکه ده: په یوه بانډه (اَطرافو) کې یو عالِم د جُمعې تقریر کولو، د تقریر په دَوران کې یې دا خبره اوکړه چې: " ټول مخلوق ته رِزق الله ﷻ ورکوي، او د چا سره چې کوم رِزق لیکلې شوې وي ده ته به خامخا دا رزق وَررسوي ".

په دې مَجلس کې د بانډې یو ځوان ناست وُ ده د ځان سره په زړه کې وویل: چې کله زه خوراک نه کوم نو الله ﷻ به یې راباندې څنګه اُوخوري؟

ده خوراک کول بَند کړه: کور ته چې راغی مور ورته خوراک راوړو، ده اِنکار اوکړو چې زه یې نه خورم، مور به بار بار ورته د خوراک کولو وینا کوله خو ده به مسلسل د خوړلو نه اِنکار کولو، آخِر دا کس د ډیرو ستُونو په وجه تَنګ شو او د کور نه اُووت، بهَر یو ځنګل طرف ته لاړ، د ځان سره یې همدا سوچ کولو: چې کله زه خوراک نهٔ کوم نو الله ﷻ به یې راباندې څنګه اُوخوري؟

د مور خو د بچي سره ډیره مِینه وي، دې پَراټې پخې کړی، ورسره یې څه کوچ او تَلکاري هم په کاسو کې واچوله او دې ځوي له یې ځنګل ته وَر وړه، ده د خوړلو نه اِنکار اوکړو، مور یې دا خوراک دده سره په څنګ کې کیښود، او واپس ورنه کور ته راغله.

دې کس بانډې به د خوراک بُوی لږیده نو ددې ځای نه پاځیده په څه فاصله کې لرې په یو ځای کې څملاست.

د خدای شان ګوره چې ددې علاقې څه ډاکوان او غله به د غرمې په وخت په دغه ځای کې راجَمع کیده، او د غلا د پاره به یې نقشه جوړوله، ځکه دا یو محفوظ ځای وُ، غلو چې

(۱) درة الناصحين ص ۱۲۴، رونق المجالس، قرة الواعظين ج۱ ص ۱۸۹.

دلته دا بهترين خوراک اُوليده نو ډير خوشحاله شو ، د خوراک اِراده يې اوکړه ، په دوی کې چې کوم مشر ؤ هغه ډير هوښيار ؤ ، خپلو ملګرو ته يې ووېل :

خبردار ، دا او نه خورئ ، هسې نه چې چا زمونږ د وژلو د پاره مونږ ته په دې خوراک کې زَهر نه وي اَچولي ، او که چا زَهر اچولي وي کيدې شي هغه دلته خواؤ شا پټ ناست وي ، نو تاسو اول اَخوا ديخوا تلاش شروع کړئ .

کله چې دې غلو اخوا ديخوا تلاش شروع کړو نو دا ځوان يې اُوليده چې په يو ځای کې پروت دی ، دوی دا د وينتانو نه را اُونيوه ، او ورته وې ويل :

په دې خوراک کې تا زَهر اچولي ؟ ده ورته وويل : نه ، ما په کې ندي اچولي . غلو ورته وويل : چې کله تا په کې زهر ندي اچولي نو بيا تا ولې دلته دا خوراک ايښې دی؟

بيا دې غلو مشوره اوکړه چې اول به دا خوراک په ده باندې اوخورو ، نو که زهر يې په کې اچولي وي نو همدا به پرې مَړ شي .

نو دوی ده ته حکم اوکړو چې دا خوراک اوخوره ، ده د خوراک نه اِنکار اوکړو ، د غلو نور هم يقين پوخ شو چې ده په دې خوراک کې زهر اچولي دي . بيا يې ورته د خوړلو حکم اوکړو خو ده نه خوړلو ، د غلو مشر دې نورو ته حکم اوکړو چې يو څو څپيړې يې سَم پُوخ پُوخ اُووهئ ، دوی ورباندې د وهلو شروع اوکړه سَم پُوخ پُوخ يې اُووهل .

د ډيرو وهلو نه پس دې ځوان دې غلو ته خپله واقعه بيان کړه ، بيا ټول يو ځای کيناسته او په شريکه يې دا روټۍ اوخوړه .

په راتلونکي جُمعه باندې دا ځوان بيا جُمات ته راغی ، هغه عالِم بيا دا خبره اوکړه :

" ټول مخلوق ته رِزق الله ﷻ ورکوي ، او دچا سره چې کوم رِزق ليکلې شوې وي ده ته به خامخا دا رزق وَر رسوي " .

د تقرير نه پس دې ځوان مولانا صاحب ته ووېل : مولانا صاحب ! چې کله ته مسئله بيانوی نو نيمه مسئله مه بيانوه ، بلکه پوره مسئله بيانوه .

مولانا صاحب ورته ووېل : زه خو پوره مسئله بيانوم ، ما کومه مسئله نيمه بيان کړی ؟ ده ورته ووېل : تا تېره جُمعه دا مسئله دا بيان کړې وه چې :

" ټول مخلوق ته رِزق الله ﷻ ورکوي ، او دچا سره چې کوم رِزق ليکلې شوې وي ده ته به خامخا دا رزق وَررسوي " .

مولانا صاحب ورته وويل : دا خو پوره مسئله ده . دې ځوان وويل : دا پوره مسئله نده ، بلکه پوره مسئله داسې ده :

" ټول مخلوق ته رِزق الله ﷻ ورکوي ، او دچا سره چې کوم رِزق ليکلې شوې وي ده ته به خامخا دا رزق وَررسوي ، او چې څوک يې نه خوري نو بيا به يې په وهلو وهلو ورباندې په زُوره خوري " . ( ځکه د ما سره همدا کار اوشو ) . (۱)

فائده : دا اګرچې د خوش طبعۍ واقعه ده ليکن بيا هم په کې عبرت پروت دی .

## مقرر شوې رِزق په خپله جُمات ته راورل

ابراهيم خواص رحمه الله يو مشهور بزرګ او صاحبِ کرامت وَلي تېر شوی ، دې وايي زه په يو جُمات کې ووم ، په دې جُمات کې ما يو فقير اُوليده چې د درې ورځو نه په ذکر و اَذکار او عباداتو کې مشغول ؤ ، په دې درې ورځو کې ده د خوراک هيڅ او نه خوړل ، آخر ما ورنه پوښتنه اوکړه : ستا کوم خوراک ته زړه کيږي چې زه يې درله راوړم ؟ هغه راته وويل : ګرمه روټۍ او کباب .

ابراهيم خواص وايي : زه د جُمات نه اُووتم ددې د پاره چې ده له ګرمه روټۍ او کباب پيدا کړم ( هغه ځای چونکه اَطراف ؤ ، ښاريه نه وه ) ټوله ورځ اوګرځېدم ليکن ما هيچرته هم دا پيدا نه کړه . زه ماسخوتن نا اُميده جُمات ته راغلم ، د شپې مې د جُمات دروازه بنده کړه ، څه اندازه شپه تېره شوې وه چې يو کس د جُمات دروازه رااُووهله ، زه چې ورغلم دروازه مې کلاؤ کړه نو په دروازه کې يو کس ولاړ دی ، په لاس کې ورسره ګرمه روټۍ او کباب دی ، ما له يې راکړه ، او راته وې ويل چې دا واخله ، ما ورته وويل :

دا دې د کوم ځای نه راوړه ؟ او ولې دې راوړه ؟ هغه راته وويل : نن مونږ په کور کې دا شيان د خوراک د پاره پَخ کړي وو ليکن په کور کې زمونږ په څه خبره باندې جګړه پيدا

(۱) اهلِ دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۴ ص ۷٦ .

شوه ، مونږ ټول قسَم اوکړو چې اوس به دا کباب او دا روټۍ هیڅوک نه خوري بلکه دا ټول به جُمات ته لیږو ، نو ځکه ما دلته راوړه . (١)

سبحان الله ، ابراهیم خواص رحمه الله ټوله ورځ د ګرمې روټۍ او کباب پسې اوګرځید، لیکن پیدا یې نه کړه ، خو چې کله الله ﷻ غوښته نو بغیر د مُشقت نه یې جُمات ته ورته رااُولیږل .

## همدغه شان یوه بله واقعه

همدغه شان یوه بله واقعه هم علماؤ رانقل کړې ، شیخ ابویعقوب بصري رحمه الله فرمایي چې یو ځل زه په حرَم شریف کې په عبادت مصروفه ووم ، د لسو ورځو نه راته د خوراک هیڅ ملاؤ نه شو ، سخت اُوږي شوم ، په زړه کې مې دا خبره راغله چې بهر میدان او وادۍ طرف ته اُوځم کیدې شي د خوراک څه راته ملاؤ شي .

کله چې بهر اُووتم نو یو بَدبُویه ټیپر ( شَلغم ) مې اُوموندو ، ما راواخیست چې دې خورم لیکن طبعیت مې او نه منل ، واپس مې اُوغورځول ، دوباره مسجدِ حرام ته راغلم ، د ځان سره مې وویل : کیدې شي بهترین شی د خوراک د پاره راته ملاؤ شي .

کله چې په حرَم کې کیناستم نو یو کس راغی ، زما مخې ته کیناست ، په لاس کې ورسره یوه تهیلۍ وه ، دې کس وویل : په دې تهیلۍ کې پنځه سوه دیناره او څه نور د خوراک شیان دي دا ټول ستا دي ، ته یې قبول کړه .

ما ورته وویل : په دې دومره ډیرو خلقو کې ته دا ماله ولې راکوې ؟ بل چا له یې ولې نه ورکوې ؟ هغه راته وویل :

نن لسمه ورځ ده چې مونږ په سمندري کشتۍ کې سفر کولو ، په دې کې ناڅاپه سمندري طوفان راغی ، کشتۍ غرقیدو ته نزدې شوه ، په کشتۍ کې ناست کسانو هر چا څه نذر اُومنل ، ما دا نذَر اُومنل : که زه ژوندې بَچ شوم نو چې د حرم شریف په مُجاورینو کې د ټولو نه اول زما نظر په کوم کس باندې اُولږي زه به هغه ته پنځه سوه دیناره او دا څه خوراک

(١) حلیة الاولیاء و طبقات الاصفیاء ، ٣٣٦/١٠ ، ترغیب المسلمین في الرزق الحلال و طعمة الصالحین ص ٥٩ .

ورکوم ، اوس مې اول په تا باندې نظر اولږېده نو ځکه مې په دې دومره خلقو کې ستا تخصيص اوکړو .

ابويعقوب بصري رحمه الله فرمايي : چې ما دې کس ته وويل : ته دا تهيلۍ کلاؤ کړه ، هغه چې تهيلۍ کلاؤ کړه نو په دې کې د مصرې ميده روټۍ ، چيني ، او د بادامو چغزې وې، ما ددې نه يو موټې چيني او يو موټې بادام واخيست او باقي ټول هر څه مې هماغه کس ته واپس ورکړه ، او ورته مې ووېل :

دا زما د طرفه تاته هديه شوه ، ته يې خپلو بچو له وېسه .

ابويعقوب بصري رحمه الله فرمايي چې بيا ما خپل نفس ته ووېل :

رِزْقُکِ يَا نَفْسُ ! سِيْرَ إِلَيْکِ مُنْذُ عَشْرَةِ اَيَّامٍ ، وَأَنْتَ تَطْلُبِيْنَهُ مِنَ الْوَادِيْ . (۱)

اې نفسه ! ستا رزق د لسو ورځو نه تاته راروان ؤ او دا تا بهَر په وادي ( ميدان ) کې تلاش کولو .

## ټړل شوي کس ته د کارغه په ذريعه رِزق وَرکول

د ابراهيم بن اَدهم رحمه الله د توبې سبب دا ؤ چې دې يوه ورځ ښکار له تللې ؤ ، د ښکار کولو نه پس په يو ځاى کې کيناست ، دَسترخوان يې ځان ته خور کړو چې روټۍ اُوخوري ، په دې کې ناڅاپه يو کارغه راغى ، په مَخوکه يې څه روټۍ د دَسترخوان نه اُوچته کړه ، او لاړو والوَتو . ابراهيم بن اَدهم رحمه الله چې دا اُوليده نو ډېر تعجب يې اوکړو ( چې دې کارغه څنګه دومره زړه وَرتيا اوکړه ، او دا روټۍ يې وې وړه ) ، نو دې په اَس باندې سورَ شو او د کارغه پسې شاته وَر روان شو ، کارغه پاس په غره کې په يو ځاى کې کيناست ، دې هم غره ته ورپسې وَر اُوخت ، کارغه يې د لرې نه اُوليده ، چې کله ورنزدې شو نو کارغه والوت ، ده هلته يو کس اُوليده چې لاس او خپې يې ټړل شوې وى او ستوني ستَغ په شا باندې پروت ؤ .

ابراهيم بن ادهم چې دا سړې په دې حالت باندې اُوليده نو د اَس نه راښکته شو ، لاس او خپې يې ورله کلاؤ کړه ، بيا يې ورنه پوښتنه اوکړه چې دا درله چا ټړلي وو ؟ هغه ورته خپله

---

(۱) ترغيب المسلمين فى الرزق الحلال و طعمة الصالحين فصل ۱٦ ص ۳۴٦ .

واقعه بيان کړه چې زه يو تاجِريم، غلو اُونيوم، د ماسره چې څه مال و دولت وُ هغه ټول يې رانه واخيست خو زه يې او نه وَژلم، بلکه زما لاس او خپې يې او تړل او دلته يې اُغورځولم، نن اُوومه (٧) ورځ ده چې زه په دې ځای کې پروت يم، الله ﷻ زما د رِزق دا اِنتظام برابر کړی چې په هره ورځ باندې دا کارغه روټۍ راوړي، زما په سينه باندې کيني، بيا په خپله مخوکه باندې روټۍ (د نوړی په مِقدار) ماته کړي، او زما په خوله کې يې کيږدي، زه يې اُوخورم.

وَمَا تَرَكَنِيَ اللهُ جَائِعًا فِيْ تِلْكَ الْأَيَّامِ .

په دې اُووه ورځو کې الله ﷻ زه اُوږي نه يم پريخی.

ابراهيم بن ادهم رحمه الله دا کس د ځان سره په اَس باندې راکينول او واپس هماغه زوړ ځای ته راغی، دلته يې توبه اُوويسته، د فخر جامې يې اُوويستی، د سُنت موافق او د صوفيانو لباس يې واغوست، ټول غلامان يې آزاد کړه، خپله زمکه او مال و دولت يې مسکينانو ته وقف کړو، اَمسا يې راواخيسته او د الله ﷻ په توکّل مکې مکرمې ته روان شو، سفر يې کولو، تر دې چې مکې معظمې ته اُورسيده او د الله تعالی شکريه يې اَداء کړه. (١)

## ړندې مرغۍ ته رِزق ملاويدل

حضرت ذوالنون مصري رحمه الله فرمايي چې زه يو ځل د مِصر نه بعضې اَطرافو طرف ته روان ووم، په لاره کې د يوې اُونې لاندې اُوده شوم، کله چې راويښ شوم نو يوه ړنده مرغۍ پاس د اُونې نه رااُولويده:

فَانْشَقَّتِ الْأَرْضُ فَخَرَجَ مِنْهَا سُكُرُّجَتَانِ ، إِحْدَاهُمَا مِنْ ذَهَبٍ ، وَالْأُخْرٰى مِنْ فِضَّةٍ ، فِيْ إِحْدَاهُمَا سِمْسِمٌ ، وَفِي الْأُخْرٰى مَاءُ وَرْدٍ ، فَأَكَلَتْ مِنْ هٰذِهٖ وَ شَرِبَتْ مِنْ هٰذِهٖ ، فَقُلْتُ : " حَسْبِيْ " وَلَزِمْتُ الْبَابَ إِلٰى اَنْ قَبِلَنِيْ . (٢)

(١) درة الناصحين ص ١٢٥ .

(٢) ترغيب المسلمين فصل ١٨ ص ٣٩٢ .

چې ځنګله راأولويده نو زمکه ورته اوچاؤديده ، او ددې نه ورته دوه رِکابي (پليټونه) راأووته ، يو د سرو زرو ؤ او بل د سپينو زرو ؤ ، په يو کې ګنځلې وی او په بل کې د ګلابو اوبه وی ، دې ړندې مرغۍ دا کنځلې اوخوړی ، او دا اوبه يې هم اوڅکلی ، ما د ځان سره په زړه کې وويل : "حَسْبِيْ" . همدا د عبرت واقعه زما د پاره کافي ده ، بيا ما د الله ﷻ د رحمت دَروازې سره ځان لازم کړو ، تر دې پورې چې زه الله ﷻ قبول کړم .

# يو ړُوند ځناور ته د رِزق رسولو انتظام

يو بزرګ وايي چې يو ځل زه او ابوعلي بدوي رحمه الله په سفر باندې راأووتو ، په يو ځنګل تېريدو ، سخته اولږه او تَنده راته اولږيده ،

فَإِذَا بِثَعْلَبٍ يَحْفِرُ الْأَرْضَ وَيُخْرِجُ مِنْهَا كَمَاءَةً وَ يَرْمِيْ بِهَا إِلَيْنَا .

نا ځاپه مونږ يوه لومبړه اوليده چې زمکه يې په خپو باندې کنستله ، د هغې نه يې خرېړي راويستل ، او زمونږ طرف ته يې راغورځول .

مونږ ورنه د خپل ضرورت موافق اوخواړه ، نور مو مخکې سفر شروع کړو ، چې يو ځای ته اورسيدو نو هلته مو يو لوي ځناور اوليده چې پروت ؤ ، مونږ چې لږ ورنزدې شو نو هغه ړُوند ؤ ، مونږ دده په حالت باندې تعجب اوکړو چې ده ته به خوراک په څه طريقې سره ملاويږي ؟ مونږ ولاړ وو همدا سوچ مو کولو چې په دې دَوران کې يو کارغه راغی ،

مَعَهُ قِطْعَةُ لَحْمٍ كَبِيْرَةٌ . فَضَرَبَ بِجَنَاحَيْهِ عَلَى أُذُنِ السَّبُعِ . فَفَتَحَ فَمَهُ . فَطَرَحَ فِيْهِ الْقِطْعَةَ .

ددې کارغه سره د غوښې غټه ټکړه وه ، ده په خپلو وَزرو سره ددې دَرِنده غوږونه اووهل ، هغه خپله خُله کلاؤ کړه ، کارغه په کې د غوښې ټکړه وَراوغورځوله .

دا بزرګ وايي چې ماته ابوعلي بدوي رحمه الله وويل : دا زمونږ د عبرت د پاره د الله ﷻ د قدرت يوه لويه نخه ده ، په دې کې د الله تعالی د رازِقيت يوه عجيبه مظاهره ده ، چې الله ﷻ د غېبو نه دا کارغه ددې ړوند دَرِنده د پاره مقرر کړی چې ده ته خوراک راوړي .

بيا مونږ مخکې سفر شروع کړو ، مخې ته يوه جونېړه راغله ، مونږ چې ورنزدې شو او اومو کتل :

فَإِذَا فِيْهِ عَجُوْزٌ كَبِيْرَةٌ لَيْسَ عِنْدَهَا شَيْءٌ . وَعَلَى بَابِ الْكُوْخِ حَجَرٌ مَنْقُوْرٌ .

په دې جُونپړه کې يوه مَشره بوډۍ وه چې د هغې سره هيڅ شی نه وُ ، او د جونپړې دَروازې سره يو غټ کاڼې وُ په هغې کې يوه کنده ( يعنی سُورې ) وُ .

په جُونپړه کې دننه دا بوډۍ په عبادت باندې مشغوله وه ، د مابنام مانځه نه پس دا بوډۍ رااُووته ، په لاس کې ورسره دوه روټۍ او څه قجورې وی ، مونږ ته يې وويل : دننه جُونپړې ته راشئ او د خوراک چې درته څه ملاؤ شي هغه اُوخورئ .

مونږ چې دننه ننوتو او اوموکتل نو څلور روټۍ او څه قجورې پرتې وی ، حالانکه خواؤشا نزدې د قجورو اُونې بالکل نه وی .

بيا لږوخت پس وريځ راغله او صِرف په همدې لږ ځای باندې باران اوشو ، په هغه کاڼي کې چې کوم سورې وُ هغه د اُوبو نه ډک شو ، مونږ د بوډۍ نه پوښتنه اوکړه چې : ته دلته په دې جُونپړه کې د څومره زمانې نه اُوسيږې ؟ او ستا د خوراک او اُوبو څه اِنتظام وی ؟ نو دې بوډۍ وويل :

سَبْعِيْنَ سَنَةً هٰكَذَا حَالِيْ مَعَ مَوْلَايَ فِيْ قُوْتِيْ وَشَرَابِيْ كَمَا تَرَوْنَ .

د اَويا ؤ ( ۷۰ ) کالو نه په خوراک او څکاک کې زما معامله د خپل مَولا سره همداسې ده څنګه يې چې تاسو ګورئ .

كُلَّ لَيْلَةٍ تَجِيْءُ هٰذِهِ السَّحَابَةُ فِي الصَّيْفِ وَالشِّتَآءِ ، وَهٰذَانِ الرَّغِيْفَانِ وَالتَّمْرُ . (۱)

په اُوړي او ژمي دواړو کې په هره شپه باندې دا وريځ راځي ( صِرف په همدې لږ ځای کې باران ورنه کيږي ، او زما د پاره ددې کاڼي په سوري کې اُوبه جَمع کيږي ) ، او هره شپه دا دوه روټۍ او څه قجورې رارسي .

## غرځنۍ هوسۍ ماشومې جينۍ ته شېږ مياشتې شوده ورکول

ابوجعفر فرغاني رحمه الله فرمايي چې زه د خپلو ملګرو سره په دِينپور کې مقيم ووم ، څه خلق راغله او د يوې جينۍ د پاره يې د واده اَسباب ( جَهېز وغيره ) اخيسته ، هغوی

(۱) ترغيب المسلمين فی الرزق الحلال و طعمة الصالحين فصل ۸ ص ۱۵۵ .

ماته وویل : که تاته پته اُولړیده چې مونږ دا أسباب د کومې جینی د واده د پاره أخلو نو ته به یې مونږ ته ډیر زر راکړی.

ما ورته وویل : دا د چا د پاره اخلی ؟ هغوی راته پوره واقعه بیان کړه :

چې زمونږ د قوم د سردار به همیشه لورانې کیدی ، ځامن یې نه وو ، کله یې چې د بي بي حمل په ګېډه شو نو ورته وې ویل : که په دې ځل دې لور اُوزیږوله نو وژنم دې.

اتفاقاً مونږ مراغه ښار طرف ته په سفر روان شو ، د مونږ سره دا سردار او دده بي بي هم وه ، د بي بي یې حمل په ګېډه ؤ ، په لاره کې دې بي بي ته د اَولاد دَرد پیدا شو ، دا د اُودس ماتې یا په بله بهانه باندې لرې لاړه ، هلته ددې لور پیدا شوه ، دې ښځې ته خو خاوند د لور په زیږولو باندې د وژلو دَهمکي ورکړې وه ، نو دې ددې یَرې د وجې دا په یوه کپړه کې تاؤ کړه او هلته نزدې په یو غار کې یې کیښوده ، واپس ورنه را روانه شوه ، قافلې ته راغله. دلته یې خاوند ته وویل چې زما په ګېډه کې حمَل نه ؤ بلکه صِرف هوا وه هغه اُووته.

بهر حال زمونږ قافله ددې ځای نه روانه شوه ، خپل منزلِ مقصود ته اُورسیده ، شپږ میاشتې پس مونږ دوباره په همدې لاره راتلو ، کله چې همدې زور ځای ته را اُورسیدو نو دا زَنانه بیا په یوه بهَانه باندې هماغه غار ته ورغله کوم ځای چې دې شپږ میاشتې مخکې خپله وړه لور پرېښې وه.

کله چې غار ته وَرننَوته نو وې لیده چې یوې هوسۍ دې ماشومې ته شوده ( پَی ) ورکول ، هوسۍ چې دا ښځه اُولیده نو اُوتختیده ، دې ښځې دا ماشومه په غیږ کې راواخیسته ، په دې حالت لیدلو سره دا زَنانه په ژړا شوه ، واپس یې په زمکه واچوله او قافلې واله ته راروانه شوه ، زړه یې صبَر اونکړو قافلې واله ؤ ته یې دا خبره اوکړه ، د قافلې واله مُعزز خلق راجَمع شو او ټول ددې غار خولې ته راغله چې وې کته نو هوسۍ هماغه شان دې جینۍ ته شوده ورکول ، هوسۍ چې مونږ اُولیدو نو اُوتختیده ، مونږ دا ماشومه راواخیسته او راروان شو ، هوسۍ د لرې نه زمونږ تماشه کوله.

بهَر حال ، اوس هغه ماشومه بالغه شوی ده ، ددې پلار دا یو نیک سړي ته ورکړې ده ، اوس مونږ راغلي یو او هماغې ماشومې له د واده سامان أخلو . (۱)

(۱) قصص الاولیاء ص ۳٦٥ حکایت نمبر ۲۹۳ ، مثالي فکر انگیز واقعات ص ۱۴۲ .

فَإِذَا فِيهِ عَجُوزٌ كَبِيرَةٌ لَيْسَ عِنْدَهَا شَيْءٌ . وَعَلَى بَابِ الْكُوخِ حَجَرٌ مَنْقُورٌ .

په دې جُونپړه کې يوه مَشره بوډۍ وه چې د هغې سره هيڅ شی نه وُ ، او د جونپړې دَروازې سره يو غټ کاڼې وُ په هغې کې يوه کنده ( يعنی سُورې ) وُ .

په جُونپړه کې دننَه دا بوډۍ په عبادت باندې مشغوله وه ، د ماښام مانځه نه پس دا بوډۍ رااُووته ، په لاس کې ورسره دوه روټۍ او څه قجورې وی ، مونږ ته یې وویل : دننَه جُونپړې ته راشئ او د خوراک چې درته څه ملاوُ شي هغه اُوخورئ .

مونږ چې دنَنه ننوتو او اوموکتل نو څلور روټۍ او څه قجورې پرتې وی ، حالانکه خواوُشا نزدې د قجورو اُونې بالکل نه وی .

بیا لږ وخت پس وریځ راغله او صِرف په همدې لږ ځای باندې باران اوشو ، په هغه کاڼې کې چې کوم سورې وُ هغه د اُوبو نه ډک شو ، مونږ د بوډۍ نه پوښتنه اوکړه چې :

ته دلته په دې جُونپړه کې د څومره زمانې نه اُوسیږې ؟ او ستا د خوراک او اُوبو څه اِنتظام وی ؟ نو دې بوډۍ وویل :

سَبْعِيْنَ سَنَةً هٰكَذَا حَالِيْ مَعَ مَوْلَايَ فِيْ قُوْتِيْ وَشَرَابِيْ كَمَا تَرَوْنَ .

د اَویاوُ ( ۷۰ ) کالو نه په خوراک او څکاک کې زما معامله د خپل مَولا سره همداسې ده څنګه یې چې تاسو ګورئ .

كُلَّ لَيْلَةٍ تَجِيْءُ هٰذِهِ السَّحَابَةُ فِي الصَّيْفِ وَالشِّتَآءِ . وَهٰذَانِ الرَّغِيْفَانِ وَالتَّمْرُ .(۱)

په اُوړي او ژمي دواړو کې په هره شپه باندې دا وریځ راځي ( صِرف په همدې لږ ځای کې باران ورنه کیږي ، او زما د پاره ددې کاڼي په سوري کې اُوبه جَمع کیږي ) ، او هره شپه دا دوه روټۍ او څه قجورې رارسي .

## غرځنۍ هوسۍ ماشومې جینۍ ته شیږ میاشتې شوده ورکول

ابوجعفر فرغاني رحمه الله فرمایي چې زه د خپلو ملګرو سره په دِینپور کې مقیم ووم ، څه خلق راغله او د یوې جینۍ د پاره یې د واده اَسباب ( جَهیز وغیره ) اخیسته ، هغوی

(۱) ترغيب المسلمين في الرزق الحلال و طعمة الصالحين فصل ۸ ص ۱۵۵ .

ماته وويل : که تاته پته اُولږيده چې مونږ دا اَسباب د کومې جينۍ د واده د پاره اَخلو نو ته به يې مونږ ته ډير زر راکړې.

ما ورته وويل : دا د چا د پاره اخلې ؟ هغوی راته پوره واقعه بيان کړه :

چې زمونږ د قوم د سردار به هميشه لوراني کيدې ، ځامن يې نه وو ، کله يې چې د بي بي حمل په ګېډه شو نو ورته وې ويل : که په دې ځل دې لور اُوزيږوله نو وژنم دې.

اِتفاقًا مونږ مراغه ښار طرف ته په سفر روان شو ، د مونږ سره دا سَردار او دده بي بي هم وه. د بي بي يې حمل په ګېډه ؤ ، په لاره کې دې بي بي ته د اَولاد دَرد پيدا شو ، دا د اُودس ماتې يا په بله بَهانه باندې لرې لاړه ، هلته ددې لور پيدا شوه ، دې ښځې ته خو خاوند د لور په زيږولو باندې د وژلو دَهمکي ورکړې وه ، نو دې ددې يَرې د وجې دا په يوه کپړه کې تاؤ کړه او هلته نزدې په يو غار کې يې کيښوده ، واپس ورنه را روانه شوه ، قافلې ته راغله ، دلته يې خاوند ته وويل چې زما په ګېډه کې حمَل نه ؤ بلکه صِرف هوا وه هغه اُووته.

بهر حال زمونږ قافله ددې ځای نه روانه شوه ، خپل منزلِ مقصود ته اُورسيده ، شپږ مياشتې پس مونږ دوباره په همدې لاره راتلو ، کله چې همدې زوړ ځای ته را اُورسيدو نو دا زَنانه بيا په يوه بهَانه باندې هماغه غار ته ورغله کوم ځای چې دې شپږ مياشتې مخکې خپله وړه لور پريښې وه.

کله چې غار ته وَرننَوته نو وې ليده چې يوې هوسۍ دې ماشومې ته شوده ( پَی ) ورکول، هوسۍ چې دا ښځه اُوليده نو اُوتختيده ، دې ښځې دا ماشومه په غيږ کې راواخيسته ، په دې حالت ليدلو سره دا زَنانه په ژړا شوه ، واپس يې په زمکه واچوله او قافلې واله ته راروانه شوه ، زړه يې صبَر اونکړو قافلې واله ؤ ته يې دا خبره اوکړه ، د قافلې واله مُعزز خلق راجَمع شو او ټول ددې غار خولې ته راغله چې وې کته نو هوسۍ هماغه شان دې جينۍ ته شوده ورکول ، هوسۍ چې مونږ اُوليدو نو اُوتختيده ، مونږ دا ماشومه راواخيسته او راروان شو ، هوسۍ د لرې نه زمونږ تماشه کوله.

بهَر حال ، اوس هغه ماشومه بالغه شوې ده ، ددې پلار دا يو نېک سړي ته ورکړې ده ، اوس مونږ راغلي يو او هماغې ماشومې له د واده سامان اَخلو . (١)

(١) قصص الاولياء ص ٣٦٥ حکايت نمبر ٣٩٣ ، مثالي فکر اَنګيز واقعات ص ١٤٢ .

فائده : سبحان الله ، الله رب العزت داسې قادِر او رازِق ذات دی چې تر شپږ میاشتو پورې یې ددې ماشومې د پاره هوسۍ مقرر کړې وه ، چې دې به ورته وخت په وخت باندې شوده ورکول.

## د " رِضوان " فرښتې په ذريعه اُوبه ملاويدل

شیخ ابو عمر واسطي رحمه الله فرمايي چې يو ځل زه د مکې مکرمې نه د نبي کريم صلی الله علیه وسلم د قبر مبارک زيارت د پاره روان شوم ، په لاره کې داسې سخت تږې شوم چې د خپل ژوند نه نااُميده شوم ،آخِر د کيکر د اُونې لاندې د مرګ په اِنتظار کيناستم ، په دې دَوران کې مايو کس اُوليده چې په شين رنګ آس باندې سور ؤ ، ددې سرېَ لباس ، دده د آس زِين او وارې هم شنې وی ، په لاس کې ورسره ( شين رنګ واله پياله وه په هغې کې اُوبه هم شنې وی ، هغه ماته پياله راکړه او راته وې ويل :

اِشْرَبْ. دا اُوبه اُوڅکه.

شیخ ابو عمر وايي چې ما دا اُوبه په درې ساګانو باندې په مړه خېټه اُوڅکلی خو بيا هم اُوبه کمې نه شوی ، بيا هغه شاه سَوار د مانه پوښتنه اوکړه چې : چيرته د تللو اِراده لری ؟

ما ورته ووېل : مدينې منوّرې ته روان يم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د دوی د ملګرو ( حضرت ابوبکر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ ) په خدمت کې د سلام هديه پيش کوم ، ده چې دا خبره واوريده نو راته وې ويل :

إِذَا وَصَلْتَ وَسَلَّمْتَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْ لَهُمْ : رِضْوَان ( ای مَلَکُ الْجَنَّةِ ) يَقْرَءُ عَلَيْكُمُ السَّلَامُ .(١)

کله چې ته مدينې منوّرې ته اُورسی او په نبي علیه السلام او دده په ملګرو ( حضرت ابوبکر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ ) باندې سلام وايی نو زما د طرفه هم ورته اووايه چې ( د جنت د فرښتو سردار ) رضوان فرښتې هم په تاسو درې واړو باندې سلام ويلو.

---

(١) ترغيب المسلمين فی الرزق الحلال و طعمة الصالحين فصل ٦ ص ١١٣ .

معلومه شوه چې دا په آس باندې سور انساني شکل کې کس د جنت د فرښتو سردار رضوان فرښته وه ، د الله ﷻ په حکم باندې يې دې بزرګ ته اُوبه راوړې وې ، کله کله الله ﷻ د غيب نه د فرښتو په ذريعه د خپلو بندګانو مدد کوي ، او د فرښتو په ذريعه ورته رزق وَر رسوي .

## د لبنان په غره کې يو نابينا بزرګ " اِبراهيم کرماني رحمه الله " ته ديرش کاله پورې د يوې مرغۍ په ذريعه رِزق ملاويدل

الله ﷻ داسې رازِق ذات دی چې د انسان سره ليکل شوې رِزق ده ته په هر ځای کې وَر رسوي ، تر دې چې د لبنان په غره يو پَټ غار کې دَننه يو نابينا بزرګ " ابراهيم کرماني رحمه الله " ته يې د يوې مرغۍ په ذريعه تر ديرشو (٣٠) کالو پورې رِزق ورکول .

شيخ الحديث حضرت مولانا محمد موسی روحاني بازي رحمه الله په خپل کتاب " ترغيبُ المسلمين " کې د عبرت نه ډکه يوه اُوږده واقعه رانقل کړې چې :

يو نيک کس خپله د سترګو ليدلو واقعه بيانوي چې مونږ څو ملګري د لبنان غره ته لاړو ، ددې د پاره چې مونږ ته يو بزرګ ملاؤ شي ، ځکه هاغه وخت د لبنان غره متعلق دا خبره مشهوره وه " چې په دې کې اَولياءُ الله او اَبدال اُوسيږي " .

دا کس وايي چې مونږ درې ورځې په دې غره کې ګرځيدو ، آخِر زما په خپه کې څه تکليف پيدا شو ، زه د ملګرو نه په يو ځای کې پاتې شوم ، هغوی ما نه مخکې لاړه ، تلاش يې کولو ، ما دوه ورځې خپلو ملګرو ته اِنتظار اوکړو خو هغوی واپس رانغله ، ما هلته موجود په يوه چينه کې اُودس اوکړو او په مانځه اُودريدم ، څه وخت پس مې د تلاوت کولو آواز واوريده ، چې کله د آواز په طرف ور روان شوم نو يو غټ غار مې اُوليده چې په دې کې په سترګو رُوند يو نابينا کس ناست ؤ ، ما ورباندې سلام واچول ، هغه د سلام جواب راکړو ، او پوښتنه يې رانه اوکړه چې : انسان يې يا جِنّي ؟ (يعنی پيرې) ، ما ورته وويل : زه انسان يم ، هغه وويل :

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْکَ لَهٗ مَارَاَيْتُ هٰهُنَا اِنْسِيًّا مُنْذُ ثَلَاثِيْنَ سَنَةً غَيْرَکَ .

( کلمه یې وویله ) لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِیْکَ لَهٗ (بیا یې وویل) ما خو د دیرشو کالو نه راپه دیخوا دلته ستا نه علاوه څوک بل انسان ندې لیدلی.

بیا هغه ماته وویل: ته به ستړې شوې یې، راشه څه آرام اوکړه. زه چې غار ته دننه ورننوتم نو هلته مې درې قبرونه اُولیده، زه د قبرونو سره نزدې اُوده شوم، کله چې د ماسپخین وخت راغی نو دې نابینا بزرګ ماته آواز اوکړو:

اَلصَّلٰوةُ یَرْحَمُکَ اللّٰهُ. د مانځه وخت دی (وړپ څه) الله ﷻ دې په تا باندې رحم اوکړي. مونږ د ماسپخین مونځ اوکړو، د مانځه نه پس دې تر د مازیګر مانځه پورې په نوافلو او اَذکارو کې مشغول ؤ، بیا مونږ د مازیګر مونځ اوکړو، د مانځه نه پس یې څه دُعاګانې اوکړې، همدا رنګې مونږ په خپل خپل وخت باندې د ماښام او ماسخوتن مونځونه اوکړه، ده ته به د هر مانځه وخت ښه صحیح معلوم ؤ، د ماسخوتن مانځه نه پس دې نابینا بزرګ ماته وویل: خوراک به خوری؟ ما ورته وویل: آو. راته وې ویل: غار ته دننه لاړ شه هلته چې څه د خوراک موجود وي هغه اُخوره.

زه چې غار ته دننه لاړم نو هلته مې په یو کاڼړو باندې غوزان، اُوڅکې، سېب، اِنځر او مختلف قِسمه میوې اُولیدی، چې هر قِسمه میوې په ځانله ځانله ګُنج کې ایخې وَی. ما چې ورنه څومره خوړې شوی هغه مې اُوخوړې. دا نابینا بزرګ ټوله شپه په عبادت او ذکر و اَذکارو کې مشغول ؤ، د پیشمنې په وخت یې وِتر واجب او تهجد اوکړه، بیا یې ددې میوو نه څه اُوخوړې، د سهر مانځه نه پس په ناسته ناسته اُوده شو، د نمر راختو نه لږ وخت پس راویښ شو، اَودس یې اوکړو. بیا ما ورته وویل: دا میوې تاته د کوم ځای نه راځي؟ دا خو دیرې اَعلیٰ قِسمه میوې دي، راته وې ویل: اوس به یې ته په خپله باندې اوګورې:

فَدَخَلَ طَائِرٌ جَنَاحَاهُ اَبْیَضَانِ وَصَدْرُهٗ اَحْمَرُ، وَرَقَبَتُهٗ خَضْرَاءُ، وَفِیْ مِنْقَارِهٖ حَبَّةُ زَبِیْبٍ وَبَیْنَ رِجْلَیْهِ جَوْزَةٌ، فَوَضَعَ الزَّبِیْبَةَ عَلَی الزَّبِیْبِ وَالْجَوْزَةَ عَلَی الْجَوْزِ.

دې غار ته یوه داسې مرغۍ راننوته چې وزرې یې سپینې وی، سینه یې سره وه، څټ یې شین ؤ، په خُوله کې یې اُوڅکې وی او په پَنجو کې یې غوز ؤ، دې مرغۍ اُوڅکې د اُوڅکو د پاسه کیښودی، او غوز یې د نورو غوزانو سره کیښود.

دې نابينا بزرگ راته وويل : تا ماته د رِزق راتلل اوليده ؟ ما ورته وويل : آو ، اومې ليده . ده راته وويل :

هٰذَا الطَّائِرُ يَأْتِينِي بِهٰذِهِ الْفَاكِهَةِ مُنْذُ ثَلَاثِينَ سَنَةً .

دا مرغۍ ماته دا ميوې د ديرشو کالو نه راوړي .

ما ورته وويل : د ورځې څو پېړې دا مرغۍ راځي ؟ وې ويل : اووه ( ۷ ) پېړې . بيا ما چې په دغه ورځ باندې ددې مرغۍ راتلل اوشميرل نو پنځلس ( ۱۵ ) پېړې راغله ( ځکه زما حصه يې هم راوړه ) .

دې نابينا بزرگ د کيلې د اونې پوستکو په شان پوستکو نه ځان له جامې جوړې کړې وې ، ما ورته وويل : دا پوستکي ته د کوم ځای نه راوړی ؟ راته وې ويل :

هر کال د عاشورې په ورځ ( يعنی په لسم د مُحَرّم ) باندې دا مرغۍ ماته دغه شان لس پوستکي راوړي ، زه ورنه ځان له قميص او تِهبَند جوړوم .

دا نيک کس وايي چې ما دې بزرگ سره يوه غټه ستن هم اوليده چې په هغې يې ځان له قميص جوړول ، او کوم قميصونه يې چې زاړه شوي وو هغه يې ځان ته لاندې اَچولي وو ، په هغې به کيناسته .

بيا ما ددې نابينا بزرگ سره يو کانړې اوليده ده به په هغې باندې اوبه واچولی ، کومې اوبه به چې د کانړي نه لاندې څڅيدی ده به هغه راواخيستی او په وجود کې يې چې کوم زياتي ويښتان لرې کول غوښته دا اوبه به يې په هغې ويښتانو اومږلی نو ويښتان به مکمل صفا شو .

دا کس وايي چې يو ځل ما اوليده چې اووه کسان دې نابينا بزرگ ته راغلل ، سترگې يې سرې وې او په ښکته پورته باندې شليدلې وې ، د دوی لباس د دوی ويښتان وو ، دې نابينا بزرگ ماته په فارسۍ ژبه کې وويل : ته ويريږه مه ، دا مسلمانان جِنّات ( پېريان ) دي ، د قرآن کريم د زده کړې د پاره راغلي دي ، په دې کې يو جِن سورة طه او بل جِن سورة فرقان واورول ، او بل کس په کې د سورة الرحمن يو څو آيتونه زده کړه ، بيا واپس لاړه ، دې بزرگ به په سجده کې ډيرې نا آشنا نا آشنا ښائسته دُعاگانې ويلی .

زه ځليريشت ( ۲۴ ) ورځې ددې بزرګ سره اُوسيدم ، بيا ده د مانه پوښتنه اوکړه : ته دلته څنګه رااُورسيدی ؟ ما ورته ټوله قصه بيان کړه ، او ورته اُومې ويل چې زه د ملګرو په انتظار کې ووم خو هغوی رانغلل.

ماته يې وويل : که ماته د مخکې نه دا معلومات وی نو ته به ما دومره د ځان سره نه حصارولی ، ځکه ستا ملګري به د تاپسې ډير پريشانه وي ، که ته نور هم حصاريږي نو هغوی به نور هم ډير پريشانه شي ، لهذا اوس تاته واپس تلل بهتر دي ، ما ورته وويل : ماته خو لاره نده معلومه ،.ده راته جواب رانکړو ، د زوال په وخت يې راته وويل :

راپاځه ، تللو ته تيار شه. بيا ما ورته وويل: څه وصيت راته اوکړه ، هغه وويل :

عَلَيْکَ بِالْجُوْعِ وَالْأَدَبِ فَإِنِّیْ أَرْجُوْ لَکَ أَنْ تَلْحَقَ بِالْقَوْمِ .

اُولږه اِختيار کړه ( يعنی ډير خوراک مه کوه ) او د اَدب لحاظ ساته ، ځکه زما دا اُميد دی چې ته به د بزرګانو مقام ياموځې .

بيا دې نابينا بزرګ ماته وويل : زه تاته د يو بزرګ د پاره د اَمانت په طور يوه تحفه درکوم چې دا به ته هغه ته اُورسوی ، هغه تحفه داده چې ته کله د خانه کعبې زيارت اوکړی نو د آبِ زمزم د کوهي او مقامِ ابراهيم په مينځ کې به د تاسره يو کس ملاؤ شي هغه ته زما د طرفه د سلام دا تحفه وَراُورسوه ( يعنی هغه ته زما سلام اووايه ). بيايې راته د هغه کس څه اَحوال او علامات هم بيان کړه ، او راته وې ويل چې د ځان د پاره د هغه نه دُعا هم اوغواړه

بيا دا نابينا بزرګ د غار نه اُووت ، زه هم ورسره ووم ، د غار په خُوله کې يو ځناور ولاړ وُ ، دې بزرګ د هغه سره څه خبرې اوکړی خو زه ورباندې پوهه نه شوم ، بيا دې بزرګ ماته وويل : ته ددې ځناور ( دَرِنده ) پسې شاته شاته ځه ، چيرته چې دا ځناور اُودريږي هلته به تاته خي طرف يا ګَس طرف ته لاره ملاؤ شي .

مونږ راروان شو ، دا ځناور د مانه مخکې روان وُ ، زه ورپسې شاته روان ووم ، يوه ګِهنټه مزل کولو نه پس دا ځناور په يو ځای کې اُودريده ، نو ما خي طرف مشهور ښار "عقبه دمشق" اُوليده ، زه د دمِشق جامع مسجد ته لاړم ، هلته زما نور ملګري هم وو ، ما هغوی ته ددې نابينا بزرګ دا واقعه واوروله ، هغوی ټول د ډيرو خلقو سره يو ځای د ما سره ددې بزرګ ملاقات د پاره راروان شو ، کله چې مونږ په دغه غره کې هغه ځای ته را اُورسيدو

..................................................................................

چیرته چې ما د هغه نابینا بزرګ سره ملاقات کړې وُ نو مونږ مسلسل درې ورځې د غه غار تلاش کړو خو لیکن مونږ او نه مونده ، خلقو ماته وویل : دا په تا باندې د الله ﷻ خصوصي فضل و کرم دی چې په تا باندې يې دغه کرامت مُنکشف کړو او د مونږ نه يې پټ او ساتلو .

دا نیک سړې وايي چې ددې واقعې نه پس به زه هر کال حج له تلم . او د خانه کعبې د زیارت نه پس به مې د آبِ زمزم د کوهي او مقامِ ابراهيم په مینځ کې هغه کس تلاش کولو د کوم علامات چې راته دې نابینا بزرګ خودلي وو ، ددې د پاره چې زه دې کس ته د هغه نابینا بزرګ سلام وَر اورسوم او د ځان د پاره ورنه دُعا اوغواړم .

زه مسلسل اته ( ۸ ) کاله حج له لاړم خو ما دغه کس او نه مونده ، په نهم کال چې زه حج له لاړم او ما د مازیګر مونځ اوکړو ، د مازیګر د مونځ نه پس د آبِ زمزم د کوهي او مقامِ ابراهيم په مینځ کې مې د دغه سړي سره ملاقات اوشو ، او کوم علامات چې ماته هغه بزرګ بیان کړي وو هغه ټول په کې موجود وو ، اول ما د ځان د پاره ورنه دُعا اوغوښته ، د دُعا نه پس مې ورته وویل :

چې ابراهيم کرماني " د غار واله نابینا بزرګ " په تاسو باندې سلام وویل . ده راته وویل : هغه بزرګ تا چیرته لیدلې وُ ؟ ما ورته وویل : هغه خو ما د لبنان په غره کې لیدلې وُ ، هغه وویل : رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى . الله تعالى دې په هغه رحم اوکړي .

ما ورته وویل : آیا هغه وفات شوی ؟ هغه راته وویل : آو ، ما اوس اوس د هغه د جنازې مونځ اوکړو او هغه مې په هغه غار کې د خپلو ملګرو سره یو ځای دفن کړو ، بیا راته دې کس وویل : چې کله مونږ هغه له غُسل ورکول

إِذَا بِالطَّائِرِ الَّذِيْ كَانَ يَأْتِيْهِ بِقُوْتِهِ قَدْ سَقَطَ . فَلَمْ يَزَلْ يَضْرِبُ بِجَنَاحَيْهِ حَتّٰى مَاتَ . فَدَفَنَّاهُ عِنْدَ رِجْلَيْهِ .

کومې مرغۍ چې به هغه له خوراک راوړو هغه راغله او ناڅاپه په زمکه راأوغورځیده ، مسلسل يې وزرې په زمکه وهلی تر دې پورې چې هغه مړه شوه ، نو مونږ دا مرغۍ هم د دې بزرګ د خپو سره نزدې خخه کړه .

دې کس چې ماته د نابينا بزرگ د خَخيدو دا واقعه بيان کړه نو بيا پاڅيد ، د بيتُ الله په طواف کې مشغول شو ، او زما د سترګو نه غائب شو ، بيا ما هيڅ کله او نه ليده . (۱)

**فائده** ددې واقعې نه هم معلومه شوه چې الله ﷻ داسې رازِق دی چې هر چاته او په هر ځای کې خپل مقرر شوې رِزق وَر رسوي ، لکه دې نابينا بزرګ ته يې ديرش (۳۰) کاله بغير د ظاهري وسائلو نه د يوې مرغۍ په ذريعه باندې بهترين قِسمه اَعلی رِزق ورکول ، او ورسره ورسره د ځنګل دَرِنده ګان يې هم دده تابع ګرځولي وو چې ددې بزرګ په وينا سره يې دغه نيک کس په محفوظې طريقې سره آبادۍ طرف ته را اُورسول .

بيا چې کله دا نابينا بزرګ وفات شو نو الله رب العزت خپل نور اَولياءُ الله او بزرګان وَر اُوليږل چې هغه ته يې غُسل ورکړو ، د جنازې مونځ يې ورباندې اوکړو او هغه يې دَفن کړو .

په حديث شريف کې راځي : مَنْ كَانَ لِلّٰهِ كَانَ اللّٰهُ لَهُ . (۲)

څوک چې د الله ﷻ شو نو الله ﷻ به دده شي .

يعنی الله ﷻ د انسان د پاره کافي او کارساز دی ، د اُردو ژبې يو شاعر وايي :

تو خدا ھي کے ھوئے پھر تو چمن تيرا ھے

يه چمن چيز ھے کيا سارا وطن تيرا ھے .

## خلاصه :

محترمو مسلمانانو ! ددې دومره آيتونو ، اَحاديثو او واقعاتو نه معلومه شوه چې په اِسلام کې د حلال خوراک ډير اَهميت او فوائد بيان شوي : د عباداتو قبوليت په حلال خَوراک موقوف دی ، په حلال خوراک سره انسان د جنت مُستحق ګرځي ، د نيکو اَعمالو او عباداتو توفيق ورته نصيبه کيږي ، زړه يې مُنوّر کيږي او مُستجابُ الدعوات ګرځي .

(۱) ترغيب المسلمين في الرزق الحلال و طعمة الصالحين لمولانا موسی خان روحاني بازي رحمه الله فصل ۵ ص ۹۳ .

(۲) .

نو بیا په کار ده چې انسان حلال خوراک کوي ، او د حرام نه ځان ساتي ، بیا خاصکر چې د رزق وعده هم الله جَلَّ جَلَالُهُ کړی ، او بنده ته چې کوم رزق په اَزل کې لیکلې شوی دا به خامخا د ده ته ملاویږي نو بیا څه ضرور چې انسان په حرام خوراک کې ځان مبتلاء کړي ؟

الله جَلَّ جَلَالُهُ دې مونږ ټولو ته د حلال خوراک کولو توفیق رانصیبه کړي ، او مونږ ټول دې د حرام خوراک او حرام مال نه اُوساتي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ** : ددې موضوع متعلق ضروري فِقهي مسائل ددې کتاب په آخر کې ذکر دي ، د صفحه ۳۲۲ نه شروع دي ، د هغې نه ځان له د موقعې مناسب اِنتخاب اوکړه .

ابوالشمس عفي عنه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَاۡكُلُوۡا اَمۡوَالَكُمۡ بَيۡنَكُمۡ بِالۡبَاطِلِ ﴾. النساء آية ۲۹.

# د حرام خوراک سزاګاني او نقصانات

تاليف

ابو الشَّمس مولانا نُورُ الهُدیٰ عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القرآن اکاخيل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د حرام خوراک سزاګاني او نقصانات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهُ ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ يَآ يُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَأْكُلُوْا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّآ أَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوْا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴾. (۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ بِمَا أَخَذَ الْمَالَ، أَمِنْ حَلَالٍ أَمْ مِنْ حَرَامٍ . (۲)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم

## د حرام خوراک نه د بَچ کیدو حکم

محترمو مسلمانانو ورونو ! په قرآن کريم او أحاديثو کې د حرام خوراک نه د بَچ کيدو ډير تاکيد راغلی ، او د حرامو خوړلو سختې سزاګانې او نقصانات ذکر شوي .

همدارنګې په سُود ، رِشوت ، ظلم ، دُهوکې او نورو ناجائزو طريقو سره د مال ګټلو نه په سختو الفاظو سره منع راغلی ، تر دې چې حرام خوراک په ګناهِ کبيره کې داخل دي ، دغه وجه ده چې امام ذهبي رحمه الله په خپل کتاب الکبائر کې حرام خوراک په ګناهِ کبيره کې داخل کړی ، هغه ليکي : " اَلْكَبِيْرَةُ الثَّامِنَةُ وَالْعِشْرُوْنَ أَكْلُ الْحَرَامِ وَتَنَاوله عَلٰى أَيِّ وَجْهٍ كَانَ "

---

(۱) سورة النساء آية ۲۹ .

(۲) صحيح البخاري كتاب البيوع بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى: { يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً ... } رقم الحديث ۲۰۸۳ ، مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول رقم الحديث ۲۷٦۱ .

په دې موضوع کې به درته ان شاء الله د قرآن کريم، احاديثو او د فقهاؤ د اقوالو په رڼا کې د حرام خوراک سزاګانې، نقصانات او د حرامې ګټې څه صورتونه ذکر کوم.

الله رب العزت فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴾. (۱)

ترجمه: اې د ايمان خاوندانو! تاسو په خپل مينځ کې د يو بل مالونه په ناحقه مه خورئ مګر دا چې ستاسو په خپل مينځ کې په رضامندۍ سره (حلال) تجارت وي (نو بيا خير دی). او په خپل مينځ کې يو بل مه وژنئ، بېشکه الله تعالی په تاسو باندې ډېر رحم کوونکی دی.

په وروسته آيت کې الله ﷻ په باطلې (او حرامې) طريقې سره د يو بل مال خوړونکو د پاره د جهنم سخته سزا هم مقرر کړې.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَٰنًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴾. (۲)

ترجمه: او څوک چې دا کارونه په سرکشۍ او ظلم سره کوي نو ډېر زر به مونږ دغه کس (د جهنم) اور ته داخل کړو، او دا کار الله ﷻ ته آسان (هم) دی.

**تشريح**: د اولنې آيت په رومبۍ جمله ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ ﴾ کې په ناحقه طريقې سره د يو بل د مال خوړلو نه منع راغلې، د "بِٱلْبَٰطِلِ" ترجمه په "ناحق" سره شوې.

تفسير بحر محيط ليکلي چې د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنهما او د جمهورو صحابه کرامو په نزد په دې کې ټول هغه صورتونه شامل دي کوم چې په شريعت کې بند او

(۱) سورة النساء آية ۲۹.

(۲) سورة النساء آية ۳۰.

ناروا دي لکه : غَلا ، ډاکه ، غَصب ، خِيانت ، رِشوت ، سُود ، جواري او ټولې خرابې معاملې . (١)

# په حرام خوراک خوړلو سره دُعاګانې نه قبليږي

د دُعا قبوليت په حلال رِزق باندې موقوف دی ، اوس چې ديو انسان په خېټه کې حرام خوراک وي نو د ده دُعاګانې نه قبليږي .

١ . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا . وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِيْنَ .

بېشکه الله ﷻ ( د هر قِسمه عېبونو نه ) پاک دی ، صرف پاک ( صدقات او اَعمال ) قبلوي ( کوم چې د عيبونو او د نيت د فساد نه پاک وي ) ، او بېشکه الله تعالی مؤمنانو ته د هغه شي حکم کړی کوم يې چې رسولانو ته کړی ( او هغه د حلال مال خوراک او نېک اعمال کول دي ) ، الله تعالی فرمايي :

---

(١) تفسير بحرمحيط ، تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة النساء آية ٢٩ .

بِالْبَاطِلِ : يَعْنِي: بِالرِّبَا وَالْقِمَارِ وَالْغَصْبِ وَالسَّرِقَةِ وَالْخِيَانَةِ وَنَحْوِهَا، وَقِيلَ: هُوَ الْعُقُوْدُ الْفَاسِدَةُ . تفسير البغوي المسمى بمعالم التنزيل جزء ١ ص ١٧٦ سورة النساء آية ٢٩ .

بِالْبَاطِلِ : ذَكَرُوْا فِيْ تَفْسِيْرِ الْبَاطِلِ وَجْهَيْنِ : اَلْأَوَّلُ : أَنَّهُ اِسْمٌ لِكُلِّ مَا لَا يَحِلُّ فِي الشَّرْعِ . كَالرِّبَا وَالْغَصْبِ وَالسَّرِقَةِ وَالْخِيَانَةِ وَشَهَادَةِ الزُّوْرِ وَأَخْذِ الْمَالِ بِالْيَمِيْنِ الْكَاذِبَةِ وَجَحْدِ الْحَقِّ . تفسير الرازي ج١٠ ص ٥٦ سورة النساء آية ٢٩ .

بِالْبَاطِلِ : بمَا لم تبحه الشريعة من نحو السرقة والخيانة والغصب والقمار وعقود الربا . تفسير النسفي جز ١ ص ٣٥١ سورة النساء آية ٢٩ . وهكذا ذكر في تفسير الخازن ج١ ص ٣٦٦ .

بِالْبَاطِلِ : اى بِالْحَرَامِ فِي الشَّرْعِ كَالرِّبَا وَالْغَصْبِ . تفسير الجلالين ١ / ١٠٥ .

بِالْبَاطِلِ : كالدعوى الزور والشهادة بالزور او الحلف بعد إنكار الحق او الغصب والنهب والسرقة والخيانة او القمار واجرة المغني ومهر البغي وحلوان الكاهن وعسب التيس والعقود الفاسدة او الرشوة وغير ذلك من الوجوه التي لا يبيحه الشرع . تفسير المظهري ١ / ٢٠٩ سورة النساء آية ٢٩ .

﴿ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾. (١)

ترجمه : اې رسولانو ! تاسو پاكيزه ( او حلال ) څيزونه خورئ ، او ( هميشه ) نيک عملونه كوئ ، بيشكه زه په هغه كارونو باندې ښه خبريم كوم چې تاسو كوى .

او الله تعالى فرمايي :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ﴾. (٢)

ترجمه : اې د ايمان خاوندانو ! تاسو خورئ د هغه پاكيزه شيانو نه كوم چې مونږ تاسو ته دركړي دي .

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې ييا رسول الله صلى الله عليه وسلم ( د مثال په طور ) د هغه سړي حال ذكر كړو چې اوږد سفر اوكړي ، ( د سفر په وجه ) ويښتان يې ګډ وډ وي ، په بدن يې ګرد پروت وي ، د دُعا د پاره دواړه لاسونه آسمان طرف ته اوچت كړي او دا وايي :

يَا رَبِّ ! يَا رَبِّ ! اې زما ربه ! اې زما ربه ! ( زما مقاصد پوره كړه ، او زما دُعا قبوله كړه ).

نبي عليه السلام وفرمايل :

وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ ، فَأَنّٰى يُسْتَجَابُ لِذٰلِكَ ؟ . (٣)

---

(١) سورة المومنون آية ٥١ .

(٢) سورة البقرة آية ١٧٢ .

(٣) پوره حديث داسې دى : إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا ، وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ . فَقَالَ ﴿ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾ . وَقَالَ : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ﴾ . ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ . يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ . يَا رَبِّ ! يَا رَبِّ ! وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ . وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ . وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ . وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ . فَأَنّٰى يُسْتَجَابُ لِذٰلِكَ ؟ صحيح مسلم بَابُ قَبُولِ الصَّدَقَةِ مِنَ الْكَسْبِ الطَّيِّبِ وَتَرْبِيَتِهَا ٦٥ ( ١٠١٥ ) ، سنن الترمذي رقم الحديث ٢٩٨٩ ، مشكاة المصابيح كتاب البيوع باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول رقم الحديث ٢٧٦٠ ، كنزالعمال رقم الحديث ٣٢٣٦ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٦٣٩٤ ، الترغيب والترهيب رقم الحديث ١٧١٧ الترغيب في طلب الحلال والاكل منه .

چې کله د ده خوراک حرام وي، څکاک يې حرام وي، لباس يې حرام وي، په حرامه غِذا سره يې پَرورش شوې وي نو د داسې کس دُعا به څنګه قبوله شي؟

**د حديث تشريح** ددې حديث په اوله حصه کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د حلال مال اَهميت او د حلال مال د قبليدو ذِکر اوکړو، بيا په دوه آيتونو کې د حلال خوراک کولو حکم اوشو، په آخره کې پيغمبر عليه السلام دا خبره واضحه کړه چې د حرام مال خوړلو په وجه د انسان دُعا نه قبليږي، خو دا خبره يې د يومثال په ذريعه بيان کړه چې يو کس د حَج يا نورو عباداتو د پاره اُوږد سفر اوکړي، ددې سفر په وجه دومره ډير تکليفونه برداشت کړي چې ظاهري حالت يې د رَحم قابل شي، يعنی ويښتان يې ګډوَډ وي، په بَدن يې ګردونه پراته وي او دې په ډيرې عاجزۍ سره لاسونه د دُعا د پاره پورته کړي.

اوس ظاهري حالت خو ددې تقاضا کوي چې د ده دُعا دې قبوله کړې شي ځکه يو خو دا کس مسافر دی، او د مسافر دُعا قبليږي، دويم دا چې ظاهري حالت يې هم د رَحم قابل دی، دريم دا چې لاسونه يې هم د دُعا د پاره اُوچت کړي. خو ددې ټولو خبرو باوجود نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

چې کله ددې کس خوراک حرام وي، څکاک يې حرام وي، لباس يې حرام وي، په حرامه غِذا يې پَرورِش شوې وي نو د ده دُعا به څنګه قبوله شي؟ يعنی دُعا يې نه قبليږي.

دغه وجه ده چې نن صبا ښه ډيرې دُعاګانې کولې شي خو بيا هم نه قبليږي، ددې يوه وجه دا هم ده چې انسان حرام خوراک او حرام شيان استعمالوي.

٢ . علامه ابن رجب رحمه الله فرمايي:

أَكْلُ الْحَرَامِ وَشُرْبُهُ وَلُبْسُهُ وَالتَّغَذِّي بِهِ سَبَبٌ مُوجِبٌ لِعَدَمِ إِجَابَةِ الدُّعَاءِ . (١)

---

(١) جامع العلوم والحكم ص ٩٢ بتصرف، نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرّسول الكريم صلّى الله عليه وسلّم ج٩ ص٣٩٧٨ أكل الحرام.

وَعَنْ يُوسُفَ بْنِ أَسْبَاطٍ قَالَ: بَلَغَنَا أَنَّ دُعَاءَ الْعَبْدِ يُحْبَسُ عَنِ السَّمَاوَاتِ بِسُوءِ الْمَطْعَمِ. جامع العلوم والحكم ج١ ص ٢٧٥ [اَلْحَدِيثُ الْعَاشِرُ إِنَّ اللهَ تَعَالَى طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا]

حرام خوراک، حرام څکاک، حرام لباس او په حرامې طريقې سره غِذا حاصلول دا سبب د نه قبليدو د دُعا دی.

## چې تر څو پورې حرامه جامه د انسان په بدن پرته وي دده مونځ نه قبليږي

۱. د مشکوة شريف حديث دی حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي:

مَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَفِيْهِ دِرْهَمٌ حَرَامٌ لَمْ يَقْبَلِ اللهُ لَهُ صَلٰوةً مَادَامَ عَلَيْهِ. (۱)

(مثلاً) يو کس يوه جامه په لس دِرهمه واخيسته او په دې کې يو دِرهم د حرام مال وي نو تر څو پورې چې دا جامه دده په بدن باندې پرته وي تر هاغه وخته پورې الله تعالى دده مونځ نه قبلوي.

بيا ابن عمر رضي الله عنهما د شهادت دواړه ګتې په غوږونو کې کيښودی او وې فرمايل:

صُمَّتَا إِنْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُهُ يَقُوْلُهُ.

دا دواړه غوږونه دې کاڼه شي که ما دا حديث د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه نه وي اَوريدلی.

**د حديث تشريح**: د حديث مطلب دا دی چې که د حرام مال لږه حصه هم په بدن باندې پرته وي نو ددې اَثر په بدن باندې خامخا غورځي، هغه دا چې تر څو پورې چې ددې په بدن باندې د حرام مال دا کپړه پرته وي په دې سره دده عبادت نه قبليږي.

علماء ليکي چې اګر چې ددې کس د ذِمې نه فرضيت ساقطيږي ليکن د مانځه پوره ثواب ورته نه حاصليږي.

---

(۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: مَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَفِيْهِ دِرْهَمٌ حَرَامٌ لَمْ يَقْبَلِ اللهُ لَهُ صَلٰوةً مَادَامَ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَدْخَلَ أُصْبَعَيْهِ فِيْ أُذُنَيْهِ، وَقَالَ صُمَّتَا إِنْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُهُ يَقُوْلُهُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ، وَقَالَ: إِسْنَادُهُ ضَعِيْفٌ. مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثالث رقم الحديث ۲۷۸۹.

انسان ته سوچ په کار دی چې کله د کپړې لسمه حصه حرامه وي دده عبادت نه قبلیږي نو اوس چې د انسان غوندېه جامه د حرام مال وي نو په دې سره به دده مونځ څه قبول شي ؟ او په دې سره به ده ته څه پوره ثواب حاصل شي ؟

د روايت په آخر کې ابن عمر رضي الله عنهما اوفرمايل چې دا خبره ما د ځان نه نده کړې . بلکه دا مې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه آوريدلې ده ، او بيا يې د ډير تاکيد د پاره خپلې دواړه ګتې په غوږونو کې کيښودی او وې فرمايل : زما دواړه غوږونه دې کاڼه شي که ما دا خبره د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه نوې آوريدلې .

٢ . حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلٰوةَ امْرِئٍ فِيْ جَوْفِهٖ حَرَامٌ . (١)

الله جَلَّ جَلَالُهُ د هغه کس مونځ نه قبلوي چې د هغه په خېټه کې حرام وي .

٣ . حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي :

لَوْ صَلَّيْتُمْ حَتّٰى تَكُوْنُوْا كَالحنايَا . وَصُمْتُمْ حَتّٰى تَكُوْنُوْا كَالْأَوْتَارِ لَمْ يقبل ذٰلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا بِوَرَعٍ حَاجِزٍ . (٢)

که چيرته تاسو دومره ډير مونځونه اوکړې چې ددې په وجه د لينديې ( کمان ) په شان کاږه شئ ، او دومره ډيرې روژې اونيسئ چې د ويښتانو په شان نرې شئ خو چې تر څو پورې مو د حرامو نه کامله پرهيزګاري نه وي کړې د تاسو نه به دا ( مونځونه او روژې ) قبول نه کړې شي . (يعنی د حرام مال خوړلو باوجود د انسان مونځ روژې او نور عبادات نه قبليږي ) .

## چې تر څو پورې په خېټه کې حرام خوراک وي د انسان عبادات نه قبليږي

١ . رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ته وفرمايل :

(١) جامع العلوم والحكم ج١ ص ٢٦٢ ، احياء علوم الدين كتاب الحلال والحرام ج٢ ص ٩١ .

(٢) احياء علوم الدين كتاب الحلال والحرام ج٢ ص ٩١

وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ العَبْدَ لَيَقْذِفُ اللُّقْمَةَ الحَرَامَ فِيْ جَوْفِهِ مَا يُتَقَبَّلُ مِنْهُ عَمَلُ أَرْبَعِينَ يَوْمًا . (۱)

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې د محمد (صلى الله عليه وسلم) ساه ده چې بيشکه کله چې يو بنده په خپله خېټه کې د حرامو يوه نوړۍ واچوي نو تر څلويښتو ورځو پورې دده هيڅ عمل نشي قبلولی .

محترمو ! دا څومره خطرناکه خبره ده چې د يوې حرامې نوړۍ په وجه د انسان څلويښت (۴۰) ورځې مونځ، روژه، او نور عبادات نه قبليږي .

۲ . علامه ذهبي رحمه الله په " الکبائر " کې دا حديث رانقل کړی :

إِنَّ مَلَكًا عَلَى بَيْتِ الْمُقَدَّسِ يُنَادِيْ كُلَّ يَوْمٍ وَكُلَّ لَيْلَةٍ : مَنْ أَكَلَ حَرَامًا لَمْ يَقْبَلِ اللهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا . (۲)

په بيتُ المقدس باندې يوه فرښته په هره ورځ او هره شپه دا آواز کوي : څوک چې حرام خوراک اوکړي نو الله تعالى نه دده نفل قبلوي او نه دده فرض .

---

(۱) پوره حديث دا سې دی : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : تُلِيَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : { يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا } فَقَامَ سَعْدُ بْنُ أَبِيْ وَقَّاصٍ . فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اُدْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِيْ مُسْتَجَابَ الدَّعْوَةِ . فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « يَا سَعْدُ ! أَطِبْ مَطْعَمَكَ تَكُنْ مُسْتَجَابَ الدَّعْوَةِ . وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَقْذِفُ اللُّقْمَةَ الْحَرَامَ فِيْ جَوْفِهِ مَا يُتَقَبَّلُ مِنْهُ عَمَلُ أَرْبَعِينَ يَوْمًا . وَأَيُّمَا عَبْدٍ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنَ السُّحْتِ وَالرِّبَا فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ » . المعجم الاوسط جز ٦ ص ٣١٠ رقم الحديث ٦٤٩٥ ، و رواه الطبراني في الصغير ، الترغيب والترهيب ٦ / ٢٢٥ ، صفوة التفاسير ج۱ ص ۱۰۳ ، وهکذا ذکره الزبيدي في الاتحاف ٥ / ٤١ ، والهيثمي في المجمع ١٠ / ٢٩٥ ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين کتاب آداب الکسب والمعاش ص ٣٥٥ .

وفي رواية : مَنْ أَكَلَ لُقْمَةً مِنْ حَرَامٍ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً . وَلَمْ تُسْتَجَبْ لَهُ دَعْوَةٌ أَرْبَعِيْنَ صَبَاحًا . رواه الديلمي عن ابن مسعود ، کنز العمال رقم الحديث ٩٢٦٦ . څوک چې يوه نوړۍ د حرامو اُوخوري نو د څلويښتو شپو پورې دده مونځ نشي قبلولی ، او د څلويښتو سهرو ( يعنی ورځو ) پورې دده دُعا نشي قبلولی .

(۲) کتاب الکبائر للذهبي ۱ / ۱۱۹ الکبيرة الثامنة والعشرون أکل الحرام وتناوله على أي وجه کان .

اَلصَّرْفُ : النَّافِلَةُ . وَالعَدْلُ : الفَرِيْضَةُ .

۳ . علامه ابن کثیر رحمه الله لیکلي : وَالأَكْلُ مِنَ الحَلاَلِ سَبَبٌ لِتَقَبُّلِ الدُّعَاءِ وَالعِبَادَةِ . كَمَا أَنَّ الأَكْلَ مِنَ الحَرَامِ يَمْنَعُ قَبُوْلَ الدُّعَاءِ وَالعِبَادَةِ . (۱)

حلال خوراک سبب دی د دُعا او عبادت قبلیدو د پاره لکه څرنګې چې حرام خوراک د دُعا او عبادت قبلیدل منع کوي ( یعنی په حلال خوراک سره دُعا او عبادت قبلیږي ، او په حرام خوراک سره بیا نه دُعا قبلیږي او نه نور عبادات ) .

۴ . علامه ابن رجب رحمه الله د قرآن کریم د دې آیت ﴿ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبٰتِ ﴾ په تشریح کې فرمائلي چې مخکیني پیغمبرانو او اُمتونو ته د حلال مال او عملِ صالح حکم کړې شوې وُ :

فَمَا دَامَ الأَكْلُ حَلاَلاً فَالْعَمَلُ الصَّالِحُ مَقْبُوْلٌ . فَإِذَا كَانَ الأَكْلُ غَيْرَ حَلاَلٍ فَكَيْفَ يَكُوْنُ الْعَمَلُ مَقْبُوْلاً ؟ (۲)

پس تر څو پورې چې خوراک حلال وي نو عمل صالح به هم مقبول وي . او چې کله خوراک حلال نه وي ( یعنی حرام وي ) نو بیا به نیک اعمال څنګه قبول شي ؟

۵ . امام غزالي رحمه الله په " مِنهاجُ العابدین " کې ذکر کړي چې په حرام او مُشتبِه مال کې درې غټ نقصانونه دي :

۱ . د دې په ذریعه انسان د جهنم مُستحِق ګرځي . ۲ . حرام خوړونکې د الله ﷻ او د رسول ﷺ په نزد مَردود دی . ۳ . حرام خوړونکې اکثر د نیکو اعمالو نه محرومه وي ، او که چیرته اِتفاقًا ده ته د نیکو اَعمالو توفیق ملاؤ شي نو هغه هم نه قبلیږي ، ځکه په

(۱) تفسیر ابن کثیر ۱ / ۴۸۰ سورة البقرة آیة ۱۷۱ ، نضرة النعیم ج۹ ص ۳۹۷۸ اکل الحرام .

(۲) قَالَ ابنُ رَجَب عِنْدَ قَوْلِهِ تَعَالٰى ﴿ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبٰتِ ﴾ اَلْمُرَادُ بِهٰذَا أَنَّ الرُّسُلَ وَأُمَمَهُمْ مَأْمُوْرُوْنَ بِالأَكْلِ مِنَ الطَّيِّبَاتِ الَّتِيْ هِيَ الحَلاَلُ . وَبِالْعَمَلِ الصَّالِحِ . فَمَا دَامَ الأَكْلُ حَلاَلاً فَالْعَمَلُ الصَّالِحُ مَقْبُوْلٌ . فَإِذَا كَانَ الأَكْلُ غَيْرَ حَلاَلٍ فَكَيْفَ يَكُوْنُ الْعَمَلُ مَقْبُوْلاً ؟ جامع العلوم والحکم ۱ / ۲۶۰ اَلْحَدِيثُ الْعَاشِرُ إِنَّ اللهَ تَعَالٰى طَيِّبٌ لاَ يَقْبَلُ إِلاَّ طَيِّبًا ، نضرة النعیم في مکارم اخلاق الرسول الکریم صلی الله علیه وسلم ج۹ ص ۳۲۷۹ من مضار اکل الحرام .

احاديثو کې صراحةً دا ذکر دي چې تر څو پورې د انسان په خېټه کې حرام خوراک وي دده هيڅ عبادت نه قبليږي. (١)

٦ . علامه ذهبي رحمه الله په " الکبائر " کې ليکلي : يوسف بن اسباط رحمه الله فرمايي چې کله يو ځوان د الله جَلَّ جَلَالُهُ عبادت کوي نو شيطان خپلو ملګرو ته ووايي :

أُنْظُرُوْا مِنْ أَيْنَ مَطْعَمُهُ ؟ تاسو اوګورئ چې دده خوراک د کوم ځای نه دی ؟

پس که دده خوراک حرام وي نو شيطان ملګرو ته ووايي : دا پريږدئ چې هسې ځان ستړې کړي ، او بې فائدې کوشش اوکړي ، تاسو ته دده د ګمراه کولو ضرورت نشته ځکه :

إِنَّ اِجْتِهَادَهُ مَعَ أَكْلِ الْحَرَامِ لَايَنْفَعُهُ . (٢)

د حرام خوراک سره دده دا کوشش ده ته هيڅ فائده نه ورکوي .

## د حرام مال نه جوړه شوې غوښه د جهنم مُستحق ده

١ . د ترمذي شريف اوږد حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت کعب بن عجرة رضي الله عنه ته فرمايي :

يَا كَعْبَ بْنَ عُجْرَةَ ! إِنَّهُ لَا يَرْبُوْ لَحْمٌ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ إِلَّا كَانَتِ النَّارُ أَوْلَى بِهِ . (٣)

---

(١) منهاج العابدين ص ٣٧ ، ترغيب المسلمين في الرزق الحلال و طعمة الصالحين ص ٣٦٣ .

(٢) وَقَدْ رُوِيَ عَنْ يُوْسُفَ بْنِ أَسْبَاط رَحِمَهُ اللهُ قَالَ إِنَّ الشَّابَ إِذَا تَعَبَّدَ قَالَ الشَّيْطَانُ لِأَعْوَانِهِ : أُنْظُرُوْا مِنْ أَيْنَ مَطْعَمُهُ ؟ فَإِنْ كَانَ مَطْعَم سوء قَالَ دَعُوْهُ يتعبُ ويجتهدُ فَقَدْ كَفَاكُمْ نَفْسه إِنَّ اِجْتِهَادَهُ مَعَ أَكْلِ الْحَرَام لَايَنْفَعُهُ . وَيُؤَيِّد ذَلِك مَا ثَبَتَ فِي الصَّحِيح مِنْ قَوْلِهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم عَنِ الرَّجل الَّذِيْ مَطْعَمُهُ حَرَامٌ . وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ . وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ . وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ . فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذٰلِكَ ؟ کتاب الکبائر للذهبي الكبيرة الثامنة والعشرون أكل الحرام وتناوله على أي وجه كان ص ١٣٤ ط اشاعت اسلام کتب خانه پشاور .

(٣) سنن الترمذي ج١ ص ٧٥٣ رقم الحديث ٦١٤ بَابُ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الصَّلَاةِ . صحيح ابن حبان محققا ج٥ ص ٩ رقم الحديث ١٧٢٣ ذكر البيان بان الصلاة قربان ...

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُوْنَ فِيْ مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . صحيح البخاري ٤/٨٥ رقم الحديث ٣١١٨ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : (فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُوْلِ) [الأنفال: ٤١] .

اې كعب بن عجرة ! كومه غوښه چې د حرام مال نه پيدا شي نو د جهنم اُور ددې دپاره لائق دی.

۲ . د مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ لَحْمٌ نَبَتَ مِنَ السُّحْتِ، وَكُلُّ لَحْمٍ نَبَتَ مِنَ السُّحْتِ كَانَتِ النَّارُ أَوْلَى بِهِ. (١)

هغه غوښه به جنت ته نه داخليږي كومه چې په حرام مال سره پيدا شوې وي، او كومه غوښه چې په حرام مال (خوړلو) سره پيدا شوې وي د جهنم اُور ددې سره مناسب دی.

همدا مضمون په يو بل حديث كې هم ذكر دی رسول الله ﷺ فرمايي:

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدٌ غُذِيَ بِالْحَرَامِ. (٢)

هغه بدن به جنت ته داخل نه شي چې د هغه په حرام خوراک سره پَرورَش شوې وي.

**تشريح** د حديث مطلب دادی چې د چا غوښه د حرام مال نه پيدا شي نو دا كس به اِبتداءً د كاميابو خلقو سره جنت ته نه داخليږي، بلكه ددې حرام مال خوړلو سزا به په جهنم كې خوري، چې كله صفا شي نو بيا به جنت ته داخليږي.

يا دا مطلب دی چې داسې كس به جنت په اعلی درجو كې نه داخليږي.

يا دا مطلب چې كه يو كس حرام مال ځان ته حلال ګڼي او په دې سره دده د بدن غوښه پيدا شي نو داسې كس به بيا هيڅ كله جنت ته نه داخليږي، ځكه حرام شی ځان ته حلال ګڼل كفر دی، او كافر هيڅ كله جنت ته نه داخليږي.

البته كه يو كس حرام مال ځان ته حلال نه ګڼي، د حرام مال نه توبه اُوباسي او حَق دار ته خپل حَق ور اُوسپاري نو بيا داسې كس ددې وعيد نه مُستثنٰی دی.

---

(١) رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ. مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثاني ٨٤٥/٢ رقم الحديث ٢٧٧٢ (١٤)، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٢٩٨، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٧١٦٣، الآداب للبيهقي رقم الحديث ٣٠٠، شرح السنّة للبغوي رقم ٢٠٢٩، و ذكره الزبيدي في الاتحاف ٥/٢٢٦، و ٨/٦، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المرويّة عن الانبياء والصالحين كتاب الكسب والمعاش ص ٣٥٤.

(٢) رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الإيمان. مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثالث ٨٤٨/٢ رقم ٢٧٨٧.

## بې اجازته د مال غنيمت نه د يو څادر راخيستو په وجه په جهنم کې سوزيدل

په بخاري شريف کې يوه واقعه ذکر ده ، حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په اَسباب او سامان باندې يو کس مقرر ؤ ، د هغه نوم کِرکِرَة ؤ ، کله چې دې وفات شو نو رسول الله ﷺ وفرمايل :

هُوَ فِي النَّارِ . دې د جهنم په اُور کې دى .

کله چې صحابه کرام ددې کس ليدلو له ورغله نو دده سره يې يو څادر اُوموندو چې ده د مالِ غنيمت نه خيانت کړې ؤ . (١) ( چې ددې په وجه د جهنم مستحق شو ) .

**عبرت** : باوجود ددې نه چې کرکره د نبي عليه السلام سره په جهاد کې هم شريکيده خو د مالِ غنيمت د تقسيم نه مخکې يې څادر اخيستې ؤ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دده متعلق اوفرمايل چې دا زه په څادر کې تاؤ شوى په جهنم کې ګورم .

## د حرام مال او دهوکې په وجه آخره خاتمه خرابيدل

په دُهوکې او حرامې طريقې سره مال ګټل دومره نقصاني دي چې دا د انسان د آخرې خاتمې د خرابيدو سبب ګرځي ، او ددې په وجه د زَنکدن په وخت کې د انسان په خُله باندې کلمه شهادت نه جاري کيږي ، ددې په باره کې درته دوه واقعې د عبرت د پاره ذکر کوم :

### ١ . اوله واقعه :

مالک بن دينار رحمه الله ډير لوي مُحدِّث او بزرګ تېر شوى ، دې فرمايي چې زما يو ګاوندي سخت بيمار ؤ ، د زَنکدن حالت يې شروع ؤ ، زه يې پوښتنې له ورغلم ، هغه ډير خفه

---

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: كَانَ عَلَى ثَقَلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ كِرْكِرَةُ. فَمَاتَ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « هُوَ فِي النَّارِ » . فَذَهَبُوْا يَنْظُرُوْنَ إِلَيْهِ . فَوَجَدُوْا عَبَاءَةً قَدْ غَلَّهَا . صحيح البخاري بَابُ القَلِيلِ مِنَ الغُلُولِ ٤/٧٤ رقم ٣٠٧٤ ، سنن ابن ماجه رقم الغلول رقم الحديث ٢٨٤٩ ، مشكاة المصابيح رقم ٣٩٩٨ .

**نوټ** : کِرکِره په فتحې د کاف هم صحيح دى (يعنى کَرکَرة) ، او دا بهتر هم دى . قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ : "قَالَ ابْنُ سَلَامٍ : كَرْكَرَةُ يَعْنِي بِفَتْحِ الكَافِ . وَهُوَ مَضْبُوطٌ كَذَا " . صحيح البخاري بَابُ القَلِيلِ مِنَ الغُلُولِ ٤/٧٤

ؤ ، ما ورنه پوښتنه اوکړه چې ولې خفه یې ؟

هغه راته وویل : زما مخې ته د اُور دوه غرونه دي او ماته دا حکم کولې شي چې په دې باندې ورَ اُوخیجه ، حالانکه زه په دې نه شم ورَختی .

مالک بن دینار رحمه الله فرمایي چې ما ورنه پوښتنه اوکړه : دا د څه شي غرونه دي ؟ هغه راته وویل : زه دُکاندار ووم ، ما د ځان سره د ناپ تول د پاره دوه کاڼي ساتلي وو یو درُوند ؤ او بل سپَک ؤ ، د چا نه به مې چې څه څیز اخیسته نو په دې درُوند کاڼي به مې تللو ، او چې بیا به مې په بل چا خرڅول نو په دې سپَک کاڼي به مې تللو ، په دُهوکې او حرامې طریقې سره به مې مال و دولت پیدا کولو .

اوس د هغه ناپ تول د کاڼو نه د اُور دوه غرونه جوړ شوي او ماته دا حکم کولې شي چې په دې ورَ اُوخیجه ، نو خفه په دې یم چې د اُور په دې غرونو څنګه ورَ اُوخیجم ؟ (۱)

**۲ . دویمه واقعه :**

همدغه رنګې یو بل بزرګ فرمایي چې زما د یو ګاونډي د زَنکدن حالت شروع ؤ ، زه ورغلم ، ورسره کیناستم ، ما ورته د کلمې تلقین کولو ، نورې خبرې یې کولې شوې خو کلمه یې نه شوه ویلی ، ما ورنه پوښتنه اوکړه : دا ولې ؟ ( چې نورې خبرې کولې شی او صرف کلمه نه شی ویلی ؟ ) هغه راته وویل :

زه دُکاندار ووم په تَله کې به مې تګي کوله ( او په ناجائزه طریقې سره مې مال پیدا کولو ) اوس چې کله د کلِمې ویلو اِراده اوکړم نو زما د دُکان د تَلې دَنډه زما ژبه په سختۍ سره منع کوي ، نو ځکه یې نشم ویلی . (۲)

## د حرامې آمدنۍ او دُهوکې په وجه په عذابِ قبر کې مُبتلاء کیدل

چې کله یو کس په حرامې طریقې او دُهوکې سره مال پیدا کوي نو ددې په وجه انسان په عذابِ قبر کې مُبتلاء کیږي .

(۱) دعوات حق لشیخ الحدیث مولانا عبدالحق رحمه الله باني دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک ج۱ ص ۴۵۶ .

(۲) وړاندینۍ مرجع عین صفحه .

حافظ ابن قیم رحمه الله په ''کتابُ الروح'' کې ، جلال الدین سیوطي رحمه الله په ''شرحُ الصدور'' کې ، او ابن ابی الدّنیا په ''کتابُ القبور'' کې یوه واقعه رانقل کړې :

عبدالحمید بن محمود وایي : زه د حضرت ابن عباس ﷻ سره ناست ووم ، چې په دې کې څه خلق راغلل ، او ابن عباس ﷻ ته یې وویل :

مونږ څه خلق د حَج دپاره روان یو ، په لاره کې د مونږ نه یو ملګرې وفات شو .... مونږ د هغه د پاره قبر وکنیسته ، او لحَد مو ورله جوړ کړو ، کله چې د لحَد نه فارغه شو نو ناڅاپه مو په دې قبر کې دومره غټ مار ولید چې ټول قبر یې ډک کړې و ، بیا مو په دویم ځای کې ورله قبر وکنسته نو په هغې کې هم هماغه شان غټ مار راووت ، ( نو ددې سره اوس څه وکړو ؟ ) حضرت ابن عباس ﷻ ورته وویل :

ذٰلِکَ الْغَلُّ الَّذِيْ يغلُّ بِهِ ، إِنْطَلِقُوْا ، فَادْفِنُوْهُ فِيْ بَعْضِهَا فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْ حَفَرْتُمُ الْأَرْضَ كُلَّهَا لَوَجَدْتُمُوْهُ فِيْهِ .

دا نور مار ده د غاړې طوق ( بَد اعمال ) دي چې ده ته په غاړه کې وراچولې شي ( او ده ته پرې سزا ورکولې شي ) ، تاسو ورشئ او کوم قبرونه مو چې کنسیتي دي په هغې کې یې په یو قبر کې دفن کړئ . ځکه قسَم په هغه ذات د چا په قبضه کې چې زما ساه ده که چیرته تاسو دده د پاره ټوله زمکه اوکنئ نو په هر ځای کې به درته دا مار راووځي .

دا خلق وایي چې بیا مونږ لاړو ، او دا مړې مو په هماغه کنیستي شوي قبرونو کې په یو قبر کې خَخ کړو .

کله چې مونږ د حَج نه راواپس شو ، نو مونږ سره ددې مړي څه اَسباب وُ هغه مو دده کور ته وَر وړو ، او دده د بي بي نه مو پوښتنه وکړه : چې ستا دې خاوند به څه کار کولو چې په دې دومره سخت عذاب کې ګرفتار وُ ؟

هغې وویل : ده به غَله ( غنَم یا جَوار ) خرڅوله ، خو هره ورځ به یې د کور د ضرورت موافق غله ددینه راخیسته ، او ددې په ځای به یې په هغې کې زیاتي بُوس او نور شیان ګډوَل

( د دې د پاره چې وزن يې زيات شي ، يعنې په غله کې به يې ملاوټ کول نو ځکه په دومره سخت عذاب کې ګرفتار وُ ) .(۱)

## د يوې ستنې په وجه په عذاب قبر کې مُبتلاء کيدل

۱ . **اوله واقعه** : په '' اِصلاحي بيانات'' کې يوه واقعه ذکر ده چې : يو عالِم وفات شو ، دده د وفات نه روستو يو شاګرد دې په خُوب کې اُوليد چې په بدن باندې يې جامې نه وې ، او د سختې ګرمۍ د وجې يې په يو ميدان کې منډې راښکلې وهلې ، او سخت خفه وُ . دې شاګرد ورنه پوښتنه وکړه :

جناب ! تاسو خو ټول عُمر په عباداتو ، د دين په خدمت او د خلقو په اِصلاح او تربيت کې تير کړی و ، نو آيا په دې ټولو عباداتو کې يو عبادت هم ندې قبول شوی ؟

هغه ورته ووېل : الله تعالی چې د کوم عباداتو توفيق راکړی و هغه ټول قبول شوي ، خو دا عذاب راته د يوې ستَنې په وجه راکولې شي .

دا شاګرد وايي چې ما ورنه پوښتنه وکړه : د ستنې په وجه څنګه عذاب درکولې شي ؟ نو هغه راته ووېل : د وفات کيدو نه يو څو ورځې مخکې ما د خپل ګاونډي نه د ګنډلو يوه ستَن راوړې وه ، کله مې چې پرې جامې وګنډلې نو هغه ستَن مې په آلمارۍ کې کيښوده ، او د مانه هيره شوه چې ما واپس ورکړې وی ، بيا زه وفات شوم ، نو اوس چې ته ما په کوم عذاب کې وينې نو دا د هغه يوې ستنې په وجه دی .

(۱) عن عبدالحميد بن محمود قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ فَأَتَاهُ قَوْمٌ . فَقَالُوْا : إِنَّا خَرَجْنَا حُجَّاجًا وَمَعَنَا صَاحِبٌ لَنَا . إِذَا أَتَيْنَا فَإِذَا الصفاحُ مَاتَ . فهيأناه . ثُمَّ انْطَلَقْنَا . فَحَفَرْنَا لَهُ . وَلَحَدْنَا لَهُ . فَلَمَّا فَرَغْنَا مِنْ لَحدِهِ إِذَا نَحْنُ بِأَسْوَدَ قَدْ مَلَأَ اللَّحدَ . فَحَفَرْنَا لَهُ آخَرَ فَإِذَا بِهِ قَدْ مَلَأَ لَحَدَهُ . فَحَفَرْنَا لَهُ آخر فَإِذَا بِهِ .... فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : ذٰلِكَ الغَلُّ الَّذِيْ يغلّ بِهِ . إِنْطَلِقُوْا . فَادْفِنُوْهُ فِيْ بَعْضِهَا فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَوْ حَفَرْتُمُ الْأَرْضَ كُلَّهَا لَوَجَدْتُمُوْهُ فِيْهِ . فَانْطَلَقْنَا فَوَضَعْنَاهُ فِيْ بَعْضِهَا . فَلَمَّا رَجَعْنَا أَتَيْنَا أَهْلَهُ بِمَتَاعٍ لَهُ مَعَنَا . فَقُلْنَا لِإِمْرَأَتِهِ : مَا كَانَ يَعْمَلُ زَوْجُكَ ؟ قَالَتْ : كَانَ يَبِيْعُ الطَّعَامَ . فَيَأْخُذُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ قُوْةَ أَهْلِهِ . ثُمَّ يقرض الْقَصَل مِثْلَهُ فَيُلْقِيْهِ فِيْهِ .
كتاب الروح واللفظ له ص ۹۸ المسالة السابعة ، شرح الصدور ص ۱۷۲ باب عذاب القبر .

خو اې شاګرده ! ته داسې وکړه چې کله سهر د خُوب نه راپاڅې نو زما کورته لاړ شه، او هغوی ته ووايه چې : په فلاني آلمارۍ کې ستن ماله راکړئ ، بيا ته هغه ستن فلانکي ګاونډي ته وَسپاره ، ددې د پاره چې د ما نه دا عذاب لرې شي.

دا شاګرد چې کله سهَر د خُوب نه راپاڅيد، او دهٔ خپل استاذ کورته لاړ ، هغوی ته يې وويل : تاسو په فلانۍ الماري کې وګورئ چې ستن شته او که نه ؟ هغوی چې وکته نو وې ويل : آو ، ستن شته . ده وَرته پوښتنه وکړه : تاسو ته معلومه ده چې دا د چا ده ؟

هغوی وويل : آو ، دا مرحوم د فلانکي ګاونډي نه راخيستې وه ، خو هغه بيا وفات شو زمونږ اِراده د ورکولو وه خو مونږ ويل : چې د ميلمنو دا تلل راتلل لږ کم شي نو بيا به يې ورله ويسو.

دې شاګرد ورته وويل : ما هغه په خُوب کې وليد چې ددې يوې ستنې په وجه په عذابِ قبر کې مبتلاء دی ، نو تاسو ماته دا ستن راکړئ چې زه يې هغه ته په جلتۍ وسپارم ، ددې د پاره چې د هغه نه عذابِ قبر لرې شي ، او د هغه مالِک نه ددې روستو والي معافي هم وغواړم.

کله چې دې شاګرد دا ستن هغه مالِک ته ورووړه ، او هغه ته يې وويل : چې مرحوم ددې يوې ستنې په وجه په عذابِ قبر کې ګرفتار دی نو ته هغه ته ددې تاخير کولو معافي وکړه.

کله چې دې ګاونډي دا خبره واوريده نو په سترګو کې يې اوښکې راغلی او وې ويل : د څومره معمولي حق په ضائع کولو دې په عذاب کې ګرفتار دی . خو اې الله ! ما دې معاف کړی ، ته هم په خپل رحم سره دې معاف کړه ، او د قبر عذاب ورنه لرې کړه.

دا شاګرد وايي : کله چې زه بېګاله بيا اُوده شوم نو په خُوب کې مې بيا وليد، خو ليکن اوس معامله بَدَله وه : چې دا عالِم په ډير ښکلي باغ کې موجود و ، څلور واړه طرفته خادِمان موجود وو ، د هر قسمه ميوو اُونې موجودې وی ، او په دې باغ کې ښکلې يَخې يَخې هواګانې لګيدی ، او دا ډير زيات خوشحاله و ، نو زه نزدې ورغلم ، سلام مې پرې واچول ، د سلام نه روستو مې ورته وويل : اوس څه حال دی ؟ هغه راته وويل :

کله چې تا هغه ګاونډي ته ستن حواله کړه ، او هغه دا وويل : چې اې الله ! ما دې معاف کړی ته يې هم معاف کړی ، نو د هماغه وخت نه د ما نه عذاب لرې شو . او دا کوم نعمتونه او

خوشحاليانې چې ته ګوری نو دا د هغه عباداتو او د دين د خدمت په وجه دي چې الله تعالى د هغې بدله ماته راکړه . (١)

٢ **دويمه واقعه** : همدغه شان واقعه د حسان بن ابي سنان رحمه الله په باره کې هم نقل ده چې تر شپيتو (٦٠) کالو پورې يې پوره عبادت کړې ؤ ، او ډيره د مُشقّت زِندګي يې تېره کړې وه ، کله چې وفات شو نو په خوب کې يو چا اُوليده پوښتنه يې ورنه اُوکړه :

مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ ؟ الله ﷻ درسره څه معامله اوکړه ؟

ده ورته ووېل : خَيْرًا غَيْرَ أَنِّي مَحْبُوْسٌ عَنِ الْجَنَّةِ بِإِبْرَةٍ اِسْتَعَرْتُهَا فَلَمْ أَرُدَّهَا . (٢)

الله ﷻ راسره د خېر معامله اوکړه ليکن زه د جنت نه صرف د يوې ستَنې په وجه بَند کړې شوې يم کومه چې ما (د يو ګاونډي نه) عارِيةً راوړې وه ، او بيا مې هغه ته نه وه واپس کړې .

## د حرام خوراک په وجه ګناهونو ته رَغبت پيدا کيږي

کله چې انسان حرام خوراک کوي نو په جِسم باندې ددې ډير غلط اَثر غورځي ، ځکه ددې حرام خوراک نه په وجود کې وينه پيدا کيږي بيا دا وينه د انسان په رګونو کې ګرځي ، او ددې غلط اَثر زړه او دِماغو ته هم رَسي .

او چې کله د انسان په زړه او دِماغو کې فساد پيدا شي نو ددې په وجه بيا په ټول وجود کې فساد پيدا کيږي .

دا خبره د ځان سره په ذِهن کې ضرور کينوئ چې عام طور په زړه او دِماغو کې غلط خيالات هلته پيدا کيږي چې کله د انسان خوراک حرام وي ، ځکه په حرام خوراک سره په زړه کې ظُلمت پيدا کيږي ، او ددې ظُلمت په وجه بيا د انسان په ټول وجود باندې غلط اَثر

(١) اصلاحي بيانات ج١ ص ١٧١ .

(٢) وَعَنْ بَعْضِ الصَّالِحِيْنَ أَنَّهُ رُؤِيَ بَعْدَ مَوْتِهِ فِي الْمَنَامِ فَقِيْلَ لَهُ مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ ؟ قَالَ : خَيْرًا غَيْرَ أَنِّي مَحْبُوْسٌ عَنِ الْجَنَّةِ بِإِبْرَةٍ اِسْتَعَرْتُهَا فَلَمْ أَرُدَّهَا . كتاب الكبائر للذهبي الْكَبِيْرَةُ الثَّامِنَةُ وَالْعِشْرُوْنَ اكل الحَرَام وتناوله على أي وَجه كَانَ ص ١١٨ ؛ نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المرويّة عن الانبياء والصالحين كتاب آداب الكسب والمعاش ص ٣٥٨ .

غورځي. يعنی ددې غلط اَثر دانسان په جذباتو باندې هم غورځي، د انسان په اعمالو او اَفعالو باندې هم غورځي، د انسان په اَولاد باندې هم غورځي.

د حرام خوراک په وجه د انسان زړه توريږي، ظُلمت او سختي په کې پيدا کيږي، په دماغو کې غلط خيالات راپيدا کيږي، د نېکو اَعمالو کولو صلاحيت ورنه ختميږي. د شيطان اَثر ورباندې غالِب کيږي، نيکي کول ورته گران معلوميږي، او گناه کول ورته آسان معلوميږي.

مولانا احمد علي لاهوري رحمه الله ليکلي چې په سلو (١٠٠) کې د اَتيا (٨٠) فيصده گناهونو سبب همدا حرام خوراک دی، او باقي شل (٢٠) فيصده گناهونه د نورو خواهشاتو د وجې کيږي.

حضرت سهل تستري رحمه الله فرمايي:

مَنْ أَكَلَ الْحَرَامَ عَصَتْ جَوَارِحُهُ شَاءَ أَمْ أَبَى، عَلِمَ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ . وَمَنْ كَانَتْ طُعْمَتُهُ حَلَالًا أَطَاعَتْهُ جَوَارِحُهُ وَ وُفِّقَتْ لِلْخَيْرَاتِ. (١)

څوک چې حرام خوراک اوکړي په دې سره دده اَعضاء نافرمانه کيږي که دده خوښه وي او که نه، همدارنگې که ده ته ددې عِلم وي او که نه. او چې د چا خوراک حلال وي نو دده اَندامونه به دده فرمانبردار وي، او ده ته به د نيکيو توفيق ملاويږي.

## د مولانا يعقوب نانوتوي رحمه الله واقعه:

د ديوبند په علماؤ کې مشهور بزرگ حضرت مولانا يعقوب نانوتوي رحمه الله خپله واقعه بيانوي چې يو ځل ما يوه مُشتبِه نوړۍ اوخوړه د هغې په وجه زما په وجود دومره غلط اَثر اوشو چې ما ددې ظُلمت په خپل زړه کې محسوسول، زما زړه ته به بار بار د گناهونو وَسوسې راتلې. دا صرف ددې يوې مُشتبِه نوړۍ اثرؤ، زه په دې سخت خفه ووم، پوره يوه مياشت مې د الله ﷻ ذِکر اوکړو، د هغې نه پس ددې يوې مُشتبِه نوړۍ اَثر زما د وجود نه ختم شو. (٢)

---

(١) احياء علوم الدين ٢ / ٩١ کتاب الحلال والحرام.

(٢) دعوت عبديت حصه هشتم، لدای ممبر و محراب ج٥ ص ٤٠١.

دغه وجه ده چې اسلام د حرام خوراک نه سخته منع کړې او ځای په ځای یې د حلال خوراک حکم کړی.

## د حرام خوراک په وجه د نېکيو توفيق سَلب کيږي

دا خبره په تجربې سره هم ثابته ده چې کوم کس حرام خوراک کوي په دې سره دده نه د نېکيو توفيق سَلب کيږي، سَرکشي په کې پيدا کيږي، ګناهونو ته يې رَغبت پيدا کيږي، او داسې کس ته د الله ﷻ قُرب هم نه نصيبه کيږي، ځکه د الله ﷻ د قُرب د پاره اَوّلنې شرط حلال خوراک دی.

بل دا چې کله انسان حلال خوراک کوي نو په دې سره په بَدن کې يو نُورانيت پيدا کيږي، مُطمئِن کيږي، او د عباداتو سره يې شَوق پيدا کيږي. او چې حرام خوراک کوي نو په سره د انسان په زړه کې ظُلمت، تياره او بې اِطميناني پيدا کيږي.

نن صبا چې د اکثرو خلقو نيکو اَعمالو طرف ته رَغبت نه پيدا کيږي نو ددې اَصل وجه همدا حرام خوراک دی. (۱)

## د حرام مال اَنجام ډير بَد وي

حرام مال اګر چې د شيطاني اَثر په وجه په خوراک کې مزيدار معلوميږي ليکن دا د اَنجام په اعتبار سره ډير بَد وي.

علماؤ ددې داسې مثال ورکړی لکه په يو سړي باندې د خارښ بيماري وي نو ده ته ځان ګرول ډير خوَند ورکوي مګر لږ وخت پس چې کله د خارښ دا چَپه ختمه شي نو بيايې هغه ګرولي اَندامونه سوزي او سخت دَرد کوي.

دغه شان په دُنيا کې د شيطاني اَثر په وجه حرام خوراک مزيدار معلوميږي خو ليکن ددې اَنجام ډير بَد وي، د ډيرو ګناهونو کولو سبب جوړيږي.

همدارنګې د مرګ په وخت، قبر او حشر کې د سختې سزا سبب ګرځي، او د حرام مال په وجه چې کومه غوښه پيدا شوې وي هغه د جهنم په اُور باندې د سوَزيدو مُستحق ګرځي.

---

(۱) خطبات حکيم الاسلام ج۳ ص۲۰۸.

ډير بَدبخته خلق داسې هم شته چې هغوی ته په همدې حرام خوراک کې لِذت محسوسيږي ، حلال خوراک اګر چې پاکيزه او پاک دی خو دوی په حلال خوراک کې دا لِذت نه محسوسوي ، ځکه که دوی په حلال خوراک کې دا لذت محسوسولی نو بيا به يې حلاله مزدوري کوله ، دوی چې شپه او ورځ د حرامو پسې مَنډې وهي دا ځکه چې د شيطاني اثر په وجه د دوی مِزاج خراب شوې وي چې حلال خوراک ورباندې ښه نه راځي .

ددې داسې مثال دی لکه د بيمارۍ په وجه د يو سړي مِعده خرابه شي نو بيا بهترين پاک خوراک هم دده مِعده نه قبلوي ، او ښه ورباندې نه راځي .

کوم کس چې هميشه حرام خوراک کوي نو ده چونکه په خپل زړه او دِماغو کې د حلال خوراک نُورانيت نوي محسوس کړی نو ځکه ورته په حرام خوراک کې خوَند او مزه محسوسيږي ، که چيرته دې حرام خوَرو څه وخت حرام خوراک پريخود او حلال پاکيزه خوراک يې شروع کړو نو دوی به په خپله ددې نُورانيت او برکت محسوس کړي ، بيا به هيڅ کله د حرام خوراک اِراده او نه کړي ، خو افسوس چې بعضې خلقو د حلال مال طلب کول بالکل پريخی ، هميشه د حرام مال راپيدا کولو په کوشش کې وي .

## حرام مال په غلطو ځايونو کې خرچ کيږي

کوم مال چې په ناجائزه طريقې سره ګټل شوې وي هغه اکثر په غلطو ځايونو کې خرچ کيږي ، او چې کوم مال په جائز طريقو سره ګټل شوې وي هغه اګر چې لږ وي خو بيا هم په صحيح ځايونو کې خرچ کيږي .

شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله فرمايي چې زه مال د خرچ د ځايونو نه معلوموم " چې دا په کومې طريقې سره ګټل شوی ؟ "

ځکه کله چې يو مال په صحيح ځای کې خرچ کيږي زه پوهه شم چې دا په حلالې طريقې سره ګټل شوی ځکه خو په صحيح ځای کې خرچ شو ، او چې کله په ناجائزو ځايونو کې خرچ کيږي نو زه پوهه شم چې د مال په ګټلو کې ضرور څه ناجائز صورت پيدا شوی ځکه خو د ګناه په ځايونو کې خرچ شو .(١)

(١) خطبات حکيم الاسلام ج٣ ص٢٠٨ .

# د حرام خوراک نه پرهيز

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَأَنْ يَجْعَلَ أَحَدُكُمْ فِي فِيْهِ تُرَابًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَجْعَلَ فِي فِيْهِ مَا حَرَّمَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ. (۱)

په تاسو کې چې يو کس په خپله خُله کې خاورې واچوي دا دده د پاره ډيرې بهترې دي ددې نه چې په خپله خُوله کې هغه شی واچوي کوم چې الله ﷻ حرام کړې دی.

۲. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ أَحَدَكُمْ لَنْ يَمُوْتَ حَتّٰى يَسْتَكْمِلَ رِزْقَهُ. فَلَا تَسْتَبْطِئُوا الرِّزْقَ وَاتَّقُوا اللهَ. أَيُّهَا النَّاسُ! وَأَجْمِلُوْا فِي الطَّلَبِ خُذُوْا مَا حَلَّ وَدَعُوْا مَا حُرِّمَ. (۲)

اې خلقو! په تاسو کې به يو کس تر هغه وخته پورې وفات نشي تر څو پورې چې دې خپل رزق پوره نه کړي، پس تاسو د رِزق په تاخير سره په زړه کې تنګي مه محسوسوئ، د الله ﷻ نه اُوويريږئ، اې خلقو! د رزق په طلب کولو کې د اِختصار نه کار واخلئ، پس الله ﷻ چې کوم څيزونه حلال کړي دي هغه طلب کړئ، او کوم څيزونه يې چې حرام کړي دي هغه پريږدئ.

# په حرام مال کې برکت نه وي

الله ﷻ چې په حلال مال او حلال خوراک کې کوم برکت ايخی دايې په حرام مال کې ندې ايخی، ځکه د حرامو ډير مال نه انسان هغه فائده نشي حاصلولی څومره چې د لږ حلال مال نه حاصلولې شي.

(۱) شعب الايمان ۷/۵۰۷ رقم الحديث ۵۳۷۹، كنز العمال ۴/۱۴ رقم الحديث ۹۲۵۹ كتاب البيوع الباب الاول فى الكسب.

(۲) المستدرک على الصحيحين للحاكم ۴/۳٦۱ رقم ۷۹۲۴ كتاب الرقاق، وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۰۲۰۵ باب الاجمال فى طلب الدنيا وترک طلبها بما لايحل، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱٦۹۸.

نن صبا اکثره خلق د بې برکتۍ په وجه پریشانه دي ، د ډیر مال خرچ کولو سره بیا یې هم د کور ضرورتونه نه پوره کیږي .

خلق د روپو شمار او ډیر والي ته ګوري خو برکت ته یې نه ګوري : چې آیا په دې کې برکت شته او که نه ؟ بلکه ډیر خلق د سره د برکت په مطلب هم نه پوهیږي .

که د یو انسان سره ډیر مال و دولت وي خو ده ته اطمینان او سکون نه وي حاصل او دده ضرورتونه وربانديې نه پوره کیږي نو په داسې مال و دولت به انسان څه اوکړي ؟ دا بې برکتي ده .

او که دده سره مال و دولت کم وي خو اطمینان او سکون ورته حاصل وي ، ضرورتونه یې پرې پوره کیږي نو دا برکت دی . او دا برکت الله ﷻ په حلال مال کې ایخی ، په حرام مال کې یې ندې ایخی .

بزرګانو دا هم لیکلي چې کله حرام مال د حلال مال سره یو ځای شي نو په دې سره دا حلال مال هم تباه کیږي ، او ددې حلال مال برکت هم ورسره ختمیږي . (۱)

# په ظلم سره د بل چا د مال اخیستو سزا

څوک چې د بل چا مال په زور او ظلم سره واخلي نو الله ﷻ داسې کس ته د آخرت د سزا سره سره په دُنیا کې هم عبرت ناکه سزا ورکوي ، علامه ذهبي رحمه الله په کتاب الکبائر کې یوه واقعه رانقل کړې :

چې یو کس بل کس په داسې حالت کې اُولیده چې لاس یې د اُولِي سره کټ شوي وُ ، او دا آواز یې کولو :

" مَنْ رَآنِيْ فَلَا يَظْلِمَنَّ أَحَدًا "

څوک چې ما اوګوري نو بیا به په هیچا باندې ظلم او نه کړي ( او نه به د چا نه مال په ظلم سره واخلي ) .

دا کس وایي چې زه ورنزدې شوم ، ما ورته وویل :

(۱) اصلاحي خطبات ج۱۰ ص۱۹٦ ، و ص ۲۰۰ .

يَا أَخِيْ! مَا قِصَّتُكَ؟ اې وروره ! ستاڅه قصه ده ؟

هغه راته وويل : زما ډيره عجيبه واقعه ده ، هغه داچې زه د ظالمانو سره ملګرې ووم ، ما يوه ورځ يو ښكاري اوليده چې يو لوي ماهي يې د سمندر نه نيولې ؤ ، ماچې اوليده نو زما ډير خوښ شو ، ما ورته وويل :

أَعْطِنِيْ هٰذِهِ السَّمَكَةَ . دا ماهي ما له راكړه .

هغه راته وويل : لَا أُعْطِيْكَهَا ، أَنَا آخُذُ بِثَمَنِهَا قُوْتًا لِعِيَالِيْ .

دا تاته نه دركوم ، ځه زه ددې په قيمت باندې خپلو بچو له خوراک أخلم .

ما هغه ښكاري ووهل او په زوره مې ورنه واخيست ، ماهي مې په لاس كې نيولې ؤ ، كورته راروان ووم ناڅاپه دې ماهي زما د لاس په كټه ( ابهامی ) ګوته باندې سخت چَک ( يعنی خُله ) اولږوله ، كله مې چې كورته راوړو او د لاس مې ښكته كړو نو زما دې كټې ګُتې سخت دَرد شروع كړو ، رااوپړسيده ، تر سهَره پورې ما ددې دَرد او پړسوب نه لږ خوب هم او نه كړو .

كله چې سهَر شو نو زه طبيب ( ډاكټر ) ته لاړم ، هغه ته مې چې دا اوخوده هغه راته وويل : دا آكِله يعنی خوړونكې خطرناكه بيماري ده دا ګوته كټ كړه ګني بيا به لاس كټ كوی ، نو ما دا ګوته ( د طبيب په واسطه ) كټ كړه ، په صبا مې ددې لاس پَنجې دَرد شروع كړو ، او داسې دَرد يې كولو چې ټوله شپه مې ورنه خوب اونكړو ، او د دَرد د لاسه نه شوم قراريدی . طبيب راته وويل : د لاس دا پَنجه كټ كړه ګني پورته څنګل پورې به دا بيماري اورسيږي ، ما د لاس دا پَنجه هم كټ كړه .

همداسې به دا دَرد پورته تللو ، بيا مې څنګل كې لاس كټ كړو ، آخِر دا دَرد د اوږې پورې حصې ته رااورسيده ، ډاكټر وويل : كه دا لاس د اوږې سره كټ نه كړی كيدې شي دا دَرد او نيماري ستا غونډ وجود ته خوره شي نو د ډاكټر په وينا مې لاس د اوږې سره كټ كړو .

بيا رانه چا پوښتنه اوكړه چې : دا دَرد د څه شي نه راپيدا شوې ؤ ؟ ددې سبب څه شی ؤ ؟ ما ورته قصه بيان كړه چې دا مې د يو كس نه ماهي په زوره اخيستې ؤ ، په لاره كې دې ماهي زما د لاس په كټه ګته باندې چَک اولږول د هغې نه دا دَرد پيدا شو . هغه راته وويل :

لَوْ كُنْتَ رَجَعْتَ فِيْ أَوَّلِ مَا أَصَابَكَ الْأَلَمُ إِلَىٰ صَاحِبِ السَّمَكَةِ وَاسْتَحْلَلْتَ مِنْهُ وَأَرْضَيْتَهُ لَمَا قَطَعْتَ مِنْ أَعْضَائِكَ عُضْوًا . فَاذْهَبِ الْآنَ إِلَيْهِ وَاطْلُبْ رِضَاهُ قَبْلَ أَنْ يَصِلَ الْأَلَمُ إِلَىٰ بَدَنِكَ .

که چیرته ته د دَرد په شروع کې د ماهي واله مالِک ته، رغلې وی، د هغه نه دې معافي غوښتې وی، او هغه دې راضي کړې وی نو تا به د خپلو آندامونو نه لږ ځای هم نهٔ غوځ کړی ( خو تا غلطي کړی چې خپل لاس دې غوځول خو د هغه مظلوم نه دې معافي نه غوښته ) ، لهذا اوس ورشه، د هغه نه معافي اوغواړه، او هغه راضي کړه مخکې ددې نه چې دا دَرد ستا بدن ته اُورسي .

دا کس وايي چې زه د هغه ماهي واله کس پسې اُووتم، په ښار کې مې لټول، تر دې چې پیدا مې کړو، زه د هغه په خپو باندې پرېوتم، چَپ (ښُکل) مې کړی او ژړل مې، په ژړا کې مې ورته ووېل :

يَا سَيِّدِيْ ! سَأَلْتُكَ بِاللّٰهِ إِلَّا عَفَوْتَ عَنِّيْ

اې زما سرداره ! زه د تانه د الله ﷻ د پاره سوال کوم چې ما معاف کړه .

هغه راته ووېل : مَنْ أَنْتَ ؟ ته څوک يې ؟

ما ورته ووېل :

أَنَا الَّذِيْ أَخَذْتُ مِنْكَ السَّمَكَةَ . زه هغه کس يم چې ما د تانه ماهي په زُوره اخيستې وُ .

بیا مې ورته د لاس غوڅولو ټوله قصه بیان کړه، او هغه ته مې خپل لاس اُوخوده، هغه چې زما لاس اُوکته نو په ژړا شو او وې وېل :

اې زما اسلامي وروره ! کله چې ما په تا باندې دا مُصيبت اُوليده نو ما ته معاف کړی .

دا کس وايي چې ما بيا ورته ووېل :

يَا سَيِّدِيْ ! بِاللّٰهِ هَلْ كُنْتَ قَدْ دَعَوْتَ عَلَيَّ لَمَّا أَخَذْتُهَا ؟

اې زما سَرداره ! په الله قسَم درکوم چې کله ما د تا نه ماهي په زُوره واخيست نو آيا تا ما ته خبرې کړې وی ؟

هغه ووېل : آو، ما دا خبرې کړې وی :

اې الله ! دې کس په خپل قوّت او زور سره د ما کمزوري نه هغه رزق په زوره واخيست کوم چې تا ماته راکړې وُ :

فَأَرِنِي قُدْرَتَكَ فِيهِ. پس ته ماته خپل قدرت دده په وجود کې اوښايه .

دا کس وايي چې ما ورته وويل : قَدْ أَرَاكَ اللهُ قُدْرَتَهُ فِيَّ .

اې زما سرداره ! اوس تا ته الله ﷻ خپل قدرت زما په وجود کې اوخوده .

لهذا زه اوس الله ﷻ ته توبه اوباسم او تر څو پورې چې زه ژوندې يم إن شاء الله ددې ظالمانو خدمت او ملګرتيا به هيڅکله او نکړم ، او نه به د دوی سره د ظلم په کارونو کې مدد اوکړم. (١)

---

(١) قَالَ بَعضُهم رَأَيتُ رجلًا مَقطُوعَ اليَدِ مِنَ الكَتفِ وَهُوَ يُنَادي "مَن رَآنِي فَلَا يَظلِمَنَّ أَحَدًا" فتقدمتُ إِلَيهِ فَقلتُ لَهُ : يَا أَخِي ! مَا قِصَّتُكَ ؟ قَالَ : يَا أَخِي قصَّة عَجِيبَة وَذٰلِكَ أَنِّي كنتُ مِنْ أعوان الظلمَة فَرَأَيتُ يَومًا صَيَادًا وَقَد اصطَادَ سَمَكَةً كَبِيرَةً فأعجبتْنِي . فَجِئتُ إِلَيهِ فَقلتُ : أَعطِنِي هٰذِهِ السَّمَكَةَ . فَقَالَ : لَا أُعطِيكَهَا . أَنَا آخُذُ بِثَمَنِهَا قُوتًا لِعِيَالِي . فَضَرَبْتُهُ وأخذتُها مِنهُ قَهرًا وَمَضَيتُ بهَا . قَالَ : فَبينا أَنا أَمْشِي بِهَا حاملها إِذْ عَضَّتْ عَلى إبهامِي عَضَّةً قَوِيَّةً . فَلَمَّا جِئتُ بهَا إِلى بَيتِي وأَلقيتُها مِن يَدي ضربت على إبهامي وآلمتني أَلمًا شَدِيدًا حَتّٰى لَمْ أَنَمْ مِن شدَّةِ الوَجَع والألم و ورمتْ يَدي . فَلَمَّا أَصبَحتُ أتيتُ الطَّبِيبَ وشكوتُ إِلَيهِ الأَلَم . فَقَالَ : هٰذِه بَدْءُ الآكلة . أقطعها وَإِلَّا تقطع يدك . فَقطعتُ إبهامي ثمَّ ضربت على يَدي فَلمْ أطق النومَ وَلَا القَرار مِنْ شدَّة الأَلَم فَقيل لِي : إقطعْ كفك . فقطعتُه . وَانتشر الأَلَم إِلَى الساعد وآلمني أَلمًا شَدِيدًا وَلم أطق القَرارَ وَجعلتُ أستغيثُ مِن شدَّة الأَلَم . فَقيل لِي : اقطعها إِلَى المرفق . فقطعتُها فانتشر الأَلَم إِلَى العَضُدِ وَضربت على عضدي أشد من الأَلَم الأول . فَقيل اقْطَعْ يدك من كتفك وَإِلَّا سرى إِلى جسدِك كُله . فقطعتُها . فَقَالَ لِي بعض النَّاس : مَا سَبَبُ ألمك ؟ فَذكرتُ قِصَّة السَّمَكَة . فَقَالَ لِي : لَوْ كُنتَ رَجَعتَ فِي أَوَّلِ مَا أَصَابَكَ الأَلَمُ إِلَى صَاحِبِ السَّمَكَةِ وَاستَحْلَلتَ مِنهُ وَأَرضَيتَهُ لَمَا قَطَعتَ مِن أَعضَائِكَ عُضوًا . فَاذهَبِ الآنَ إِلَيهِ وَاطلُبْ رِضَاهُ قَبلَ أَن يَصِلَ الأَلَمُ إِلى بَدَنِكَ . قَالَ : فَلَمْ أزلْ أَطلُبُهُ فِي البَلَدِ حَتّٰى وجدتُه فَوَقعتُ على رجلَيهِ أقبلُها وأبكِي وَقلتُ لَهُ : يَا سَيِّدِي ! سَأَلتُكَ بِاللهِ إِلَّا عَفَوتَ عَنِّي . فَقَالَ لِي وَمَنْ أَنتَ ؟ قُلتُ : أَنَا الَّذِي أَخَذتُ مِنكَ السَّمَكَةَ غَصبًا . وَذَكَرتُ مَا جَرٰى وأريته يدِي . فبكى حِينَ رَآهَا . ثمَّ قَالَ . يَا أخي : قد أَحلَلتُكَ مِنهَا لِمَا قد رَأَيتُهُ بِكَ مِن هٰذَا البَلَاءِ . فَقلتُ : يَا سَيِّدِي ! بِاللهِ هَل كُنتَ قَدْ دَعَوتَ عَلَيَّ لَمَّا أَخَذتُهَا ؟ قَالَ : نَعَمْ قُلتُ : اَللّٰهُمَّ إِنَّ هٰذَا تقوى عَلَيَّ بقوته على ضَعفِي على مَا رَزَقْتَنِي ظُلمًا فَأَرِنِي قُدرَتَكَ فِيهِ . فَقُلتُ : يَا سَيِّدِي ! قَدْ أَرَاكَ اللهُ قُدرَتَهُ فِيَّ وَأَنَا تَائِبٌ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ عَمَّا كُنتُ عَلَيهِ مِنْ خِدمَةِ الظلمَة وَلَا عدت أقف لَهُم على بَاب ، وَلَا أكون مِنْ أعوانِهِم مَا دمتُ حَيًّا إِن شَاءَ الله . كتاب الكبائر للذهبي الكبيرة السَّادِسَة وَالعشرُونَ الظُّلم ص ١٢٧ طبع اشاعت اسلام كتب خانه پشاور .

# د حرام مال نه صدقه ورکول نه قبليږي

د مشکوة شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَا يَكْسِبُ عَبْدٌ مَالَ حَرَامٍ فَيَتَصَدَّقُ مِنْهُ فَيُقْبَلُ مِنْهُ، وَلَا يُنْفِقُ مِنْهُ فَيُبَارَكُ لَهُ فِيهِ، وَلَا يَتْرُكُهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ إِلَّا كَانَ زَادَهُ إِلَى النَّارِ، إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَا يَمْحُو السَّيِّئَ بِالسَّيِّئِ، وَلٰكِنْ يَمْحُو السَّيِّئَ بِالْحَسَنِ، إِنَّ الْخَبِيثَ لَا يَمْحُو الْخَبِيثَ . (١)

داسې هيڅ کله نشي کيدى يو بنده حرام مال اُوګټي ، ددې نه صدقه ورکړي او دده دا صدقه قبوله کړې شي ( بلکه دا هيڅ کله نه قبليږي ) ، او داسې هم نشي کيدى چې انسان دا حرام مال ( په خپل ځان او خپل اَهل و عيال باندې ) خرچ کوي او ته ده په دې کې برکت واچولې شي ( بلکه په حرام مال کې برکت نه وي ) . او کوم کس چې د ځان نه پس حرام مال پريږدي دا به دده د پاره دجهنم تللو سامان ( او ذريعه ) وي . ( او دا خبره ياده لرئ چې ) بيشکه الله تعالى بَدي د بَدى په ذريعه نه ختموي ، بلکه بَدي د نيکى په ذريعه ختموي ، بيشکه خبيث خبيث نه ختموي ( يعنى حرام مال په خپله خبيث او ناپاکه دى نو ددې په ذريعه د انسان ګناهونه نه ختميږي ، بلکه ګناهونه د حلال مال په صدقه کولو سره ختميږي ) .

په قرآن کريم الله رب العزت فرمايي :

﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ . (٢) ترجمه : بيشکه نيکيانې بدى لرې کوي .

د ترمذي شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَا تُقْبَلُ صَلٰوةٌ بِغَيْرِ طُهُوْرٍ وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُوْلٍ . (٣)

---

(١) رواه احمد ١/٣٧٨ ، مشكاة المصابيح كتاب البيوع باب الكسب وطلب الحلال رقم الحديث ٢٧٧١ (١٣) ، شرح السنة للبغوي ج٨ ص١٠ رقم الحديث ٢٠٣٠ ، كنزالعمال ج٤ ص١٧ رقم الحديث ٩٢٨٠ كتاب البيوع الباب الاول في الكسب الفصل الاول في فضائل الكسب الحلال .

(٢) سورة هود آية ١١٤ .

(٣) سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ ١/٥١ رقم الحديث ١ ، وقال الترمذي هَذَا الحَدِيثُ أَصَحُّ شَيْءٍ فِي هَذَا البَابِ وَأَحْسَنُ . شرح السنة للبغوي ١/٣٢٩ رقم ١٥٧ وقال البغوي : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. أَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ مِنْ رِوَايَةِ ابْنِ عُمَرَ ، ابن ماجه رقم ٢٧٢ ، المسند ٢/٣٩ ، ٢/١٩ ، وقال الشيخ احمد شاكر : اسناده صحيح رقم ٤٩٦٩ ، نضرة النعيم ٧/٢٧٢٩ الابواب العامة .

مونځ بغير د پاکوالي (او اَودس) نه نه قبليږي ، او صدقه د خيانت او دُهوکې د مال نه نه قبليږي . (۱)

په قرآن کريم کې هم د حلال او پاکيزه مال نه د خرچ کولو حکم راغلی ، الله تعالی فرمايي:

﴿ يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴾ . (۲)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو ( د الله ﷻ په لاره کې ) هغه پاکيزه څيزونه خرچ کړی کوم چې تاسو ګټلي دي ، او کوم چې مونږ تاسو د پاره د زمکې نه راويستلي دي ، او تاسو د رَدي ( ناکاره ) څيز اِراده مه کوئ چې د هغې نه ( د الله ﷻ په لاره کې ) خرچ کوی ، حالانکه تاسو په خپله ددې رَدي څيز اخيستونکي نه يی مګر دا که تاسو په هغې ستر ګې پټې کړی ، او په دې پوهه شی چې الله ﷻ بې نيازه او د تعريف لائق دی .

سفيان ثوري رحمه الله فرمايي :

مَنْ أَنْفَقَ مِنَ الْحَرَامِ فِيْ طَاعَةِ اللهِ كَانَ كَمَنْ طَهَّرَ الثَّوْبَ النَّجِسَ بِالْبَوْلِ . وَالثَّوْبُ النَّجِسُ لَا يُطَهِّرُهُ إِلَّا الْمَاءُ . وَالذَّنْبُ لَا يكفرهُ إِلَّا الْحَلَالُ . (۳)

څوک چې په نېکو کارونو کې حرام مال خرچ کوي ددې مثال داسې دی لکه يو کس چې په تشو متيازو باندې جامې صفا کوي ، او ګنده جامې خو صرف په اُوبو صفا کيږي ، همدغه رنګې ګناهونه هم صرف په حلال مال خرچ کولو سره صفا کيږي .

**د غلط فهمۍ اِزاله** : ددې نه دا خبره هم معلومه شوه چې کوم کس د حرام مال نه صدقه و رکوي او بيا داګمان کوي چې ګني په دې سره زما دا مال پاک شو نو د دوی دا ګمان

---

(۱) والغلول يعنى ما اكتسبه من طريق غير مشروع . واصل الغلول : الخيانة والغش . نضرة النعيم ۹ / ۳۹۷۷ .

الغلول: الخيانة . وأصله السرقة من مال الغنيمة قبل القسمة . نضرة النعيم ۷ / ۲۷۲۹

(۲) سورة البقرة آية ۲۶۷ .

(۳) احياء علوم الدين ج۲ ص ۱۲۵ ط مكتبه رشيديه كوئته ، نزهة الناظرين كتاب آداب الكسب والمعاش ص ۳۵۵ .

باطل دی ، ځکه د حرام مال نه چې کومه صدقه ورکړې شي دا په خپله مقبول نه ده نو په دې سره به دا نور مال څه پاک شي ؟ یا په دې سره به د انسان ګناهونه څه صفا شي ؟

بلکه بعضې علماؤ خو تر دې پورې لیکلي چې که یو کس د حرام مال نه صدقه ورکړي او بیا په دې سره د ثواب اُمید ساتي نو په دې سره د کُفر خطره ده .

## د خپل أولاد د پاره ځان دجهنم أور ته غورځول ندي په کار

ډیر خلق داسې دي چې هغوی د اَولاد خوشحالولو او د مَزو کولو د پاره حرام مال راجمع کوي چې ددې په ذریعه خپل ځان د جهنم او د الله ﷻ د غضب مستحق ګرځوي ، حالانکه همدا بچې به د قیامت په ورځ د انسان نه جدا وي او دې به په خپله ددې مال حساب و کتاب ورکوي .

**په قیامت کې د هر بنده نه څلور ضروري پوښتنې :** رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَا تَزَالُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ أَرْبَعٍ : عَنْ عُمْرِهِ فِيْمَ أَفْنَاهُ ؟ وَعَنْ شَبَابِهِ فِيْمَ أَبْلَاهُ ؟ وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اِكْتَسَبَهُ وَفِيْمَ أَنْفَقَهُ ؟ وَعَنْ عِلْمِهِ مَاذَا عَمِلَ فِيْهِ ؟ (١)

د قیامت په ورځ به د انسان دواړه قدمونه تر هاغه وخته پورې د خپل ځای نه او نه خوَزي تر دې پورې چې دده نه د څلورو خبرو پوښتنه اوشي ( اول دا چې ) ده خپل عُمر په څه شي خرچ کړې وُ ؟ . (دویم دا چې ) خپله ځواني یې په کوم کار کې زړه کړې وه ؟ . (دریم دا چې ) مال یې د کوم ځای نه ګټلی وُ او په کوم ځای کې یې خرچ کړې وُ ؟ . ( او څلورم دا چې ) په خپل عِلم یې څومره عمل کړې وُ ؟

---

(١) صحيح الترغيب والترهيب ج٢ ص ٣١٩ رقم الحديث ١٧٢٦ (١٠) ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١١١ . وفي رواية : لَا تَزُوْلُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهِ فِيْمَا أَفْنَاهُ . وَعَنْ عِلْمِهِ فِيْمَ فَعَلَ . وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيْمَ أَنْفَقَهُ . وَعَنْ جِسْمِهِ فِيْمَ أَبْلَاهُ . رواه الترمذي بَابٌ فِي الْقِيَامَةِ ١٩٠/٤ رقم الحديث ٢٤١٧ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . الترغيب والترهيب ج٣ ص ٤٢٣ رقم الحديث ٣٥٩٢ (١) فصل في ذكر الحساب وغيره ، كنز العمال رقم الحديث ٣٨٩٨١ .

انسان ته الله ﷻ عقل ددې دپاره ورکړی چې دې د حلالو او حرامو ، جائزاو ناجائز په مینځ کې تمییز اوکړي .

کله چې انسان حرام خوراک کوي نو دا څوک په زوره ده ته په خله کې نه ورمنډي چې کني صبا د قیامت په ورځ دا کس د مجبوریت عُذر پیش کړي ، بلکه چې کله انسان خلې ته حرامه نوړه را اوچتوي نو دا په خپل قصد او ارادې سره د عقل او علم باوجود د قرآن کریم او احادیثو احکامات د خپو لاندې کوي او دا حرامه نوړه خوري ، چې ددې په وجه انسان د جهنم مُستحق شي ، او د قیامت په ورځ به د هرې هرې نوړې حِساب ورکوي .

بل دا چې دا مال و دولت دانسان نه پاتې دی ، په قبر او مَحشر کې به صِرف د انسان نیک اَعمال په کار راځي . (۱)

## په آخِره زمانه کې د حلالو او حرامو په مینځ کې تمییز نه کول

رسول الله صلی الله علیه وسلم څه د پاسه څوارلس سوه کاله مخکې دا پیشن ګویي ورکړې چې قیامت ته نزدې به خلق د حلالو او حرامو په مینځ کې هیڅ تمییز نه کوي .

د بخاري شریف حدیث دی ، نبي علیه السلام فرمایي :

لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، لَا يُبَالِي الْمَرْءُ بِمَا أَخَذَ الْمَالَ، أَمِنْ حَلَالٍ أَمْ مِنْ حَرَامٍ . (۲)

په خلقو باندې به داسې یوه زمانه راشي چې انسان کوم مال حاصلوي دې به ددې په باره کې هیڅ دا پَرواه نه کوي چې : آیا دا حلال دی او که حرام ؟

یعنی په آخِره زمانه کې به خلق د مال و دولت داسې لالچیان شي چې د حلالو او حرامو په مینځ کې به هیڅ تمییز نه کوي ، د هر چا نظر به صرف د مال په راجمع کولو وي .

---

(۱) دا مضمون د ترمذي شریف په دې حدیث کې هم ذکر دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثٌ ، فَيَرْجِعُ اِثْنَانِ وَيَبْقَى وَاحِدٌ . يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ . فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ . سنن الترمذي ۴/ ۱۶۷ رقم الحديث ۲۳۷۹ بَابُ مَا جَاءَ مَثَلُ ابْنِ آدَمَ وَأَهْلِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ وَعَمَلِهِ ، مسند احمد ۱۹/ ۱۳۵ رقم الحديث ۱۲۰۸۰ مُسْنَدُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ .

(۲) صحيح البخاري كتاب البيوع بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً ... } رقم الحديث ۲۰۸۳ ، مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول رقم الحديث ۲۷۶۱ .

نن صباهم همدا حالت دی هر کس دا کوشش کوي چې په څه طريقې سره مال جَمع کړي، ددې پرواه نه کوي چې آيا دا حلال دی او که حرام .

## د يوې شُبهې جواب

بعضې خلق دا وايي چې : " نن صبا حلال مال بالکل نه ملاويږي نو ځکه مونږ د مَجبوريت نه په حرامو کې مُبتلاء يو "

ليکن ددې خلقو دا خبره غلطه ده ، ځکه د الله ﷻ د رَحمت دروازې کلاؤ دي کوم کس چې حلال ګټل غواړي او د حلال رِزق په تلاش کې وي نو الله ﷻ په خپل فضل و کَرَم سره بيا داسې کس ته حلال مال هم ورکوي ، او په دې کې ورته برکت هم اچوي .

البته دا خبره ضرور ده چې حلال مال کم ملاويږي دا د فضول خَرچو او مزو د پاره نه وي ، او س کوم کس چې فضول خَرچي کوي او د شريعت د حدودو خِلاف وَرزي کوي نو خامخا به دې بيا په حرامو کې مُبتلاء کيږي .

هغه انسان خُوش قِسمته دی چې دې په لږ حلال مال باندې صبر اوکړي او دداسې دير حرام مال نه ځان بچ کړي کوم چې دده د جهنم د تللو ذريعه ګرځي .

## چې کله انسان د حلال رِزق حاصلولو اِراده اُوکړي نو الله ﷻ ورته وسائِل برابروي

کله چې يو انسان د حرام مال نه ځان ساتي او د حلال رزق حاصلولو کلکه اِراده اوکړي نو الله ﷻ داسې کس ته د حلال رزق وسائِل برابروي ، او د غيبو نه دده مدد کوي .

حضرت شبلي رحمه الله مشهور بزرګ تېر شوی ، دې وايي چې يو ځل ما د الله ﷻ د رَضا حاصلولو په خاطر دا کلکه اِرداده اوکړه چې تر څو پورې مې د يو څيز متعلق پوره تحقيق نه وي کړی "چې دا حلال دی او که نه ؟ " نو تر هغې وخته پورې به دا نه خورم .

بيا زه يو ځنګل طرف ته اُووتم ، هلته ګرځيدم ، د اِنځريوه اُونه مې اُوليده چې د اِنځرونه ډکه وه ( ما ګمان اوکړو چې ګني دا ځنګلي اُونه ده ، او د چا په مِلکيت کې نه ده نو ) ما اِراده اوکړه چې يو څو اِنځر ورنه د خوراک د پاره را اُوشوکوم ، کله چې ورنزدې شوم :

فَنَادَتْنِي الشَّجَرَةُ : اِحْفَظْ عَلَيْكَ عقدَکَ ، لَا تَأْكُلْ مِنِّي فَإِنِّي لِيَهُوْدِيٍ . (١)

ماته د اُونې نه آواز راغی : ( ای شبلي ! ) ته د خپلې وعدې لحاظ اُوساته ، د مانه خوراک مه کوه ، ځکه زه د يو يهودي په ملک کې يم .

**فايده** : تاسو واوريده چې کله حضرت شبلي رحمه الله د الله ﷻ د رضا حاصلولو په خاطر د حلال خوراک خوړلو کلکه اِراده اوکړه او بيا يې په غلط فهمۍ کې د يهودي د اُونې انځر راشوکول اوغوښته نو الله ﷻ ورته اُونه ګويا کړه او خپل حالت يې ورته بيان کړو چې زه د يهودي په مِلکيت کې يم .

## خپل خواهشات کنټرول کول ، او د حرامو نه ځان ساتل

محترمو مسلمانانو ! نن که زمونږ په زړونو کې د يو شي خواهش راشي نو مونږ سمدستي دا پوره کوو ، که دا په حلال مال سره وي او که حرام مال سره .

ليکن که مونږ د خپلو اَسلافو تاريخ اوګورو نو مونږ ته به معلومه شي چې هغوی د حرام مال نه داسې ځان ساتل چې د دوی په زړونو کې به په کلونو کلونو د يو خوراک خواهش ؤ خو ليکن د غُربت او فقيرۍ د وجې به يې دغه خواهش نه شو پوره کولی ، هميشه به يې صبر کولو ، هيڅ کله يې داسې ندي کړي چې د دې خواهش پوره کولو د پاره يې د حرام مال اِراده کړې وي .

**د څلويښتو کالو پورې د يخ شوې اينې ( جګر ) خواهش کول** محمد بن واسع رحمه الله فرمايي چې د څلويښتو ( ۴۰ ) کالو پورې زما دا خواهش ؤ چې يخ شوې اينه ( جګر ) اُوخورم خو ليکن د غُربت د وجې مې دا نه شو پوره کولی ، بلکه صبر به مې کولو ، او خپل خواهش به مې کنټرول کولو .

يو ځېره زه په جهاد کې په دې نيت باندې شريک شوم چې د ثواب حاصلولو سره سره که چيرته په مالِ غنيمت کې ماته چيلۍ را اُورسي نو زه به يې ذبح کړم ، او اينه به ورنه ځان له پخه کړم نو دا خواهش به مې پوره شي .

(١) ترغيب المسلمين .

لهذا مونږ د جهاد د پاره اُووتو ، د مشرکینو سره مو جهاد اوکړو ، د جنګ نه پس مونږ ته مالِ غنیمت په لاس راغی ، ما په خپله حِصه کې ورنه چیلی واخیسته ، ما یو ملګري ته وویل : دا حلاله کړه ، ددې اینه پَخه کړه ( په شریکه به یې اُوخورو ) ، او زه په خپله اُوده شوم.

په خُوب کې مې اُولیده چې د آسمان نه فرښتې رابښکته شوی ، او هغوی دا لیکل شروع کړه : فلانکې کس په جِهاد کې ددې د پاره شریک شوی چې خلق ورته بهادر اووایي. فلانکې کس د مالِ غنیمت حاصلولو د پاره شریک شوی . او فلانکې کس د تکبّر او فخَر د پاره شریک شوی . بیا دا فرښتې د ماسره اُودریدی ، او وې ویل :

شهوَانِيٌّ مِسۡكِيۡنٌ اِشۡتَهٰى كبدًا مَشۡوِيًّا.

دا عاجزه نَفس پَرست دی ، د وریتې شوې اینې ( جِګر ) خواهِش مَند دی ( دلته جهاد له د همدې خواهش پوره کولو د پاره راغلی دی ) .

محمد بن واسع رحمه الله فرمایي چې ما دې فرښتو ته وویل :

بِاللّٰهِ لَاتَفۡعَلُوۡا . فَأَنَاتَائِبٌ إِلَى اللّٰهِ.

د الله په واسطه داسې مه کوئ ( یعنی ما د جهاد د ثواب نه مه محرومه کوئ ) ، زه الله ﷻ ته توبه اُوباسم ( چې آئنده به بیا داسې نه کوم ) .

بیا ما په همدې خوب کې الله ﷻ ته عرض اوکړو :

يَارَبِّ ! لَا أَعُوۡدُ . يَارَبِّ ! لَا أَعُوۡدُ . يَارَبِّ ! لَا أَعُوۡدُ . يَارَبِّ ! لَا أَعُوۡدُ . أَنَا تَائِبٌ إِلَيۡكَ مِنۡ سَائِرِ الشَّهَوَاتِ . (۱)

اې ربه ! بیا به داسې ( نیت ) نه کوم ( څلور ځلې مې دا وویل ) ، اې الله ! زه تاته توبه اُوباسم د ټولو خواهشاتو نه .

**د ابوتراب نخشبي رحمه الله خواهش** : ابوتراب نخشبي رحمه الله ډیر لوي بزرګ تیر شوی ، د غُربت ژوند به یې تیرول ، د اُونو په پاڼو او د روټی په اُوچو ټکړو به

(۱) ترغيب المسلمين في الرزق الحلال و طعمة الصالحين ص ۹۰ .

يې ګزاره کوله ، دې فرمايي چې په ټول عُمر کې صرف يو ځل زما په زړه کې يو دُنيوي خواهِش پيدا شوې ؤ هغه دا چې د يو سفر په دَوران کې زما په زړه کې د چرګو د اَنډو (هَګو) او تازه روټۍ خوړلو شوق راپيدا شو ، نو زه ددې شوق پوره کولو د پاره يو کلي ته ورغلم چې کيدې شي دلته زما دا خواهش پوره شي .

په دې کلي کې د يو کس د کور نه غَلا اوشوه ، د کور مالِک چې راوېښ شو نو غَل اُوتختيد ، خلقو زه اُونيوم ، چې ته هم د غلو سره شريک وې ( ما که هر څومره د ځان صفائي کوله خو هغوی ويل چې ته هم د غلو ملګرې يې ) .

بيا خلقو ماته دا سزا راکړه چې اَويا کوړې يې اُووهلم . په دې خلقو کې يو کس زه اُوپيژندم ، نورو ته يې وويل :

اې بَد بَختو ! دا خو مشهور بزرګ ابوتراب نخشبي دی ( تاسو خو دې بې ګناه راټينګ کړی دی ) .

بيا دې خلقو د مانه معافي اُوغوښته ، او په دوی کې يو کس زه خپل کور ته بوتلم ، فَقَدَّمَ لِيْ خُبْزًا وَ بيْضًا . ما له يې د خوراک د پاره تازه روټۍ او د چرګو هګۍ (اَنډې) راوړی . نو ما دې خپل نفس ته ( د اِصلاح په خاطر ) وويل :

كُلِيْ بَعْدَ سَبْعِيْنَ دِرَّةً . اې نفسه ! ( تا چې دُنيوي خواهش ښکاره کړې ؤ ) اوس د اَويا (٧٠) دُرو خوړلو نه پس دا تازه روټۍ او دا اَنډې اُوخوره . (١)

سبحانَ الله ، زمونږ اَسلافو به څومره فقر او غريبي برداشت کوله ، خپل خواهشات يې کنټرول کول ، خو ليکن د حرام مال نه به يې ډير ځان ساتل .

## مسلمان د جنت د نِعمتونو نه مکمل غافل دی

محترمو مسلمانانو ! نن مسلمان صرف د دُنياوي نِعمتونو حاصلولو پسې لېږدلې دی هر وخت ددې د حاصلولو کوشش کوي ليکن د جنت د اَعلی او اُوچتو نِعمتونو نه مکمل غافِل دی .

(١) ترغيب المسلمين في الرزق الحلال و طعمة الصالحين ص ٩٠ .

که انسان ته پوره معلومه شي چې الله ﷻ خپلو نيکانو بندګانو له په جنت کې داسې بهترين نعمتونه تيار کړي دي چې هغه نه سترګو ليدلي دي، نه غوږونو اَوريدلي دي، او نه د يو انسان په زړه کې د هغې تَصوّر تېر شوی، نو بيا به انسان هيڅ کله د حرام مال جمع کولو کوشش اونکړي، حرام خو پريده چې بيا به د حلالو نِعمتونو حاصلولو ته هم پوره توَجُو ونکړي، بلکه زيات وخت به په عباداتو او جنت ته داخلونکو اَعمالو کولو کې تېر کړي.

او که حقيقت ته اُوکتې شي نو د دُنيا خوراکونه او نِعمتونه د جنت د نِعمتونو په مقابله کې هيڅ حيثيت نه لري.

شيخ الحديث مولانا موسی خان روحاني بازي رحمه الله په خپل کتاب " تَرغِيبُ المسلمين " کې يوه واقعه رانقل کړی:

يو بزرګ فرمايي: چې يو ځل د مونږ سره په رُوم کې يو نېک سړی په سفر کې ملګری ؤ، مونږ يوولس (١١) ورځې سفر اوکړو، په دې يوولس ورځو کې ده نه څه خوراک کړی، او نه يې اُوبه څکلې.

آخِر ما ورنه پوښتنه اوکړه چې: دا څه وجه ده چې تا په دې يوولس ورځو کې نه څه اُوخوړل او نه دې څه اُوڅکل؟ راته وې ويل چې کله سفر ختم شي او جدا کيږو نو بيا به درته د دې وجه بيان کړم.

کله چې د جدايۍ وخت رانزدې شو نو دې نېک کس ما ته خپله واقعه بيان کړه چې: يو ځل مونږ څلورسوه (٤٠٠) مجاهدين د جِهاد د پاره اُووتو، د کفارو سره مو سخته مقابله اوکړه، (ډير کافران مردار شو، چونکه کافران ډير زيات وو) زما ملګري شهيدان شو، خو زه زَخمي ووم او د شهيدانو سره يو ځای پروت ووم، زما سترګې پټې وې، د نمر دوېيدو په وخت ما د پورته آسمان د طرفه ډيره ښائسته او مزيداره خوشبويي محسوس کړه، ما چې سترګې را اُوغړولې نو داسې ښائسته جينکې يعنی حُورې مې اُوليدی چې د دې نه مخکې ما داسې ښائسته جينکۍ چيرته نه وی ليدلی، د دوی سره په لاسونو کې د اُوبو ډک ګلاسونه وو، او د شهيدانو په خُله کې يې اُوبه اَچولی، ما هم خپلې سترګې پټې کړی، کله چې دا حورې ما ته را اُورسيدی نو په دې کې دې يوې حُورې وويل:

أُصُبُّنَ فِي حَلْقِ هٰذَا وَعَجِّلْنَ قَبْلَ أَنْ تُغْلَقَ أَبْوَابُ السَّمَاءِ. فَكَيْفَ فِي الْأَرْضِ.

ددې کس په خُله کې اُوبه واچوئ، او جَلتې ( تَادي ) اوکړئ هسې نه چې د آسمان دَروازې بندې شي او مونږ په زمکه کې پاتې شو.

دې بلې حُورې ورته وویل:

أَسْقِيهِ وَفِيهِ رَمَقٌ؟

زه په ده باندې اُوبه اوڅکم حالانکه په ده کې خو رُوح شته؟

هغې بلې حُورې ورته وویل:

اِسْقِيهِ. لَا بَأْسَ عَلَيْكِ يَا أُخْتِيْ.

زما خورې! په ده باندې اُوبه اوڅکه، په تا باندې هیڅ حرَج (ملامتیا) نشته.

نو دې حورې زما په خُله کې هم دا اُوبه واچولې.

دې نیک کس د خپل سفر دې ملګري ته وویل:

فَأَنَا مُنْذُ شَرِبْتُ ذٰلِكَ الشَّرَابَ لَا أَحْتَاجُ إِلَى طَعَامٍ وَشَرَابٍ. (۱)

د کله نه چې ما هغه اُوبه څکلې دي د هاغه وخت نه را په دیخوا ماته نه د خوراک ضرورت شته، او نه د څکاک.

**فائده**: تاسو واوریده چې دې نیک کس ته د جنت یو څو څاڅکي اُوبه نصیب شوی نو په دې کې دومره لِذت او غِذائیتوُ چې د همیشه د پاره یې بیا خوراک او څکاک ته ضرورت نه پیخیده.

لهذا انسان ته په کار دي چې په دُنیا کې د حرام مال نه ځان اُوساتي، حلال مال استعمال کړي، او د آخرت دائمي او اَعلى نِعمتونو حاصلولو کوشش اوکړي.

## د غونډ تقریر خلاصه

د غونډ تقریر خلاصه دا را اُووته چې د حرام خوراک ډیر نقصانات او ضرَرونه دي:

ددې په وجه انسان د جهنم مُستحِق کیږي، دُعاګانې یې نه قبلیږي، د الله ﷻ د رَحمت نه

(۱) ترغيب المسلمين فى الرزق الحلال و طعمة الصالحين ص ۱۴۵.

لري کيږي ، د الله ﷻ د غضب مستحق کيږي ، نيک اعمال او عبادات يې نه قبليږي ، دين يې کمزورې کيږي ، گناهونو ته يې رغبت پيدا کيږي ، د انسان په دماغو او وجود باندې غلط اثر غورځوي ، د زنکدن د سختي او عذاب قبر سبب گرځي .

لهذا د هر مسلمان د پاره ضروري ده چې د حرامو نه پرهيز اوکړي ، او که د چا نه داگناه شوې وي نو ددې علاج دادی :

چې د چا مال يې په حرامې طريقې سره خوړلې وي هغه ته دې خپل حق اُوسپاري ، يا دې د هغه نه معافي اوغواړي ، او که هغه وفات شوې وي نو د هغه وارثانو ته دې دا حق اُوسپاري ، او آئنده دې د حرام خوراک او حرام مال نه پرهيز اوکړي .

الله تعالى دې مونږ ټول د حرام مال نه اُوساتي ، او حلال فراخه رزق دې راته راکړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

**نوټ** : ددې موضوع متعلق ضروري فِقهي مسائل ددې کتاب په آخر کې ذکر دي ، د صفحه ۳۲۲ نه شروع دي ، د هغې نه ځانله د موقعې مناسب اِنتخاب اوکړه .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَأْكُلُوْا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ ﴾. النساء آية ۲۹.

# د مُشتبِه شیانو نه ځان ساتل

تالِیف


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مزدان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د مُشتبه شيانو نه ځان ساتل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَآءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَأْكُلُوْٓا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّآ أَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوْٓا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴾ . (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اِسْتَبْرَأَ لِدِيْنِهٖ وَعِرْضِهٖ . وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ . . . (٢)

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ : لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَّكُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهٖ بَأْسٌ . (٣) صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم

---

(١) سورة النساء آية ٢٩ .

(٢) مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول رقم الحديث ٢٧٦٢ (٣) ، صحيح البخاري كتاب الايمان بَابُ فَضْلِ مَنِ اسْتَبْرَأَ لِدِيْنِهٖ رقم الحديث ٥٢ ، و كتاب البيوع بَابُ الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ رقم الحديث ٢٠٥١ ، صحيح مسلم كتاب المساقات بَابُ أَخْذِ الْحَلَالِ وَتَرْكِ الشُّبُهَاتِ رقم الحديث ١٠٧ ( ١٩٥٥ ) .

(٣) مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثاني رقم الحديث ٢٧٧٥ ( ١٧ ) ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٣٢٦ ، سنن الترمذي رقم ٢٣٥١ ، سنن ابن ماجه باب الورع والتقوى رقم ٤٢١٥ ، كنز العمال رقم ٥٦٤٢ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ الرَّجُلَ لَا يَكُوْنُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهٖ بَأْسٌ المستدرک على الصحيحين للحاكم ج٤ ص ٣٥٥ رقم الحديث ٧٨٩٩ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ .

## د مُشتَبِه شيانو نه ځان ساتلو سره دين او عزت محفوظ وي

محترمو مسلمانانو ورونو ! لکه څرنګې چې د يو مسلمان د پاره د حرام مال نه ځان ساتل په کار دي همدغه شان دده د پاره د مُشتَبِه شيانو نه هم پرهيز په کار دی ، ځکه کوم کس چې د مُشتَبِه شيانو نه ځان ساتي ددا سې کس دِين او عزت محفوظ وي ، او داسې کس د حرامو نه هم محفوظ وي .

د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَايَعْلَمُهُنَّ كَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اِسْتَبْرَأَ لِدِيْنِهِ وَعِرْضِهِ . وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ . كَالرَّاعِيْ يَرْعٰى حَوْلَ الْحِمٰى يُوْشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيْهِ . أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ ... (١)

حلال هم ظاهر دي او حرام هم ظاهر دي او ددې دواړو په مينځ کې ډير مُشتَبِه څيزونه دي چې ډير خلق يې نه پيژني ، پس چا چې د شبهاتو نه ځان او ساتل هغه خپل دِين او خپل عزت محفوظ او ساتل ، او څوک چې په مُشتَبِه څيزونو کې مُبتلاء شو هغه په حرامو کې مُبتلاء شو ، ددې کس مثال د هغه شپونکي په شان دی چې د مَمنوعه چراګاه ( وَرشو ) ګېرچاپيره خپل څاروي څَروي ، قريبه ده چې دا څاروي په دې مَمنوعه چراګاه کې ( داخل شي او په دې کې به ) اُوڅريږي ، (بيا نبي عليه السلام وفرمايل) خبردار ، د هر بادشاه د پاره يوه مَمنوعه چراګاه وي ( چې په هغې کې نورو خلقو ته د داخليدو اِجازت نه وي ) او بيشکه د الله ﷻ مَمنوعه چراګاه هغه څيزونه دي کوم چې الله ﷻ حرام کړي دي ...

**د حديث تشريح** : د حديث په اوله حصه کې ذکر دي چې "حلال هم ظاهر دي او حرام هم ظاهر دي " يعنی کوم څيزونه چې حلال دي د هغې حلال کيدل هر چاته معلوم دي لکه : ښې خبرې ، او مُباح څيزونه وغيره .

---

(١) مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول رقم الحديث ٢٧٦٢ ( ٤ ) ، صحيح البخاري كتاب الايمان بَابُ فَضْلِ مَنِ اسْتَبْرَأَ لِدِيْنِهِ رقم الحديث ٥٢ ، و كتاب البيوع بَابٌ : اَلْحَلَالُ بَيِّنٌ، وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ رقم الحديث ٢٠٥١ ، صحيح مسلم كتاب المساقات بَابُ أَخْذِ الْحَلَالِ وَتَرْكِ الشُّبُهَاتِ رقم الحديث ١٠٧ ( ١٩٥٥ ) .

همدغه رنګې کوم ځيزونه چې حرام دي د هغې حُرمت هم هر چاته ظاهر دی، په دې کې د نُصوصو هيڅ تعارض نشته، لکه: شَراب، زِنا، سُود، دروغ، غِيبت وغيره.

ددې حلالو او حرامو په مينځ کې بعضې شيان مُشتَبِه دي چې د دلائلو د تعارض په وجه ددې څه واضح حکم معلوم نه وي، چې آيا دا حلال دي او که حرام؟ ځکه دواړه طرف دلائل موجود وي. دداسې شيانو په باره کې واضحه فيصله کول او ددې حقيقت معلومول د هر چا کار نه دی، په دې باندې صِرف هغه علماء پوهيږي چې هغوی په اِجتهاد باندې قادِر وي، يا زُوَر عِلم ورسره وي، نو دوی د اِجتهاد او بصيرت په ذريعه يو طرف دلائلو ته ترجيح ورکوي

نبي عليه السلام فرمايي چې چا د داسې مُشتَبِه ځيزونو نه هم ځان اُوساتل نو ده خپل دِين او خپل عِزت محفوظ اوساتل.

بيا کوم کس چې په مُشتَبِه شيانو کې مُبتلاء وي رسول الله صلى الله عليه وسلم د داسې کس تَشبِيه د هغه شپونکي سره ورکړې چې هغه د يو بادشاه د مَمنوعه علاقې ګېر چاپيره په غاړو باندې خپل څاروي څَروي، نو په دې کې دا اِمکان زيات دی چې دا څاروي دې ممنوعه علاقې ته داخل شي، چې په نتيجه کې به دا سړې مُجرِم ګرځولې شي.

د الله ﷻ ممنوعه علاقه همدا حرام ځيزونه دي، اوس کوم کس چې د مُشتَبِه شيانو نه ځان نه ساتي نو اِمکان شته چې دې په حرامو کې مُبتلاء شي، او په حرامو کې مُبتلاء کيدلو سره انسان د الله ﷻ د عذاب مُستحِق ګرځي.

## د مُتّقِي جوړيدو د پاره کامل اِحتياط په کار دی

انسان تر هغه وخته پورې کامِل مُتّقِي نشي جوړيدی تر څو پورې چې د هر مُشتبِه ځيز نه پرهيز اونکړي، د مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَكُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهٖ بَأْسٌ. (١)

---

(١) مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثاني رقم الحديث ٢٧٧٥ (١٧)، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٣٣٦، سنن الترمذي رقم ٢٤٥١، سنن ابن ماجه باب الورع والتقوى رقم ٤٢١٥، كنز العمال رقم ٥٦٤٢.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ الرَّجُلَ لَا يَكُوْنُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهٖ بَأْسٌ. المستدرك على الصحيحين للحاكم ج٤ ص٣٥٥ رقم ٧٨٩٩ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ

انسان تر هغه وخته پورې د کامل مُتقيانو درجې ته نشي رسيدی تر څو پورې چې هغه کارونه پرې نږدي په کوم کې چې څه قباحت نشته ، ددې د پاره چې د هغه شيانو نه مَنع شي په کوم کې چې قباحت دی .

**تشريح** يعنی لکه څرنګې چې د مُتّقِي سړي د پاره د شِرک او ګناهونو نه بچ کيدل په کار دي همدغه رنګې د بعضې هغه مُباح کارونو نه هم ده له پرهيز په کار دی چې د هغې په وجه دې بيا په حرامو ، مُشتَبِه يا مکروه شيانو کې واقع کيږي .

مثلاً يو کس واده ندې کړی او د شَهواتو د غلبې په وجه په زِنا او حرام کارۍ کې د مُبتلاء کيدو خطره وي نو دداسې کس د پاره د داسې مُباح قَوي خوراکونو نه هم پرهيز په کار دی کوم چې قُوّتِ شهواني زياتوي .

وجه داده چې اګر چې دا ښه خوراک مُباح دی ليکن ددې کس د پاره خطره شته چې په ناجائز کار کې مبتلاء شي ، نو ځکه مُتّقي سړي د پاره دداسې مُباح څيزونو نه هم پرهيز په کار دی . (١)

ځکه خو رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : تر هغه وخته پورې انسان د تقویٰ درجې ته نشي رسيدی تر څو پورې چې دې داسې حلال پرې نږدي چې د هغې نه په حرامو کې د واقع کيدو خطره وي . (ترمذي)

حضرت عُمر رضي الله عنه به فرمايل :

كُنَّا نَدَعُ تِسْعَةَ أَعْشَارِ الْحَلَالِ مَخَافَةَ أَنْ نَقَعَ فِي الْحَرَامِ . (٢)

مونږ به په لسو کې نهه حصې حلال ددې يَرې د وجې پريخودل چې هسې نه ددې په وجه مونږ په حرامو کې مبتلاء شو .

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه به فرمايل : مونږ به په حرامو کې د مُبتلاء کيدو د يَرې نه د مُباحو اَويا (٧٠) حصې پريخودی . (٣)

(١) مظاهر حق شرح مشکوة ج٥ .

(٢) احياء علوم الدين ٢/٩٥ کتاب الحلال والحرام

(٣) مظاهر حق شرح مشکوة ج٥ .

ملا علي قاري رحمه الله ليكلي : كَسْبُ الْحَلَالِ اَصْلُ الْوَرَعِ وَأَسَاسُ التَّقْوٰى . (١)

حلال كسب دا اَصل دى د پرهيزګارۍ د پاره ، او بُنياد دى د تقوىٰ د پاره .

لهذا انسان ته په كار دي چې د مُشتَبِه شيانو او داسې معاملاتو نه ځان اوساتي چې د هغې په وجه په حرامو كې د مُبتلاء كيدو خطره وي .

**د تقوىٰ او بزرګۍ معيار په مُعاملاتو باندې دى** : په شريعت كې د تقوىٰ او بزرګۍ مِعيار په معاملاتو باندې دى . ځكه د انسان ژوند په دوه غټو اړخونو باندې مُشتمِل دى : يو د عباداتو اړخ ، او دويم د معاملاتو اړخ . ليكن د تقوى او بزرګۍ مِعيار په مُعاملاتو باندې دى ، چې كه د يو سړي معاملات صحيح وو د ناجائز او مُشتَبِه شيانو نه يې ځان ساتل نو دا كامِل مُتقِي او وَلي دى ، ځكه په معاملاتو كې د انسان د دِيانت ، اَمانت ، حسَد ، خِيانت ، تقوى ، پرهيزګارۍ او وِلايت پته لږي .

د امامِ محمد رحمه الله نه چا پوښتنه اوكړه چې :

تاسو خو ډير كتابونه ليكلي آيا په تَصوّف باندې هم تاسو څه كتاب ليكلى دى او كه نه ؟

ده ورته وويل : آو ، ما د جامِع صغير كتابُ البيوع ليكلې ده ، په دې كې مې د اخيستلو او خرڅولو صحيح مسئلې ليكلي دي ، او كامِل صوفي هغه دى چې د چا معاملات صفا وي : يعنى حلال رِزق ګټي ، د چا سره دُهوكه نه كوي ، دروغ نه وايي ، او د حرامو نه پرهيز كوي نو داسې كس كامِل صوفي دى او كامِل مُتقِي دى .

## د مُشتَبِه شيانو نه پرهيز او احتياط

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ، صحابه كرامو ، او د اُمت اَسلافو به ډير اِحتياط كولو ، د حرام او مُشتَبِه شيانو نه به يې ډير ځان ساتلو .

(١) مرقاة ج٦ ص٣٨ .

وقال أبو الدرداء : إنّ مِنْ تمام التقوى أَنْ يَتّقِيَ العبدُ فِي مثال ذرة حتّى يترك بعضَ ما يرى أنّه حلالٌ خشيةً أنْ يكونَ حَرامًا حتّى يكونَ حِجَابًا بينَه وبين النّار . احياء علوم الدين كتاب الحلال والحرام ج٢ ص ١٣١ ط مكتبه رشيديه كوئټه .

د حرامو نه د پرهيز متعلق تفصيلي آيتونه او احاديث په مخکيني موضوع کې تېر شوي، اوس به اِن شاء الله درته د مُشتبه شيانو نه د ځان ساتلو متعلق يو څو مُعتمد واقعات بيان کړم ، ددې نه به تاسو ته معلومه شي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ،صحابه کرامو او آسلافو به څومره احتياط کولو .

## د نبي عليه السلام احتياط

۱ . په احاديثو کې ذکر دي چې يو کرت رسول الله صلى الله عليه وسلم تېوله شپه ويخ و، آوړيدو راوړيدو ، بيوې بي بي چې دا حالت اُوليده نو پوښتنه يې ورنه اوکړه :

اې د الله رسوله ! نن ولې خوب نه درځي ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل : يوه قجوره پرته وه ، ما ويل چې ضائع نه شي نو ځکه مې راپورته کړه ، او اُومې خوړه ، اوس راسره دا يَره ده چې هسې نه دا د صدقې (يعنى زکوة ) قجوره وي . (۱)

نبي عليه السلام چونکه زکوة نه خوړ نو ځکه ورسره دا يَره وه چې دا ما کومه قجوره خوړلې هسې نه چې دا د زکوة وي .

۲ . د بخاري شريف حديث دی (۲) حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چې يو ځل حضرت حسن بن علي ﷺ د صدقې (يعنى د زکوة ) يوه قجوره راواخيسته ، او په خُله کې يې واچوله ، نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

---

(۱) حکايات صحابه ، کسب حلال و ادائے حقوق ص ۳۲ .

(۲) أَخَذَ الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا تَمْرَةً مِنْ تَمرِ الصَّدَقَةِ ، فَجَعَلَهَا فِيْ فِيْهِ . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « كِخْ كِخْ » لِيَطْرَحَهَا. ثُمَّ قَالَ : « أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ » . صحيح البخاري ۱۲۷/۲ رقم ۱۴۹۱ بَابُ مَا يُذْكَرُ فِي الصَّدَقَةِ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَآلِهِ. صحيح مسلم ج۲ ص ۷۵۱ رقم ۱۶۱ (۱۰۶۹ ) باب تحريم الزكوة على رسول الله صلى الله عليه وسلم ، مسند ابي داؤد الطيالسي ج۴ ص ۲۳۵ رقم ۲۶۰۴ .

وفي رواية : ... فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالفَارِسِيَّةِ: « كِخْ كِخْ . أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ ؟ »

صحيح البخاري ج۴ ص ۷۴ رقم ۳۰۷۲ بَابُ مَنْ تَكَلَّمَ بِالفَارِسِيَّةِ وَالرَّطَانَةِ .

بِالفَارِسِيَّةِ : أي هي كلمة فارسية في الأصل ولكنها عربت باستعمال العرب لها . تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح حديث ۳۰۷۲ .

کِخْ کِخْ . اُوغور ځوه . اُوغور ځوه . (١)
دا يې ورته ددې دپاره وويل : چې دا قجوره د خُلې نه اُوغورځوي .
بيا يې ورته وفرمايل : أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ ؟
آيا تاته پَته نشته چې مونږ زکوة نه خورو ؟

## د حضرت ابوبکر صديق رضي الله احتياط

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه به ډير اِحتياط کولو ، ددې د پاره چې خيټې ته يې حرام يا مُشتَبِه خوراک لاړ نه شي .

١ . په بخاري شريف کې يوه واقعه ذکر ده ، حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي چې د حضرت ابوبکر صديق ﷺ يو غلام ؤ چې د خپلې (مَزدورۍ او) ګټې نه به يې يوه معلومه حِصه حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته ورکوله . حضرت ابوبکر صديق ﷺ به دده د ګټې نه خوراک کولو . (٢)

يوه ورځ دې غلام د خوراک څه څيز راوړو ، حضرت ابوبګر صديق ﷺ د هغې نه خوراک اوکړو ، (د خوراک نه پس) غلام ورته وويل :

أَتَدْرِيْ مَا هٰذَا ؟ آيا ته پوهيږې چې دا څه شی دی ؟

ابوبکر صديق ﷺ ورته وفرمايل :

وَمَا هُوَ ؟ (ته ووايه) دا څه شی دی ؟ (ځکه ماته خو ددې په باره کې معلومات نشته)

غلام ورته وويل :

---

(١) کِخْ : کلمة تقال عند زجر الصبي عن تناول شيء ما . تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح حديث ١٤٩١

نوټ : کَخْ کَخْ : دا په فتحې د کاف (کَخْ کَخْ) ، او په کسرې د قاف (کِخْ کِخْ) دواړه صحيح دی . القاموس الوحيد ص ١٣٩١ .

(٢) په عربو کې دا عادت ؤ چې خپل غلام ته به يې د مَزدورۍ او تجارت اِجازت ورکړو ، غلام به چې څه اُوګټل د هغې نه به يې دې مالِک ته يوه مُعيّنه حصه ورکوله . همدغه شان د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه غلام به هم ده ته يوه مُعيّنه حصه ورکوله .

تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الجَاهِلِيَّةِ ، وَمَا أُحْسِنُ الكِهَانَةَ إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ . فَلَقِيَنِي فَأَعْطَانِي بِذٰلِكَ ، فَهٰذَا الَّذِي أَكَلْتَ مِنْهُ .

ما به د جاهليت په وخت کې ( يعنى د خپل کُفر په حالت کې ) يو کس ته د کهانت ( يعنى د غيب ) خبرې خودى ، حالانکه زه د کهانت په دې فن باندې ښه نه پوهيدم ، خو ما به هغه ته دُهوکه ورکوله ( او د ځان نه به مې ورته د غيبو خبرې کولى ) ، اتفاقًا نن د هغه سړي د ما سره ملاقات اوشو هغه ماته د خوراک دا څيز راکړو ، دا هغه شى دى چې تاسو اُوخوړو .

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي :

فَأَدْخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِي بَطْنِهِ . (١)

( دې اَوريدو سره ) حضرت ابوبکر صديق ﷺ خپل لاس په حَلق کې دننه کړو په خېټه کې يې چې څه وو هغه ټول يې رااُلټى کړه .

په يو روايت کې نقل دي ، راوي وايي چې حضرت ابوبکر صديق ﷺ دومره اُلټى اوکړو چې د ما سره دا يَره شوه چې هسې نه ساه يې او نه خيجي ، بيا يې اُوفرمايل :

اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعْتَذِرُ إِلَيْكَ مِمَّا حَمَلَتِ الْعُرُوقُ وَخَالَطَ الْأَمْعَاءَ . (٢)

اې الله ! زه تاته عُذر پيش کوم (او د تا نه معافي غواړم ) د هغه خوراک په باره کې کوم چې زما په رګونو کې پاتې دى ، او د کولمو سره يو ځاى شوې دى ( ځکه د دې راويستل زما په اختيار کې نه نشته ) .

امام ذهبي رحمه الله په الکبائر کې د دې روايت په آخر کې څه نوره اِضافه هم کړې چې کله حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د غلام دا خوراک يوه نوړى اُوخوړ ، او بيا روستو

(١) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : كَانَ لِأَبِي بَكْرٍ غُلَامٌ يُخْرِجُ لَهُ الْخَرَاجَ ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَأْكُلُ مِنْ خَرَاجِهِ . فَجَاءَ يَوْمًا بِشَيْءٍ فَأَكَلَ مِنْهُ أَبُو بَكْرٍ . فَقَالَ لَهُ الغُلَامُ : أَتَدْرِي مَا هٰذَا ؟ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ : وَمَا هُوَ ؟ قَالَ : كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الجَاهِلِيَّةِ ، وَمَا أُحْسِنُ الكِهَانَةَ إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ . فَلَقِيَنِي فَأَعْطَانِي بِذٰلِكَ . فَهٰذَا الَّذِي أَكَلْتَ مِنْهُ . فَأَدْخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِي بَطْنِهِ . صحيح البخاري باب أيام الجاهلية رقم الحديث ٣٨٤٢ ، مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثالث رقم الحديث ٢٧٨٦ .

(٢) احياء علوم الدين ٢/ ٩٠ كتاب الحلال والحرام .

ورته پته اُولګېده نو په خُله کې يې ګُتې ورکړی چې واپس يې را اُلټی کړي ، دا نه راوَتَه (ځکه په دغه ورځ د حضرت ابوبکر صديق ﷺ روژه وه ، نو په ماښام کې يې دا خوراک کړې وُ ) ، چا ورته وويل : ددې پسې اُوبه اُوڅکه نو بيا به را اُووځي ، نو ده به اُوبه څکلې او اُلټی به يې کولې ، تر دې پورې چې ټول خوراک يې واپس رااُلټی ( قې ) کړو ، چا ورته وويل : الله ﷻ دې په تا رَحم اوکړي صرف ددې يوې نوړۍ د پاره تا دومره تکليف برداشت کړو ؟ ده ورته وويل :

لَوْ لَمْ تَخْرُجْ إِلَّا مَعَ نَفْسِي لَأَخْرَجْتُهَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : كُلُّ جَسَدٍ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ . فَخَشِيْتُ أَنْ يَنْبُتَ بِذٰلِكَ فِي جَسَدِيْ مِنْ هٰذِهِ اللُّقْمَةِ . (١)

که دا نوړۍ زما د ساه وتلو سره راوتی نو هم ما به راويستې وه ، ځکه ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اَوريدلي دي چې فرمايلي يې : کوم بَدن ( غوښه ) چې په حرام مال سره پيدا شوې وي نو ددې د پاره د جهنم اُور ډير مناسب دی ، نو زه اُويريدم چې هسې نه په دې نوړۍ سره زما په وجود کې غوښه پيدا شي ( نو بيا به زما بدن هم د جهنم مُستحق شي ) .

**فائده** : دا د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه کمالِ احتياط او کمالِ تقوی وه چې کله ورته دا معلومه شوه چې خيټې ته مې د خوراک داسې څيز لاړ چې په حرامې طريقې سره حاصل شوې وُ نو په خُله کې يې ګُتې ورکړی او په خېټه کې يې چې هر څه وو هغه ټول يې

(١) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كَانَ لأَبِي بكر غُلَامٌ يخرج لَهُ الخراج . أَي قد كَاتبه على مَال وَكَانَ يَجِيئهُ كل يَوْم بخراجه . فيسأله : مِنْ أَيْنَ أتيت بِهَا ؟ فَإِن رضيه أكله وَإِلَّا تَركه . قَالَ : فَجَاءَهُ ذَات لَيْلَة بِطَعَام وَكَانَ أَبُو بكر صَائِما فَأكل مِنْهُ لقْمَة وَنسي أَن يسأله . ثمَّ قَالَ لَهُ : مِنْ أَيْنَ جِئْتَ بِهَذَا ؟ فَقَالَ : كنتُ تكهنتُ لِأُنَاسٍ بالجاهلية وَمَا كنتُ أحسن الكهانة إِلَّا أَنِّي خدعتهم . فَقَالَ أَبُو بكر : أُفٍّ لَكَ كِدْتَ تهلكني . ثمَّ أَدخل يَدَهُ فِي فِيهِ فَجعل يتقيأ وَلَا يخرج . فَقيل لَهُ . إِنَّهَا لَا تخرج إِلَّا بِالْمَاءِ . فَدَعَا بِمَاء فَجعل يشرب ويتقيأ حَتَّى قاء كل شَيْءٍ فِي بَطْنه . فَقيل لَهُ : يَرْحَمك الله كل هَذَا من أجل هَذِه اللُّقْمَة ؟ فَقَالَ رَضِيَ الله عَنهُ : لَوْ لَمْ تخرج إِلَّا مَعَ نَفسِي لَأخْرَجْتُهَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : كُلُّ جَسَدٍ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ . فَخَشِيْتُ أَنْ يَنْبُتَ بِذٰلِكَ فِي جَسَدِيْ مِنْ هَذِهِ اللُّقْمَةِ . الكبائر للامام الذهبي ١١٨\١١ اَلْكَبِيْرَةُ الثَّامِنَةُ وَالْعِشْرُوْنَ أكْلُ الْحَرَام وتناوله على أَيِّ وَجه كَانَ .

راألتهی (قې) کړه، ځکه دده سره دا يَره وه چې دا څيز به د خيټې د نورو شيانو سره يو ځای شوې وي او هغې ته به هم ددې أثر رسيدلې وي نو ځکه يې ټول هر څه راألتهی کړه.

۲. حضرت ابوبکر صديق ﷺ په خپله مالدار ؤ، ځکه په مکه مکرمه کې يې هم تجارت کولو، او په مدينه منوّره کې يې هم تجارت کولو، د نبي عليه السلام د وفات نه پس چې کله د مسلمانانو خليفه جوړ کړې شو نو په صبا سهَر بازار ته د تجارت د پاره روان شو، په لاره کې ورسره حضرت عُمر ﷺ او حضرت ابوعبيده بن الجراح ﷺ ملاؤ شو. دوی ورته وويل: که ته تجارت کوی نو د مسلمانانو د حکومت لويه ذِمه داري پاتې کيږي

بيا د صحابه کرامو په مشوره د حضرت ابوبکر صديق ﷺ د پاره د بيتُ المال نه وظيفه مقرر شوه.

محترمو مسلمانانو! اوس تاسو د حضرت ابوبکر صديق ﷺ دې تقوی او پرهيزګاری ته اُوګورئ چې باوجود ددې نه چې دې اميرُالمؤمنين دی، د ټولو اسلامي مملکتونو اِختيار ورسره دی، مګر د بيتُ المال نه به يې صرف دومره وظيفه اخيسته چې هغه به قُوت لَايَمُوت وه (يعنی دومره کمه وظيفه به يې اخيسته چې صرف د دوی د ګزارې خوراک د پاره به کافي وه).

يو ځل د دوی بي بي د حَلوا خوړلو خواهش ظاهر کړو (چې حَلوا ته زمونږ زړه شوی دی)، حضرت ابوبکر صديق ﷺ ورته اوفرمايل: زه خو د مسلمانانو د خِدمت په وجه د بيتُ المال نه دا معمولي شان وظيفه أخلم، ددې نه زيات خو د ما سره (د دِرهم يا دِينارو) هيڅ ګنجائش نشته (چې تاسو ته يې درکړم او حَلوا پرې پخه کړی).

ددې نه پس دده بي بي د هرې ورځې د خرچې نه معمولي معمولي بَچت کولو، څه ډيره موده پس يې حَلوا پخه کړه، حضرت ابوبکر صديق ﷺ چې کور ته راغی نو ده ته يې کيښوده، ابوبکر صديق ﷺ چې دا نوې خوراک په کور کې اُوليده نو پوښتنه يې اوکړه: دا حَلوا چا راوړی؟ بي بي ورته وويل چې دا مې د هرې ورځې د خَرچې نه معمولي معمولي رَقم مثلا يوه يوه پيسه بچت کوله، په هغې مې دا حَلوا واخيسته، او پَخه مې کړه.

حضرت ابوبکر صديق ﷺ ورته وفرمايل : ددې نه دا معلومه شوه چې که زمونږ په روزانه خرچه کې دا يوه پيسه کمه وي نو هم زمونږ ګزاره ورباندې کيږي.

بيا يې حَلوا رواخيسته او بيتُ المال ته يې اُوليږله، او د آئنده د پاره چې د بيتُ المال نه روزانه کومه خرچه راتله د هغې نه يې يوه پيسه کمه کړه. (۱)

**فائده** دا د حضرت ابوبکر صديق ﷺ کمالِ احتياط دی چې په کوم مال کې د عامو مسلمانانو حق وُ (يعنی بيتُ المال کې) د هغې نه يې يوه پيسه زياته اخيستل هم نه خوښول.

## د حضرت عُمر رضي الله عنه احتياط

۱. د مشکوة شريف حديث دی، چې يو ځل حضرت عُمر رضي الله عنه شوده (پَی) اُوڅکل، دا شوده ورته ډير ښه معلوم شو، نو چا چې پرې دا شوده څکلي وو د هغه نه يې پوښتنه اوکړه:

مِنْ أَيْنَ لَكَ هٰذَا اللَّبَنُ ؟

دا شوده تاته د کوم ځای نه حاصل شوي وو ؟

هغه ورته ووېل: زه د اُوبو يوې چينې يا کوهي ته ورغلې وُوم، (دې کس د هغه چينې يا کوهي نوم هم واخيست)، هلته د زکوٰة څاروي (چيلی، اُوښان وغيره) وو، د هغه څارو نګران شوده رااُولوشل، او په خلقو يې اُوڅکل، نو هغوی زما د پاره هم شوده رااُولوشل، ما هغه په دې مشک کې واچول، هغه همدا شوده دي (کوم چې تا اُوڅکل).

فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ. (۲)

---

(۱) دعوات حق لمولانا عبدالحق رحمه الله بالي دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک ج۱ ص۴۵۳.

(۲) شَرِبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لَبَنًا وَأَعْجَبَهُ وَقَالَ لِلَّذِي سَقَاهُ : مِنْ أَيْنَ لَكَ هٰذَا اللَّبَنُ ؟ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَرَدَ عَلَى مَاءٍ قَدْ سَمَّاهُ فَإِذَا نَعَمٌ مِنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ وَهُمْ يَسْقُونَ . فَحَلَبُوا لِي مِنْ أَلْبَانِهَا فَجَعَلْتُهُ فِي سِقَائِي . وَهُوَ هٰذَا ، فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ . مشكاة المصابيح باب الكسب وطلب المال الفصل الثالث رقم الحديث ۲۷۸۸ (۳۰)، موطاء امام مالک باب ما جاء في اخذ الصدقات والتشديد فيها رقم الحديث ۳۱ ، السنن الكبرى للبيهقي باب الخليفة و والي الاقليم الذي لا يلي قبض الصدقة . رقم الحديث ۱۳۱۶۴

حضرت عُمر رضي الله عنه (چې دا خبره واوريده نو دوی) خپل لاس په حلق کې دننه کړو، او دا شوده يې واپس رااُلټی (قې) کړه.

**فائده**: دا شوده چونکه د زکوة د مال وو او د زکوة مال حضرت عمر رضي الله عنه ته جائز نه ؤ نو ځکه يې واپس دا شوده رااُلټی کړه. دا د حضرت عمر رضي الله عنه کمالِ احتياط ؤ، دا يې نه غوښته چې دا دده د بدن حصه اوګرځي.

۲ يو ځل حضرت عُمر رضي الله عنه له د بَحرين نه مشک راغله، ده وفرمايل: که يوه زَنانه دا وَزن (يعنی تول) کړي نو زه به يې په مسلمانانو باندې تقسيم کړم، د حضرت عمر رضي الله عنه بي بي "عاتکې" وفرمايل:

أَنَا أُجِيْدُ الْوَزْنِ. زه ښه وزن کولې شم (زه به يې درله وَزن کړم).

حضرت عُمر رضي الله عنه چپ شو. څه لږ وخت پس حضرت عُمر رضي الله عنه هماغه خبره بيا اوکړه، دده بي بي عاتکې ورته بيا وويل: چې زه به يې وَزن کړم.

حضرت عُمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: زه دا نه خوښوم چې دا مشک ستا د لاس سره لږيدلي وي، او ته بيا خپل څټ (يا بل ځای) له لاس وَرووړی، نو تاته به د مسلمانانو نه زياته حصه دَرَاُورسي، (او زه دا نه خوښوم چې د نورو مسلمانانو نه تاته زياته حصه دراُورسي). (۱)

۳ يو ځل حضرت عُمر رضي الله عنه بيمار شو، دده د علاج د پاره شَهد تجويز کړې شو، په هاغه وخت کې په بيتُ المال کې د شَهدو يو ګوډې موجود ؤ (دې چونکه اميرُ المؤمنين ؤ،

---

(۱) امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې دا واقعه په دې الفاظو نقل کړی: روي أنّ عمرَ رضي الله عنه وَصَلَهُ مسكٌ مِن البحرين. فقال ودِدتُ لو أنّ امرأةً وَزنَتْ حتّى أُقسمه بين المسلمين. فقالت امرأتُه عاتكة: أَنَا أُجِيْدُ الوَزْنِ فسَكَتَ عَنْهَا. ثُمّ أعادَ القولَ. فأعادَتِ الجوابَ. فقال: لَا أَحْبَبْتُ أَنْ تضعيه بكفة ثمّ تَقُوْلِيْنَ فِيهاأثر الغبار فتمسحين بها عنقك فأصيب بذلك فضلًا على المسلمين. احياء علوم الدين ج۲ ص ۱۳۱ كتاب الحلال والحرام ط مكتبه رشيديه كوئته، حياة الصحابة ج۲ ص ۳۱۵

ټول اختيارات دده سره وو ، ليکن ده په خپله ورنه دا شهد راوانه خيست ، بلکه ) جُومات ته لاړو او خلقو ته يې وويل :

ماته د علاج د پاره د شهدو ضرورت دی ، او په بيتُ المال کې شهد موجود دي ، نو که ستاسو اِجازت وي زه به د علاج د پاره ورنه څه راواخلم ، او که اِجازت نه راکوئ نو دا بيا زما د پاره حرام دي .

ټولو خلقو په خوشحالئ سره اِجازت ورکړو (نو بيا يې ورنه راواخيست) . (۱)

۴ . حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې يو ځل ما يو څو اُوښان واخيست ، او د بيتُ المال په چراګاه کې مې پريخودل ، چې کله ښه څاربه شو ما بازار ته د خرڅ د پاره بوتله ، حضرت عمر ﷺ هم په دغه ورځ په بازار کې وُ ، دوی چې دا څاربه اُوښان په بازار کې اُوليده نو پوښتنه يې اوکړه :

دا اُوښان د چا دي ؟ خلقو ورته وويل چې دا (ستا د ځوي) د عبدالله ﷺ دي .

عبدالله بن عمر ﷺ فرمايي چې حضرت عمر ﷺ ماته آواز اوکړو :

اې عبدالله بن عمر! نو زه په مَنډه راغلم ، او ورته مې وويل :

اې اميرالمؤمنين ! څه خبره ده ؟ دوی وويل : دا اُوښان څيرته وو ؟ ما ورته وويل : ما دا اُوښان اخيستي وو ، او د بيتُ المال چراګاه ته مې د څريدو د پاره ليږلي وو ( او اوس مې بازار ته راوستي دي ) ددې د پاره چې زه هم د نورو مسلمانانو په شان دا خرڅ کړم ، او نَفع حاصله کړم .

حضرت عمر ﷺ وفرمايل : ښه ، د بيتُ المال په چراګاه کې به خلق يو بل ته وايي : د اميرُالمؤمنين د ځوي اُوښان ښه اُوساتئ ، د اميرُالمؤمنين د ځوي اُوښانو له اُوبه ورکړئ ( زما د ځوي کيدو په وجه به ستا د اُوښانو لحاظ د نورو مسلمانانو په نسبت زيات کيږي ، ددې د وجې نه ) اې ابن عمر ! دا اُوښان خرڅ کړه ، په څو باندې چې تا دا اخيستي وو هغه روپۍ ورنه واخله ، او باقي زياتي روپۍ د مسلمانانو په بيتُ المال کې جَمع کړه . (۲)

---

(۱) حياة الصحابة ج۲ ص۳۱۳ ، خوري ملغلرې اوله حصه ص۴۸ .

(۲) حياة الصحابة ج۲ ص۳۱٦ ، خوري ملغلرې اوله حصه ص۴۹ واقعه نمبر ۸۸ .

۵ . يو ځل حضرت عمر ﷺ ته د رُوم بادشاه د طرفه قاصد راغی ، د حضرت عُمر ﷺ بي بي يو دِينار د چا نه په قرض واخيست ، په دې يې عطر واخيسته ، په شيشو کې يې واچول ، او ددې قاصِد په لاس يې د رُوم د بادشاه ښځې ته په هديه کې ور اُوليږل .

کله چې دې قاصِد دا دعطرو شيشې د رُوم بادشاه ښځې ته ورکړې نو هغې دا شيشې د عطرو نه خالي کړې ، د جواهراتو نه يې ډکې کړې ، بيا يې دې قاصِد ته ورکړې چې لاړ شه ، دا د حضرت عمر ﷺ بي بي ته وَر وړه .

کله چې دې قاصِد دا د جواهراتو ډکې شيشې دې ته راوړې ، نو دې دا جواهرات د شيشو نه رااُوويسته ، او د بسترې د پاسه يې کيښوده ، په دې دَوران کې حضرت عمر ﷺ کور ته راننوت ، دا جواهرات يې اُوليده ، پوښتنه يې اوکړه : دا څه شی دی ؟ ( او چيرته وو ؟ )

دې ورته ټوله قِصه بيان کړه ( چې دا ما د رُوم د بادشاه ښځې له په شيشو کې څه عطر ليږلي وو هغې په تحفه کې دا جواهرات راليږلي دي ) ، حضرت عمر ﷺ دا ټول جواهرات خرڅ کړه ، او ددې د قيمت نه يې صرف يو دِينار خپلې بي بي له ورکړو ( په کوم چې يې عطر اخيستي وو ) او باقي پاتې ټول دِينارونه يې د مسلمانانو په بيتُ المال کې جَمع کړه . (۱)

**فائده** : دا د حضرت عمر ﷺ کمالِ احتياط او تقوی وه د چې د معمولي مُشتبِه شي نه يې هم ځان ساتل .

## د اسلافو احتياط

که مونږ د خپلو اَسلافو حالات اوګورو چې هغوی به د حرامو او مُشتبِه څيزونو نه څومره ځان ساتل نو انسان حيران پاتې شي ، دوی ته چې الله ﷻ دومره لوي مقام ورکړې ؤ نو دا د همدې تقوی ، پرهيزګارۍ او د مُشتبِه شيانو نه د پرهيز او اِحتياط په وجه يې ورکړې ؤ . دا اِيمان تازه کيدو په خاطر درته ديو څو اَسلافو د اِحتياط واقعات ذکر کوم :

(۱) حياة الصحابة ج۲ ص ۳۱٦ ، خورې ملغلرې اوله حصه ص ۴۹ .

# د امامِ ابوحنيفه رحمه الله احتياط

امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله به هم د مُشتبهِ شيانو نه ډير ځان ساتل ، ددې په باره کې درته يوه واقعه بيانوم :

مشهور مُحدّث " عبدالله بن مُبارک رحمه الله " فرمايي چې يو ځل مُفسِدانو خلقو د غلا څه چيلۍ کوفې ته راوستی ، دا چيلۍ د کوفې د چيلو سره داسې ګډې (خَلط) شوی چې بيا په کې تَمييز نه شو کيدی .

د امامِ ابوحنيفه رحمه الله سره دا يَره پيدا شوه چې هسې نه قَصابان دا د غلا چيلۍ واخلي ، حلالې يې کړي ، او زه چيرته په ناخبرۍ کې ددې غوښه کور ته رانه وَړم ، نوامام صاحب د خلقو نه پوښتنه اوکړه :

كَمْ تَعِيْشُ الْغَنَمُ ؟ د چيلۍ عُمر څومره وي ؟

خلقو ورته وويل : سَبْعَ سِنِيْنَ . اُووه (٧) کاله .

فَتَرَكَ أَكْلَ لَحْمِ الْغَنَمِ سَبْعَ سِنِيْنَ .

نو امام صاحب د اُووه (٧) کالو پورې د چيلۍ د غوښې خوراک پريخود ( ددې دپاره چې د غلا د چيلو غوښه په ناخبرۍ کې زما خيټې ته لاړه نشي ) .

بيا امام صاحب په دغه ورځو کې بعضې سَرکاري خلق ( عَسکر ) اُوليده چې د چيلو غوښه يې خوړه ، او ددې فُضلات ( کولمې ، هډوکې وغيره ) يې د کوفې په درياب کې اُوغورځول .

فَسَأَلَ عَنْ عُمْرِ السَّمَكِ . نو امام صاحب د خلقو نه د ماهي د عُمر په باره کې پوښتنه اوکړه (چې دَده تَوَل څومره عُمر وي ؟ ) . خلقو ورته دا هم اُوخوده .

فَامْتَنَعَ مِنْ أَكْلِ السَّمَكِ تِلْكَ الْمُدَّةِ . (١)

بيا امام صاحب همدومره موده د ماهي غوښه هم نه خوړه .

(١) عقود الجمان ص ٢٤٤ ، ترغيب المسلمين في الرزق الحلال وطعمة الصالحين لمولانا موسى خان روحاني بازي رحمه الله ص ٢٠٠ .

# د نيمې منړې (سېب) معاف کولو د پاره د بُخارا نه بَلخ ته لس ورځې مزل کول

ابن بطوطه په خپله سفر نامه کې ليکلي دي چې يوه ورځ د ابراهيم بن اَدهم رحمه الله پلار " اَدهم " د بُخارا د باغونو په طرف تېريده ، د يو نهر په غاړه باندې د اَودس کولو د پاره کيناست ، (دا نهر د يوباغ په مينځ کې راغلې وُ) ، په نهر کې يوه منړه راروانه وه ، ده سوچ اوکړو چې ددې په خوړلو کې څه بَدوالې نشته نو دا منړه يې رااُونيوه او وې خوړه ، روستو ورته دا سوچ ورغی چې ما خو دا منړه د مالِک د اِجازت نه بغير اوخوړه ، او په ناجائزه طريقې سره مې اُوخوړه ، دې خيال سره د باغ د مالِک پسې وَر روان شو ، چې د هغه نه اِجازت اُوغواړي .

د کوم باغ نه چې دا منړه راغلې وه ده د هغې باغ دَروازه اووهله ، ددې باغ مالِکه يوه ښځه وه ، ده هغې ته ټوله واقعه بيان کړه او د منړې معاف کولو درخواست يې ورته اوکړو ، هغې ورته وويل : دا باغ نيم زما دی او نيم د بَلخ د بادشاه دی ما خودرته خپله نيمه حصه منړه معاف کړه ، او هغه بادشاه خو ډير لرې دی ، ځکه ددې ځای نه د بَلخ پورې لس ورځې مزل دی

اَدهم رحمه الله ددې باقي نيمې منړې معاف کولو دپاره بَلخ ته روان شو ، کله چې هلته وَر اُورسيده نو د بادشاه سوَرلي د جلوس سره روانه وه ، ده په دې حالت کې بادشاه ته د منړې خوړلو ټوله قصه اوکړه ، او د باقي نيمې حصې منړې معاف کولو غوښتنه يې اوکړه . بادشاه ورته وويل :

زه اوس څه نشم ويلی ، صبا ماله راشه (بيا به په دې باندې خبرې اوکړو) .

د بادشاه يوه ډيره ښائسته لور وه ، ډيرو شهزادګانو ورته د نکاح پيغامونه راليږلي وو ، خو بادشاه به انکار کولو ، ځکه دا جينۍ ډيره پرهيزګاره او عبادت ګزاره وه ، دې دا غوښته چې د يو پرهيزګاره سړي سره واده اوکړي .

کله چې بادشاه خپل مَحل ته راغی نو لور ته يې د اَدهم واقعه بيان کړه ، او وې ويل چې ما تر اوسه داسې پرهيزګار کس ندې ليدلی چې د نيمې منړې معاف کولو د پاره د بخارا نه دلته راغلی ، لنډه دا چې دا شهزادګۍ ددې اَدهم سره په نکاح کولو راضي شوه .

په صبا باندې چې اَدهم د بادشاه دَربار ته راغى ( او د نيمې منړې معاف کولو مطالبه يې اوکړه ) نو بادشاه ورته وويل :

تر څو پورې چې تا زما د لور سره نکاح نه وي کړي دا نيمه منړه درته نه معاف کوم ، اَدهم رحمه الله اِنکار اوکړو ، آخِر مجبور شو او نکاح ته تيار شو .

کله يې چې د شهزادګۍ سره نکاح اوکړه او کور ته لاړ ، نو شهزادګۍ ته يې چې اُوکته نو ډيره ښائسته وه ، او ډيره په ډَول و سِينګار برابره وه ، دې د کمرې په يو ګُنج ( ګُټ ) کې په مانځه اُودريده او د سهره پورې په عبادت مشغول ؤ ، اُووه شپې مسلسل هره شپه تر سهره پورې ادهم رحمه الله عبادت اوکړو .

اُووه ورځې پس ورته بادشاه دا نيمه منړه معاف کړه ، اَدهم رحمه الله په اَتمه شپه باندې د غُسل کولو نه پس په مانځه باندې اُودريده ، مونځ يې اوکړو ، بيا يې يوه چَغه اُووهله ، په مُصَلّه باندې په سجده پريوتلو ، خلقو چې اُوکته نو اَدهم رحمه الله وفات شوې ؤ .

ددې شهزادګۍ ددې اَدهم رحمه الله نه يو هلک په خيټه شوې ؤ ، کله چې پيدا شو (نوم يې ورله ابراهيم کيښود ) چونکه ددې بادشاه زامن نه وو نو حکومت همدې ابراهيم بن اَدهم رحمه الله ته پاتې شو .

بيا د ابراهيم بن اَدهم رحمه الله د بادشاهۍ پريخودلو (او عبادت طرف ته د متوجِه کيدلو ) چې کومه واقعه مشهوره ده د هغې حقيقت همدا دى . (١)

**فائده** : ابراهيم بن اَدهم رحمه الله يو ډير لوي بزرګ مُتّقي او وَليُ الله ؤ ، ده ته چې الله ﷻ دومره لوي مقام ورکړې ؤ په دې کې ضرور دده د پلار " اَدهم رحمه الله " د تقوى او د حرام مال نه د پرهيز اَثر ؤ ځکه " اَدهم رحمه الله " د حرام او مُشتبِه مال نه دومره ځان ساتل چې د نيمې منړې معاف کولو د پاره يې د بُخارا نه بَلخ ته سفر اوکړو .

## د بل چا د ديوال نه معمولي خاوره راخيستو باندې تنبيه

علي بن معبد رحمه الله فرمايي چې ما يو کور په کراى نيولې ؤ ، ما يو ځل يو خط اوليکل ، بيا مې اِراده اوکړه چې ددې کور د دِيوال نه لږه خاوره راواخلم ، دا سياهي

(١) سفر نامه ابن بطوطه ج١ ص ١٠٦ ، خوږې ملفلري رومي حصه ص ١١٢ واقعه ٢٤١ .

ورباندې اُوچه کړم ، بيا مې د ځان سره ووېل : چې دا ديوال خو زما مِلکيت نه دی . بيا راته خپل زړه ووېل :

وَمَا قَدْرُ تُرَابٍ مِنْ حَائِطٍ .

د دومره لږې خاورې خو هيڅ قيمت نه وي ( نو ددې په اخيستلو کې هيڅ باک نشته ) .

غرض دا چې ما ددې ديوال نه معمولي خاوره راواخيسته ، او په خط مې واچوله ، کله چې اُوده شوم نو په خوب کې مې يو کس اُوليده ، ماته وايي :

يا علي بن معبدٍ ! سَيَعْلَمُ غَدًا اَلَّذِيْ يَقُوْلُ : وَمَا قَدْرُ تُرَابٍ مِنْ حَائِطٍ . (١)

اې علي بن معبد ! څوک چې دا وايي چې د بل چا د ديوال معمولي خاوره هيڅ قيمت نه لري ده ته به د قيامت په ورځ دا معلومه شي چې ددې څه قدر و قيمت دی ؟

فائده : اګر چې په دومره لږه خاوره انسان مستحق د سزا نه جوړيږي ليکن بيا هم د مُتقي او بزرګ په درجو کې کمې راځي . (٢)

## د بل چا د ديوال نه معمولي خاورې راخيستو په وجه څلويښت کاله ژړا کول

کهمس رحمه الله فرمايي چې د مانه يوه ګناه شوې زه د ډير خفګان نه په هغې باندې د څلويښتو (٤٠) کالو نه ژاړم ( چې الله تعالی يې راته معاف کړي ) ، هغه ګناه داده چې يو ځل زما ملاقات له زما يو ورور راغی ، ما هغه له په يو دانِق باندې وريت شوې ماهي واخيست ، هر کله چې هغه د خوراک نه فارغ شو نو ( د هغه د لاسونو غوړوالي ختمولو د

(١) عَن علي بن معبدٍ أنّه قال : كنتُ ساكنًا في بيتٍ بكراء فكتبتُ كتابًا وأردتُ أنْ آخذَ مِن ترابِ الحائطِ لأتربه وأجففهُ . ثم قلتُ : اَلحائطُ ليس لي . فقالتْ لي نفسي : وَمَا قَدْرُ تُرَابٍ مِنْ حَائِطٍ . فأخذتُ مِنَ التُّرَابِ حَاجَتِيْ . فلمّا نمتُ فَإذا أنا بشخصٍ واقف يقولُ : يا علي بن معبد ! سَيَعْلَمُ غَدًا اَلَّذِيْ يَقُوْلُ وَمَا قَدْرُ تُرَابٍ مِنْ حَائِطٍ . احياء علوم الدين ج٢ ص ١٠٨ امثلة الورع وشواهدها ط دارالكتب العلمية بيروت ، كيمياى سعادت ، نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٣٥٧ .

(٢) ولعل معنى ذلك انّه يرى كيف يحطّ من منزلته فإنّ للتقوى درجة تفوتُ بفوات ورع المتّقين . وليس المرادُ به أنْ يستحق عقوبة على فعله . احياء علوم الدين ج٢ ص ١٠٨ امثلة الورع وشواهدها ط دارالكتب العلمية بيروت .

پاره ) ما د ګاونډي د ديوال نه لږه خاوره راواخيسته ، ده وربانديې لاسونه وينځل ( نو په دې ګناه بانديې څلويښت کاله تيرېدو باوجود زه اوس هم ژاړم او خفګان کوم ) حالانکه ما ځانته دا خاوره حلاله نه وه ګڼلې . (۱)

## د ظالِم په لاس راوړل شوې خوراک نه خوړل

حضرت ذُوالنون مصري رحمه الله ظالمانو په جېل کې اچولې ؤ ، د ډيرو ورځو نه اُوږې ؤ ( هيڅ خوراک يې نه ؤ کړی ) ، نو يوې نېکې ( رِشته دارې ) زَنانه د حلال خوراک نه جوړ شوې طعام وَر اُوليږل ، خو ده او نه خوړ ، ( هغه زَنانه چې خبره شوه چې ده زما خوراک يې او نه خوړ نو راغله او ګيله يې ورته اوکړه چې : تاته خو معلومه ده چې زما خوراک حلال دی نو تا ولې او نه خوړ ؟ ) ، ذوالنون مِصري رحمه الله ورته وويل : ماته معلومه وه چې ستا خوراک حلال دی ، خو ما ځکه او نه خوړ چې :

جَآءَنِيْ عَلٰى طَبقِ ظَالِمٍ .

ماته دا خوراک د ظالِم سرې په طباق ( يعنی د جېل د محافِظ په لاس ) بانديې راغلې ؤ نو ځکه ما او نه خوړ . (۲)

## د مريض په وفات کيدو سَمدستي ډيوه مړه کول

زمونږ اَسلافو به د پردې حق نه ډير ځان ساتل ، يو بزرګ ( ماسخوتن ) د بيمار سَر ته ناست ؤ ، ( بيمار ته ډيوه لګيدلې وه ) کله چې دا بيمار وفات شو نو دې بزرګ خلقو ته وويل:

اَطْفِئُوا السِّرَاجَ قَدْ حَدَثَ لِلْوَرَثَةِ حَقٌّ فِي الدُّهْنِ .

---

(۱) قال كهمس : أَذْنَبْتُ ذنبًا أبكي عليه من اربعين سنة ، وذلک أنه زارني أخ لي ، فاشتريت بدانق سمكة مشوية ، فلما فرغ أخذتُ قطعة طين من جدار جار لي ، حتى غسل يده ولم أُستحله . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۳۵۷ كتاب آداب الكسب والمعاش .

(۲) وحكي أنّ ذا النّون المصري حبس ولم يأكل أيامًا في السِّجنِ ، فكانت له أختٌ في الله ، فَبَعَثَتْ إليه طعامًا مِنْ مغزلها على يد السجان ، فَامْتَنَعَ فلم يأكُلْ . فَعَاتَبَتْهُ المرأةُ بَعْدَ ذٰلِكَ . فَقَالَ : كَانَ حَلَالًا وَلٰكِنْ جَاءَنِيْ عَلٰى طَبقِ ظَالِمٍ ، وَأَشَارَ بِهِ إِلَى يَدِ السجانِ . احياء علوم الدين ج۲ ص ۱۱۰ امثلة الورع وشواهدها ط دار الكتب العلمية بيروت

دا ډيوه مړه کړئ ، ځکه اوس ددې په تېلو کې د وارثانو حق راغلی ( چې دا مونږ ته د هغوی داجازت نه بغير استعمالول صحيح نه دي ) . (١)

## د سفيان ثوري رحمه الله احتياط

سفيان ثوري رحمه الله به د هر قسمه مشتبه مال او مشتبه خوراک نه ځان ساتل ، يو ځل دې د مکې معظمې صراف ته ورغی ، د دينار په عوض کې يې ورنه درهم اخيستل ، صراف ته يې يو دينار ورکړو ، دده سره بل دينار هم ؤ ، هغه ورنه اوغورځيد ، ده چې هغه تلاش کړو او پيدا يې کړو نو ددې دينار سره په څنګ کې يو بل دينار هم پروت ؤ ( چې د بل چا نه غورځيدلې ؤ ، سفيان ثوري يو دينار هم راپورته نه کړو ) صراف ورته ووېل :

خُذْ دِيْنَارَكَ. خپل دينار ورنه راواخله .

ده ورته ووېل : مَا أَعْرِفُهُ . زه خپل دينار نه پيژنم . صراف ورته ووېل :

خُذِ النَّاقِصَ ( چې کله دومره احتياط کوی نو ) په کوم دينار کې چې سره زر کم وي هغه راواخله . ده ورته ووېل :

فَلَعَلَّهُ الزَّائِدُ . شايد چې دا دزياتو سرو زرو دينار زما وي ( نو که زه دا د کمو سرو زرو والا دينار راواخلم نو بيا خو هم د بل چا دينار دی ، نو زه يې څنګه راواخلم ؟ ) .

فَتَرَكَهُ وَمَضٰى .

سفيان ثوري رحمه الله دا خپل دينار هم په همدې ځای پريخود او لاړ . (٢)

---

(١) روي بعضهم أَنَّهُ كَانَ عِنْدَ مُحْتَضَرٍ . فَمَاتَ لَيْلًا فَقَالَ أَطْفِئُوا السِّرَاجَ قَدْ حَدَثَ لِلْوَرَثَةِ حَقٌّ فِي الدُّهْنِ . احياء علوم الدين ج٢ ص ١٣٢ كتاب الحلال والحرام ط مكتبه رشيديه كوئته ، نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٣٥٦ كتاب آداب الكسب والمعاش .

(٢) جَاءَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ إِلَى صَيْرَفِيٍّ بِمَكَّةَ يَشْتَرِيْ مِنْهُ دَرَاهِمَ بِدِيْنَارٍ . فَأَعْطَاهُ الدِّيْنَارَ . وَكَانَ مَعَهُ آخَرُ . فَسَقَطَ مِنْ سُفْيَانَ . فَطَلَبَهُ . فَإِذَا إِلَى جَانِبِهِ دِيْنَارٌ آخَرُ . فَقَالَ لَهُ الصَّيْرَفِيُّ : خُذْ دِيْنَارَكَ . قَالَ : « مَا أَعْرِفُهُ » . قَالَ : خُذِ النَّاقِصَ . قَالَ : « فَلَعَلَّهُ الزَّائِدُ » . قَالَ : فَتَرَكَهُ وَمَضٰى . حلية الاولياء و طبقات الاصفياء ٧/ ٥٣ ، ترغيب المسلمين ص ۴٧٢ .

## د امام احمد بن حنبل رحمه الله احتياط

يو ځل امام احمد بن حنبل رحمه الله په مكه معظمه كې د يو سبزي فروش سره ( د يو څو درهمو په عوض كې ) خپل بالتي ( سطل ) ګانړه كړو ، څه وخت پس چې امام احمد بن حنبل رحمه الله څه درهم راپيدا كړل ، او د دې بالتي ورلو اراده يې اوكړه ، نو سبزي فروش ورته دوه يو شان بالتي رااويسته ، او ورته وې ويل :

خُذْ أَيُّهُمَا لَكَ . په دې دواړو كې چې ستا كوم يو وي هغه واخله .

ده ورته وويل :

أُشكل عَلَيّ سَطلِيْ فَهُوَ لَكَ وَالدِّرْهَمُ لَكَ .

زه خو خپل بالتي نه پيژنم ، دا بالتي هم ستا شو ، او دا درهم هم ستا شو .

سبزي فروش ورته وويل : ستا بالتي دادی ، ما صرف ستا امتحان اخيستو . امام احمد بن حنبل رحمه الله ورته وويل : زه يې اوس نه اَخلم . دا يې وويل ، او روان شو ، بالتي يې د همده سره پريخود . (١)

## د عبدالله بن مبارک رحمه الله احتياط

يو ځل عبدالله بن مبارک رحمه الله په يوه ډيره قيمتي سوَرلۍ باندې سفر كولو ، په يو ځاى كې د ماسپخين د مانځه وخت راغی ، د سوَرلۍ نه د مانځه د پاره راكوز شو ، ده چې مونځ اوكړو او څاروې يې اوكته نو په سَركاري چراګاه كې څريدلې ؤ ( ده چونكه د سَركاري شي نه ډير ځان ساتل ، ځكه په دې كې د ټولو مسلمانانو حصه وي ) نو ده دا قيمتي سوَرلي په همدې ځاى پريخوده ، او په دې سور نه شو . (٢)

---

(١) رَهَنَ احمدُ بنُ حنبلٍ سَطْلًا لَهُ عِنْدَ بَقَّالٍ بِمَكَّةَ حَرَسَهَا اللهُ تعالى . فَلَمَّا أراد فِكَاكَهُ أَخْرَجَ البَقَّالُ سَطْلَيْنِ ، وقَال : خُذْ أَيُّهُمَا لَكَ . فقال احمدُ : أُشكل عَلَيّ سَطلِيْ فَهُوَ لَكَ وَالدِّرْهَمُ لَكَ . فَقَالَ البَقَّالُ : سَطْلُكَ هٰذَا وَأَنَا أَرَدْتُ أَنْ أَخْتَبِرُكَ . فَقَالَ : لَا آخُذُ . وَمَضٰى وَتَرَكَ السَّطْلَ عِنْدَهُ . نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٣٥٦ كتاب آداب الكسب والمعاش .

(٢) سيبَ ابنُ المبارَک دابةٌ قيمتها كثيرةٌ . فَصَلّى صلاةَ الظهر . فَرَتَعَتْ في قريةٍ سُلطانيةٍ . فَتَرَکَ ابْنُ الْمُبَارَكِ الدَّابَةَ وَلَمْ يَرْكَبْهَا . ورالذينى مرجع ص ٣٥٨ .

## د امام نخعي رحمه الله احتياط

امام نخعي رحمه الله د يو کس نه د سوَرلۍ د پاره يو څاروي (آس يا اُوښ) په مَزدورۍ باندې واخيست ( چې زه به تر د فلانکي ځاى پورې په دې باندې ځم ). په لاره کې يې په سوَرلۍ باندې سفر کولو ، ناڅاپه يې د لاس نه کوړه اُوغورځيده ، ( څاروې چونکه څه اَندازه مخکې تللې وُ ) ده په يو ځاى کې دا اُوتړل ، او پياده د کوړې پسې راغى ، کوړه يې راواخيسته ، واپس لاړ په سوَرلۍ باندې سور شو .

چا ورته وويل : که تا سورلي واپس راتاؤ کړې وى او کوړې پسې راغلې وى نو دا به درته آسانه وه . ده ورته وويل : إِنَّمَا إِسْتَأْجَرْتُهَا لِأَمْضي هٰكَذَا لَا هٰكَذَا . (۱)

ما دا څاروى ددې د پاره په مزدورۍ اخيستى دى چې زه به ددې د طرفه پرې ځم ، د هغې طرفه مې ورسره خبره نده کړې (نو ځکه د هغې د طرفه د کوړې پسې په څاروي سور رانغلم)

## د حلال رِزق پسې د ابراهيم بن اَدهم رحمه الله سفرونه کول ، او د مُشتبهِ خوراک نه ځان ساتل

ابراهيم بن ادهم رحمه الله يو مشهور بزرګ او وَليُ الله تير شوى ، د حرام او مُشتبِهِ خواک نه به يې ډير ځان ساتل ، ده خپله يوه واقعه بيان کړې چې : زه اول په عِراق کې څه موده ووم ، کله چې په عِراق کې راته د حلال رِزق حاصلول مُشکل ښکاره شو نو بعضو مشائخو راته مشوره راکړه : إِذَا أَرَدْتَ الْحَلَالَ فَعَلَيْكَ بِبِلَادِ الشَّامِ .

که ته د حلال رِزق حاصلولو اِراده لرې نو شام ته لاړ شه ( هلته به تا ته حلال رزق حاصلول په آسانه ملاؤ شي ) .

دې وايي چې زه شام ته لاړم هلته مې يو څو ورځې مزدوري اوکړه ليکن هلته هم راته صفا او حلال رزق حاصلول مشکل ښکاره شو ، بعضو مشائخو راته دا مشوره راکړه :

(۱) وَاستأجرَ النخعيُّ دابةً . فَسَقَطَ سوطُه من يده . فَنَزَلَ وَرَبَطَ الدَّابَّةَ وَرَجَعَ . وَأَخَذَ السَّوْطَ . فقيل له : لَوْ حَوَّلْتَ الدَّابَّةَ إلى موضعِ الَّذِيْ سَقَطَ السَّوْط فَأَخَذْتَهُ . فقال : إِنَّمَا إِسْتَأْجَرْتُهَا لِأَمْضي هٰكَذَا لَا هٰكَذَا . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۳۵۸ كتاب آداب الكسب والمعاش .

إِنْ أَرَدْتَ الحَلَالَ الصَّافِيَ فَعَلَيْكَ بِطَرسُوْسَ ، فَإِنَّ فِيهَا المُبَاحَاتِ وَالعَمَلَ الكَثِيْرَ .

که ته د صفا او خالصه حلال زرق حاصلولو اراده لرې نو بيا د طرطوس ښار ته لاړ شه ځکه هلته جائز کارونه او مزدورياني زياتې دي .

دې وايي چې زه طرطوس ښار ته لاړم ، هلته يو مالدار کس زه د خپل باغ نګران او مُحافِظ مقرر کړم ، په دې باغ کې مختلف قِسمه ميوې او انار وو ، زه څه موده ددې باغ نِګران ووم ، ددې به چې ماته کوم حلال اُجرت ملاويده په هغې به ما خپله ګزاره کوله .

څه موده پس ددې باغ مالِک د څه خاص ملګرو او خادِمانو سره دې باغ ته راغی ، په يو ځای کې کيناست ، ماته يې آواز اوکړو :

يَا نَاطُورُ ! إِذْهَبْ فَأْتِنَا بِأَكْبَرِ رُمَّانٍ تَقْدِرُ عَلَيْهِ وَأَطْيَبِهِ .

اې مالي ! لاړ شه ، او مونږ ته غټ خوږه انار راوړه .

زه لاړم او يو څو غټ انار مې ورله راوړه ، د باغ مالِک سره چې کوم خادِم راغلې ؤ هغه دا انار مات کړه ، چې وې څکل نو هغه ترُش وو ، د باغ مالِک ووېل :

يَا نَاطُورُ ! أَنْتَ فِيْ بُسْتَانِنَا مُنْذُ كَذَا ، تَأْكُلُ فَاكِهَتَنَا ، وَتَأْكُلُ رُمَّانَنَا لَا تَعْرِفُ الحُلْوَ مِنَ الحَامِضِ ؟

اې مالي ! (تعجب دی په تا باندې چې) ته زمونږ په دې باغ کې د ډيرې مودې نه اُوسيږی ، زمونږ ميوې او انار خوری ، ليکن بيا هم خوږ او ترُش نه پيژنی ؟

ابراهيم بن اَدهم رحمه الله فرمايي چې ما ورته ووېل :

وَاللهِ مَا أَكَلْتُ مِنْ فَاكِهَتِكُمْ شَيْئًا ، وَمَا أَعْرِفُ الحُلْوَ مِنَ الحَامِضِ .

قَسَم په الله ، ما تر اوسه پورې ستاسو د ميوو نه هيڅ شی ندې خوړلی ، او نه زه خوږ او ترُوش پيژنم .

بيا دې خادِم ( د ماپسې د اِستهزاء او تمسخر کولو د پاره ) خپلو ملګرو ته ووېل :

أَمَا تَسْمَعُوْنَ كَلَامَ هٰذَا ؟ آيا تاسو دده خبرې اَورئ ؟ ( څومره دروغ وايي چې ما تر اوسه پورې ددې باغ ميوه نده خوړلی ) ، بيا دې خادِم ماته ووېل :

آيا ته د ابراهيم بن اَدهم رحمه الله نه هم ډير مُتقي او پرهيزګاری ؟ ( چې داسې کلک

احتياط كوى ؟ دې خلقو چونكه دا نه پيژنده چې همدا ابراهيم بن اَدهم دى ).
بيا دا ټول خلق لاړه ، كله چې سهر شو نو دې خادِم د كلي په جُمات كې خلقو ته زما متعلق خبره اوكړه ( چې داسې يو مالي دى هغه وايي چې ما تر اوسه پورې ددې باغ ميوه بغير اجازته نده خوړلې ) ، خلقو چې دا خبره واوريده نو هغوى پوهه شو چې دا خو همدا ابراهيم بن اَدهم رحمه الله دى ، نو دې خادِم سره ډير خلق زما ملاقات له راروان شو ، ما طرف ته راتلل ، ماچې د لرې نه اُوليدل نو زه د يوې اُونې شاته پټ شوم ( ددې د پاره چې ما او نه پيژنې ) ، كله چې خلق باغ ته راننوتل نو زه هم په څه طريقې سره د دوى سره ملګرې شوم ، نو دوى زه د ګنړوالي په وجه او نه پيژندم ، خلق همداسې باغ ته راننوتل ، زه په پټې طريقې سره د باغ نه اُووتم ، او د هغه ځاى نه غائب شوم . (١)

(١) ترغيب المسلمين فى الرزق الحلال و طعمة الصالحين ص ٣٧٩ .

دا واقعه په حلية الاولياء كې په دې الفاظو ذكر ده . ... حَتّٰى وَصَلْتُ إِلَى الْعِرَاقِ . فَعَمِلْتُ بِهَا أَيَّامًا . فَلَمْ يَصْفُ لِي مِنْهَا شَيْءٌ مِنَ الْحَلَالِ . فَسَأَلْتُ بَعْضَ الْمَشَايِخِ عَنِ الْحَلَالِ . فَقَالُوا لِي : إِذَا أَرَدْتَ الْحَلَالَ فَعَلَيْكَ بِبِلَادِ الشَّامِ . فَصِرْتُ إِلَى بِلَادِ الشَّامِ . فَصِرْتُ إِلَى مَدِينَةٍ يُقَالُ لَهَا الْمَنْصُورَةُ . وَهِيَ الْمِصِّيصَةُ فَعَمِلْتُ بِهَا أَيَّامًا . فَلَمْ يَصْفُ لِي شَيْءٌ مِنَ الْحَلَالِ . فَسَأَلْتُ بَعْضَ الْمَشَايِخِ فَقَالُوا لِي : إِنْ أَرَدْتَ الْحَلَالَ الصَّافِيَ فَعَلَيْكَ بِطَرَسُوسَ . فَإِنَّ فِيهَا الْمُبَاحَاتِ وَالْعَمَلَ الْكَثِيرَ . فَتَوَجَّهْتُ إِلَى طَرَسُوسَ . فَعَمِلْتُ بِهَا أَيَّامًا أَنْظُرُ الْبَسَاتِينَ . وَأَحْصِدُ الْحَصَادَ . فَبَيْنَا أَنَا قَاعِدٌ عَلَى بَابِ الْبَحْرِ إِذْ جَاءَنِي رَجُلٌ فَاكْتَرَانِي أَنْظُرُ لَهُ بُسْتَانَهُ . فَكُنْتُ فِي بَسَاتِينَ كَثِيرَةٍ . فَإِذَا أَنَا بِخَادِمٍ قَدْ أَقْبَلَ وَمَعَهُ أَصْحَابُهُ . فَقَعَدَ فِي مَجْلِسِهِ ثُمَّ صَاحَ : يَا نَاطُورُ ! فَقُلْتُ: هُوَ ذَا أَنَا . قَالَ : اِذْهَبْ فَأْتِنَا بِأَكْبَرِ رُمَّانٍ تَقْدِرُ عَلَيْهِ وَأَطْيَبِهِ . فَذَهَبْتُ فَأَتَيْتُهُ بِأَكْبَرِ رُمَّانٍ . فَأَخَذَ الْخَادِمُ رُمَّانَةً فَكَسَرَهَا فَوَجَدَهَا حَامِضَةً . فَقَالَ لِي : يَا نَاطُورُ ! أَنْتَ فِي بُسْتَانِنَا مُنْذُ كَذَا . تَأْكُلُ فَاكِهَتَنَا ، وَتَأْكُلُ رُمَّانَنَا لَا تَعْرِفُ الْحُلْوَ مِنَ الْحَامِضِ؟ قَالَ إِبْرَاهِيمُ : قُلْتُ: وَاللهِ مَا أَكَلْتُ مِنْ فَاكِهَتِكُمْ شَيْئًا ، وَمَا أَعْرِفُ الْحُلْوَ مِنَ الْحَامِضِ . فَأَشَارَ الْخَادِمُ إِلَى أَصْحَابِهِ . فَقَالَ : أَمَا تَسْمَعُونَ كَلَامَ هٰذَا ؟ ثُمَّ قَالَ : أَتُرَاكَ لَوْ أَنَّكَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَدْهَمَ مَا زَادَ عَلَى هٰذَا . فَانْصَرَفَ . فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ ذَكَرَ صِفَتِي فِي الْمَسْجِدِ . فَعَرَفَنِي بَعْضُ النَّاسِ . فَجَاءَ الْخَادِمُ وَمَعَهُ عُنُقٌ مِنَ النَّاسِ . فَلَمَّا رَأَيْتُهُ قَدْ أَقْبَلَ مَعَ أَصْحَابِهِ اِخْتَفَيْتُ خَلْفَ الشَّجَرِ . وَالنَّاسُ دَاخِلُونَ . فَاخْتَلَطْتُ مَعَهُمْ وَهُمْ دَاخِلُونَ وَأَنَا هَارِبٌ. فَهٰذَا كَانَ أَوَائِلَ أَمْرِي وَخُرُوجِي مِنْ طَرَسُوسَ إِلَى بِلَادِ الرِّمَالِ . حلية الاولياء و طبقات الاصفياء ٧/ ٣٦٨ إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَدْهَمَ .

# د قاضي ابوبکر بزار اِحتیاط ،او ددې ورته ښه ثمره ملاویدل

څوک چې د مُشتبِه شیانو نه ځان ساتي او پوره اِحتیاط کوي نو الله ﷻ داسې خلقو لره آخرت د نِعمتونو سره سره په دُنیا کې هم د اِطمینان او سکون واله ژوند ورکوي ، او د غیبي لاره نه په همدې دُنیا کې ددې ښه بَدله هم ورکوي .

ددې په باره کې درته د قاضي ابوبکر محمد بن عبدالباقي بزاز انصاري رحمه الله یوه واقعه بیانوم ،کومه چې په " ذیل طبقات الحنابله او شذرات الذهب في اخبار من ذهب " کې ذکر ده ، واقعه اګر چې اُوږده ده خو ډیره د عبرت نه ډکه ده .

قاضي ابوبکر ډیر لوي عالِم او مُحدّث تېر شوی ، د ډیرو ښو اَخلاقو خاوند ؤ ، د عُمر په اوله حصه کې یې ډیر د فقیرۍ او غُربَت ژوند تېر کړی ؤ ، خو باوجود ددې فقیرۍ یې بیا هم د مُشتبِه مال نه ډیر ځان ساتل ، د ډیر اِحتیاط او تقوی په وجه الله ﷻ ورته په دُنیا کې هم ښه بَدله ورکړه ، او ډیر مال و دولت یې ورله ورکړو ، دې خپله واقعه داسې بیانوي :

چې زه په مکه مکرّمه کې اُوسیدم ، یو ځل زه ډیر اُوږې شوم ، د څو ورځو نه مې هیڅ خوراک نه ؤ کړی ، د ډیرې اُولږې د لاسه حَد درجه کمزورې شوې ووم ، نه راسره څه روپۍ وې چې ځانله مې پرې د خوراک څه اخیستي وی ، په دې دَوران کې ما د ورېښمو یوه تهیلۍ اُوموندله ، کور ته مې راوړه ، چې کلاؤ مې کړه نو په دې کې داسې قیمتي هار ؤ چې ما په خپل ژوند کې دومره ښائسته او اعلی هار نه ؤ لیدلی ، ددې قیمت یو لک ( ١٠٠٠٠٠ ) دیناره ؤ ، ( دا تهیلۍ مې په کور کې کیښوده ، ددې د پاره چې که مالِک یې پیدا شي نو ورته واپس به یې کړم ) .

بیا زه د کور نه بهَر رااُووتم ، نو ما یو شیخ ( کوم چې یو لوي تاجِر ؤ ) اُولیده چې په یوه تهیلۍ کې یې پنځه سوه ( ۵٠٠ ) دِیناره اچولي وو ، او دا آوازیې کولو :

" د ما نه یوه تهیلۍ ورکه شوې ده که چا ماته هغه واپس راکړه نو په اِنعام کې به ورته دا پنځه سوه دیناره ورکوم "( حالانکه په هاغه وخت کې دا پنځه سوه دیناره ډیر لوي دولت ؤ )

ما د ځان سره سوچ اوکړو چې ما کومه تهیلۍ موندلې ده هغه د همدې شیخ ده ، زه چونکه د ډیرو ورځو نه نهَر او محتاجه یم نو زه به دا تهیلۍ دې کس ته حواله کړم ، او دا

حلال پنځه سوه دِینار به ورنه واخلم (په دې به د خوراک څه واخلم).

نو ما دا شیخ خپل کور ته د ځان سره راوَست، په کور کې مې دده نه د دې تهیلۍ او د هار متعلق یو څو پوښتنې اوکړې، ده راته صحیح صحیح علامات ووېل، زما تسلي اوشوه چې دا تهیلۍ د همده ده، نو ما ورته ورکړه، دې ډېر خوشحاله شو، ماته یې پنځه سوه دیناره په انعام کې راکول، او دا ماته شَرعي طریقې سره جائز هم وُ، بل دا چې زه د ډېرو ورځو نه اوږې هم ووم، لیکن ما دا پنځه سوه دینار اخیستل د مُروّت، دِیانت، تقوی او اِحتیاط خلاف اوګنړل. نو ځکه ما د قبلولو نه اِنکار اوکړو، هغه ددې د اخیستلو ډېر اِصرار اوکړو لیکن ما قبول نه کړل، بهَر حال، دا شیخ ډېر خوشحاله شو، او واپس خپل ځای ته لاړ.

قاضي ابوبکر بزاز وایي چې کله ما د الله ﷻ د رَضا د پاره د یو شیخ زړه خوشحاله کړو، د هغه قیمتي هار مې هغه ته ورکړو، اګر چې ماته ضرورت وُ خو ما بیا هم د هغه نه څه عِوض وانه خیست، نو الله ﷻ ماته د آخرت د ثوابونو سره سره په دُنیا کې هم د هغې بهترینه بَدله دا راکړه چې: څه موده پس همدا قیمتي هار الله ﷻ ماته د غیبي لارو نه واپس راکړو.

(قاضي ابوبکر خپله راتلونکې واقعه داسې بیان کړه چې): زه څه موده پس د مکې مُکرّمې نه په یو سفر روان شوم، دا سفر مې په بَحري جهاز کې کولو، ناڅاپه په سمندر کې طوفان راغی، جهاز مات شو، په کې ناست خلق ډُوب شو، مالونه یې هم ډُوب شو، زه د جهاز په یوه ماته تخته باندې کیناستم، څو ورځې پس د سمندر چَپو دا تخته د یوې جزیرې غاړې ته اُورسوله، زه ورنه ښکته شوم، ډېر پرېشانه او خفه ووم، د یو کلي په طرف روان شوم، یو جُمات اُورسیدم، په دې جُمات کې کیناستم، د کشتۍ په خلقو کې صرف زه ژوندې پاتې ووم، نو ما د شکریه اداء کولو د پاره په جُمات کې تلاوت شروع کړو، کله چې د جزیرې واله خلقو ته پته اُولګیده چې "زه ډېر ښه تلاوت کوم" نو ماته یې درخواست اوکړو چې: ته مونږ ته قرآن مجید زده کړه. ما دا موقع غنیمت اُوګنړله، او هغوی ته مې قرآن مجید زده کول شروع کړه، هغوی د همدردۍ په خاطر ماله ډېر مال و دولت هم راکړو.

بيا چې کله هغوی ته پته اُولږيده چې " ماله ليکل هم راځي " نو هغوی به ماشومان او ځوانان ماته د خط زده کولو د پاره راليږل ، ما هغوی ته خط زده کول هم شروع کړه ، په دې سره ماته مالي لحاظ سره هم ډيره فائده حاصله شوه .

قاضي ابوبکر بزاز رحمه الله فرمايي چې ددې جزيرې واله خلقو د ماسره دومره عقيدت او محبت پيدا شو چې يوه ورځ دوی ماته وويل :

عِنْدَنَا صَبِيَّةٌ يَتِيْمَةٌ وَلَهَا شَيْءٌ مِنَ الدُّنْيَا نُرِيْدُ أَنْ تَتَزَوَّجَ بِهَا .

د مونږ سره په دې کلي کې يوه يتيمه ( بالغه ) جيلۍ ده او د هغې سره ډير مال و دولت هم دی ( چې په ميراث کې ورته پاتې شوی ) زمونږ دا خوښه ده چې ته د هغې سره نکاح اوکړی (ددې کلي خلقو دا غوښته چې دا قاضي د مونږ سره په همدې کلي کې پاتې شي نو ځکه يې ماله په دې کلي کې واده کول غوښتل) .

ما اِنکار اوکړو چې زه اوس واده نه کوم ، هغوی ډير ټينګار اوکړو او ماته يې وويل چې ته به خامخا ددې سره نکاح کوی ( ځکه په دې کې ستا او ددې جينۍ دواړو فائده ده ) ، ما آخِر د هغوی خبره اُومنله ، او ددې يتيمې (بالغې) جينۍ سره مې نکاح اوکړه ، د نکاح نه پس چې کله زه د شپې کورته لاړم ، او ما دې خپلې بي بي طرف ته اوکته :

فَوَجَدْتُ ذٰلِكَ الْعِقْدَ بِعَيْنِهٖ مُعَلَّقًا فِيْ عُنُقِهَا .

ما ددې په غاړه کې هماغه هار اُوليده ( کوم چې ما په مکه مکرّمه کې موندلې ؤ ، او بيامې هغه شيخ تاجر تهورکړې ؤ ، هغه هار ) دې په غاړه کې اچولې ؤ .

( کله چې ما دا اُوليده نو ډير حيران شوم ) تر سهره پورې ما صرف همدې هار ته کتل ( او د الله ﷻ په قدرتونو کې مې سوچ کولو چې : الله ﷻ څومره غيرتي ذات دی ما صرف د الله ﷻ د رَضا د پاره هغه شيخ ته دا هار واپس کړې ؤ ، اګر چې هلته زه ډير کلک مجبور ووم خو ما پَتَ نه کړو ، هغه ته مې واپس کړو ، بيا چې راته هغه انعام راکول هغه مې هم ورنه وانه خيست ، نو الله ﷻ د هغې څومره ښه بَدله راکړه چې واپس يې هماغه هار ماته راکړو ، او اوس زما د بي بي په غاړه کې دی ) .

په صبا باندې خلقو ته زما د بي بي په واسطه دا خبره معلومه شوې وه چې قاضي ابوبکر بېګاه ټوله شپه په ډير حيراتيا سره د بي بي هار ته کتل ، او مسلسل په فکرونو او سوچونوکې ډوب وُ . د مانه خلقو پوښتنه اوکړه چې : بيګاه شپه تا ولې مسلسل تر سهره پورې د بي بي هار ته کتل ؟ (١)

ما ورته هغه د هار موندلو او واپس کولو ټوله واقعه بيان کړه ، دې خلقو چې دا خبره واوريده نو د ډير حيراتيا او جَذباتو په وجه يې دومره په زوره باندې لَا اِلٰهَ اِلَّا الله او نعرهٔ تکبير وويله چې د ټولې جزيرې واله خلقو ته دا خبره اُورسيده ( هغوی هم د ډير تعجب او خوشحالۍ په وجه نعرهٔ تکبير وويله ) .

ما د خلقو نه پوښتنه اوکړه : دا په تاسو څه اوشو ؟ ( چې دومره په زوره مو نعرهٔ تکبير وويله ؟ دا خو دومره د تعجب خبره نه وه ) دوی راته وويل :

ذٰلِكَ الشَّيْخُ الَّذِيْ أَخَذَ مِنْكَ الْعِقْدَ أَبُوْ هٰذِهِ الصَّبِيَّةِ . وكان يقول :

کوم شيخ ته چې تا په مکه مکرّمه کې هار واپس کړې وُ هغه ددې جينۍ پلار وُ ، او د کله نه چې هغه د مکې مکرمې نه واپس راغلې وُ هغه به مسلسل دا ويل :

مَا وَجَدْتُ فِي الدُّنْيَا مُسْلِمًا إِلَّا هٰذَا الَّذِيْ رَدَّ عَلَيَّ هٰذَا الْعِقْدَ .

ما په دُنيا کې کامِل مسلمان ندې ليدلی مګر هغه کس چې ما ته يې ورک شوې هار واپس راکړو ( او هيڅ عِوض يې رانه وانه خيست ) .

او هغه شيخ به هميشه دا دُعا کوله :

اَللّٰهُمَّ اُجْمَعْ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ حَتّٰى أُزَوِّجَهُ بِابْنَتِيْ .

اې الله ! يو پېره بيا ما او هغه کس دوباره جَمع کړه چې زه هغه ته خپله لور په نکاح ورکړم (ځکه هغه ډير اَمانت دار وُ ) .

قاضي ابوبکر وايي چې ددې جزيرې واله خلقو ما ته وويل :

---

(١) هغوی ما ته وويل : کَسَرْتَ قَلْبَ هٰذِهِ الْيَتِيْمَةِ مِنْ نَظَرِكَ إِلٰى هٰذَا الْعِقْدِ، ولم تَنْظُرْ إليها .

(اگر چې اوس هغه شيخ وفات شوی دی) خو اوس د هغه آرزو پوره شوه ، او د هغه د لور نکاح مونږ د تاسره اوکړه ، نو ځکه مونږ د ډير تعجب او خوشحالی په وجه دومره په زوره نعرهٔ تکبير وويله .

قاضي ابوبکر فرمايي چې ما به ددې بي بي سره ډير ښه ژوند تيرول ، ماته الله ﷻ ددې نه دوه بچي راکړل ، بيا زما دا بي بي وفات شوه ، څه وخت پس زما هغه دوه بچي هم وفات شو ، اوس هماغه هار ماته په ميراث کې پاتې دی ، نو ما اوس هغه په يو لک (١٠٠٠٠٠) دينار خرڅ کړو ، (قاضي ابوبکر په مجلس کې ناست خلقو ته ووېل :)

وَهٰذَا الْمَالُ الَّذِي تَرَوْنَ مَعِي مِنْ بَقَايَا ذٰلِكَ الْمَالِ.

دا تاسو چې د ماسره اوس کوم مال گورئ نو دا د هماغې هار باقي پاتې مال دی .(١)

---

(١) أَخْبَرَنَا الشيخ الصالح أَبُو القاسم عبد الله بن أبي الفوارس محمد بن علي بن حسن الخزاز الصوفي البغدادي ببغداد قَالَ : سمعتُ القاضي أَبا بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْبَاقِي بن محمد البزاز الأنصاري يقول : كنتُ مجاورًا بمكة حرسها الله تعالى فأصابني يومًا من الأيام جوعٌ شديدٌ لم أجد شيئا أدفع به عني الجوع . فوجدتُ كيسا من إبريسم مشدودا بشرابة من إبريسم أيضا . فأخذته وجئتُ به إلى بيتي. فحللتُه فوجدتُ فيه عِقدًا من لؤلؤ لم أرَ مثله . فخرجتُ فإذا الشيخ ينادي عليه . ومعَه خرقة فيها خمسمائة دينار وهو يقول : هٰذَا لِمَنْ يَرد علينا الكيس الذي فيه اللؤلؤ . فقلتُ : أنا محتاجٌ ، وأنا جائع. فآخذُ هٰذا الذهب فأنتفع به. وأرد عليه الكيس . فقُلتُ له : تعالى إلي. فأخذتُه وجئتُ به إلى بَيتي. فأعطاني علامةَ الكيس، وعلامةَ الشرابة، وعلامةَ اللؤلؤ و عَدَدَه . والخيط الذي هو مَشدُود به . فأخرجتُه ودَفعتُه إليه. فسلَّم إليّ خمسمائة دينار . فما أخذتُها. وقلتُ : يجبُ عليّ أَنْ أُعيده إليك ولا آخذ له جزاء . فقال لي : لا بُدّ أَنْ تأخذَ . وألَحّ عليّ كثيرا . فلم أقبل ذلك منه . فَتَرَكَنِي وَمَضَى.

وأمّا ما كان مني : فإنّي خرجتُ مِن مكةَ وَرَكِبْتُ البحرَ. فانكسرَ المركب وغرق الناسُ ، وهلكتْ أموالُهم. وسلمتُ أنا على قطعة مِن المركب. فبقيتُ مُدّةً في البحر لا أدري أين أذهب. فوصَلتُ إلى جزيرةٍ فيها قومٌ. فقعَدتُ في بعض المساجد. فسمعوني أقرأ . فلم يبق في تلك الجزيرة أحد إلا جاء إليّ وقال : علِّمني القرآن . فَحَصَلَ لي مِن أولئك القوم شيءٌ كثيرٌ من المال . قال : ثمّ إنّي رأيتُ في ذلك المسجد أوراقًا من مصحف.

(باقي پاتې واقعه د راتلونکې صفحې لاندې په حاشيه کې ذکر ده ، هلته يې اوګوره)

**فائده**: محترمو مسلمانانو ! تاسو واوريده چې قاضي ابوبكر بزاز رحمه الله چې كله قيمتي هار اوموندہ نو نه يې په كې خيانت اوكړو، او نه يې پټ كړو، بلكه هماغه شان يې خپل مالِک ته بې د څه عِوض نه اوسپارل نو الله ﷻ واپس هماغه هار ده ته په حلالې طريقې سره وركړو.

# دِ مُشتبِه مال نه د مسلمانانو زنانه ؤ پرهيز او احتياط

كه يو طرفته په اَسلافو كې داسې بزرگان او اَولياءُ الله تېر شوي چې هغوى به د مُشتبِه مال نه ډير ځان ساتل نو بل طرف ته داسې پاكدامنې حَياناكې مسلمانې زَنانه هم تيرې شوي چې هغوى به دعباداتو سره سره د حرام مال نه هم ډير ځان ساتل، كه انسان د هغوى د اِحتياط واقعات اوگوري نو مكمل حيران شي. يو څو واقعات درته د عبرت د پاره ذكر كوم:

---

فأخذتها أقرأ فيها فقالوا لي: تحسن تكتب؟ فقلتُ: نعم. فقالوا: علِّمنا الخَطّ. فجاءوا بأولادهم من الصبيان والشباب. فكنتُ أعلمهم. فَحَصَلَ لي أيضا مِنْ ذٰلك شيءٌ كثيرٌ فقالوا لي بعد ذلك: عِنْدَنَا صَبِيَّة يَتِيْمَة. وَلَهَا شَيْءٌ مِنَ الدُّنْيَا نُرِيْدُ أَنْ تَتَزَوَّجَ بِهَا. فَامْتَنَعْتُ. فقالوا: لا بل، وألزموني. فأجبتُهم إلى ذٰلك. فلمّا زفوها إليّ مددتُ عيني أنظرُ إليها. فَوَجَدْتُ ذٰلِكَ العِقْدَ بِعَيْنِهِ مُعَلَّقًا فِيْ عُنُقِهَا. فماكان لي حينئذ شُغلٌ إلا النظر إليه. فقالوا: يَا شَيْخُ! كَسَرْتَ قَلْبَ هٰذِهِ اليَتِيْمَة مِنْ نَظَرِكَ إِلى هٰذَا العِقْد، ولم تَنْظُرْ إليها. فَقَصَصْتُ عليهم قِصّة العقد. فَصَاحُوْا وَصَرَخُوْا بِالتهليل والتكبير، حتى بلغ إلى جميع أهلِ الجزيرة. فَقُلْتُ: مَا بِكُمْ. فَقَالُوْا: ذٰلِكَ الشَّيْخُ الَّذِيْ أَخَذَ مِنْكَ العِقْدَ أَبُوْ هٰذِهِ الصَّبِيَّةِ. وكان يقول: مَا وَجَدْتُ فِي الدُّنْيَا مُسْلِمًا إِلَّا هٰذَا الَّذِيْ رَدَّ عَلَيَّ هٰذَا العِقْدَ. وَكَانَ يَدْعُوْ وَيَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ اجْمَعْ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ حَتّٰى أُزَوِّجَهُ بِابْنَتِيْ. والآن قد حصلت. فَبَقِيْتُ معها مدة و رزقتُ مِنْها بولدين. ثمّ إنها ماتتْ فورثت العقد أنا وولداي، ثمّ ماتَ الولدان فحصل العِقدُ لي فبعته بمائة ألف دينار. وَهٰذَا المَالُ الّذي تَرَوْنَ مَعِي مِن بَقَايَا ذٰلِكَ المَالِ. ذيل طبقات الحنابلة ج١ ص ٢٢٢ احمد بن محمد بن احمد الدينوري البغدادي الفقيه.... ، شذرات الذهب في اخبار من ذهب ١٧٩/٦ سنة خمس وثلاثين وخمسمائة. هكذا ساق هذه الحكاية يوسف بن خليل الحافظ في معجمه. ترغيب المسلمين في الرزق الحلال وطعمة الصالحين ص ٣٥٧.

# د ميمونه بنت اَقرع رحمها الله احتياط

ميمونه بنت اقرع رحمها الله ډيره عبادت ګزاره او پرهيزګاره زَنانه وه ، دې به په خپل لاس باندې د وَړې يا مالوچو نه تارونه جوړول ، دا به يې خرڅول ، او د دې خپل لاس حلاله ګټه به يې استعمالوله ، د مُشتبِه مال نه به يې سخت پرهيز کولو .

په " طبقاتُ الحنابله " کتاب کې د دې يوه واقعه ذکر ده : شيخ مروزي رحمه الله فرمايي چې ما يوه ورځ امام احمد بن حنبل رحمه الله ته د دې ميمونه بنت اقرع د مُشتبِه څيزونو نه د پرهيز او احتياط يوه واقعه بيان کړه ، چې کله دې د وَړې نه تارونه جوړ کړه ، او دا يې د تارونو خرڅوونکي دُکاندار سره د خرڅ د پاره کيښودل ، نو هغه ته يې ووېل :

إِذَا بِعْتَ هٰذَا الْغَزَلَ فَقُلْ : إِنِّيْ رُبَمَا كُنْتُ صَائِمَةً فَأُرْخِيْ يَدِيْ فِيْهِ .

چې ته کله د وَړې دا تارونه خرڅوې نو هغه اخيستونکي ته زما د طرفه وايه چې : زه کله روژه يم ، د کمزورتيا د وجې کله زما لاسونه سست شي ( امکان شته چې د تارونو جوړولو په وخت په دې کې څه نقصان پيدا شوې وي ، او سَم مضبوط نه وي راغلي ، اوس ستا خوښه ، که اَخلې يې او که نه ؟ ) ، ميمونې دا خبره دُکاندار ته اوکړه ، او ورنه روانه شوه .

په لاره کې يې اِطمينان رانغی ، واپس راغله ، دُکاندار ته يې ووېل : چې ماله زما تارونه واپس راکړه : أَخَافُ أَنْ لَّا يُبَيِّنَ الْغَزَّالُ هٰذَا .

دِ ماسره دا يَره ده چې خرڅوونکې به دا عيب بيان نه کړي ( نو په دې سره به زما ګټه مُشتبِه شي ، نو خپل تارونه يې ورنه واپس وې وَړل ) .

امام احمد بن حنبل رحمه الله چې د ميمونه بنت اقرع رحمه الله دا د احتياط او تقوىٰ نه ډکه واقعه واورېده نو دُعا يې ورته اوکړه چې : اې الله ! په دې زَنانه باندې رَحم اوکړې ( چې دا څومره مُتّقي او پرهيزګاره ده ) . (١)

---

(١) أَخْبَرَنَا المروذي قَالَ و ذكر لأبي عَبْدِ اللهِ ميمونة بنت الأقرع المُتعبدة ، فقلتُ له إنها أرادتْ أنْ تَبِيْعَ غزلها . فقالتْ للغزّال : إِذَا بِعْتَ هٰذَا الغَزَلَ فَقُلْ : إِنِّيْ رُبَمَا كُنْتُ صَائِمَةً فَأُرْخِيْ يَدِيْ فِيْهِ . ثُمَّ ذَهَبَتْ ، و رَجَعَتْ ، فقالتْ : رد عَلَيَّ الغَزَلَ أَخَافُ أَنْ لَّا يُبَيِّنَ الغَزَّالُ هٰذَا . فترحم أَبُو عَبْدِ اللهِ عليها . طبقات الحنابلة ج١ ص ٤٢٦ ميمونة الاقرع ، ترغيب المسلمين فى الرزق الحلال وطعمة الصالحين ص ٤٢٧ .

# د بشر بن الحارث رحمه الله د خور "مُخه" احتياط

بشر بن الحارث رحمه الله يو لوي ولّيُ الله او بزرګ تېر شوی، دده ولايت او بزرګي د هر چا په نزد مُسلّمه ده، دا د امام احمد بن حنبل رحمه الله هم عصر ؤ، دده درې (٣) خورانې وې، هغه هم ډيرې عبادت ګزارې او پرهيزګارې وې، د حرام او مُشتبه شيانو نه به يې ډير ځانونه ساتل، دې زَنانهٔ به کله کله په پَرده کې د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه د مسئلو په باره کې پوښتنې هم کولی، په "طبقاتُ الحنابله" کې د دوی د احتياط او پرهيزګارۍ څه واقعات ذکر دي:

١. د امام احمد بن حنبل رحمه الله ځوي عبدالله بن احمد وايي چې يو کرت د بشر بن الحارث خور "مُخّه" زما پلار ته راغله، او په پَرده کې يې ورنه دا دې مسئلې پوښتنه اوکړه: چې زه يوه ښځه يم، زما ټوله سَرمايه دوه دانِقه ده (١)، زه په دې دوه دانِقو باندې مالوچ واخلم، ددې نه په خپل لاس باندې تارونه جوړ کړم، بيا دا تارونه په درې دانقه باندې خرڅوم (نو ماته يو دانق په ګټه کې پاتې شي) بيا زه په دې يو دانق باندې د يوې جُمعې نه تر بلې جُمعې پورې ګزاره کوم، يوه شپه ابن طاهر د خپلو ملګرو سره راروان ؤ، د هغه سره د رڼا قنديلونه هم وو.

(ابن طاهر يو ظالم کس ؤ، د حکومت د طرفه مقرر شوې ؤ چې شپې به يې ګشت کولو، د بغداد په ښار کې به ګرځيده).

کله چې ابن طاهر په لاره تيريده نو زما د کور سره څنګ کې څه وخت د پاره اُودريده، ځکه د خلقو سره يې د ضروري اُمورو او مَصالحو په باره کې خبرې کولی، ما چې کله د قنديل دا رڼا اُوليده نو دا مې غنيمت اوګنړله، او په دې رڼا کې مې د مالوچو يو څو تارونه جوړ کړه، کله چې ابن طاهر لاړ نو ما سره دا فکر پيدا شو چې الله ﷻ به د مانه ددې په باره کې پوښتنه کوي (ځکه دا خو سَرکاري رڼا وه، او دا خو صرف د سَرکاري کارونو د پاره

---

(١) په يو دِرهم کې شپږ دانِقه وي، او ددې زَنانه ټوله سَرمايه دوه دانقه وه، يعنی ددې ټوله سَرمايه د يو دِرهم دريمه حصه وه.

مقرر شوې وه ، حالانکه ما ددې نه ځپله فائده واخيسته ، او څه تارونه مې په کې جوړ کړل ، نو په دې سره خو زما ګټه مُشتبه شوه )

اې احمد بن حنبل ! ما ددې پريشانۍ نه خلاصه کړه ( او ما ته ددې په باره کې صحيح جواب راکړه چې زه اوس څه اوکړم ؟ ) الله ﷻ دې تاسو ته هم د هر قِسمه پريشانيانو نه خلاصي درکړي .

امام احمد بن حنبل رحمه الله چې ددې زَنانه تقوی ، پرهيزګارۍ او اِحتياط ته اوکتل نو ورته وې ويل :

ته اوس دا ټول تارونه د الله ﷻ په لاره کې خرچ کړه ، اګر چې ستا رأسُ المال (يعنی ټوله سَرمايه ) به هم د تاسره پاتې نشي ، خو الله ﷻ به تا ته ددې بهترين عِوض درکړي .

د امام احمد بن حنبل رحمه الله ځوي عبدالله وايي چې کله دا زَنانه لاړه نو ما خپل پلار ته وويل :

يَا أَبَتِ ! لَوْ قُلْتَ لَهَا لَوْ أَخْرَجت الَّذِيْ أَدْرَكْت فِيْهِ الطَّاقَاتِ .

اې پلاره ! که چيرته دا دې زَنانه ته دا حکم کړې وی چې : " تا څومره تارونه د ابن ظاهر په رڼا کې جوړ کړي دي صرف هغه صدقه کړه " نو دا به ډيره ښه وه ( ځکه په دې سره به د هغې سَرمايه بَچ شوې وه ، حالانه تاسو خو هغې ته د ټولو تارونو صدقه کولو حکم اوکړو )

امام احمد بن حنبل رحمه الله وفرمايل :

يَا بُنَيَّ ! سُؤَالُهَا لَايَحْتَمِلُ التَّأْوِيْلَ .

اې ځويه ! د هغې سوال په دومره تقوی او اِحتياط باندې مَبنې وُ چې د هغې د پاره ددې جواب نه علاوه بل جواب مناسب نه وُ .

عبدالله وايي چې بيا ما ته والد صاحب وويل :

مَنْ هٰذِهٖ ؟ دا زَنانه څوک وه ؟

ما ورته وويل : مُخّة أخت بشر بن الحارث .

دا د بشر بن الحارث خور " مُخّه " وه .

امام احمد بن حنبل رحمه الله وفرمايل : د همدې اِحتياط او پرهيزګارۍ په وجه خو ورته الله ﷻ دومره لوي مقام ورکړی دی. (١)

٢ . د همدې زَنانه متعلق يوه بله واقعه هم نقل ده چې دا يو ځل امام احمد بن حنبل رحمه الله له راغله ، سلام يې واچول ، او په پَرده کې يې ورنه پوښتنه اوکړه :

زه يوه زَنانه يم ، د شپې د ډيوې رَڼا ته د وَرۍ نه تارونه جوړوم ، کله چې ډيوه مړه شي نو زه بيا د سپوږمۍ په رَڼا کې تارونه جوړوم ،

فَعَلَيَّ أَنْ أُبَيِّنَ غَزْلَ الْقَمَرِ مِنْ غَزْلِ السِّرَاجِ ؟

آيا په ما باندې (اوس) دا لازم دي چې زه ( د تارونو خرڅولو په وخت ) اخيستونکي ته د سپوږمۍ په رڼا کې د جوړ شوو تارونو او د ډيوې په رڼا کې د جوړ شوو تارونو په مينځ کې جُدائي اوکړم ؟ ( چې دا تارونه مې د سپوږمۍ په رڼا کې جوړ کړي ، او دا نور مې د ډيوې په رَڼا کې جوړ کړي ) .

امام احمد بن حنبل رحمه الله ورته وفرمايل :

إِنْ كَانَ عِنْدَكِ بَيْنَهُمَا فَرْقٌ فَعَلَيْكِ أَنْ تبينِيْ ذٰلِكَ .

که چيرته ستا په نزد باندې په دې دواړه قِسمه تارونو کې ( د ښه او خراب په اِعتبار سره ) فرق وي نو بيا په تا باندې لازم دي چې ته اخيستونکي ته د دواړو په مينځ کې د فرق خبره اوکړې .

(١) وقال عَبْدُ الله بْنُ أَحْمَد جاءت مُخّة أخت بشر بْن الحارث إلى أبي فقالت له إنّي امرأة رأس مالي دانقين . أشتري القطن فأردنه فأبيعه بنصف درهم ، فأتقوت بدانق من الجُمعة إلى الجمعة فمرّ ابن طاهر الطائف ومعه مشعل فوقف يُكلم أصحاب المصالح ، فاستغنمتُ ضوءَ المشعل ، فغزلتُ طاقات . ثم غاب عني المشعل ، فعلمتُ أنّ لِله فِيّ مطالبة فَخَلِّصْنِيْ خَلَّصَكَ اللهُ . فقال لها تخرجين الدانقين وتبقين بلا رأس مالٍ حتى يعوضك الله خيرًا . قال عبد الله : فقلتُ لأبي يا أبت ! لو قلتَ لها لو أخرجت الّذي أدركت فيه الطاقات . فقال : يَا بُنَيَّ ! سُؤَالُهَا لَايَحْتَمِلُ التَّأْوِيْلَ . ثُمّ قَالَ : مَنْ هٰذِهِ ؟ قلتُ مُخّة أخت بشر بْن الحارث . فقال : من ههنا أُتيت .
طبقات الحنابلة ج١ ص ٤٢٧ مخة اخت بشر ابن الحارث ، ترغيب المسلمين فى الرزق الحلال وطعمة الصالحين ص ٤٢٠ .

د مسئلې اَوريدو نه پس دا ښځه لاړه ، د امام احمد بن حنبل رحمه الله ځوي عبدالله وايي چې زما پلار ددې زنانه د تقوى ، اِحتياط او د داسې عجيبه پوښتنې په کولو سره ډير مُتأثره شو ، او وې ويل :

مَا سَمِعْتُ قَطّ إِنْسَانًا يَسْأَلُ عَنْ مِثْلِ هٰذَا ... (١)

ما تر اوسه پورې داسې يو انسان ندې ليدلى چې دداسې احتياط او تقوى نه ډکې مسئلې تپوس يې کړې وي ...

# چې کله انسان د الله ﷻ تابعدار شي نو هر شى دده حکم مني

چې کله انسان د الله ﷻ صحيح تابعدار شي ، په ده کې تقوى او پرهيزګاري پيدا شي نو بيا هر شى دده حکم مني ، او هيڅ شى دده د حکم مخالفت نه کوي ، ددې په باره کې درته يو څو واقعات ذکر کوم :

## ١ . د حضرت سلمان فارسي ﷺ په وينا هوسۍ او مرغۍ راتلل

حسن بصري رحمه الله فرمايي چې يو ځل حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه ته په مدائن ښار کې يو ميلمه راغى ، سلمان فارسي ﷺ ميلمه د ځان سره روان کړو او د ښارنه بهَر يو ځنګل طرف ته لاړل ، هلته يې ډيرې هوسۍ او مرغۍ اُوليدى ، سلمان فارسي ﷺ دوى ته وويل :

(١) قال عَبْدُ اللهِ بْنُ أَحْمَد بن حنبلٍ كنتُ مع أبي يومًا من الأيام في المنزل فدق داق الباب ، قَالَ لي : أُخرج فانظرْ مَنْ بِالباب ؟ قَالَ فخرجتُ فإذا امرأةٌ قَالَتْ لي : اِسْتأذنْ لي عَلَى أَبِي عَبْدِاللهِ . يعني أباه ، قَالَ : فاستأذنتُه فقال : أدخلها فدخلتْ فجلستْ فسلّمتْ عليه وقالت له : يا أبا عَبْدَ الله ! أنا امرأة أغزلُ بالليلِ في السّراج . فربما طفئ السّراج ، فأغزل في القمر ، فَعَلَيّ أَنْ أُبَيّنَ غَزْلَ القَمَرِ مِنْ غَزْلِ السِّرَاجِ ؟ قَالَ فقال لها : إِنْ كَانَ عِنْدَكِ بَيْنَهُمَا فَرْقٌ فَعَلَيْكِ أَنْ تبيني ذَلِكَ ، ... قَالَ فودعته وخرجتْ .قَالَ فقال لي : يا بُنَيّ ! مَا سَمِعْتُ قَطّ إِنْسَانًا يَسْأَلُ عَنْ مِثْلِ هَذَا . اتبع هذه المرأة فانظر أين تدخل قَالَ فاتبعتها فإذا هي قد دخلت إلى بيت بشر بن الحارث وإذا هي أُخته قَالَ فرجعت فقلت له فقال محال أن تكون مثل هذه إلا أُخت بشر . طبقات الحنابلة ج١ ص ٢٢٨ مخة اخت بشر بن الحارث ، ترغيب المسلمين فى الرزق الحلال وطعمة الصالحين ص ٢٣٥ .

لِيَأْتِيَنِي ظَبْيٌ وَطَيْرٌ مِنْكُنَّ سَمِيْنَانِ ، فَقَدْ جَاءَنِي ضَيْفٌ وَأُحِبُّ إِكْرَامَهُ .

په تاسو کې دې يوه څربه هوسۍ او څربه مرغۍ ماته راشي ، ځکه زما ميلمه راغلې دی ، او زه دده اِکرام ( عِزت او ميلمستيا ) کول غواړم .

نو يوه هوسۍ او يوه مرغۍ دوی ته راغله . ميلمه چې دا اُوکته نو ډير حيران شو ، او وې ويل : سبحان الله ، اې سلمان فارسي ! الله ﷻ تاته مرغۍ او هوسۍ مُسخّر کړي دي ؟

سلمان فارسي رضي الله عنه ورته وفرمايل :

أَفَتَعْجَبُ مِنْ هٰذَا ؟ هَلْ رَأَيْتَ عَبْدًا أَطَاعَ اللهَ فَعَصَاهُ شَيْءٌ . (١)

آيا ته تعجب کوی ؟ ( يعنی په دې کې د تعجب خبره نشته ) آيا تا داسې يو بنده ليدلې دی چې هغه د الله ﷻ اِطاعت کړې وي او بيا په مخلوقاتو کې يو شي دده نافرماني کړې وي ؟ ( يعنی کله چې يو انسان د الله ﷻ حکم اُومني نو د مخلوقاتو هر شی به دده حکم مني ) .

## ٢ . د يو شپونکي کرامت

ابراهيم بن اَدهم رحمه الله فرمايي چې يو ځل ما په ځنګل کې يو شپونکي ته وويل : ماته شوده ( پَی ) يا اُوبه په کار دي . شپونکي راته وويل : دواړه شيان شته دی ، خو ستا کوم يو خوښ دی ؟

ما ورته وويل : اُوبه . دې شپونکي په خپله اَمسا باندې يو کاڼړې اُووهل ، نو د هغې نه يوه چينه روانه شوه ، ما دغه اُوبه اُوڅکلی ،

فَإِذَا هُوَ اَبْرَدُ مِنَ الثَّلْجِ وَاَحْلیٰ مِنَ الْعَسَلِ .

دا اُوبه د واورې نه يخې وی ، او د شهد و نه خوږې وی .

په دې ليدلو سره زه ډير حيران شوم ، شپونکي راته وويل :

لَا تَتَعَجَّبْ فَإِنَّ الْعَبْدَ إِذَا أَطَاعَ مَوْلَاهُ أَطَاعَهُ كُلُّ شَيْءٍ .

(١) ترغيب المسلمين في الرزق الحلال وطعمة الصالحين ص ١٥٩ .

تعجب مه کوه ، ځکه چې کله يو بنده د خپل الله ﷻ اطاعت کوي نو هر شی به ددہ اطاعت کوي . (١)

د بعضو بزرګانو قول دی : مَنْ خَدَمَ اللهَ خَدَمَتْهُ الدُّنْيَا ، وَمَنْ أَطَاعَ اللهَ أَطَاعَهُ الْمَخْلُوقُ.

څوک چې د الله ﷻ خدمت يعنی عبادت اوکړي نو ټوله دُنيا به دده خدمت ګاره جوړه شي ، او څوک چې د الله ﷻ اِطاعت اوکړي نو ټول مخلوق به دده فرمانبردار جوړ شي.

د الله ﷻ د محبوب کيدلو سره سره به دا کس د مسلمانانو هم محبوب شي ، بلکه د حيوانانو ، درِندګانو او مرغو به هم محبوب شي.

## ٣ . د سفيان ثوري رحمه الله سره د سپي خبرې :

حافظ ابو نعيم رحمه الله په "حلية الاولياء" کې يوه واقعه رانقل کړی : سفيان ثوري رحمه الله فرمايي چې جُمات ته کومه لاره تللې وه په هغې کې يو سپې وُ چې خلق به يې چيچَل ، يو ځل زه جُمات ته په دې لاره باندې روان ووم ، په لاره کې همدا سپې ولاړ وُ ، نو زه د لارې نه يو طرف ته روان شوم ، کله چې زه سپي اُوليدم نو (سپې راته الله ﷻ ګويان کړو) راته وې ويل : إِنَّمَا سَلَّطَنِيَ اللهُ عَلَى مَنْ يَشْتِمُ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ . (٢)

اې ابو عبدالله ! ته په لاره تېر شه (تاته هيڅ هم نه وايم) ځکه زه الله ﷻ په هغه چا مُسلط کړې يم چې هغوی حضرت ابوبکر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ ته کنځل کوي.

## ٤ . شيبان راعي رحمه الله د ځنګل زمري د غوږ نه اُونيوه :

په "حلية الاولياء" کې دا واقعه هم ذکر ده ، سفيان ثوري رحمه الله فرمايي چې :

(١) ترغيب المسلمين في الرزق الحلال وطعمة الصالحين ص ١٥٩ .

(٢) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خُنَيْسٍ ، قَالَ : سَمِعْتُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيَّ ، يَقُولُ : « كَانَ عَلَى طَرِيقِي إِلَى الْمَسْجِدِ كَلْبٌ يَعْقِرُ النَّاسَ ، فَأَرَدْتُ يَوْمًا الصَّلَاةَ وَالْكَلْبُ عَلَى الطَّرِيقِ ، فَتَنَحَّيْتُ عَنْهُ » فَقَالَ : يَا أَبَا عَبْدِ اللهِ ! جُزْ ، فَإِنَّمَا سَلَّطَنِي اللهُ عَلَى مَنْ يَشْتِمُ أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ . حلية الاولياء و طبقات الاصفياء ٧/ ٧٢ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ . ترغيب المسلمين ص ٢٧٥

زه او شيبان راعي رحمه الله ( كوم چې ډير لوي بزرګ وُ ، مونږ ) دواړه پياده حج ته روان شو ، هر كله چې مونږ يو ځاى ته اورسيدو نو ناڅاپه زمونږ مخې ته يو زمرې راغى ، ما شيبان ته وويل :

أَمَا تَرٰى هٰذَا الْكَلْبَ قَدْ عَرَضَ لَنَا ؟

آيا ته دا سپې ( يعنى زمرې ) ګورى كوم چې زمونږ مخې ته راغى ( اوس به څه كوو ؟ ).

شيبان رحمه الله راته وويل : لَا تَخَفْ يَا سُفْيَانُ ! . اې سفيان ويريږه مه.

بيا شيبان په زمري باندې يوه چَغه اوكړه ، زمرې د مونږ سره مانوس شو ، د سپي په شان يې ( د خوشامندۍ نه ) لكۍ اُوخوزوله ( او شيبان رحمه الله ته راغى ) ، شيبان دا زمرې د غوږ نه اُونيوه او په قلاره يې راښكل . سفيان ثوري رحمه الله فرمايي چې ما شيبان ته وويل : مَا هٰذِهِ الشُّهْرَةُ ؟ دا ته څه د شهرت او ريا كاري كار كوى ؟

شيبان راته وويل :

وَأَيُّ شُهْرَةٍ تَرٰى يَا ثَوْرِيُّ ؟ لَوْلَا كَرَاهِيَةُ الشُّهْرَةِ مَا حَمَلْتُ زَادِيْ إِلٰى مَكَّةَ إِلَّا عَلٰى ظَهْرِهِ . (١)

اى سفيان ثوري ! تاته كوم شهرت په نظر راځي ؟ ( يعنى په دې كې خو هيڅ شهرت نشته ) ، كه چيرته ما شهرت بَد نه ګنړلى نو ما به اوس دا خپل اَسباب ددې زمري په شا باندې مكې معظمې ته وړې وى ( ليكن زه شهرت بَد ګنړم ، او نه يې خوښوم ).

سبحان الله . د حلال خوراک او عباداتو په وجه الله ﷻ د ځنګل زمري دداسې خلقو تابع ګرځولي وو ، حالانكه زمرې د انسان دُشمن دى ، انسان هلاكوي خو بيا هم الله ﷻ د خپلو نيكانو بندګانو تابعدار اوګرځول.

---

(١) حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَبِي الزَّرْقَاءِ . قَالَ : سَمِعْتُ الثَّوْرِيَّ . يَقُوْلُ : خَرَجْتُ حَاجًّا أَنَا وَشَيْبَانُ الرَّاعِيْ مُشَاةً . فَلَمَّا صِرْنَا بِبَعْضِ الطَّرِيْقِ إِذَا نَحْنُ بِأَسَدٍ قَدْ عَارَضَنَا . فَقُلْتُ لِشَيْبَانَ : أَمَا تَرٰى هٰذَا الْكَلْبَ قَدْ عَرَضَ لَنَا ؟ فَقَالَ لِيْ : لَا تَخَفْ يَا سُفْيَانُ ! ثُمَّ صَاحَ بِالْأَسَدِ فَبَصْبَصَ وَضَرَبَ بِذَنَبِهِ مِثْلَ الْكَلْبِ . فَأَخَذَ شَيْبَانُ بِأُذُنِهِ فَعَرَكَهَا . فَقُلْتُ لَهُ : « مَا هٰذِهِ الشُّهْرَةُ ؟ » فَقَالَ لِيْ : وَأَيُّ شُهْرَةٍ تَرٰى يَا ثَوْرِيُّ ؟ لَوْلَا كَرَاهِيَةُ الشُّهْرَةِ مَا حَمَلْتُ زَادِيْ إِلٰى مَكَّةَ إِلَّا عَلٰى ظَهْرِهِ " . حلية الاولياء و طبقات الاصفياء ٦٨/٧ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ .

## ٥ . د سفيان ثوري رحمه الله سره د يوې بلبلې محبت :

ابومنصور رحمه الله فرمايي چې سفيان ثوري رحمه الله به (زما د حُجرې) په دې کمره کې اُوسيده ، دلته زما ځوي يوه بَلبله ساتلې وه ، په پَنجره کې يې بَنده کړې وه ، يوه ورځ ماته سفيان ثوري رحمه الله وويل : مَا بَالُ هٰذَا الطَّيْرِ مَحْبُوْسٌ ؟ لَوْ خُلِّيَ عَنْهُ .

دا مرغۍ مو ولې په پَنجره کې بنده کړې ده ؟ که دا آزاده کړې شي نو ډيره به بهتره وي .

ابومنصور وايي ما ورته وويل : دا خو زما د ځوي ده ، او هغه يې تاسو ته هِبه کوي (اوس دا ستاسو شوه) ، سفيان ثوري رحمه الله راته وْويل : زه يې ورنه مُفت نه اَخلم بلکه زه به ددې په عِوض کې يو دِينار ورکړم .

بيا سفيان ثوري رحمه الله دا مرغۍ د پَنجرې نه رااُوويسته ، او فورًا يې خوشې (آزاده) کړه . ددې مرغۍ دده سره دومره مِينه پيدا شوه چې د ورځې به دا د خپل رِزق د تلاش پسې اُووته ، ماښام به واپس راغله او دده د کمرې په يو گُنج کې به يې شپه تېره کړه .

فَلَمَّا مَاتَ سُفْيَانُ تَبِعَ جَنَازَتَهُ . فَكَانَ يَضْطَرِبُ عَلَى قَبْرِهِ .

کله چې سفيان ثوري رحمه الله وفات شو دا مرغۍ هم په هوا باندې دده د جنازې سره لاړه ، او دا به د هغه په قبر باندې ډيره پريشانه پرته وه .

بيا به څو شپې مسلسل د سفيان ثوري رحمه الله قبر ته تلله ، کله به يې د قبر سره شپه هم تيره کړه ، او کله به واپس هماغه زړې کمرې ته راغله . ثُمَّ وَجَدُوْهُ مَيِّتًا عِنْدَ قَبْرِهِ .

بيا خلقو دا مرغۍ د سفيان ثوري رحمه الله د قبر سره اوکته چې مړه شوې وه .

نو خلقو دا مرغۍ دده په قبر يا دده د قبر سره څنګ کې خَخه کړه . (١)

(١) بَاتَ سُفْيَانُ فِيْ هٰذَا الْبَيْتِ ، وَكَانَ هٰهُنَا بُلْبُلٌ لِابْنِيْ . فَقَالَ : « مَا بَالُ هٰذَا الطَّيْرِ مَحْبُوْسٌ ؟ لَوْ خُلِّيَ عَنْهُ » فَقُلْتُ : هُوَ لِابْنِيْ ، وَهُوَ يَهَبُهُ لَكَ . قَالَ : فَقَالَ : « لَا ، وَلٰكِنِّيْ أُعْطِيْهِ دِيْنَارًا » . قَالَ : فَأَخَذَهُ فَخَلَّى عَنْهُ . فَكَانَ يَذْهَبُ فَيَرْعٰى فَيَجِيْءُ بِالْعَشِيِّ فَيَكُوْنُ فِيْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ . فَلَمَّا مَاتَ سُفْيَانُ تَبِعَ جَنَازَتَهُ . فَكَانَ يَضْطَرِبُ عَلٰى قَبْرِهِ . ثُمَّ اخْتَلَفَ بَعْدَ ذٰلِكَ لَيَالِيَ إِلٰى قَبْرِهِ . فَكَانَ رُبَّمَا بَاتَ عَلَيْهِ . وَ رُبَّمَا رَجَعَ إِلَى الْبَيْتِ . ثُمَّ وَجَدُوْهُ مَيِّتًا عِنْدَ قَبْرِهِ . فَدُفِنَ مَعَهُ فِي الْقَبْرِ أَوْ إِلٰى جَنْبِهِ . حلية الاولياء وطبقات الاصفياء ٧/٥٨ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ . ترغيب المسلمين ص ٣٨٢ .

**فائده** سبحان الله ، مرغۍ هم پيژندله چې سفيان ثوري رحمه الله لوي بزرګ دی نو ځکه يې ورسره د دومره عشق مظاهره اوکړه.

معلومه شوه چې درندګان او مرغۍ هم اولياء الله پيژني او د دوی سره محبت کوي.

## د الله ﷻ په نزد د مسلمان ډير لوي شان او لويه مرتبه ده

کوم مسلمان چې د حرام مال او مُشتبه شيانو نه ځان ساتي ، په ځان کې تقوی او پرهيزګاري پيدا کړي ، او عبادات پوره اداء کوي نو د الله ﷻ په نزد باندې د داسې مسلمان ډير لوي شان او لويه مرتبه ده.

مشهور بزرګ ابراهيم خواص رحمه الله فرمايي چې زه يو ځل په سفر باندې اُووتم ، يو ځنګل ته اُورسيدم ، هلته راسره يو عيسائي راهب ملاؤ شو ، چې د ملا په مينځ باندې به يې زنّار هم زوړند وُ ، ( زنّار يو مزې او تار دی ، دا د عيسائي کافرانو خاص نخه ده ) ، دې عيسائي ماته ووېل :

يو ځاى به دواړه سفر کوو ( ما ورته ووېل : صحيح ده ) .

کله چې مونږ سفر شروع کړو ، د اُووه ( ٧ ) ورځو سفر کولو په دوران کې مونږ ته د خوراک هيڅ شی ملاؤ نه شو ، په اُوومه ورځ عيسائي راهب راته ووېل :

يَا رَاهِبَ الْحَنَفِيَّةِ ! هَاتِ مَا عِنْدَكَ مِنَ الْإِنْبِسَاطِ فَقَدْ جُعْنَا .

اې د مسلمانانو بزرګه ! ته چې کومه بزرګي لرې هغه ظاهره کړه ، ځکه مونږ اُوږي شوي يو .

ابراهيم خواص رحمه الله فرمايي چې ما دُعا اوکړه : اې الله ! ما د دې عيسائي کافر د وړاندې مه رسواء کوه ( زمونږ د خوراک انتظام اوکړه )

فَرَأَيْتُ طَبَقًا عَلَيْهِ خُبْزٌ وَلَحْمٌ وَشِوَاءٌ وَرُطَبٌ وَكُوزٌ . فَأَكَلْنَا وَشَرِبْنَا .

ما ناڅاپه د غيبو نه يو غټ رِکابې اُوليده چې په هغې کې روټۍ ، وريته شوې غوښه ، قجورې او د اُوبو لوخې وُ ، نو مونږ دا خوراک اوکړو ، او دا اُوبه مو اُوڅکلې .

مونږ بيا خپل سفر مخ په وړاندې شروع کړو ، تر د اووه ( ٧ ) ورځو پورې مو سفر اوکړو ، خو په دې اووه ورځو کې مونږ ته د خوراک د پاره هيڅ ملاؤ نه شو ، په اوومه ورځ ما دې عيسائي ته وويل :

يَارَاهِبَ النَّصْرَانِيَّةِ اهَاتِ مَا مَعَكَ مِنَ الْاِنْبِسَاطِ. فَقَدِانْتَهَتِ النَّوْبَةُ إِلَيْكَ

اې عيسائي راهبه ! ته چې کومه بزرګي لرې هغه ښکاره کړه ځکه اوس نمبر ستا دی.

عيسائي راهب په خپله اَمسا باندې تَکيه اولګوله او څه دُعا يې اوکړه .

فَإِذَا بِطَبَقَيْنِ عَلَيْهِمَا أَضْعَافُ مَا كَانَ عَلَى طَبَقِيْ .

ناڅاپه دوه غټې رِکابې د غېبو نه راښکاره شو ، په هغې باندې زما د رِکابې په دوچَند شيان موجود وو .

ابراهيم خواص رحمه الله فرمايي چې په دې ليدلو سره زه ډېر حيران شوم ، او په غيرت کې راغلم ، هغه راته د خوراک خوړو وينا اوکړه خو ما د خوراک خوړو نه اِنکار اوکړو ، هغه په مسلسل د خوړو اِصرار کولو خو ما به اِنکار کولو .

( ځکه ماته دا غېرت راغی چې زه مسلمان ووم زما د پاره د غېبو نه يو رِکابې د خوراک راغلو ، او دې عيسائي دی دده په دُعا سره د غېبو نه دوه رِکابې د خوراک راغله ) .

بيا هغه عيسائي راهب ماته وويل : ته روټۍ خوره ، زه تاته دوه خوشخبري دَر اَوروم :

إِحْدَاهُمَا : أَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ .

اوله خوشخبري داده چې زه مسلمان شوم او کلمه شهادت يې وويله .

بيا ده هغه زنّار د ملا نه راخلاص کړو ، او وې غورځول .

وَالْأُخْرٰى : إِنِّيْ قُلْتُ : اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ لِهٰذَا الْعَبْدِ خَطَرًا عِنْدَكَ فَافْتَحْ لِيْ بِهٰذَا .

دويمه خوشخبري داده چې ما همدا ستا په وسيله باندې د الله ﷻ نه دا دُعا غوښتې وه چې : اې الله ! که ستا په نزد باندې ددې ابراهيم خواص رحمه الله څه مرتبه وي نو ماته د همده په وسيله باندې دا کرامت راکړه ، او په مونږ فراخي راوله .

ابراهيم خواص رحمه الله فرمايي چې بيا مونږ دواړو دا خوراک اُوخوړ، او اُوبه مو اوڅکلې، بيا مو يو ځای د بيتُ الله حَج اوکړو، تر د يو کال پورې يو ځای وو، بيا هغه وفات شو، ما په مکه مکرمه کې په بطحاء مقام کې دَفن کړو.(۱)

# د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا رااُووته چې کوم کس په دُنيا کې د مُشتبِه خوراک او مُشتبِه شيانو نه ځان ساتي، او د پردي مال په باره کې ډير اِحتياط کوي نو الله ﷻ به د داسې کس دِين او عِزت محفوظ ساتي، او داسې کس به په حرامو کې د واقع کيدلو نه هم محفوظ کوي

همدارنګې الله ﷻ به داسې کس د مُتقيانو په ډله کې داخل کړي، چې په نتيجه کې به ده ته په دُنياوي ژوند کې د اِطمينان، سکون، او خوشحالی سره سره د آخرت نِعمتونه او خوشحالياني هم ورکړي.

الله ﷻ دې مونږ ټول د مُشتبِه او حرام مال نه اُوساتي، او د خپلو غيبي خزانو نه دې مونږ ټولو ته فراخه حلال رزق راکړي.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

(۱) قَالَ إِبْرَاهِيْمُ الْخَوَّاصِ: دَخَلْتُ الْبَادِيَةَ مَرَّةً، فَرَأَيْتُ نَصْرَانِيًّا عَلَى وَسْطِهِ زُنَّارٌ. فَسَأَلَنِي الصُّحْبَةَ. فَمَشَيْنَا سَبْعَةَ أَيَّامٍ. فَقَالَ لِي: يَا رَاهِبَ الْحَنَفِيَّةِ ! هَاتِ مَا عِنْدَكَ مِنَ الْإِنْبِسَاطِ فَقَدْ جُعْنَا. فَقُلْتُ: إِلٰهِيْ ! لَا تَفْضَحْنِيْ مَعَ هٰذَا الْكَافِرِ. فَرَأَيْتُ طَبَقًا عَلَيْهِ خُبْزٌ وَلَحْمٌ وَشِوَاءٌ وَرُطَبٌ وَكُوزٌ. فَأَكَلْنَا وَشَرِبْنَا. وَمَشَيْنَا سَبْعَةَ أَيَّامٍ. ثُمَّ بَادَرْتُ. وَقُلْتُ: يَا رَاهِبَ النَّصْرَانِيَّةِ ! هَاتِ مَا مَعَكَ مِنَ الْإِنْبِسَاطِ. فَقَدِ انْتَهَتِ النَّوْبَةُ إِلَيْكَ. فَاتَّكَأَ عَلَى عَصَاهُ وَدَعَا. فَإِذَا بِطَبَقَيْنِ عَلَيْهِمَا أَضْعَافُ مَا كَانَ عَلَى طَبَقِيْ. فَتَحَيَّرْتُ وَتَغَيَّرْتُ. وَأَبَيْتُ أَنْ آكُلَ. فَأَلَحَّ عَلَيَّ وَلَمْ أُجِبْهُ. فَقَالَ: كُلْ فَإِنِّيْ أُبَشِّرُكَ بِبِشَارَتَيْنِ: إِحْدَاهُمَا أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ. وَحَلَّ الزُّنَّارَ. وَالْأُخْرٰى: إِنِّيْ قُلْتُ: اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ لِهٰذَا الْعَبْدِ خَطَرًا عِنْدَكَ فَافْتَحْ لِيْ بِهٰذَا. فَفَتَحَ. قَالَ: فَأَكَلْنَا وَمَشَيْنَا وَحَجَّ. وَأَقَمْنَا بِمَكَّةَ سَنَةً. ثُمَّ مَاتَ. وَدُفِنَ بِالْبَطْحَاءِ. مسالک الابصار في ممالک الامصار ٨/ ١٠١ ابو إسحاق إبراهيم بن احمد بن إسماعيل الخوّاص. . ، بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية في سيرة الفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي تَصْحِيحِ الْاِعْتِقَادِ ١/٢٠٣، ترغيب المسلمين ص ٣٥١.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴾.

سورة البقرة آية ۲۷۸.

# د سُود خوړلو سَزاګاني او نقصانات

تاليف

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيض القرآن اکاخيل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د سُود خوړلو سزاګاني او نقصانات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ . فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوْسُ اَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ ﴾ . (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلرِّبَا ثَلَاثٌ وَسَبْعُوْنَ بَابًا . اَيْسَرُهَا مِثْلُ اَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ اُمَّهٗ . (٢)

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ : دِرْهَمُ رِبًا يَاْكُلُهُ الرَّجُلُ وَهُوَ يَعْلَمُ اَشَدُّ مِنْ سِتَّةٍ وَثَلَاثِيْنَ زِنْيَةً . (٣)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ

---

(١) سورة البقرة آية ٢٧٨ ، ٢٧٩ .

(٢) رواه الحاكم و قال : صحيحٌ على شرط البخاري ومسلم ، ورواه البيهقي من طريق الحاكم ثم قال هذا إسناد صحيح ، صحيح الترغيب والترهيب ٢/١٧٧ رقم الحديث ١٨٥١ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلرِّبَا اِثْنَانِ وَسَبْعُوْنَ بَابًا . اَدْنَاهَا مِثْلُ اِتْيَانِ الرَّجُلِ اُمَّهٗ . المعجم الاوسط ٧/١٨٥ رقم الحديث ٧١٥١ ، المعجم الكبير للطبراني ١٣/ ١٧٢ رقم الحديث ٤١٢ ، شرح السنة للبغوي ٨/٥٤ رقم الحديث ٢٠٥٤ باب وعيد اكل الربا ، صحيح الترغيب والترهيب ٢/١٧٩ رقم ١٨٥٧ .

(٣) رَوَاهُ أَحْمَدُ والدراقطني . وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، مشكاة المصابيح باب الربا الفصل الثالث ٢/ ٨٥٩ رقم الحديث ٢٨٢٥ ( ١٩ ) ، مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ٦٥٧٣ كتاب البيوع باب ما جاء في الربا ، صحيح الترغيب والترهيب ٢ /١٧٨ رقم الحديث ١٨٥٥ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره ، كنز العمال ٩٧٦١ ، ورقم ٩٧٦٢ الباب الرابع في الربا الفصل الاول في الترهيب عنه .

**نوټ** : په يو روايت كې د سُود يو درهم د دوه ديرش ( ٣٢ ) زناګانو نه هم لويه ګناه خودل شوى ، قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ : لَدِرْهَمٌ يُصِيْبُهُ الرَّجُلُ مِنَ الرِّبَا اَعْظَمُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ ثَلَاثَةٍ وَثَلَاثِيْنَ زَنْيَةً يَزْنِيْهَا فِي الْاِسْلَامِ . المعجم الكبير للطبراني ١٤/ ٣٦١ رقم الحديث ١٤٩٩٣ .

## په اسلام کې په بعضو طريقو سره د مال ګټلو نه مَنع راغلې

محترمو مسلمانانو ورونو ! په اِسلامي شريعت کې په بعضو طريقو سره د مال ګټلو نه منع راغلې ده . او دا خبره په تجربې سره هم ثابته ده چې شريعت په کومو طريقو او ذرائعو سره مال ګټل حرام کړي دي د مسلمانانو کاميابي او خوشحالي په همدې کې ده چې د دغه طريقو نه ځان اُوساتي .

او په کومه معاشره کې چې خلق د اِسلامي حُدودو پَرواه نه کوي ، په حرامو طريقو سره مال و دولت ګټي د داسې معاشرې نه د خېرخواهۍ ، همدردۍ ، محبت ، اِيثار او ورورولۍ جَذبه ختميږي ، او په دوی کې د خُود غرَضۍ ، کنجُوسۍ ، سنګ دِلۍ او بې رَحمۍ صفات پيدا کيږي ، بيا هر کس دا کوشش کوي چې په څه طريقې سره مال و دولت پيدا کړي ، که په دې کې د يو مسلمان حَياء او عِزت ته نقصان هم رسي خو دې يې هيڅ پَروا نه کوي .

د حرام په ذرائعو کې بَدترينه ذريعه سُود دی ، ځکه په قرآن کريم کې د سُود د ممانعت سره سره سُود خور ته اِعلانِ جنګ هم شوی ، او د سُود په باره کې په قرآن کريم او احاديثو کې داسې سخت سخت وعيدونه راغلي چې هغه د بلې ګناه په باره کې ندي راغلي .

## سُود خوَرو ته د الله او د رسول د طرفه اعلانِ جنګ

ما چې ستاسو د وړاندې د قرآن کريم د سورة بَقرې کوم دوه آيتونه ذکر کړه په دې کې په اول آيت کې مؤمنانو ته د الله ﷻ نه د وِيريدو حکم شوی ، وروسته الله ﷻ مؤمنانو ته د سُود پريخودو حکم کړی ، الله تعالى فرمايي :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴾ . (١)

ترجمه : اې مؤمنانو ! تاسو د الله ﷻ نه اُوويريږئ ، او باقي پاتې سُود پريږدئ که چيرته تاسو ريښتيني مؤمنان يئ .

---

(١) سورة البقرة آية ٢٧٨ .

بيا وروسته دويم آيت کې الله ﷻ ددې حکم مخالفت کوونکو د پاره سخته سزا ذکر کړی، الله تعالی فرمايي:

﴿ فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللهِ وَرَسُولِهِ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُؤُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴾. (١)

ترجمه: پس که چیرته تاسو دا کار او نکړو (یعنی د سود نه منع نه شوئ) نو بيا د الله او رسول سره جنګ کولو ته تيار شئ (يعنی د الله ﷻ او د رسول ﷺ د طرفه اعلانِ جنګ واورئ).

**فائده**: په دې آيت کې سود خوړونکو ته د الله او د رسول د طرفه اعلانِ جنګ شوی. دا دومره سخت وعيد دی چې په قرآن کريم او احاديثو کې د کفر نه پس د بلې يوې ګناه د پاره هم داسې سخت وعيد ندې ذکر شوی څومره چې ددې سود خوړونکو د پاره ذکر شوی، او دا خبره هر چاته معلومه ده چې د چا خلاف الله ﷻ او رسول ﷺ اعلانِ جنګ اوکړي نو داسې کس به په دُنيا او آخرت دواړو کې بدبخته، ذليله او تباه وي. ددې نه معلومه شوه چې سودخوري غټه ګناه او سخت جُرم دی.

## د قيامت په ورځ د سود خورو د پاره بد انجام

١. د قيامت په ورځ به د سود خورو انجام ډير بد وي، الله رب العزت د سود خورو په باره کې فرمايي:

﴿ اَلَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ إِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوْا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا وَأَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ﴾. (٢)

ترجمه: کوم خلق چې سود خوري دوی به (د قيامت په ورځ د خپلو قبرونو نه) نه راپاڅي مګر د هغه کس په شان به راپاڅي چې هغه شيطان په لاس لړولو سره ليونې کړې وي، دا سزا به ځکه وي چې دوی به (د سود حلالېدو په دليل کې په دُنيا کې) ويل:

---

(١) سورة البقرة آية ٢٧٩.

(٢) سورة البقرة آية ٢٧٥.

چې بَيع ( سَوداګري ) هم د سُود په شان ده ( يعنی لکه څرنګې چې سَوداګري او تجارت حلال دی نو همداسې دې سُود هم حلال شي ) ، حالانکه ( په تِجارت او سَوداګری کې ډير غټ فرق دی ځکه ) الله تعالی تجارت حلال کړې دی او سُود يې حرام کړې دی.

**فائده** : په دې آيت کې الله ﷻ د سُود خوَرو سزا دا ذکر کړی چې : کله دوی د قيامت په ورځ د قبرونو نه راپاڅي نو د هغه کس په شان به راپاڅي چې هغه د شيطاني اَثر په وجه ليونې شوې وي ، او د ليونو په شان حرکتونه کوي ، چې ددې په وجه به ټول اهلِ مَحشر والله دا پيژني چې دا سُود خُور دی ، نو د غټې رَسوايی او ذِلت سره به مخامخ شي.

۲ . حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: إِيَّاکَ وَالذُّنُوبَ الَّتِي لَا تُغْفَرُ : اَلْغُلُوْلُ فَمَنْ غَلَّ شَيْئًا أُتِيَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَاكِل الرِّبَا فَمَنْ أَكَلَ الرِّبَا بُعِثَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَجْنُوْنًا يَتَخَبَّطُ . ثُمَّ قَرَأَ : ﴿ اَلَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ إِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ﴾ . (۱)

د هغه ګناهونو نه بچ شئ د کومو مغفرت چې نشي کيدی ، يو په هغې کې په مالِ غنيمت کې خيانت کول دي ، پس څوک چې يو شی د مالِ غنيمت نه خِيانت کړي نو د قيامت په ورځ به دې دغه شی راوړي ( يعنی دده نه به دا شی غوښتلې شي ) . دويم د سُود خوَړلو نه ځان بَچ کړئ ، ځکه څوک چې سُود خُوري نو دا به د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راپاڅي چې ليونې به وي ، او حَواس به يې کار نه کوي ، بيا رسولُ الله صلی الله عليه وسلم دا آيتِ مبارکه تلاوت کړو : ﴿ اَلَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ الرِّبٰوا .... ﴾

## د سُود مال آخِر هم ختميږي

د سُود مال اګر چې ډير زيات وي خو ددې اَنجام ډير خراب وي ، ځکه آخِر هم الله ﷻ دا ختموي ، البته د صدقې په وجه د انسان په مال کې زيادت او برکت راځي.

---

(۱) صحيح الترغيب والترهيب ۱ / ۱۸۰ رقم ۱۸٦۲ کتاب البيوع الترغيب في الاکتساب بالبيع وغيره ، المعجم الکبير للطبراني ۱۸ / ٦۰ رقم الحديث ۱۱۰ حَبِيبُ بْنُ عُبَيْدٍ الرَّحَبِيُّ، عَنْ عَوْفٍ ، کنزالعمال رقم الحديث ۱٦ / ۲۴ رقم الحديث ۴۳۷۷۰ الفصل الثاني في الترهيبات الثالثات .

الله تعالى فرمايي :

﴿ يَمۡحَقُ اللَّهُ الرِّبَوٰا وَيُرۡبِي الصَّدَقَٰتِ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴾ . (١)

ترجمه : الله تعالى سُود ختموي (بربادوي) ، او صدقې زياتوي ، او الله تعالى هر ناشكره ګناهګار نه خوښوي .

**فائده**: دا خبره په تجربې سره هم ثابته ده چې د سُود مال اګر چې په ظاهره ډير معلوميږي ليکن د دې انجام ډير بَد وي ، ځکه الله تعالى آخر هم د سُود مال ختموي .

همدا مضمون رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې حديثِ مبارکه کې هم بيان کړى :

إِنَّ الرِّبَا وَإِنْ كَثُرَ فَإِنَّ عَاقِبَتَهُ تَصِيرُ إِلَى قُلٍّ . (٢)

سُود اګر چې زيات شي ليکن آخري انجام يې کميدل (او ختميدل) دي

**د سُود مال بې برکته وي** : بل دا چې د سُود د مال نه انسان هغه برکات او فوائد نشي حاصلولى کوم چې د حلال مال نه حاصلوي ، ځکه سُود خُور هميشه د پاره پريشانه وي ، هيڅ اِطمينان ورته نه وي حاصل .

او دا خبره په تجربې سره هم ثابته ده چې کوم مال د سُود يا په بله حرامې طريقې سره راشي دا اکثره په بې فائدې ځايونو کې خرچ کيږي .

**د سُودي مال مثال** : علماء ليکي چې د سُودي مال مثال داسې دى لکه په بَدن کې پړسوب ، نو په ظاهره باندې دا پړسوب هم د بَدن زيات او ترقي معلوميږي ليکن که حقيقت ته اُوکتې شي نو دا پړسوب ډير نقصاني دى ، بلکه د مرګ يو پيغام دى . همدغه شان د سُود مال اګر چې په ظاهره ډير معلوميږي ليکن په حقيقت کې دا بې برکته ، نقصاني او ختميدونکې دى .

---

(١) سورة البقرة آية ٢٧٦ .

(٢) رواه ابن ماجه ، و احمد ، وحاكم وقال الحاكم : صحيح الاسناد ، ، و رواه البيهقي في شعب الايمان رقم ٥١٢٣ ، مشكوة المصابيح باب الربوا الفصل الثالث رقم الحديث ٢٨٢٧ (٢١) ، صحيح الترغيب و الترهيب رقم الحديث ١٨٦٣ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره ، كنزالعمال رقم ٩٧٥٨ . المعجم الكبير للطبراني رقم ١٠٥٣٨ .

بعضې خلق چې دا سُود خواره په بنګلو ، ګاډو ، او دُنياوي وسائلو کې ملبُوس اوګوري نو دا ګمان کوي چې کني دوی ډير خوشحاله دي او ډير راحت ورته حاصل دی ، حالانکه داسې نده ، ځکه دوی باوجود ددې دُنياوي وسائلو بيا هم مُطمئن نه وي.(۱)

(۱) امام سرخسي رحمه الله په " مبسوط " کې ذکر کړي چې الله تعالى په قرآن کريم کې د سُود خوړو د پاره پنځه (۵) قسمه سزاګانې ذکر کړي ، دې فرمايي :

وَقَدْ ذَكَرَ اللهُ تَعَالَى لِآكِلِ الرِّبَا خَمْسًا مِنَ الْعُقُوبَاتِ : أَحَدُهَا : اَلتَّخَبُّطُ . قَالَ اللهُ تَعَالَى : { لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ } قِيلَ : مَعْنَاهُ يَنْتَفِخُ بَطْنُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِحَيْثُ لَا تَحْمِلُهُ قَدَمَاهُ. وَكُلَّمَا رَامَ الْقِيَامَ يَسْقُطُ فَيَكُونُ بِمَنْزِلَةِ الَّذِي أَصَابَهُ مَسٌّ مِنَ الشَّيْطَانِ فَيَصِيرُ كَالْمَصْرُوعِ الَّذِي لَا يَقْدِرُ عَلَى أَنْ يَقُومَ . وَقَدْ وَرَدَ بِنَحْوِهِ أَثَرٌ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : « يُمْلَأُ بَطْنُهُ نَارًا بِقَدْرِ مَا أَكَلَ مِنَ الرِّبَا » وَالْمُرَادُ : أَنْ يَفْتَضِحَ عَلَى رُءُوسِ الْأَشْهَادِ . كَمَا أَشَارَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَدِيثٍ آخَرَ: « أَنَّ لِوَاءً يَنْتَصِبُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِأَكَلَةِ الرِّبَا فَيَجْتَمِعُونَ تَحْتَهُ ثُمَّ يُسَاقُونَ إِلَى النَّارِ » .

وَالثَّانِي : اَلْمَحْقُ . قَالَ اللهُ تَعَالَى : { يَمْحَقُ اللهُ الرِّبَا } . وَالْمُرَادُ : الْهَلَاكُ وَالْإِسْتِيْصَالُ . وَقِيلَ : ذَهَابُ الْبَرَكَةِ وَالِاسْتِمْتَاعِ . حَتّٰى لَا يَنْتَفِعَ هُوَ بِهِ وَلَا وَلَدُهُ بَعْدَهُ .

وَالثَّالِثُ : اَلْحَرْبُ . قَالَ اللهُ تَعَالَى : { فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللهِ وَرَسُولِهِ } . وَالْمَعْنٰى مِنَ الْقِرَاءَةِ الْمَدِّ : أَعْلِمُوا النَّاسَ أَكَلَةَ الرِّبَا أَنَّكُمْ حَرْبُ اللهِ وَرَسُولِهِ بِمَنْزِلَةِ قُطَّاعِ الطَّرِيقِ . وَالْقِرَاءَةُ بِالْقَصْرِ اِعْلَمُوا أَنَّ أَكَلَةَ الرِّبَا حَرْبُ اللهِ وَرَسُولِهِ.

وَالرَّابِعُ : اَلْكُفْرُ . قَالَ اللهُ تَعَالَى : { وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ } . وَقَالَ تَعَالَى : { وَاللهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ } أَيْ : كَفَّارٍ بِاسْتِحْلَالِ الرِّبَا . أَثِيمٍ فَاجِرٍ بِأَكْلِ الرِّبَا.

وَالْخَامِسُ : اَلْخُلُودُ فِي النَّارِ . قَالَ اللهُ تَعَالَى : { وَمَنْ عَادَ فَأُولٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ } .

وَالسُّنَّةُ جَاءَتْ بِتَأْيِيدِ مَا قُلْنَا : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « أَكْلُ دِرْهَمٍ وَاحِدٍ مِنَ الرِّبَا أَشَدُّ مِنْ ثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ زَنْيَةً يَزْنِيهَا الرَّجُلُ . مَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنْ حَرَامٍ فَالنَّارُ أَوْلٰى بِهِ » .....

وَلِهٰذَا قِيلَ لِمُحَمَّدٍ رحمه الله : أَلَا تُصَنِّفُ فِي الزُّهْدِ شَيْئًا ؟ قَالَ : قَدْ صَنَّفْتُ كِتَابَ الْبُيُوعِ . وَمُرَادُهُ بَيَّنْتُ فِيهِ مَا يَحِلُّ وَيَحْرُمُ . وَلَيْسَ الزُّهْدُ إِلَّا الِاجْتِنَابُ عَنِ الْحَرَامِ . وَالرَّغْبَةُ فِي الْحَلَالِ . المبسوط للسرخسي كتاب البيوع انواع الربا ۱۲/۱۰۹ ، ۱۱۰ ، حاشيه بدائع الصنائع ۷/۴۷ .

## سُود خُور ته حقيقي ارام و راحت نه وي حاصل :

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې يو د آرام و راحت اَسباب دي او بل په خپله راحت دی ، په دې دواړو ډير غټ فرق دی ، ځکه د راحت اَسباب ( مثلا ګاډي ، بَنګلې ، ډَبل بېډونه ، پَلنګونه وغيره ) په بازار کې خرڅيږي سُود خوَاره دا اخيستې شي ، ليکن په خپله راحت هيچرته نه خرڅيږي ، بلکه دا صرف د الله ﷻ د طرفه انسان ته نصيبه کيږي ، سُود خوَرو ته د راحت د اَسبابو باوجود بيا هم راحت ، اِطمينان او سکون نه وي حاصل ، بلکه هميشه پريشانه او خفه وي .

په دې مضمون باندې د پوهيدلو د پاره درته يو مثال پيش کوم مثلا بعضې وخت د انسان سره د خوب او آرام کولو ټول اَسباب موجود وي : يعنی بهترينه کمره وي ، اَعلی قِسم ډَبل بېډ وي ، پاسته اَسپَنجونه وي خو ليکن د دې باوجود بيا هم انسان ته خوب نه ورځي ، بلکه د خوب د پاره د نَشې ګولۍ استعمالوي .

همدغه شان که د سُود خور سره ډير مال و دولت ، نَوکران ، ګاډي ، بَنګلې او دُنياوي اَسباب موجود وي خو بيا به هم ده ته حقيقي آرام و راحت نه وي نصيب ، ځکه حقيقي آرام و راحت د الله ﷻ رَحمت دی او په سُود خُور باندې د الله ﷻ لعنت راوريږي ، د الله ﷻ د طرفه ورته اعلانِ جنګ شوې وي ، نو څنګه به په ده باندې د الله ﷻ رَحمت نازل شي ؟

## په سُود خوَرو باندې د نبي عليه السلام لعنت

د مسلم شريف حديث دی ، نبي عليه الصلوة والسلام فرمايي :

لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا ، وَمُؤْكِلَهُ ، وَكَاتِبَهُ ، وَشَاهِدَيْهِ ، وَقَالَ : هُمْ سَوَاءٌ . (١)

(١) صحيح مسلم ٢/١٢١٩ بَابُ لَعْنِ آكِلِ الرِّبَا وَمُؤْكِلِهِ رقم الحديث ١٠٦ (١٥٩٨) ، سنن الترمذي رقم الحديث بَابُ مَا جَاءَ فِي أَكْلِ الرِّبَا ، مشكاة المصابيح ٢/٨٥٥ رقم الحديث ٢٨٠٧ (١) باب الربا الفصل الاول .

رسول الله صلى الله عليه وسلم لعنت ليږلی په سود خوړونکي ، سود ورکوونکي ، سودي حساب و کتاب ليکونکي ، او د سود ګواهي ورکوونکو باندې ، او نبي عليه السلام وفرمايل : چې دا ټول ( په اصل ګناه کې ) برابر دي .

فائده : ددې نه معلومه شوه چې سود دومره عظيمه ګناه ده چې د سود اخيستونکي او ورکوونکي سره چې نور څوک په دې ګناه کې شريک وي : که هغه ددې سودي حساب و کتاب ليکونکي وي ، يا ګواهي ورکوونکي وي په دې ټولو باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم لعنت ليږلي دی .

## د سود يو درهم د شپږ ديرشو (٣٦) زناګانو نه لويه ګناه ده

١ . د مشکوة شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

دِرْهَمُ رِبًا يَأْكُلُهُ الرَّجُلُ وَهُوَ يَعْلَمُ أَشَدُّ مِنْ سِتَّةٍ وَثَلَاثِيْنَ زِنْيَةً . (١)

د سود يو درهم چې سړې اوخوري او ده ته دا معلومه هم وي چې دا سود دی دا د شپږ ديرش (٣٦) زناګانو کولو نه زياته سخته ګناه ده .

**فائده** : په دې حديث کې د سود خوړلو ګناه ته د شپږ ديرش (٣٦) زناګانو کولو نه زياته ګناه ويل شوی ، علماؤ ددې سبب دا ليکلی : چې ډير خلق د مختلفو حيلو او بهانو په وجه سود حلال ګڼري ، او حرام شي ته حلال ويل اعتقادي ګمراهي او کُفر دی ، نو ځکه ددې ګناه سخته ده . او د زنا په باره کې د هر چا دا عقيده وي چې دا حرامه ده ، د اسلام نه علاوه په نورو مذهبونو کې هم زنا بده ګڼرلې شي ، يعنی زنا هيڅوک حلاله نه ګڼي . ګويا زنا

(١) رَوَاهُ أَحْمَدُ والدراقطني . وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، مشكاة المصابيح باب الربا الفصل الثالث ٢/٨٥٩ رقم الحديث ٢٨٢٥ (١٩) صحيح الترغيب والترهيب ٢/١٧٨ رقم الحديث ١٨٥٥ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره ، كنزالعمال ٩٧٦١ ، ورقم ٩٧٦٢ الباب الرابع في الربا الفصل الاول في الترهيب عنه . مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ٦٥٧٣ كتاب البيوع باب ما جاء في الربا .

**نوټ** : په يو روايت کې د سود يو درهم د دوه ديرش (٣٢) زناګانو نه هم لويه ګناه خودل شوی ، قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ : لَدِرْهَمٌ يُصِيبُهُ الرَّجُلُ مِنَ الرِّبَا أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ مِنْ ثَلَاثَةٍ وَثَلَاثِيْنَ زَنْيَةً يَزْنِيهَا فِي الْإِسْلَامِ . المعجم الكبير للطبراني ١٢/٣٦١ رقم الحديث ١٢٩٩٢ . مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ٦٥٧٢ كتاب البيوع باب ما جاء في الربا .

عملي ګناه ده او سُود حلال ګنړل اِعتقادي ګناه ده، نو ځکه د سُود ګناه د شپږ دیرش (٣٦) زناګانو کولو نه سخته ده. (١)

٢ . حضرت انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته خطبه وویله، بیا یې د سُود ذِکر په ډیر اِهتمام سره اوکړو، او ددې ګناه عظمت یې بیان کړو، وې فرمایل:

إِنَّ الدِّرْهَمَ يُصِيبُهُ الرَّجُلُ مِنَ الرِّبَا أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ فِي الْخَطِيئَةِ مِنْ سِتٍّ وَثَلَاثِيْنَ زَنْيَةً يَزْنِيهَا الرَّجُلُ . وَأَرْبَى الرِّبَا عِرْضُ الرَّجُلِ الْمُسْلِمِ . (٢)

بیشکه کوم کس چې د سُود یو دِرهم واخلي (وې خُوري) دا د الله ﷻ په نزد باندې د ګناه په اِعتبار سره د شپږ دیرش (٣٦) زناګانو کولو نه ډیره غټه ګناه ده، (بیا یې اوفرمایل چې) د ټولو نه لوي سُود دادی چې د مسلمان په عِزت باندې حمله اوکړې شي.

٣ . کعب الاحبار رحمه الله فرمایي:

لَأَنْ أَزْنِيَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِيْنَ زَنْيَةً أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ آكُلَ دِرْهَمَ رِبًا يَعْلَمُ اللهُ أَنِّي أَكَلْتُهُ حِيْنَ أَكَلْتُهُ رِبًا . (٣)

چې زه درې دیرش (٣٣) زِناګانې اوکړم داماته ډیرې خوښې دي ددې نه چې زه د سُود داسې یو دِرهم اُوخورم چې زما د خوړلو په وخت الله ﷻ ته دا معلومه وي چې دا سُود خوري.

---

(١) مظاهر حق شرح مشكوة ج٥ في تشريح الحديث المذكور.

(٢) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الرِّبَا وَعَظَّمَ شَأْنَهُ. فَقَالَ: «إِنَّ الدِّرْهَمَ يُصِيبُهُ الرَّجُلُ مِنَ الرِّبَا أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ فِي الْخَطِيئَةِ مِنْ سِتٍّ وَثَلَاثِيْنَ زَنْيَةً يَزْنِيهَا الرَّجُلُ وَأَرْبَى الرِّبَا عِرْضُ الرَّجُلِ الْمُسْلِمِ». ذم الغيبة والنميمة لابن ابى الدنيا ١٧/١ رقم الحديث ٣٧ بَابُ الْغِيبَةِ وَذَمِّهَا. شعب الايمان للبيهقي ٣٦٥/٧ رقم الحديث ٥١٣٥

(٣) مسند احمد ٢٩٨/٣٦ رقم الحديث ٢١٩٥٨ حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ بْنِ حَنْظَلَةَ ابْنِ الرَّاهِبِ أَبِي عَامِرٍ الْغَسِيلِ غَسِيلِ الْمَلَائِكَةِ. شعب الايمان رقم الحديث ٥١٢٨ ، صحيح الترغيب والترهيب ٢ /١٧٨ رقم الحديث ١٨٥٤ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره. مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ٦٥٧٨ كتاب البيوع باب ما جاء في الربا.

## د سُود کمه درجه ګناه داده لکه يو انسان چې د خپلې مور سره زِنا اوکړي

١ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَلرِّبَا ثَلَاثٌ وَسَبْعُوْنَ بَابًا ، أَيْسَرُهَا مِثْلُ أَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ أُمَّهُ . (١)

د سُود د ګناه درې اَويا ( ٧٣ ) درجې دي ، په دې کې کمه درجه ګناه داده لکه يو کس د خپلې مور سره زِنا اوکړي .

٢ . په مشکوة شريف کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَلرِّبَا سَبْعُوْنَ جُزْءًا أَيْسَرُهَا أَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ أُمَّهُ . (٢)

د سُود د ګناه اَويا درجې دي ، په دې کې د ټولو نه کمه درجه ګناه داده لکه يو کس چې د خپلې مور سره زِنا اوکړي .

## د سُود په وجه د الله ﷻ د عذاب مُستحق کيدل

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا ظَهَرَ الزِّنَا وَالرِّبَا فِيْ قَرْيَةٍ ، فَقَدْ أَحَلُّوْا بِأَنْفُسِهِمْ عَذَابَ اللهِ . (٣)

---

(١) رواه الحاكم و قال : صحيحٌ على شرط البخاري ومسلم ، ورواه البيهقي من طريق الحاكم رقم ٥١٣١ ثم قال هذا إسناد صحيح ، صحيح الترغيب والترهيب ٢/١٧٧ رقم الحديث ١٨٥١ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره .
وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلرِّبَا اِثْنَانِ وَسَبْعُوْنَ بَابًا . أَدْنَاهَا مِثْلُ إِتْيَانِ الرَّجُلِ أُمَّهُ . المعجم الاوسط ٧/١٨٥ رقم الحديث ٧١٥١ ، المعجم الكبير للطبراني ١٣/ ١٧٢ رقم الحديث ٢١٢ ، شرح السنة للبغوي ٨/٥٤ رقم الحديث ٢٠٥٤ باب وعيد اكل الربا ، مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ٦٥٧٥ كتاب البيوع باب ما جاء في الربا ، صحيح الترغيب والترهيب ٢/١٧٩ رقم ١٨٥٧ .

(٢) مشكاة المصابيح ٢/ ٨٦٩ رقم الحديث ٢٨٢٦ ( ٢٠ ) باب الربا الفصل الثالث .
وفي رواية : اَلرِّبَا سَبْعُوْنَ حُوْبًا . أَيْسَرُهَا أَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ أُمَّهُ . سنن ابن ماجه ج٢ ص ٧٦٤ رقم ٢٢٧٤ بَابُ التَّغْلِيْظِ فِي الرِّبَا . ورواه البيهقي عن ابي معشر وقد وثق عن سعيد المقبري عنه . الترغيب والترهيب ٢/١٧٩ رقم الحديث ١٨٥٨ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره ، كنز العمال رقم ٩٧٥٥ .

(٣) المستدرک على الصحيحين للحاكم ٢/٤٣ رقم الحديث ٢٢٦١ ، شعب الايمان رقم الحديث ٥١٤٣ ، صحيح الترغيب والترهيب ٢/١٧٩ رقم الحديث ١٨٥٩ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره .

چې کله په يو کلي کې زِنا او سُود ظاهر شي ګويا دوی په خپلو ځانونو باندې د الله ﷻ عذاب نازل کړو . (١)

## سُود خواره د زلزلې په وجه هلاکيدل

حضرت کردوس ثعلبي فرمايي چې ماته د کوفې په جُمات کې د يو بدري صحابي ځوي دا واقعه بيان کړه چې زه په داسې يو کلي راتيريدم چې په هغې باندې زلزله راغلې وه ، زه هلته لږ وخت اُودريدم ددې د پاره چې ددې کلي نه يو کس رااُووځي او د هغه نه ددې کلي اَحوال معلوم کړم ، په دې کې يو کس زما طرف ته راروان ؤ ما د هغه نه پوښتنه اوکړه چې : دَنَنه په دې کلي کې څه حالت ؤ ؟ هغه راته ووېل :

په دې غونډ کلي باندې سخته زلزله راغله ، ټول خلق په کې د ګناهونو په وجه د يو بل د پاسه وَراُوغورځيدل .

ما ورنه پوښتنه اوکړه چې دوی په کومه ګناه کې مُبتلاء وو ؟ هغه راته ووېل : دا ټول سُود خوَاره وو . (٢)

## د سُود خوَرو د پاره د جهنم زيری

قاسم بن عبدالواحد فرمايي چې ما يو ځل حضرت عبدالله بن اوفی د صَرافانو په بازار کې اُوليده ( په کوم کې به چې سُودي کاروبار کولې شو ) چې دوی ته يې وفرمايل :

يا مَعْشَرَ الصَّيَارِفَةِ ! أَبْشِرُوْا.

اې د صرافانو ډَلې ! تاسو زيرې قبول کړئ .

---

(١) وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا ظَهَرَ فِيْ قَوْمٍ اَلزِّنَا وَالرِّبَا إِلَّا أَحَلُّوْا بِأَنْفُسِهِمْ عَذَابَ اللهِ. رواه ابو يعلى بإسناد جيد ، صحيح الترغيب والترهيب ٣٠٧/٢ رقم ٢٤٠٣ كتاب الحدود الترغيب في الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر ، ورقم ١٨٦٠ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره ، مسند احمد رقم الحديث ٣٨٠٩.

(٢) العقوبات ص ٢٢٢ .

وقال عطاء الخراساني : إِذَا أُكِلَ الرِّبَا كَانَ الْخَسْفُ وَالزَّلْزَلَةُ .... نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين كتاب آداب الكسب والمعاش ص ٣٥٢ .

هغوي ورته وويل : اې ابومحمد ! الله جَلَّ جَلَالُهُ دې تاته د جنت زيرې درکړي ، ته مونږ ته د څه شي زيرې راکوی ؟ ده ورته وويل :

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَبْشِرُوْا بِالنَّارِ . (١)

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د هغه صَرافانو په باره کې ویلي دي کوم چې سُودي کاروبار کوي چې تاسو د جهنم زیرې قبول کړئ .

## د سُود په وجه قحط سالي راتلل

په کوم قوم کې چې سُود خُوري راشي په داسې قوم باندې قحط سالي راځي ، د مشکوة شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

مَا مِنْ قَوْمٍ يَظْهَرُ فِيْهِمُ الرِّبَا إِلَّا أُخِذُوْا بِالسَّنَةِ ، وَمَا مِنْ قَوْمٍ يَظْهَرُ فِيْهِمُ الرَّشَا إِلَّا أُخِذُوْا بِالرُّعْبِ . (٢)

په کوم قوم کې چې سُود ظاهر (يعنی عام) شي نو داسې قوم په قحط سالی کې مُبتلاء کیږي ، او په کوم قوم کې چې رِشوت عام شي نو په دوی باندې رُعب مُسلّط کولې شي .

## د سُود خوَرو بَد حالت

١ . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : چې د مِعراج په شپه چې کله زه اُووم (٧) آسمان ته اُورسیدم ، ما چې پورته اُوکتل نو ما د ګړزار ، برِیښنا او د تَندر آواز واورید ، بیا نبي علیه السلام وفرمایل چې زما تېریدل په داسې يو قوم باندې اوشو چې د هغوی

(١) عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ عَبْدِ الْوَاحِدِ الْوَزَّانِ قَالَ : رَأَيْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى فِي السُّوْقِ فِي الصَّيَارِفَةِ . فَقَالَ : يَا مَعْشَرَ الصَّيَارِفَةِ ! أَبْشِرُوْا . قَالُوْا : بَشَّرَكَ اللهُ بِالْجَنَّةِ بِمَا تُبَشِّرُنَا يَا أَبَا مُحَمَّدٍ ؟ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَبْشِرُوْا بِالنَّارِ . ذكره الهيثمي في مجمع الزوائد و منبع الفوائد ١١٩٩/٤ رقم الحديث ٦٥٨٧ ، و رواه الطبراني باسناد لا بأس به ، نزهة الناظرين كتاب آداب الكسب والمعاش ص ٣٥١ .

(٢) مسند احمد ٣٥٦/٢٩ رقم الحديث ١٧٨٢٢ ، مشكاة المصابيح ١٠٦٣/٢ رقم الحديث ٣٥٨٢ (٢٨) كتاب الحدود الفصل الثالث ، مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ٦٥٨٠ كتاب البيوع باب ما جاء في الربا ، كنزالعمال رقم الحديث ٩٧٧٠ .

خېټې د کورونو په شان غټې غټې وی ، د دوی په خېټو کې ماران وو چې د بهَر نه په نظر راتلل ، ما د حضرت جبريل عليه السلام نه پوښتنه اوکړه :

يَا جِبْرِيلُ ! مَنْ هٰؤُلَآءِ ؟ اې جبريل ! دا خلق څوک دي ؟

جبريل عليه السلام وفرمايل :

قَالَ : هٰؤُلَآءِ أَكَلَةُ الرِّبَا . (١) دا سُود خواره دي.

٢ . په يو بل حديث کې راځي رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

( د معراج په شپه ) چې کله زه آسمانونو ته اُوخيجولې شوم نو ما په آسمانِ دُنيا کې داسې خلق اُوليده چې د هغوی خېټې د غټو کورونو په شان وی ، پَرسيدلې وی ، او ښکته طرف ته مائلې وی ، دا خلق د يو بل د پاسه په داسې يوه لاره کې پراته وو چې په هغې به سهَر او ماښام د فرعون خاندان واله جهنم ته بوتللې شو ، دې آلِ فرعون به ددې خلقو د پاسه خپې ايخودی ، دوی دا دُعا کوله :

رَبَّنَا لَا تُقِمِ السَّاعَةَ اَبَدًا .

اې الله ! قيامت کله هم مه قائموی ( ځکه دوی ته پته وه چې د قيامت په ورځ زمونږ ځای جهنم دی ) .

نبي عليه السلام فرمايي چې ما د حضرت جبريل عليه السلام نه پوښتنه اوکړه :

يَا جِبْرِيلُ ! مَنْ هٰؤُلَآءِ ؟

اې جبريل ! دا خلق څوک دي ؟ ( چې په ډېره سخت او د ذِلت په حالت کې دي ) .

جبريل عليه السلام راته وفرمايل :

---

(١) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : رَأَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي لَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَى السَّمَآءِ السَّابِعَةِ فَنَظَرْتُ فَوْقِيْ فَإِذَا أَنَا بِرَعْدٍ وَبَرْقٍ وَصَوَاعِقَ . قَالَ : فَأَتَيْتُ عَلَى قَوْمٍ بُطُوْنُهُمْ كَالْبُيُوْتِ فِيْهَا الْحَيَّاتُ تُرَى مِنْ خَارِجِ بُطُوْنِهِمْ . قُلْتُ: مَنْ هٰؤُلَآءِ يَا جِبْرِيلُ ؟ قَالَ : هٰؤُلَآءِ أَكَلَةُ الرِّبَا . مسند احمد ١٤/٢٨٥ رقم الحديث ٨٦٤٠ ، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ٦٥٧٧ كتاب البيوع باب ما جاء في الربا ، و رواه ابن ماجه مختصراً ، والاصبهاني ايضا من طريق هارون العبدي .

هٰؤُلَآءِ أَكَلَةُ الرِّبَا مِنْ أُمَّتِكَ لَا يَقُوْمُوْنَ إِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ .(١)

دا ستاسو د اُمت سُود خوَاره دي ، دا به دقيامت په ورځ د هغه کس په شان راپاڅي کوم چې شيطان په لاس لړولو سره ليونى کړې وي .

٣ . په بخاري شريف او نورو د اَحاديثو په کتابونو کې يو اُوږد حديث ذکر دى ( زه به يې درته څه لږه مخصوصه حِصه رانقل کړم ) :

حضرت سَمُرة بن جُندُب رضي الله عنه فرمايي :

((( چې نبي عليه السلام به دسهر مونځ اوکړو نو مونږ ته به يې مَخ راواړول . پوښتنه به يې اوکړه چې : آيا په تاسو کې چا بيګاه شپه خوب ليدلى ؟ که چا به ليدلې وُ نبي عليه السلام ته به يې بيان کړو ، دوى به ورته جواب ورکړو . يوه ورځ ( د سهَر مانځه نه پس ) يې د مونږ نه همدغه شان پوښتنه اوکړه : هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنْ رُؤْيَا ؟ آيا په تاسو کې چا ( بيګاه شپه ) خوب ليدلى ؟ مونږ ورته ووېل : نه )))

نبي عليه السلام اوفرمايل : ما بيګاه شپه په خوب کې دوه کسان ( حضرت جبريل عليه السلام او حضرت ميکائيل عليه السلام ) اُوليدل چې ماته راغلل ، او زه يې يوې مُقدّسې زمکې ته بوتلم، مونږ روان وو ، تر دې پورې چې مونږ د وينو يو نهر ته اُورسيدو ، په دې نهر کې يو کس ولاړ وُ ، د نهر غاړې ته يو بل کس وُ چې د هغه مخې ته ډېر کانړي پراته وو ، کله به چې ددې نهر واله دا کس غاړې ته راغى او ددې نهر نه به يې د راوتلو اِراده اوکړه نو ددې غاړې واله کس به په کانړي باندې دومره تيز په خُله باندې اُوويشت چې واپس به يې هماغه زوړ

(١) لَمَّا عُرِجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ نَظَرَ فِيْ سَمَاءِ الدُّنْيَا، فَإِذَا رِجَالٌ بُطُوْنُهُمْ كَأَمْثَالِ الْبُيُوْتِ الْعِظَامِ قَدْ مَالَتْ بُطُوْنُهُمْ وَهُمْ مُنَضَّدُوْنَ عَلَى سَابِلَةِ آلِ فِرْعَوْنَ يُوْقَفُوْنَ عَلَى النَّارِ كُلَّ غَدَاةٍ وَعَشِيٍّ، يَقُوْلُوْنَ : رَبَّنَا لَا تُقِمِ السَّاعَةَ أَبَدًا قُلْتُ : يَا جِبْرِيْلُ ! مَنْ هٰؤُلَاءِ ؟ قَالَ : هٰؤُلَآءِ أَكَلَةُ الرِّبَا مِنْ أُمَّتِكَ لَا يَقُوْمُوْنَ إِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ . الترغيب والترهيب لقوام السنة ٢/١٨٥ رقم الحديث ١٤٠٠ باب الراء باب الترهيب من الربا .
قَالَ الْأَصْبَهَانِيُّ : قَوْلُهُ " مُنَضَّدُوْنَ " : أَيْ طُرِحَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ : و " السَّابِلَةُ " اَلْمَارَّةُ أَيْ يَتَوَطَّؤُهُمْ آلُ فِرْعَوْنَ الَّذِيْنَ يُعْرَضُوْنَ عَلَى النَّارِ كُلَّ غَدَاةٍ وَعَشِيٍّ .

ځای ( د نهر مینځ ) ته ور اورسول . مسلسل به دا د نهر واله کس غاړې ته راتلو او چې د راوتلو اراده به یې اوکړه نو ددې غاړې واله کس به په کاڼي باندې په خُله اوویشت ، او هماغه زور ځای ته به یې اورسول .

ما ددې دوه کسانو ( یعنی حضرت جبریل علیه السلام او حضرت میکائیل علیه السلام ) نه پوښتنه اوکړه :

مَا هٰذَا الَّذِيْ رَأَيْتُهُ فِي النَّهَرِ ؟ دا کس څوک دی کوم چې ما په نهر کې اولیده ؟

راته وې فرمایل : : آكِلُ الرِّبَا .(۱) دا سُود خور دی .

(۱) وعن سمرة بن جندب رضي الله عنه قال قال النبي صلى الله عليه وسلم رأيتُ الليلةَ رجلين أتياني فأخرجاني إلى أرض مُقدسة فانطلقنا حتى أتينا على نهر من دمٍ فيه رجلٌ قائمٌ وعلى شط النهر رجل بين يديه حجارة . فأقبل الرجل الّذي في النّهر فإذا أراد أنْ يخرجَ رَمى الرجلُ بحجر في فِيه فردّه حيث كان . فَجَعَلَ كلما جاء ليخرجَ رَمٰى في فِيْهِ بحجرٍ فيرجع كما كان . فَقُلْتُ : مَا هٰذَا الَّذِيْ رَأَيْتُهُ فِي النَّهَرِ ؟ قَالَ : آكِلُ الرِّبَا . رواه البخاري هكذا في البيوع مختصرا وتقدم في ترک الصلاة مطولا . صحيح الترغيب والترهيب ۱۷۶/۲ رقم الحديث ۱۸۴۵ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره الترهيب من الربا .

**نوټ** : دا حدیث په بخاري شریف کې مکمل په تفصیل سره ذکر دی ، خو ډیر اوږد دی ، زه به ورنه صرف لږ ځای رانقل کړم : عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا يُكْثِرُ أَنْ يَقُوْلَ لِأَصْحَابِهِ : هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنْ رُؤْيَا ؟ قَالَ : فَيَقُصُّ عَلَيْهِ مَنْ شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُصَّ ، وَإِنَّهُ قَالَ ذَاتَ غَدَاةٍ : إِنَّهُ أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتِيَانِ ، وَإِنَّهُمَا ابْتَعَثَانِي ، وَإِنَّهُمَا قَالَا لِي انْطَلِقْ ، وَإِنِّي انْطَلَقْتُ مَعَهُمَا......... قَالَ : فَانْطَلَقْنَا . فَأَتَيْنَا عَلَى نَهَرٍ حَسِبْتُ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ أَحْمَرَ مِثْلِ الدَّمِ ، وَإِذَا فِي النَّهَرِ رَجُلٌ سَابِحٌ يَسْبَحُ ، وَإِذَا عَلَى شَطِّ النَّهَرِ رَجُلٌ قَدْ جَمَعَ عِنْدَهُ حِجَارَةً كَثِيْرَةً ، وَإِذَا ذٰلِكَ السَّابِحُ يَسْبَحُ مَا يَسْبَحُ . ثُمَّ يَأْتِي ذٰلِكَ الَّذِيْ قَدْ جَمَعَ عِنْدَهُ الْحِجَارَةَ . فَيَفْغَرُ لَهُ فَاهُ فَيُلْقِمُهُ حَجَرًا فَيَنْطَلِقُ يَسْبَحُ . ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَيْهِ كُلَّمَا رَجَعَ إِلَيْهِ فَغَرَ لَهُ فَاهُ فَأَلْقَمَهُ حَجَرًا . قَالَ : قُلْتُ لَهُمَا : مَا هٰذَانِ ؟ ........ قَالَا لِي : أَمَا إِنَّا سَنُخْبِرُكَ ......... وَأَمَّا الرَّجُلُ الَّذِيْ أَتَيْتَ عَلَيْهِ يَسْبَحُ فِي النَّهَرِ وَيُلْقَمُ الْحَجَرَ . فَإِنَّهُ آكِلُ الرِّبَا . صحيح البخاري ۴۴/۹ رقم الحديث ۷۰۴۷ كِتَابُ التَّعْبِيرِ بَابُ تَعْبِيرِ الرُّؤْيَا بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ . مشكاة المصابيح رقم الحديث ۴۶۲۱ ( ۱۶ ) كتاب الرؤيا الفصل الاول ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۲۰۵۳ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۹۸۶ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ۶۵۵ .

# سُود خوړل ګناه کبيره ده

په دې کې هيڅ شک و شُبه نشته چې سُود خوړل ګناهِ کبيره ده ، بيا خاصکر په ګناهِ کبيره وُ کې هغه ګناه ده چې په احاديثو مبارکه وُ ددې نه په سختئ سره منع راغلې ده ، او دا هلاکوونکې ګناه شمارل شوې ده .

١ . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْكَبَائِرُ سَبْعٌ : أَوَّلُهُنَّ الْإِشْرَاكُ بِاللهِ ، وَقَتْلُ النَّفْسِ بِغَيْرِ حَقِّهَا ، وَأَكْلُ الرِّبَا ، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيْمِ ، وَفِرَارُ يَوْمِ الزَّحْفِ ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ ، وَالْإِنْتِقَالُ إِلَى الْأَعْرَابِ بَعْدَ هِجْرَتِهِ . (١)

کبيره ګناهونه اُووه ( ٧ ) دي ، په دې کې اوله ګناه داده : د الله ﷻ سره څوک شريکول . ( دويمه ګناه ) په ناحقه باندې څوک وژل . ( دريمه ګناه ) سُود خوړل . ( څلورمه ګناه ) د يتيم مال په ناجائزه طريقې سره خوړل . ( پنځمه ګناه ) د جهاد نه تختيدل . ( شپږمه ګناه ) په پاک دامنو ښځو باندې تُهمت لږول ، او ( اُوومه ګناه ) د هجرت کولو نه پس دوباره بانډو طرف ته واپس کيدل .

٢ . د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اُوفرمايل :

اِجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوْبِقَاتِ ، قَالُوْا : يَارَسُوْلَ اللهِ ! وَمَا هُنَّ ؟ قَالَ : اَلشِّرْكُ بِاللهِ ، وَالسِّحْرُ ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِيْ حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ، وَأَكْلُ الرِّبَا ، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيْمِ ، وَالتَّوَلِّيْ يَوْمَ الزَّحْفِ ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلَاتِ . (٢)

تاسو د اُووه ( ٧ ) هلاکوونکو شيانو نه ځان بَچ کړئ ، صحابه کرامو پوښتنه اوکړه : اې د الله رسوله ! هغه اُووه هلاکوونکې شيان کوم کوم دي ؟ نبي عليه السلام ورته

(١) صحيح الترغيب والترهيب ٣/ ٢١٣ رقم الحديث ٣٥٤٠ ، و رقم ١٨٣٨ كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره ، مسند البزار رقم الحديث ٨٦٩٠ .

(٢) صحيح البخاري ٣/ ١٠ رقم الحديث ٢٧٦٦ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : { إِنَّ الَّذِيْنَ يَأْكُلُوْنَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا . و رقم الحديث ٦٨٥٧ باب رمي المحصنات ، صحيح مسلم ج١ ص٩٢ رقم الحديث ١٤٥ ( ٩٨ ) باب بيان الكبائر و اكبرها ، سنن ابي داؤد ج٣ ص١١٥ رقم الحديث ٢٨٧٤ باب ما جاء في التشديد في اكل مال اليتيم .

وفرمايل: (هغه دادي:) ١. د الله ﷻ سره شوک شريکول. ٢. سِحر (جَادو) کول. ٣. په ناحقه داسې کس وژل چې د هغه وژل الله ﷻ حرام کړي وي، البته که هغه په حق باندې اووژلې شي نو دا خبره دی (مثلا بل څوک يې وژلې وي، يا شادي شُده زنا کار وي، او يا مُرتد وي وغيره) ۴. سُود خوَړل. ۵. د يتيم مال خوَړل. ٦. د جِهاد په دَوران کې د ميدانِ جنګ نه تَختيدل. ٧. په پاک دامنو ناخبره مسلمانانو ښځو باندې د زِنا تهمت لږول.

## د نبي عليه السلام پېشَن ګويي

١. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ يَظْهَرُ الرِّبَا، وَالزِّنَا، وَالْخَمْرُ. (١)

د قيامت سره نزدې به سُود، زِنا او شراب زيات شي.

٢. د ابوداؤد شريف حديث دی، نبي عليه السلام فرمايي:

لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا اٰكِلَ الرِّبَا، فَإِنْ لَمْ يَأْكُلْهُ أَصَابَهُ مِنْ بُخَارِهٖ. (٢)

په خلقو باندې به داسې يو زمانه راشي چې هيڅوک به بغير د سُود خوَړو نه پاتې نشي، که دې په خپله سُود او نه خُوري نو ددې بخار او ګرد به ورته خامخا وَر او رَسي.

**تشريح** ددې حديث نه د نبي عليه السلام صرف د راتلونکې زمانې متعلق پيشَن ګويي کول مقصود ندي، بلکه اَصل مقصد د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم دادی چې خپل اُمت ددې نه خبردار کوي چې په راتلونکې زمانه کې به دا سُود دومره عام شي چې ددې نه ځان ساتل به مُشکل وي، لهذا هر مسلمان ته په کار دي چې ددې لعنت نه ځان محفوظ اُوساتي، او داسې ماحول جوړ نشي چې بيا هر طرفته سُود عام شي. (٣)

(١) رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ. مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ٦٥٨٢ كتاب البيوع باب ما جاء في الربا، صحيح الترغيب والترهيب ٢/١٧٩١ رقم الحديث ١٨٦١، كتاب البيوع الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره.

(٢) سنن ابي داؤد رقم الحديث ٣٣٣١ كتاب البيوع بَابٌ فِي اِجْتِنَابِ الشُّبُهَاتِ، سنن ابن ماجه رقم الحديث ٢٢٧٨ بَابُ التَّغْلِيظِ فِي الرِّبَا. و رواه احمد والنسائي، معارف الحديث حصه هفتم ص ٥٠٨ ربا

(٣) معارف الحديث حصه هفتم ص ٥٠٨.

# د سُود اخلاقي او اقتصادي نقصانات

د دُنيوي نقصاناتو او اُخروي سزاګانو سره سره په سُود کې اَخلاقي نقصانات هم زيات دي، ځکه د سُود په وجه په انسان کې خُود غرَضي، بې رَحمي، سَنګ دِلي او کنجُوسي پيدا کيږي حالانکه اِسلام مسلمانانو ته د رَحم و کرَم، اِيثار، محبت او ورور ولۍ حکم کړی، او د همدې ښه صفاتو په وجه خو انسان ته اَشرفُ المَخلوقات ويلې شوی.

که يو مسلمان سخت محتاج وي، يا بيمار وي او د سُودخُور نه قرض اوغواړي نو دې يې نه ورکوي، او که ورکوي يې نو په سُود يې ورکوي. ځکه سُودخُور دا سوچ کوي: چې ده ته قرضِ حسَنه ورکوم په دې کې خو زما دُنياوي فائده نشته، بلکه دا روپۍ به چاته په سُود ورکړم چې سُودي نَفع خو راته ملاويږي.

نو ددې په وجه دده په زړه کې سختي، بې رَحمي، بُخل، کنجوسي او د مال سره محبت پيدا کيږي، حالانکه دا ټول ډير نقصاني صفتونه دي، دغه وجه ده چې سُود په مخکيني ټولو شريعتونو کې حرام شوې وُ. (١)

همدارنګې د سُود معاشي او اِقتصادي نقصانات هم ډير زيات دي، يا خاصکر که د بينکونو دې سُودي نظام ته اُوکتې شي نو دا مجموعي لحاظ سره د قوم د اِقتصاد د پاره ډير نقصاني دی، چې څوک هم په معاشياتو او تجارت کې تجربه لري د هغوی په نزد هم دا سُودي کاروبار مجموعي لحاظ سره ډير زيات ضررناک دی.

( نوټ: که د بينکونو په سُودي نظام باندې تشريح شروع کړم نو بيا به موضوع ډيره اُوږده شي، لهذا په همدې اِکتفاء کوم. ابوالشمس عفي عنه)

# د غونډ تقرير خلاصه

چې کله يو مسلمان د سُود د ممانعت په باره کې د قرآن کريم دا آيتونه، او د نبي عليه السلام دا اَحاديثِ مبارکه واوري نو هيڅ کله به دې دا جُرأت او نکړي چې د سُود يوه نوړۍ هم اُوخوري، ليکن اَفسوس چې نن مسلمانان د مال و دولت په حِرص، نَشه، او

(١) قِيْلَ: إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ مَا أَحَلَّ الرِّبَا فِي شَرِيْعَةٍ قَط. قَالَ اللهُ تَعَالَى: وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوْا عَنْهُ. النساء آية ١٦١. نزهة الناظرين كتاب اداب الكسب ص ٣٥٢.

عِشق کې دومره ډُوب دي چې ددې دومره دُنيوي او اُخروي سزاګانو اَوريدو باوجود بيا هم د سُود نه ځان نه ساتي ، او شپه او ورځ په سُودي کاروبار کې لګيا وي .
الله تعالى دې مونږ ټول د سُود او نورو هر قِسمه ګناهونو نه اُوساتي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

**نوټ** : ددې موضوع متعلق ضروري فِقهي مسائل ددې کتاب په آخر کې ذکر دي ، د صفحه ۳۲۲ نه شروع دي ، د هغې نه ځانله د موقعې مناسب اِنتخاب اوکړه .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ۔ وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴾

سورة القمر آية ۱ ، ۲ .

# د نبي عليه السلام مُعجِزات

تالِيف

اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالونى مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د نبي عليه السلام مُعجزات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَنْعَمَ عَلَى الْخَلْقِ بِبَعْثَةِ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ ۔ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ ۔ وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ۔

اَمَّابَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ۔ وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴾ . (١)

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا مِنَ الْاَنْبِيَاءِ نَبِيٌّ اِلَّا اُعْطِيَ مِنَ الْاٰيَاتِ مَا مِثْلُهٗ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ... (٢) صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ

## هر پيغمبر ته مُعجزې ورکړل شوي

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! الله رب العزت د انسانانو د هدايت د پاره پيغمبران راليږلي ، ددې د پاره چې دوى د الله ﷻ پيغام خلقو ته اُورسوي ، بيا يې دوى ته واضحه مُعجزې او دلائل هم ورکړي ، الله تعالى فرمايي :

---

(١) سورة القمر آية ١ ، ٢ .

(٢) پوره حديث داسې دى : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيٌّ إِلَّا أُعْطِيَ مِنَ الْآيَاتِ مَا مِثْلُهُ أُومِنَ. أَوْ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ ، وَإِنَّمَا كَانَ الَّذِيْ أُوتِيْتُ وَحْيًا أَوْحَاهُ اللّٰهُ إِلَيَّ ، فَأَرْجُوْ أَنْ أَكُوْنَ أَكْثَرَهُمْ تَابِعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. صحيح البخاري ٩/٩٢ رقم الحديث ٧٢٧٤ كِتَابُ الِاعْتِصَامِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِثْتُ بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ . و رقم ٤٩٨١ كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ بَابٌ: كَيْفَ نَزَلَ الْوَحْيُ. وَأَوَّلُ مَا نَزَلَ . صحيح مسلم كتاب الإيمان باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم الى جميع الناس ونسخ الملل بملة رقم الحديث ١٥٢ .

( أعطي ما مثله آمن عليه البشر ) : أجري على يديه من المعجزات الشيء الذي يقتضي إيمان من شاهدها بصدق دعواه لأنها من خوارق العادات حسب زمانه ومكانه. ( أوتيته ) : المعجزة التي أعطيتها. ( وحيًا ) : قرآنا موحى به من الله تعالى يبقى إعجازه على مر الأزمان ولذلك يكثر المؤمنون به ويوم القيامة يكون أتباعه العاملون بشريعته المنزلة أكثر من الأتباع العاملين بالشرع الحق لكل نبي. تعليق مصطفى البغا على البخاري في تشريح حديث ٤٩٨١ .

﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ﴾ . (١)

ترجمه : بيشكه مونږ را أوليږل خپل رسولان په واضحه نخو سره ( چې هغه مُعجزې يا واضحه دلائل او احکامات دي (٢) ) .

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيٌّ إِلَّا أُعْطِيَ مِنَ الْآيَاتِ مَا مِثْلُهُ أُومِنَ، أَوْ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ . (٣)

هر پيغمبر ته داسې نخې ( او مُعجزې) ورکړې شوې وی چې د هغې په ليدلو سره به خلقو ايمان راوړو .

دا معجزې دې پيغمبرانو ته ددې د پاره ورکړې شوې وی چې دا يقيني د الله ﷻ رسولان دي ، بل دا چې په هغه خلقو باندې حُجّت هم قائم شي او چاته د ايمان نه راوړلو څه عُذر پاتې نشي . (٤)

## هر پيغمبر ته د هغه وخت مناسب مُعجزه ورکړل شوي

بيا الله رب العزت هر پيغمبر ته د هغه وخت مناسب مُعجزې ورکړې وی چې د هغه قوم او زمانې د حالت سره به مناسب وی ، مثلا : دحضرت موسٰی عليه السلام په زمانه کې د

---

(١) سورة الحديد آية ٢٥ .

(٢) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة الحديد آية ٢٥ .

(٣) پوره حديث داسې دی : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيٌّ إِلَّا أُعْطِيَ مِنَ الْآيَاتِ مَا مِثْلُهُ أُومِنَ، أَوْ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ . وَإِنَّمَا كَانَ الَّذِي أُوتِيتُ وَحْيًا أَوْحَاهُ اللهُ إِلَيَّ . فَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ تَابِعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ . صحيح البخاري ٩ /٩٢ رقم الحديث ٧٢٧٤ كِتَابُ الِاعْتِصَامِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِثْتُ بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ . و رقم ٤٩٨١ كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ بَابٌ كَيْفَ نَزَلَ الْوَحْيُ، وَأَوَّلُ مَا نَزَلَ . صحيح مسلم كتاب الإيمان باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم الى جميع الناس ونسخ الملل بملة رقم الحديث ١٥٢ .

(٤) أجرى الله تبارك وتعالى على يدي أنبيائه ورسله من المعجزات الباهرات والدّلائل القاطعات والحجج الواضحات ما يدلّ على صدق دعواهم أنّهم رسل الله، وكي تقوم الحجّة البالغة على النّاس فلا يبقى لأحد عذر في عدم تصديقهم وطاعتهم . فقال تعالى: لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرّسول الكريم صلّى الله عليه وسلّم ج١ ص ٥٢٠ معجزات ودلائل نبوّة خاتم الأنبياء والمرسلين صلّى الله عليه وسلّم .

سحر ډيره چَرچَه وه ، د ساحِرانو به ډير قدر و عِزت کيده ، نو الله ﷻ حضرت موسٰی علیه السلام ته داسې معجزې ورکړی چې ساحِران يې حيران کړه ، او هيڅا ددې مقابله نشوه کولی .

چې کله به يې اَمسا په زمکه واچوله نو د هغې نه به غټه اَژدها جوړه شوه ، او چې راوا به يې خيسته نو واپس به اَمسا وه . او کله به يې چې لاس په ترَخ (بَغَل) کې دننه کړو او بيا به يې رااوويسته نو سپينه رَڼا به يې کوله او پړقيدو به .

د حضرت عيسٰی علیه السلام په زمانه کې د طبيبانو ډيره چَرچَه وه ، هر طرف ته د طبيبانو قَدر او زُور وُ ، نو الله ﷻ حضرت عيسٰی علیه السلام ته داسې مُعجزه ورکړه چې ټول طبيبان ورته حيران وو ، او هيڅا يې مقابَله او نکړې شوه .

حضرت عيسٰی علیه السلام به د الله ﷻ په حکم مړي ژوندي کول ( په ټول عُمر کې يې څلور مړي ژوندي کړي وو ) ، او کله به يې چې په ړوند يا برګي مرَض واله باندې لاس رابنکود نو د الله ﷻ په حکم به روغ شو ، طبيبانو ددې مقابَله نشوه کولی ، ځکه طبيب خو مړې نشي را ژوندې کولی .(١)

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په زمانه کې د شِعرو شاعرۍ او فصاحت و بلاغت ډيره چَرچه وه ، هر طرف ته فصيح و بليغ ، او د عربۍ ژبې ماهِره شاعِران موجود وو . الله ﷻ

---

(١) أعطى الله عزّ وجلّ كلّ نبيّ من الأنبياء عليهم السّلام معجزة خاصّة به لم يعطها بعينها غيره تحدّى بها قومه. وكانت معجزة كلّ نبيّ تقع مناسبة لحال قومه وأهل زمانه . فلمّا كان الغالب على زمان موسى عليه السّلام السّحر وتعظيم السّحرة . بعثه الله بمعجزة بهرت الأبصار . وحيّرت كلّ سحّار . فلمّا استيقنوا أنّها من عند العزيز الجبّار انقادوا للإسلام وصاروا من عباد الله الأبرار .

وأمّا عيسى عليه السّلام فبعث في زمن الأطبّاء وأصحاب علم الطّبيعة. فجاءهم من الآيات بما لا سبيل لأحد إليه إلّا أن يكون مؤيّدا من الّذي شرع الشّريعة . فمن أين للطّبيب قدرة على إحياء الجماد . وبعث من هو في قبره رهين إلى يوم التّناد . أو على مداواة الأكمه والأبرص . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ج١ ص ٥٢١ معجزات ودلائل نبوّة خاتم الأنبياء والمرسلين صلى الله عليه وسلّم المعجزة الكبرى .

نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته داسې مُعجزه " قرآن مجيد " ورکړه چې ټول شاعران، فصيحان او بليغان ددې د مقابلې کولو نه عاجزه شو. (۱)

## نبي عليه السلام ته د ورکړل شوو مُعجزو تعداد

نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته الله رب العزت ډيرې مُعجزې ورکړې وی:

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په خَصَائِصُ الكُبْرىٰ کې د نبي ﷺ زر (۱۰۰۰) معجزې راجَمع کړي.

اِمام بيهقي رحمه الله په دَلَائِلُ النُّبُوَّة کې د نبي عليه السلام دولس سوه (۱۲۰۰) مُعجزې ذکر کړي.

علامه قسطلاني رحمه الله په المواهب اللدنيه کې درې زره (۳۰۰۰) معجزې ذکر کړي بلکه علماء ليکي چې د نبي عليه السلام مُعجزې د درې زرو (۳۰۰۰) نه هم زياتې دي.

**حقيقت**: حقيقت دادی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم صُورت، د دوی سِيرت، د دوی اَقوال، د دوی اَعمال، د دوی کِردار، د دوی رَفتار، د دوی اَخلاق، بلکه د دوی هر کار په دومره مَصالِحو، اَسرارو، او حِکمتونو باندې مشتمل دی چې د دوی هر کار خارِقُ العادة او مُعجِزه وه. دا ټول په دې باندې دلالت کوي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم رښتيني پيغمبر دی.

دغه وجه ده چې امام غزالي رحمه الله ليکلي دي چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د صداقت د پاره همدا اُمور (اَخلاق، اَعمال وغيره) کافي وو، ليکن بيا هم د دوی د صداقت د پاره دوی ته نورې حِسّي معجزې ورکړې شوې وی چې د هغې اِدراک په حواسو سره کيږي.

---

(۱) وكذلك نبينا صلى الله عليه وسلم. بعث في زمان الفصحاء والبلغاء وتجاريد الشعراء. فأتاهم بكتاب من عند الله عز وجل. فاتهمه أكثرهم أنه اختلقه وافتراه من عنده فتحدّاهم و دعاهم أن يعارضوه ويأتوا بمثله وليستعينوا بمن شاءوا فعجزوا عن ذلك . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ج۱ ص ۵۲۱ معجزات ودلائل نبوة خاتم الأنبياء والمرسلين صلى الله عليه وسلم المعجزة الكبرى .

او دا مُعجزات د نبي عليه السلام نه په مُتصل سَنَد سره نقل دي، بعضې په کې په مُتواتِر او مشهور سَنَد سره هم نقل دي، او ډير معجزې په کې داسې دي چې د عظمت او تعجب والي په اِعتبار سره د مخکيني ټولو پيغمبرانو د مُعجزو نه اُوچتې دي. (١)

## د مُعجزې لغوي او اِصطلاحي معنی

د مُعجزاتو ذکر کولو نه مخکې مناسب ګنړم چې اول درته د مُعجزې لغوي او اِصطلاحي معنی بيان کړم چې تاسو د معجزې په حقيقت پوهه شئ.

شيخ عبد الحق مُحدِث دهلوي رحمه الله د مُعجزې لغوي معنی په باره کې فرمايي:

چې معجزه د اِعجاز نه اخيستل شوی، دا صيغه د اسمِ فاعل ده، لغوي معنی يې ده: عاجز کوونکې انسان لره ( په اُردو کې يې معنی ده: عاجز کرنے والي بات، عاجز کرنے واله عمل ). (٢)

او معجزې ته هم مُعجزه ځکه وايي چې ددې د کولو نه هم انسان عاجزه وي. (٣)

او په اِصطلاح کې د مُعجزې تعريف دادی:

أَمْرٌ خَارِقٌ لِلْعَادَةِ يُظْهِرُهُ اللهُ عَلَى يَدِ نَبِيٍّ تَأْيِيدًا لِنُبُوَّتِهِ وَمَا يَعْجِزُ الْبَشَرُ أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِهِ. (۴)

---

(١) سيرة المصطفى لمولانا محمد ادريس کاندهلوي ج٣ ص ٣٢١، و ص ٣٢٣.

(٢) مظاهر حق شرح مشکوة ج٩ بابٌ في المعجزات.

(٣) وَسُمِّيَتِ الْمُعْجِزَةُ كَذٰلِكَ لِعَجْزِ الْخَلْقِ عَنْ مُعَارَضَتِهَا وَالْإِتْيَانِ بِمِثْلِهَا. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ج١ ص ٥٢٠ معجزات ودلائل نبوّة خاتم الأنبياء والمرسلين صلّى الله عليه وسلّم.

(۴) المعجم الوسيط ج٢ ص ٥٨٥ بَاب العين، معجم اللغة العربية المعاصرة ج٢ ص ١۴٦٠ ع ج ز.

**د معجزې نور تعريفونه**: د معجزې دويم تعريف: المعجزة: أمر خارق للعادة، داعٍ إلى الخير والسعادة، مقرون بدعوى النبوة، قصد به إظهار صدق مَنِ ادّعى أنّه رسول من الله. التعريفات ج١ ص ٢١٩ باب الميم. د معجزې دريم تعريف: المعجزة: أمرٌ نادر الحدوث يعجز الإنسانُ العاديّ عن الإتيان بمثله. معجم اللغة العربية المعاصرة ج٢ ص ١۴٦٠ ع ج ز.

د معجزې څلورم تعريف المعجزة: أمر خارق للعادة، يعْجِزُ الْبَشَرَ أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِهِ.

ومعجزة النبي صلى الله عليه وسلم ما أعجز به الخصمَ عند التَّحدِّي. القاموس الوحيد ١/ ٥١٦.

معجزه هغه څيز دى چې خَارِقُ العادة وي ( يعنى د عادت خِلاف وي ) ، دا الله ﷻ د نبي په لاس باندې ظاهروي، او نور انسانان ددې په شان كار كولو نه عاجزه وي.

يعنى الله ﷻ چې د خپل پيغمبر په لاس باندې كوم خَارِقُ العادة كارونه او نَخې ظاهرې كړي چې په دې سره دده د پيغمبرى حقانيت او ربښتيا والې ظاهر شي ، او د مقابَلې اِعلان باوجود نور انسانان ددې د كولو نه عاجزه وي نو ديته مُعجزه وايي.

( **نوټ** : د معجزې په باره نور تحقيق ، همدارنګې د خارِقُ العادة كارونو اَقسام او څه نور بحثونه د همدې اِصلاحي مُدلّل تقريرونه كتاب په پنځم جلد كې '' د قرآن اِعجاز '' موضوع په سَر كې په تفصيل سره تېر شوي هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه ).

## د مُعجزاتو بيانولو فائده :

مسلمانانو ته د مُعجزاتو په بيانولو كې فائده داده چې كله دوى د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم مُعجزات واوري نو په دې سره د دوى اِيمان نور هم مضبوطيږي ، د پيغمبرعليه السلام په نبوّت يې يقين نور هم زياتيږي ، د نبي عليه السلام د اَقوالو او اَفعالو سره يې مِينه پيدا كيږي ، او بيا په دې اَحكاماتو باندې د عمل كولو توفيق هم ورته نصيبه كيږي.

## عناد كوونكو كافرانو ته د مُعجزاتو په ليدلو هم اِيمان نصيب نه شو

د نبي عليه السلام په زمانه كې داسې بَدبخته خلق هم وو چې هغوى ددې ښكاره معجزاتو په ليدلو سره بيا هم اِيمان را نه وړو ، الله تعالى فرمايي :

﴿ وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴾ . (١)

ترجمه : كوم قوم چې ايمان نه راوړي هغوى ته نخې او يَرول په كار نه راځي.

د مكې كافرانو د شَقُّ الْقَمَر مُعجزه اُوليده خو بيا يې هم اِيمان رانه وړو ، او ديته يې سِحر وويل ، الله تعالى ددې بيان داسې كوي :

(١) سورة يونس آية ١٠١ .

﴿ وَإِنْ يَّرَوْا ايَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴾ . (١)

ترجمه: او که دوی یوه نَخه اوګوري نو اِعراض کوي ( یعنی مَخ ورنه اړوي ) او وايي چې دا خو سِحر ( جادو ) دی چې د همیشه نه راروان دی.

کافرانو به د معجزاتو په لیدلو سره نبي علیه السلام ته جادوګر ویل، الله تعالی د کافرانو دا قول رانقل کړی:

﴿ قَالَ الْكَافِرُوْنَ إِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ﴾ . (٢)

ویل کافرانو چې بیشکه دا پیغمبر خو ښکاره جادوګر دی.

الله تعالی دیو کافر دا خبره رانقل کړی:

﴿ ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ . فَقَالَ إِنْ هٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُّؤْثَرُ ﴾ . (٣)

ترجمه: بیا هغه شَا کړه ( یعنی مَخ یې واړول ) او تکبّر یې اوکړو، بیا یې ویل چې ندې دا قرآن مګر دا خو جادو دی چې د پَخوا نه رانقل کولې شي ( یعنی د پخوا نه راروان سِحر دی ).

کافرانو به یو بل منع کول چې تاسو نبي علیه السلام ته مه راځئ، ځکه دې په خلقو باندې جادو کوي، او یو بل ته به یې ویل:

﴿ هَلْ هٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ أَفَتَأْتُوْنَ السِّحْرَ وَأَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴾ . (٤)

ترجمه: ندې دا پیغمبر مګر ستاسو په شان یو انسان دی، آیا تاسو بیا هم دې جادو ته راځئ؟ او ( سره ددې چې ) تاسو یې ( په خپلو سترګو ) ګورئ ( چې دا جادو دی ).

---

(١) سورة القمر آية ١، ٢ .

(٢) سورة يونس آية ٢ . / کله به کافرانو نبي علیه السلام ته کاهِن او مجنون ویل، نو الله تعالی ددې رَد اوکړو: فَذَكِّرْ فَمَآ أَنْتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَّلَا مَجْنُوْنٍ . سورة الطور آية ٢٩ . ترجمه: پس ( اې پیغمبره ! ) ته نصحیت کوه، ته د خپل رَب په فضل سره نه خو کاهِن یې، او نه لیونې یې.

بل ځای الله ﷻ فرمايي: وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ . سورة الحاقة آية ٤٢ . ترجمه: دا قرآن د یو کاهِن ( جادوګر ) خبره نده.

(٣) سورة المدثر آية ٢٣، ٢٤ ./ بل ځای الله ﷻ د کافرانو په باره کې فرمايي: قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ . سورة الاحقاف آية ٧ .

(٤) سورة الأنبياء آية ٣ .

د نبي عليه السلام نه وړاندې نورو پيغمبرانو به چې هم کله خپل قوم ته معجزې پيش کړې نو هغوی به هغه پيغمبر ته د ساحِر او جادُوګر لقبونه ورکول :

حضرت موسی عليه السلام فرعون ته ډيرې مُعجزې اُوخودی خو د هرې مُعجزې ليدلو نه روستو به فرعون ويل : ﴿ هٰذَا سِحۡرٌ مُّبِينٌ ﴾ . (١) دا خو ښکاره جادُو دی .

او د حضرت موسی عليه السلام او حضرت هارون عليه السلام په باره کې يې ويل :

﴿ إِنۡ هٰذَانِ لَسٰحِرٰنِ ﴾ .(٢)

يقينًا دا موسی ( عليه السلام ) او هارون ( عليه السلام ) خو جادُوګر دي .

که حضرت عيسی عليه السلام به خپل قوم ته مُعجزې پيش کړې نو حاضرين به دوه ډلې شو : يوې ډلې به اُومنل ، او دويمې ډلې به وويل چې ( نعوذُبالله ) د حضرت عيسی عليه السلام سره شيطان ملګرې دی . (٣)

همدغه رنګې نورو پيغمبرانو ته هم د مُعجزې په ښکاره کولو سره ساحِر او جادُوګر ويل شوی .

## د عِناد په وجه بيا په مُعجزه هم يقين نه پيدا کيږي

په چا کې چې عِناد او ضد وي هغوی چونکه د حَق او باطل په مينځ کې تمِيز نشي کولی نو که دوی يوه معجزه اوګوري ، يا يې واوري نو بيا هم د دوی يقين وريانديې نه راځي ، بلکه ديته سِحر او جادو وايي ، کافرانو به هم د نبي عليه السلام نه معجزه طَلب کړه ، کله به يې چې هغه اُوليده نو اِيمان به يې رانه وړو ، بيا به يې د بلې معجزې مطالبه کوله ، الله رب العزت دا خبره په قرآن کريم کې واضحه کړه چې دا کافران د خپل ضد او عِناد په وجه دې اَندازې ته رسيدلي دي که دوی ته هر څومره مُعجزې او نَخې راشي خو دوی بيا هم اِيمان نه راوړي ، او دوی به دې معجزو او نښو ته سِحر وايي ، په سورة انعام کې الله تعالی ددې مراتب داسې بيان کړي :

---

(١) سورة النمل آية ١٣ .

(٢) سورة طه آية ٦٣ .

(٣) سيرة النبي لعلامه شبلي نعماني رحمه الله حصه سوم ص ١٤٢ .

﴿ وَمَا تَأْتِيهِمْ مِنْ اٰيَةٍ مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴾ . (١)

ترجمه : او نه راځي دې کافرانو ته څه نخه د نخو د رَب د دوی نه مگر دوی د هغې نه مَخ اړوونکي دي .

﴿ وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَا يُؤْمِنُوْا بِهَا حَتّٰى إِذَا جَآءُوْكَ يُجَادِلُوْنَكَ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا إِنْ هٰذَآ إِلَّا أَسَاطِيْرُ الْأَوَّلِيْنَ ﴾ . (٢)

ترجمه : او که دوی هر قِسمه نخې او مُعجزې اوګوري نو دوی په هغې ایمان نه راوړي . تر دې پورې چې هر کله دوی تاته راشي نو جَګړې درسره کوي ، کافران دا وايي چې ندې دا قرآن مگر دا خو د پخوانو خلقو قِصې دي .

﴿ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ بِأَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا إِنْ هٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴾ . (٣)

ترجمه : او ( اې پیغمبره ! ) که چیرته مونږ نازل کړې وی په تا باندې ( داسې یو ) کتاب ( چې هغه لیکلې شوې وی ) په کاغذ باندې ، او دوی دا کتاب په خپلو لاسونو باندې مسَه کړې وی نو بیا به هم کافرانو دا ویلی چې دا خو ښکاره جادُو دی .

﴿ وَقَالُوْا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ وَلَوْ أَنْزَلْنَا مَلَكًا لَقُضِيَ الْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ ﴾ . (٤)

ترجمه : او دې کافرانو وویل : ولې په دې پیغمبر باندې فرښته نده نازله شوی ؟ ( چې مونږ یې اوګورو او خبرې ورسره اوکړو ، الله تعالی فرمایي : ) که چیرته مونږ فرښته نازله کړې وی ( او دوی بیا هم ایمان نه وې راوړی ) نو بیا به ټوله معامله ختمه شوې وه ، بیا به دوی ته هیڅ مُهلت نهٔ ورکړې شوی .

( ځکه دا د الله ﷻ قانون دی چې چا فرمائشي مُعجزه غوښتلې ده او د هغې په لیدلو دوی بیا هم ایمان ندې راوړی نو الله ﷻ دوی هلاک کړي دي ) .

---

(١) سورة الانعام آية ٤ .

(٢) سورة الانعام آية ٢٥

(٣) سورة الانعام آية ٧ .

(٤) سورة الانعام آية ٨ .

﴿ وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَآ إِلَيْهِمُ الْمَلَآئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتَىٰ وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوا لِيُؤْمِنُوٓا إِلَّآ أَن يَشَآءَ اللَّهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴾. (١)

ترجمه : او که چیرته مونږ دوی ته فرښتې نازلې کړې وی ، او مړو ورسره خبرې کړې وی، او مونږ (د دُنیا ) ټول شیان د دوی مخې ته راجَمع کړي وی نو بیا به هم دوی ایمان نه وې راوړی ، مګر دا که الله تعالی اُوغواړي ( نو هغه ځانله خبره ده ) خو لیکن په دوی کې اکثره خلق جاهلان دي ( د ناپوهی خبرې کوي ) .

بعضې بَدبخته کافرانو به چې د نبي علیه السلام مُعجزې اُولیدی نو ورته ویل به یې : چې مونږ به هلته اِیمان راوړو چې کله ته مونږ ته د مخکیني پیغمبرانو په شان معجزې راوړی . الله تعالی د دوی خبره داسې نقل کړی :

﴿ فَلْيَأْتِنَا بِآيَةٍ كَمَآ أُرْسِلَ الْأَوَّلُونَ ﴾ . (٢)

ترجمه : په کار ده چې دا پیغمبر مونږ ته داسې نَخه ( او معجزه ) راوړي لکه څرنګې چې په هغې مخکیني پیغمبران رالیږلي شوي وو .

الله تعالی ددې جواب ورکړو چې که دوی هغه معجزې اوګوري نو بیا هم اِیمان نه راوړي ، دوی به بیاهم وایې چې دا سِحر او جادُو دی . (٣)

محترمو مسلمانانو ! د نبي علیه السلام معجزې اګر چې زیاتې دي خو زه به درته ان شاء الله یو څو مشهورې معجزې ذکر کړم :

## د ټولو نه لویه مُعجزه " قرآن کریم "

د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په معجزو کې د ټولو نه لویه ، ښکاره او تر قیامته پورې دائمي عِلمي معجزه قرآن کریم دی ، ځکه ددې اِعجاز په مختلفو طریقو سره ثابت دی .

(١) سورة الانعام آية ١١١ .

(٢) سورة الأنبياء آية ٥ .

(٣) سيرة النبي لمولانا شبلي نعماني رحمه الله حصه سوم ص ١٢٣ .

( نوټ د قرآن كريم د اِعجاز متعلق تفصيلي بحث د همدې " اِصلاحي مُدلّل تقريرونه " كتاب په پنځم جلد كې په صفحه ۱۲۷ باندې تېر شوى ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه ) .

## د شَقُّ الْقَمَرْ ( يعنى د سپوږمۍ دوه ټوټې كېدلو ) معجزه

د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په عظيمو مُعجزاتو كې د شَقُّ الْقَمَرْ معجزه هم ده ، چې د دوى په اِشارې سره سپوږمۍ دوه ټوټې شوې وه .

دا معجزه د قرآن كريم ، احاديثِ متواترهٔ ، او اِجماع نه ثابته ده . همدارنګې د تاريخي اَقوالو په رَڼا كې هم ددې ثبوت شته . (۱)

امام طحاوي او علامه ابن كثير رحمهما الله ليكلي چې د شَقُّ الْقَمَر معجزې روايتونه مُتواتر دي ، او دا په قطعي دلائلو سره ثابته ده .

۱ . په قرآن كريم سورةُ القمر كې الله رب العزت ددې بيان داسې كوي :

﴿ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ . وَإِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴾ . (۲)

ترجمه : رانږدې شو قيامت ، او څېرې شوه سپوږمۍ ، او كه كافران څه نخه ( او معجزه ) اوګوري نو د هغې نه مَخ اَړوي ، او وايي چې دا خو جادُو دى چې د پخوا نه راروان دي .

۲ . د بخاري شريف حديث دى ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي :

اِنَّ أَهْلَ مَكَّةَ سَأَلُوْا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُّرِيَهُمْ آيَةً . فَأَرَاهُمُ الْقَمَرَ شِقَّتَيْنِ .

(۱) قال القاضي رحمه الله : اِنشقاقُ القمرِ مِنْ أمهات معجزات نبينا صل الله عليه وسلم . وقد رواها عدة من الصحابة رضي الله عنهم مع ظاهر الآية الكريمة وسياقها . قال الزجاج وقد أنكرها بعضُ المبتدعة المضاهين المخالفي الملة وذلك لما أعمى الله قلبه ولا إنكار للعقل فيها لأنّ القمرَ مخلوقُ الله تعالى يفعلُ فيه ما يشاءُ كما يفنيه ويكوره في آخر أمره . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم بَابُ انشِقَاقِ القَمَرِ .

(۲) سورة القمر آية ۱ ، ۲ .

حَتّٰى رَأَوْا حِرَاءً بَيْنَهُمَا . (١)

بيشکه د مکې کافرانو د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه مطالبه اوکړه چې دوی ته يو معجزه اُوښائي ، نو نبي عليه السلام دوی ته دا معجزه اُوخوده چې سپوږمۍ ( د دوی د لاس مبارک په اِشارې کولو سره ) دوه ټوټې شوه ، تر دې پورې چې دې کافرانو د حِراء غَر د سپوږمۍ د دوه ټوټو په مينځ کې اُوليده ( يعنی سپوږمۍ دوه ټوټې شوه ، يوه ټوټه د حِراء غَر نه اَخوا لاړه ، بله ديخوا راغله ، او د حِراء غَر ددې دواړو په مينځ کې وُ ) .

٢ . علامه آلوسي رحمه الله په تفسير روح المعاني کې دا واقعه په دې اَنداز رانقل کړې :

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې د هجرتِ مدينه نه تقريبًا پنځه کاله وړاندې يو ځل د مکې څه مشرکين رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل ، په دوی کې وليد بن مغيره ، ابوجهل ، عاص بن وائل او څه نور مشرکان کافران هم وو ، دوی نبي عليه السلام ته وويل :

إِنْ كُنْتَ صَادِقًا فَشق لنا القمرَ فرقتين . نصفا على أبي قبيس ونصفا على قينقاع .

که چيرته ته ( په خپله دَعوی د نبوت کې ) صادِق يې نو مونږ ته دا سپوږمۍ دوه ټوټې کړه چې نيمه په جَبلِ ابي قبيس باندې راشي او نيمه په جبلِ قينقاع باندې راشي .

نبي کريم صلی الله عليه وسلم دوی ته وفرمايل :

إِنْ فَعَلْتُ تُؤْمِنُوْا ؟ که زه دا معجزه تاسو ته اُوښايم نو آيا بيا به تاسو ايمان راوړئ ؟

دوی ورته وويل : آو . ( بيا به مونږ ايمان راوړو ) .

---

(١) صحيح البخاري بَابُ انْشِقَاقِ القَمَرِ ٥/٤٩ رقم الحديث ٣٨٦٨ ، مشكاة المصابيح باب علامات النبوة الفصل الاول رقم الحديث ٥٨٥٤ .

وفي رواية : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : اِنْشَقَّ الْقَمَرُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شِقَّتَيْنِ . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اِشْهَدُوْا . صحيح البخاري بَابُ سُؤَالِ الْمُشْرِكِيْنَ أَنْ يُرِيَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آيَةً فَأَرَاهُمُ انْشِقَاقَ الْقَمَرِ رقم الحديث ٣٦٣٦ ، صحيح مسلم باب انشقاق القمر رقم الحديث ٢٨٠٠ ، سنن الترمذي رقم الحديث ٣٢٧٨ .

چونکه په دې وخت کې شپه وه ، او د څوارلسمې شپې سپوږمۍ راختلې وه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله ﷻ نه د دې په باره کې دُعا او غوښته.

په روایاتو کې راځي چې نبي علیه السلام په ګوته مُبارکه باندې سپوږمۍ طرف ته اِشاره اوکړه نو سپوږمۍ دوه ټوټې شوه ، نیمه په جبلِ ابي قبیس باندې وه ، او نیمه په جبل قینقاع باندې وه . نبي علیه السلام دوی ته وفرمایل ... اِشْهَدُوْا. (١) تاسو ګواه اوسئ.

دوی تر ډیر وخته پورې دیته کتل ، د ډیرې حیرانتیا په وجه یې خپلې سترګې په کپړو پاکولې او سپوږمۍ طرف ته به یې کتل ، خو بیا به هم ورته صفا دوه ټوټې په نظر راتله.

د مازیګر او ماښام په مینځ کې چې څومره وخت وي دومره اَندازه وخت دا سپوږمۍ همداسې دوه ټوټې وه ، بیا واپس صحیح شوه.

۴ . امام بیهقي رحمه الله او نورو محدّثینو دا حدیث رانقل کړی ، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي :

اِنْشَقَّ الْقَمَرُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ قُرَيْشٌ : هٰذَا سِحْرُ ابْنِ أَبِيْ كَبْشَةَ . قَالَ : وَقَالُوْا : اِنْتَظِرُوْا مَا تَأْتِيْكُمْ بِهِ السُّفَّارُ فَإِنَّ مُحَمَّدًا لَا يَسْتَطِيْعُ أَنْ يَسْحَرَ النَّاسَ كُلَّهُمْ . قَالَ : فَجَاءَ السُّفَّارُ فَقَالُوْا ذَاكَ . (٢)

---

(١) اِجتمع المشركون على عهد رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم . مِنهم الوليد بن المغيرة وأبو جهل بن هشام . والعاص بن وائل . والعاص بن هشام . والأسود بن عبد يغوث . والأسود بن المطلب وربيعة بن الأسود والنضر بن الحارث . فقالوا للنبي صلى الله تعالى عليه وسلم : إِنْ كُنْتَ صَادِقًا فَشُقَّ لنا القمرَ فرقتين . نصفا على أبي قبيس ونصفا على قينقاع . فقال لهم النبي صلّى الله عليه وسلم : إِنْ فَعَلْتُ تُؤْمِنُوْا ؟ قَالوا : نعم . وكانت ليلة بدر . فسأل رسولُ الله صلى الله تعالى عليه وسلم رَبَّهُ عز وجل أَنْ يعطيه ما سألوا . فأمسى القمر قد مثل نصفا على أبي قبيس ونصفا على قينقاع . ورسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم ينادي : يا أبا سلمة بن عبد الأسد والأرقم بن الأرقم ا إِشْهَدُوْا. تفسير روح المعاني ج ١۴ پ ٢٧ سورة القمر .

(٢) مسند ابي داؤد الطيالسي ١ /٢٣٦ رقم الحديث ٢٩٣ مَا أَسْنَدَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، معجزات النبي لابن كثير رحمه الله ج١ ص ٢٩ انشقاق القمر ، الخصائص الكبرى ج١ ص ٢٠٩ باب انشقاق القمر ، معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة القمر .

په مکه مکرّمه کې سپوږمۍ دوه ټوټې شوه ، د مکې قريشو کافرانو وويل : دا جادو دی، او ابن ابي کبشه ( يعنی محمد ﷺ ) په تاسو باندې جادُو کړې دی ، په دې وجه تاسو د بهر نه راتلونکو مسافرو اِنتظار اوکړئ ، که چيرته هغوی هم دا ليدلي وي نو بيا به دې رېښتينې وي ( ځکه دې خو د ټولې دُنيا په خلقو باندې جادو نشي کولی ) ، او که هغه مسافرو د سپوږمۍ دا ټوټې کيدل نه وي ليدلي نو بيا پوهه شئ چې دا په تاسو باندې نبي عليه السلام سِحر کړی دی . کله چې مسافر د مختلفو علاقو او اَطرافو نه راغلل او د مکې قريشو د هغوی نه معلومات اوکړو هغوی هم وويل چې مونږ هم د سپوږمۍ دوه ټوټې کيدل ليدلي دي .

خو د دې ټولو خبرو باوجود بيا هم دې کافرانو اِيمان رانه وړو ، او وې ويل چې دا پخوانې سِحر دی . (١)

## د معراج واقعه

د مِعراج ټوله واقعه د نبي عليه السلام مُعجزه ده ، ځکه د شپې په لږه حِصه کې په جِسم او رُوح دواړو سره په وِېخه باندې د مسجدِ حرام (يعنی بيتُ الله ) نه د بيتُ المقدّس پورې د يوې مياشتې فاصله سفر په لږ وخت کې قطع کول (٢)، د انبياء کرامو اِمامت کول، بيا د همدې شپې په لږ وخت کې د پنځوس زره ( ٥٠٠٠٠ ) کاله مسافت په اَندازه د آسمانونو سفر کول او تر سِدرةُ المُنتهٰی پورې تلل ، هر آسمان ته داخليدل ، د هغې د عجائباتو مشاهده کول ، د جنت او جهنم دِيدار کول ، د فرښتو اِمامت کول ، او بيا واپس راتلل . دا ټولې خبرې په يوه شپه کې د بل هيچا دپاره ممکن ندي ، بلکه دا هره خبره د رسول الله صلی الله عليه وسلم مُعجزه ده .

د مسجدِ حرام نه تر د مسجدِ اَقصٰی پورې د اِسراء دا واقعه خو په نَص د قرآن کريم ﴿ سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِيْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ

(١) معارف القرآن لمولانا ادريس کاندهلوي سورة القمر .

(٢) په هاغه زمانه کې به د مکې مکرمې نه تر د بيتُ المقدس پورې د يو طرفه سفر په يوه مياشت کې قطع کولې شو .

﴿لِنُرِيَهُ مِنْ ءَايَٰتِنَآ إِنَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾ (١) سره ثابته ده ، لهذا ددې نه اِنکار کول کفر دی.

او بيا د مسجدِ اَقصٰى نه پورته د آسمانونو طرف ته د معِراج واقعه په مشهورو او متواترو اَحاديثو سره ثابته ده ، لهذا ددې نه اِنکار کول ګمراهي ده ، او دا سې کس بِدعتي دی.

د معِراج تفصيلي واقعه په بخاري شريف ، مسلم شريف ، مشکوة شريف او نورو ټولو د احاديثو په کتابونو کې ذکر ده ، بلکه علماؤ په دې موضوع باندې مُستقل کتابونه ليکلي. (٢)

## د نبي عليه السلام د ګوتو مبارکو نه د اُوبو وتلو مُعجزه

امام قرطبي رحمه الله ليکلي چې د نبي عليه السلام د ګوتو مبارکو نه د اُوبو وتلو معجزه په مختلفو ځايونو کې ظاهره شوې ، ددې مختلفو واقعاتو نه داسې علمِ قطعي حاصليږي کوم چې د تواترِ معنوي نه حاصليږي.

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه علاوه الله ﷻ بل هيڅ نبي ته داسې معجزه نه وه ورکړې چې د هغه د لاس ، خپو ، ګُتو ، غوښې يا هډوکي نه د چينې په شان اُوبه جاري شوې وي. دا معجزه الله ﷻ صرف رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته ورکړې وه چې په مختلفو ځايونو کې د.دوی د ګُوتو مبارکو نه دچينې په شان اُوبه رواني شوې وی. (٣)

---

(١) سورة بني اسرائيل ( الإسراء ) آية ١ .

(٢) **نوټ** : چونکه د معراج دا واقعه ډيره اُوږده ده ، د وخت د کموالي په وجه يې ځکه تفصيلاً نه ذکر کوم.
ابوالشمس عفي عنه

(٣) قال القرطبيّ رحمه الله: قصّة نبع الماء من بين أصابعه صلّى الله عليه وسلّم. تكرّرت منه في عدّة مواطن في مشاهد عظيمة، ووردت من طرق كثيرة، يفيد مجموعها العلم القطعيّ المستفاد من التّواتر المعنويّ ولم يسمع بمثل هذه المعجزة عن غير نبيّنا صلّى الله عليه وسلّم. حيث نبع الماء من بين عظمه وعصبه ولحمه ودمه. فتح الباري ٦/ ٦٧٦، ٦٧٧ ، نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ج١ ص ٥٢٨ معجزات ودلائل نبوّة خاتم الأنبياء والمرسلين صلّى الله عليه وسلّم تكثيره الماء ونبعه من بين أصابعه الشّريفة صلّى الله عليه وسلّم.

١. په بخاري شريف او مسلم شريف کښې دا حديث ذکر دی، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي: يوه ورځ د حُديبې په مقام کښې ټول خلق تږي شو، د رسول الله صلی الله عليه وسلم مخې ته يو وړوکې لوښې يعنی لوټه وه، د هغې نه يې اودس اوکړو (د اودس نه پس په دې لوښي کښې څه لږې اوبه پاتې شوې) بيا دا خلق د نبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو، او ورته وې ويل:

لَيْسَ عِنْدَنَا مَاءٌ نَتَوَضَّأُ بِهِ وَلَا نَشْرَبُ، إِلَّا مَا فِي رَكْوَتِكَ.

د مونږ سره په غونډ لښکر کښې دومره اوبه نشته چې مونږ په هغې اودس اوکړو او وې څکو، صرف همدا اوبه دي کومو چې د تاسو سره په لوښي کښې پاتې شوي (او په دې باندې خو د ټول لښکر کار نه کيږي).

نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل لاس مبارک په هغه لوښي کښې دننه کړو:

فَجَعَلَ الْمَاءُ يَفُورُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ كَأَمْثَالِ الْعُيُونِ.

نو د حضور صلی الله عليه وسلم د ګوتو مبارکو نه اوبه داسې رواني شوې لکه د چينې نه چې رواني وي.

حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې مونږ ټول لښکر دا اوبه اوڅکلې، او اودس مو هم پرې اوکړو، د حضرت جابر رضي الله عنه نه پوښتنه اوشوه:

كَمْ كُنْتُمْ يَوْمَئِذٍ؟ تاسو په دې موقع باندې څومره کسان وئ؟

ده ورته وويل: لَوْ كُنَّا مِائَةَ أَلْفٍ لَكَفَانَا، كُنَّا خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً. (١)

---

(١) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: عَطِشَ النَّاسُ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا، ثُمَّ أَقْبَلَ النَّاسُ نَحْوَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا لَكُمْ؟» قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ! لَيْسَ عِنْدَنَا مَاءٌ نَتَوَضَّأُ بِهِ وَلَا نَشْرَبُ، إِلَّا مَا فِي رَكْوَتِكَ، قَالَ: «فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فِي الرَّكْوَةِ، فَجَعَلَ الْمَاءُ يَفُورُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ كَأَمْثَالِ الْعُيُونِ». قَالَ: فَشَرِبْنَا وَتَوَضَّأْنَا. فَقُلْتُ لِجَابِرٍ: كَمْ كُنْتُمْ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: لَوْ كُنَّا مِائَةَ أَلْفٍ لَكَفَانَا، كُنَّا خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً. صحيح البخاري كتاب المغازي باب غزوة الحُدَيْبِيَة رقم الحديث ٤١٥٢، ورواه مسلم مختصراً برقم ١٨٥٦، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٨٨٢ (١٥).

که چیرته مونږ په دې وخت کې یولک (۱۰۰۰۰۰) کسان وی نو بیا به هم زمونږ د پاره دا اوبه کافي شوې وی، خو زمونږ تعداد په دغه وخت کې پنځلس سوه (۱۵۰۰) کسان وو.

۲. همدغه شان د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه هم په بخاري شریف کې نقل دي، دې فرمايي چې مونږ صحابه کرام د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کې وو، نو د مونږ سره اوبه کمې شوی، پیغمبر علیه السلام وفرمایل چې د چا سره هم لږې شان اوبه پاتې شوې وي هغه ماته راوړئ. صحابه کرامو د نبي علیه السلام په خدمت کې داسې یو لوخي راوړو چې په هغې کې ډیر لږې اوبه وی، نو نبي علیه السلام خپل لاس مبارک په هغه لوخي کې دننه کړو، بیا یې صحابه کرامو ته وفرمایل:

حَيَّ عَلَى الطَّهُوْرِ الْمُبَارَكِ ، وَالْبَرَكَةُ مِنَ اللهِ .

زر راځئ، دا پاکې او مبارکې اوبه حاصلې کړئ، دا هغه برکت دی کوم چې د الله ﷻ د طرفه دی.

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي:

فَلَقَدْ رَأَيْتُ الْمَاءَ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَلَقَدْ كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيْحَ الطَّعَامِ وَهُوَ يُؤْكَلُ . (۱)

په تحقیق سره ما اولیدل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګوتو مبارکو نه اوبه (د چینې په شان) روانې وی، (ابن مسعود ﷺ د حدیث په آخر کې یوه بله معجزه هم بیان کړه چې) یقینًا د خوراک خوړلو په وخت مونږ د خوراک تسبیح اوریده. (یعنی مونږ به چې خوراک خوړلو او دې به کومه تسبیح ویله هغه به هم مونږ اوریده).

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ ، قَالَ : كُنَّا نَعُدُّ الآيَاتِ بَرَكَةً ، وَأَنْتُمْ تَعُدُّونَهَا تَخْوِيفًا ، كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ . فَقَلَّ الْمَاءُ . فَقَالَ : « أُطْلُبُوا فَضْلَةً مِنْ مَاءٍ » . فَجَاءُوا بِإِنَاءٍ فِيهِ مَاءٌ قَلِيلٌ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِي الإِنَاءِ ثُمَّ قَالَ : « حَيَّ عَلَى الطَّهُوْرِ الْمُبَارَكِ ، وَالْبَرَكَةُ مِنَ اللهِ » فَلَقَدْ رَأَيْتُ الْمَاءَ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَلَقَدْ كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيْحَ الطَّعَامِ وَهُوَ يُؤْكَلُ . صحيح البخاري كتاب المناقب بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ فِي الإِسْلَامِ ۱۹۴/۴ رقم الحديث ۳۵۷۹ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۹۱۰ (۴۳) .

# د نبي عليه السلام او ذکرُ الله نه د لرې والي په وجه د قجورې د اُوچې تنې نه د ژړا آواز راتلل

د نبي عليه السلام او د الله ﷻ د ذکر نه د لرې والي په وجه ، او د پيغمبر عليه السلام سره د شوقِ ملاقات او محبت په وجه د قجورې د اُوچې تَنې ( ډَډ ) نه د ژړا آواز راوتلو واقعه په بخاري شريف او نورو ډيرو د احاديثو په کتابونو کې ذکر ده ، دا واقعه د صحابه کرامو د يو لوي جماعت نه په مختلفو طريقو سره رانقل ده ، ددې په ثبوت کې هيڅ شک وشُبه نشته ، قاضي عياض او بعضې مُحدّثينو دې احاديثو ته مُتواتر ويلي . (۱)

۱ . د بخاري شريف حديث دی ، حضرت جابر بن عبد الله ﷺ فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د جُمعې په ورځ د خطبې ويلو د پاره د يوې اُوچې اُونې تَنې ، يا د قجورې اُونې سره اُودريده ( او خطبه به يې ويله ) ، بيا د اَنصارو يوې زَنانه يا يو صحابي نبي عليه السلام ته وويل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَلَا نَجْعَلُ لَكَ مِنْبَرًا ؟

اې د الله رسوله ! آيا مونږ تاسو د پاره ممبر جوړ کړو ؟ ( چې په هغې باندې کينئ او خطبه وايئ ؟ ) حضور صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

إِنْ شِئْتُمْ . که ستاسو خوښه وي نو جوړ يې کړئ .

بيا دوی د پيغمبر عليه السلام د پاره ممبر جوړ کړو ، کله چې آئنده جُمعه راغله نو رسولُ الله صلی الله عليه وسلم دې ممبر ته د خطبې ويلو د پاره تشريف وړو ، نو د قجورې دې اُوچې تَنې د ماشومانو په شان ژړا شروع کړه ، نبي عليه السلام د ممبر نه راښکته شو (ددې د تسلّی د پاره ) خپل ځان ته يې رانزدې کړه ، دې به د هغه ماشوم په شان ژړل کوم ماشوم چې (سَلګۍ وهي او په مختلفو طريقو سره ) چپ کولې شي .

بيا رسولُ الله صلی الله عليه وسلم (صحابه کرامو ته ) وفرمايل :

(۱) البداية والنهاية ٦/ ۱۳۱ ، نضرة النعيم معجزاته و دلائل نبوته صلى الله عليه وسلم ج ۱ ص ۵۳۴ ، مظاهر حق شرح مشكوة ج۹ باب فى المعجزات .

كَانَتْ تَبْكِي عَلَى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ عِنْدَهَا . (۱)

د قجورې دې تنې ځکه ژړل چې د الله تعالى كوم ذكر ( يعنى خطبه ) ددې سره نزدې كيده ( او زه ورسره نزدې ولاړ ووم ) دا اوس د هغې نه محرومه شوه .

۲ . دا حديث په مشكوة شريف كې په دې الفاظو ذكر دى ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي : چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم به كله ( په مسجد نبوي كې ) خطبه ويله نو په ولاړه به يې د قجورې هغه اوچې تنې ته ډډه وهلې وه ، كومه چې د يوې ستنې په طور په جمات كې ولاړه وه ، پس كله چې د نبي عليه السلام د پاره ممبر جوړ كړې شو او په ممبر باندې ( د خطبې ويلو د پاره ) اودريده نو د قجورې كومې تنې سره به چې پيغمبر عليه السلام خطبه ويله هغې داسې په زوره زوره ژړا او چغې شروع كړې قريبه وه چې ( د رسول الله صلى الله عليه وسلم د فراق په وجه ) اوچوي ، نبي كريم صلى الله عليه وسلم د ممبر نه رابكته شو ، ديته ورغى ، په لاسونو مباركو يې اونيوه ( ددې دتسلى د پاره ) خپله سينه مباركه يې ورسره اولږوله ، نو د قجورې دې اوچې تنې د هغه ماشوم په شان ژړل كوم چې ( په مختلفو حيلو او طريقو سره ) چپ كولې شي ( خو هغه په آسانه نه چپ كيده ) تر

(۱) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُومُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَى شَجَرَةٍ أَوْ نَخْلَةٍ . فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ ، أَوْ رَجُلٌ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَلَا نَجْعَلُ لَكَ مِنْبَرًا ؟ قَالَ : « إِنْ شِئْتُمْ » . فَجَعَلُوا لَهُ مِنْبَرًا . فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ دُفِعَ إِلَى الْمِنْبَرِ . فَصَاحَتِ النَّخْلَةُ صِيَاحَ الصَّبِيِّ . ثُمَّ نَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَمَّهُ إِلَيْهِ . تَئِنُّ أَنِينَ الصَّبِيِّ الَّذِي يُسَكَّنُ . قَالَ : « كَانَتْ تَبْكِي عَلَى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ عِنْدَهَا » . صحيح البخاري كتاب المناقب بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ فِي الإِسْلَامِ ۴/۱۹۵ رقم الحديث ۳۵۸۴ .

وفي رواية : عن جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، يَقُولُ : « كَانَ الْمَسْجِدُ مَسْقُوفًا عَلَى جُذُوعٍ مِنْ نَخْلٍ ، فَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ يَقُومُ إِلَى جِذْعٍ مِنْهَا . فَلَمَّا صُنِعَ لَهُ الْمِنْبَرُ وَكَانَ عَلَيْهِ ، فَسَمِعْنَا لِذَلِكَ الْجِذْعِ صَوْتًا كَصَوْتِ الْعِشَارِ ، حَتَّى جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهَا فَسَكَنَتْ . صحيح البخاري كتاب المناقب بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ فِي الإِسْلَامِ ۴/۱۹۵ رقم الحديث ۳۵۸۵ .

دې پورې چې ( د تسلی نه روستو ) هغه قلاره شوه ، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې ستنې د ژړا سبب دا بيان کړو چې : بَكَتْ عَلَى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ . (١)

د قجورې دې اُوچې تَنې ځکه ژړل چې دې د الله ﷻ کوم ذکر ( خطبه ) آوريده د هغې نه محرومه شوه ( ځکه زه اوس خطبه په ممبر باندې وايم ) .

**فائده** : دا د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په غټو معجزو کې يوه مُعجزه وه چې د يو بې سَاه څيز يعنی د قجورې د اُوچې تَنې نه د نبي عليه السلام او د الله ﷻ د ذِکر نه د لرې والي ( يعنی د قُرب سعادت نه د محرومه کيدو ) په وجه د ژړا آواز راوتو ، او دا آواز په مسجدِ نبوي کې موجود ټولو صحابه کرامو واوريده .

حسن بصري رحمه الله به چې دا حديث بيانول نو بې اِختياره به په ژړا شو ، او مسلمانانو ته به يې فرمايل :

يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! اَلْخَشَبَةُ تحنّ إلى رسولِ الله صلّى الله عليه وسلّم شَوْقًا إِلَى لِقَائِهِ . فَأَنْتُمْ أَحَقُّ أَنْ تَشْتَاقُوْا إِلَيْهِ .

اې د مسلمانانو ډَلې ! کله چې يو اُوچ شوې لرګې ( يعنی د قجورې اُوچه تَنه ) د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د ملاقات په شوق کې ژاړي نو تاسو ددې ډير حَق دار يئ چې د نبي عليه السلام د ملاقات شوق اُولرئ ، او د دوی په محبت کې بې قراره شئ . (٢)

(١) عَنْ جَابِرٍ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ اِسْتَنَدَ إِلَى جِذْعِ نَخْلَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ فَلَمَّا صُنِعَ لَهُ الْمِنْبَرُ فَاسْتَوٰى عَلَيْهِ صَاحَتِ النَّخْلَةُ الَّتِيْ كَانَ يَخْطُبُ عِنْدَهَا حَتّٰى كَادَتْ تَنْشَقُّ فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى أَخَذَهَا فَضَمَّهَا إِلَيْهِ فَجَعَلَتْ تَئِنُّ أَنِيْنَ الصَّبِيِّ الَّذِيْ يُسَكَّتُ حَتّٰى اسْتَقَرَّتْ . قَالَ : بَكَتْ عَلَى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ . رواه البخاري ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٩٠٣ باب في المعجزات .

(٢) وكان الحسنُ البصريّ رحمه الله . إذا حدّث بحديثِ حنين الجذع يقول : يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! اَلْخَشَبَةُ تحنّ إلى رسولِ الله صلّى الله عليه وسلّم شَوْقًا إِلَى لِقَائِهِ . فَأَنْتُمْ أَحَقُّ أَنْ تَشْتَاقُوْا إِلَيْهِ . فتح الباري ٦/ ٦٩٧ . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ج١ ص ٥٣٥ معجزات ودلائل نبوّة خاتم الأنبياء والمرسلين صلّى الله عليه وسلّم معجزاته صلّى الله عليه وسلّم في انواع الجمادات .

# د نبي ﷺ د لاس مُبارک په راخکلو سره د صحابي ماته خپه جوړیدل

د مشکوة شريف حديث دی (١) حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو يو جَماعت د ابورافع يهودي ( د قتلولو يا قيد کولو (٢) ) پسې اوليږل . ( هر کله چې د صحابه کرامو دا ډله د هغه قلعې ته اورسيده ) نو حضرت عبدالله بن عَتِيک رضي الله عنه په څه طريقې سره د شپې د هغه کور ته داخل شو ، هغه اوده ؤ ، دده هغه قتل کړو .

حضرت عبدالله بن عَتِيک رضي الله عنه فرمايي چې ما د هغه په خيټه کې تُوره وَرننويسته ، تر دې چې اَخوا شا طرف ته اُووته ، پس زه پوهه شوم چې ما دې قتل کړو ، نو ما د قلعې دروازې کلاوول شروع کړه ، ( واپس د قلعې نه راوتم ، او راروان ووم په پُوړۍ راکوزيدم ) تر دې پورې چې زه يوې پوړۍ ( زِينې ) ته رااورسيدم ( ما ګمان اوکړو چې ګني لاندې زمکه ده حالانکه پُوړۍ تر اوسه پورې نه وه ختمه ) نو ما چې څنګه قدم کيښود ، د سپوږمۍ په دې شپه کې زه داسې را اوغورځيدم چې زما پُونډۍ ماته شوه ، ما دا په خپل پَټکي باندې اُوتړله ، او خپلو ملګرو ته راغلم ( کوم چې د قلعې لاندې ولاړ وو ) .

بيا زه د نبي عليه السلام په خدمت کې حاضر شوم ، هغوی ته مې دا ټوله واقعه بيان کړه ، پيغمبر عليه السلام راته وفرمايل :

---

(١) عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ : بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا إِلَى أَبِي رَافِعٍ . فَدَخَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَتِيكٍ بَيْتَهُ لَيْلًا وَهُوَ نَائِمٌ فَقَتَلَهُ . فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَتِيكٍ : فَوَضَعْتُ السَّيْفَ فِي بَطْنِهِ حَتَّى أَخَذَ فِي ظَهْرِهِ . فَعَرَفْتُ أَنِّي قَتَلْتُهُ فَجَعَلْتُ أَفْتَحُ الْأَبْوَابَ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى دَرَجَةٍ فَوَضَعْتُ رِجْلِي فَوَقَعْتُ فِي لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ . فَانْكَسَرَتْ سَاقِي فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ . فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِي . فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ . فَقَالَ: « اُبْسُطْ رِجْلَكَ » . فَبَسَطْتُ رِجْلِي . فَمَسَحَهَا فَكَأَنَّمَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ . مشكوة المصابيح كتاب الفضائل والشمائل باب فى المعجزات الفصل الاول رقم الحديث (٩) ٥٨٧٦ .

(٢) ابو رافع يو يهودي تاجِر ؤ ، ډير بَدبخته سړی ؤ ، د نبي عليه السلام او د مسلمانانو سخت ترين دُشمن ؤ ، د پيغمبر عليه السلام په شانِ اَقدس کې يې ډيرې بې کاره خبرې کړې وی ، او دوی ته به يې ډير تکليفونه رسول ، آخِر نبي عليه السلام دده د قتلولو يا قيد کولو د پاره د اَنصارو څه خلمي وَر اوليږل . مظاهرحق شرح مشکوة ج٩ .

أُبْسُطْ رِجْلَكَ . خپله خپه اوغزوه .

ما خپله خپه اوغزوله .

فَمَسَحَهَا فَكَأَنَّمَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ .

نبي عليه السلام په دې ( ماته خپه ) باندې لاس مبارک رابنکود ، ددې په وجه زما خپه داسې جوړه شوه ګويا چې ماته ددې تکليف د سره رسيدلې ندی . (١)

---

(١) **نوټ** : د نبي عليه السلام دا معجزه په بخاري شريف کې څو ځايه ذکر ده ، په بعضې ځای کې په پوره تفصيل سره ذکر ده ، لکه په دې حديث کې : عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ . قَالَ : بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي رَافِعٍ الْيَهُودِيِّ رِجَالًا مِنَ الْأَنْصَارِ . فَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَتِيكٍ . وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُؤْذِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُعِينُ عَلَيْهِ . وَكَانَ فِي حِصْنٍ لَهُ بِأَرْضِ الْحِجَازِ . فَلَمَّا دَنَوْا مِنْهُ . وَقَدْ غَرَبَتِ الشَّمْسُ . وَرَاحَ النَّاسُ بِسَرْحِهِمْ . فَقَالَ عَبْدُ اللهِ لِأَصْحَابِهِ : اجْلِسُوا مَكَانَكُمْ . فَإِنِّي مُنْطَلِقٌ . وَمُتَلَطِّفٌ لِلْبَوَّابِ . لَعَلِّي أَنْ أَدْخُلَ . فَأَقْبَلَ حَتَّى دَنَا مِنَ الْبَابِ . ثُمَّ تَقَنَّعَ بِثَوْبِهِ كَأَنَّهُ يَقْضِي حَاجَةً . وَقَدْ دَخَلَ النَّاسُ . فَهَتَفَ بِهِ الْبَوَّابُ . يَا عَبْدَ اللهِ ! إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ أَنْ تَدْخُلَ فَادْخُلْ . فَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُغْلِقَ الْبَابَ . فَدَخَلْتُ فَكَمَنْتُ . فَلَمَّا دَخَلَ النَّاسُ أَغْلَقَ الْبَابَ . ثُمَّ عَلَّقَ الْأَغَالِيقَ عَلَى وَتَدٍ . قَالَ : فَقُمْتُ إِلَى الْأَقَالِيدِ فَأَخَذْتُهَا . فَفَتَحْتُ الْبَابَ . وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُسْمَرُ عِنْدَهُ . وَكَانَ فِي عَلَالِيَّ لَهُ . فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْهُ أَهْلُ سَمَرِهِ صَعِدْتُ إِلَيْهِ . فَجَعَلْتُ كُلَّمَا فَتَحْتُ بَابًا أَغْلَقْتُ عَلَيَّ مِنْ دَاخِلٍ . قُلْتُ : إِنِ الْقَوْمُ نَذِرُوا بِي لَمْ يَخْلُصُوا إِلَيَّ حَتَّى أَقْتُلَهُ . فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ . فَإِذَا هُوَ فِي بَيْتٍ مُظْلِمٍ وَسْطَ عِيَالِهِ . لَا أَدْرِي أَيْنَ هُوَ مِنَ الْبَيْتِ . فَقُلْتُ : يَا أَبَا رَافِعٍ ! قَالَ : مَنْ هٰذَا ؟ فَأَهْوَيْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ وَأَنَا دَهِشٌ . فَمَا أَغْنَيْتُ شَيْئًا . وَصَاحَ . فَخَرَجْتُ مِنَ الْبَيْتِ . فَأَمْكُثُ غَيْرَ بَعِيدٍ . ثُمَّ دَخَلْتُ إِلَيْهِ . فَقُلْتُ : مَا هٰذَا الصَّوْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ ؟ فَقَالَ : لِأُمِّكَ الْوَيْلُ . إِنَّ رَجُلًا فِي الْبَيْتِ ضَرَبَنِي قَبْلُ بِالسَّيْفِ . قَالَ : فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً أَثْخَنَتْهُ وَلَمْ أَقْتُلْهُ . ثُمَّ وَضَعْتُ ظِبَةَ السَّيْفِ فِي بَطْنِهِ حَتَّى أَخَذَ فِي ظَهْرِهِ . فَعَرَفْتُ أَنِّي قَتَلْتُهُ . فَجَعَلْتُ أَفْتَحُ الْأَبْوَابَ بَابًا بَابًا . حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى دَرَجَةٍ لَهُ . فَوَضَعْتُ رِجْلِي . وَأَنَا أُرَى أَنِّي قَدِ انْتَهَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ . فَوَقَعْتُ فِي لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ . فَانْكَسَرَتْ سَاقِي فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ . ثُمَّ انْطَلَقْتُ حَتَّى جَلَسْتُ عَلَى الْبَابِ . فَقُلْتُ : لَا أَخْرُجُ اللَّيْلَةَ حَتَّى أَعْلَمَ أَقَتَلْتُهُ ؟ فَلَمَّا صَاحَ الدِّيكُ قَامَ النَّاعِي عَلَى السُّورِ . فَقَالَ : أَنْعَى أَبَا رَافِعٍ تَاجِرَ أَهْلِ الْحِجَازِ . فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِي . فَقُلْتُ : النَّجَاءَ . فَقَدْ قَتَلَ اللهُ أَبَا رَافِعٍ . فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ . فَقَالَ : « أُبْسُطْ رِجْلَكَ » فَبَسَطْتُ رِجْلِي . فَمَسَحَهَا فَكَأَنَّهَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ . صحيح البخاري كتاب المغازي بَابُ قَتْلِ أَبِي رَافِعٍ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي الْحُقَيْقِ رقم الحديث ٤٠٣٩ .

# د نبي عليه السلام په دمولو سره زخم ښه کېدل

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت يزيد بن ابي عُبيد تابعي وايي چې يوه ورځ ما د حضرت سَلَمَه بن اکوع رضي الله عنه په پنډۍ باندې د زَخم نَخه اُوليده ، ما ورنه پوښتنه اوکړه :

يَا أَبَا مُسْلِمٍ ! مَا هٰذِهِ الضَّرْبَةُ ؟

اې ابو مسلم ! ( ستاسو په دې پنډۍ باندې ) دا د زخم نخه د څې شی ده ؟
هغه راته وويل :

دا زه د خيبر په جنګ کې سخت زخمي شوې ووم ، په خلقو کې دا خبره خوَره شوه چې سَلَمَه بن اکوع رضي الله عنه ( د سخت زخمي کيدو په وجه ) شهيد شو ، خو زه نبي عليه السلام ته راغلم :

فَنَفَثَ فِيهِ ثَلَاثَ نَفَثَاتٍ ، فَمَا اشْتَكَيْتُهَا حَتَّى السَّاعَةِ .(١)

نبي عليه السلام په دې زخم باندې درې پيرې دَم واچول ، د هغې په وجه زه سَمدستي داسې ښه شوم چې د هاغه وخت نه را په ديخوا تر اوسه پورې ما ددې نه هيڅ شکايت ندې کړی ( او نه ماته ددې نه څه تکليف رارسيدلی ) .

---

(١) عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ ، قَالَ: رَأَيْتُ أَثَرَ ضَرْبَةٍ فِي سَاقِ سَلَمَةَ ، فَقُلْتُ : يَا أَبَا مُسْلِمٍ ! مَا هٰذِهِ الضَّرْبَةُ ؟ فَقَالَ: هٰذِهِ ضَرْبَةٌ أَصَابَتْنِي يَوْمَ خَيْبَرَ ، فَقَالَ النَّاسُ : أُصِيبَ سَلَمَةُ ، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « فَنَفَثَ فِيهِ ثَلَاثَ نَفَثَاتٍ ، فَمَا اشْتَكَيْتُهَا حَتَّى السَّاعَةِ » . صحيح البخاري كتاب المغازي بَابُ غَزْوَةِ خَيْبَرَ رقم الحديث ٤٢٠٦ ، صحيح ابن حبان ذكر برء رجل سلمة بن الأكوع من الضربة التي اصابتها ... رقم الحديث ٦٥١٠ ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٨٨٦ .

# په خوراک کې د برکت معجزې

په ډېرو موقعوباندې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په لاس مبارک باندې دامعجزه ښکاره شوی چې ډېر لږ خوراک زرهاوُ خلقو په مړه ګېډه باندې خوړلی دی . ددې په باره کې درته یو څو معجزات ذکرکوم

## د غزوه خندق په موقع د حضرت جابر ﷺ دعوت

**( د چیلۍ وړوکي بچي او لږې اوربشې زر ( ۱۰۰۰ ) کسانو ته په مړه ګیډه رسیدل )**

د مشکوة شریف حدیث دی ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې يقينًا مونږ صحابه کرامو د خَندق په ورځ يعنی په غزوه اَحزاب کې ( د کافرانو نه د بچ کيدلو د پاره د مدينې منوّرې نه ګېر چاپيره ) يو خَندق کنيستو ، د کنيستو په وخت يو سخت کانړې رااووت ( چې په هيڅ شان نه ماتيده ) ، صحابه کرام نبي عليه السلام ته راغلل ، او وې فرمايل :

هٰذِهِ كُدْيَةٌ عَرَضَتْ فِي الْخَنْدَقِ .

د خَندق کنستلو په ځای کې يو سخت کانړې رااُوتې دی (چې په هيڅ صورت نه ماتيږي) پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل :

أَنَا نَازِلٌ . زه په خپله خَندق ته ورکوزيږم چې وې ګورم .

بيا نبي عليه السلام پاڅيدو ، خو د ډېرې اُولږې د لاسه يې په خېټه مبارکه باندې کانړې تړلي وو ، حضرت جابر ﷺ فرمايي چې مونږ ټولو درې (۳) ورځې داسې تېرې کړی چې نه مو څه خوړلي وو ، او نه مو څه څکلي وو .

بيا نبي عليه السلام کوداله راواخيسته ( خَندق ته ښکته شو ) هغه کانړې يې يو ګوذار داسې اُووهلو چې د شګو په شان توټې توټې شو .

حضرت جابر ﷺ فرمايي : ددې نه پس زه خپل کور ته راغلم ، بي بي ( سهيله بنت معوذ انصاري ) ته مې وويل :

هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ ؟ فَإِنِّي رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيدًا .

آيا د تاسره د خوراک څه شته ؟ ځکه ما په نبي عليه السلام باندې د وَلږې سخت اَثر ليدلی دی.

(دې اَوريدو سره) زما بي بي يوه تهيلۍ را اوويسته چې په هغې کې يو صاع (تقريبًا درې نيم سيره) اُوربشې وې، او مونږ کره د کورنۍ چيلۍ (يا ګډې) وړوکې بچې وُ. ما هغه ذبح کړو، او زما بي بي اُوړه واغږل، تر دې پورې چې مونږ دا غوښه په کټوۍ کې واچوله، او د پَخولو د پاره مو په نغَري کيښوده.

بيا زه نبي عليه السلام ته ورغلم، هغوی ته مې پَټ وويل:

اې د الله رسوله ! مونږ د چيلۍ يو وړوکې بچې ذَبح کړې دی، او مونږ کره يو صاع اُوربشې وې هغه هم زما بي بي اُوړه کړي دي، لهذا تاسو د يو څو کسانو سره راشئ. دې اَوريدو سره نبي کريم صلی الله عليه وسلم په اُوچت آواز سره اِعلان اوکړو:

يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ ! إِنَّ جَابِرًا صَنَعَ سُوْرًا فَحَيَّ هَلًا بِكُمْ.

اې اهلِ خَندق واله وُ ! حضرت جابر رضي الله عنه ستاسو د ميلمَستيا د پاره خوراک تيار کړې دی، راځئ چې زر ورشو.

(حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې) بيا ماته رسولُ الله صلی الله عليه وسلم وفرمائيل:

لَا تُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَا تَخْبِزُنَّ عَجِيْنَتَكُمْ حَتّٰى أَجِيْءَ.

تاسو به خپله کټوۍ د نغَري نه هرګِز نه راکوزوئ، او مه اُوړه پخوئ، تر دې پورې چې زه درشم.

بيا حضور صلی الله عليه وسلم (د خپلو ټولو صحابه کرامو سره) مونږ کره راغی، نو ما دوی ته اَغږل شوي اُوړه رااُوويستل، نبي عليه السلام په کې د خپلې خُلې مُبارکې لعاب (لاړې) واچولی، او د برکت دُعا يې اوکړه، بيا هغه کټوۍ طرف ته ورغی په هغې کې يې هم خپلې لاړې مبارکې واچولی، او د برکت دُعا يې اوکړه، بيا يې (زما بي بي ته) وويل:

اُدْعِيْ خَابِزَةً فَلْتَخْبِزْ مَعَكِ وَاقْدَحِيْ مِنْ بُرْمَتِكُمْ وَلَا تُنْزِلُوْهَا.

ته يوه روټۍ پخوونکې ښځه راأوغواړه، چې د تا سره روټۍ پخې کړي، او د کټوی نه په چمچه (څمڅۍ) سره تلکاري راخله، دا د أور نه مه راښکته کوه.

حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي : د خندق واله صحابه کرام په دې وخت کې زر (١٠٠٠) کسان وو، (دوی د درې ورځو نه څه خوړلي هم نه وو خو) قسم په الله چې دوی ټولو په مړه خېټه خوراک اوکړو، تر دې پورې چې خوراک ورنه هماغسې پاتې هم شو.

کله چې دوی واپس لاړل نو زمونږ کټوی هماغه شان په نغري ايښې وه او څوټکېده، څنګه چې اول وه هماغه شان د خوراک نه ډکه وه، او زمونږه أوړه هماغه شان پخولې شو څنګه چې په اول کې وو (يعنې په غوښه او أوړو کې هيڅ کمې نه ؤ راغلی). (١)

**فائده** دا د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د لاړو برکت او معجزه وه چې معمولي خوراک زر (١٠٠٠) کسانو په مړه خېټه أوخوړ او هماغه شان ورنه پاتې هم شو، حالانکه صحابه کرامو د درې (٣) ورځو نه څه خوړلي هم نه وو، خو بيا هم دا خوراک ټولو ته أورسېده، په غوښه او أوړو کې څه کمې هم رانغی.

---

(١) وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ إِنَّا يَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْفِرُ فَعَرَضَتْ كُدْيَةٌ شَدِيْدَةٌ فَجَاءُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا : هٰذِهِ كُدْيَةٌ عَرَضَتْ فِي الْخَنْدَقِ. فَقَالَ : « أَنَا نَازِلٌ » ثُمَّ قَامَ وَبَطْنُهُ مَعْصُوْبٌ بِحَجَرٍ وَلَبِثْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لَا نَذُوْقُ ذَوقًا فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِعْوَلَ فَضَرَبَ فَعَادَ كَثِيْبًا أَهْيَلَ فَانْكَفَأْتُ إِلَى امْرَأَتِي فَقُلْتُ: هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ ؟ فَإِنِّي رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيْدًا. فَأَخْرَجَتْ جرابًا فِيْهِ صَاعٌ مِنْ شَعِيْرٍ وَلَنَا بُهَيْمَةٌ دَاجِنٌ فَذَبَحْتُهَا وَطَحَنَتِ الشَّعِيْرَ حَتّٰى جَعَلْنَا اللَّحْمَ فِي الْبُرْمَةِ ثُمَّ جِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَنَا وَطَحَنت صَاعًا مِنْ شَعِيْرٍ فَتَعَالَ أَنْتَ وَنَفَرٌ مَعَكَ. فَصَاحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ ! إِنَّ جَابِرًا صَنَعَ سُوْرًا فَحَيَّ هَلًا بِكُمْ » فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا تُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَا تَخْبِزُنَّ عَجِيْنَكُمْ حَتّٰى أَجِيْءَ » . وَجَاءَ فَأَخْرَجْتُ لَهُ عَجِيْنًا فَبَصَقَ فِيْهِ وَبَارَكَ. ثُمَّ عَمَدَ إِلٰى بُرْمَتِنَا فَبَصَقَ وَبَارَكَ ثُمَّ قَالَ : « أُدْعِي خَابِزَةً فَلْتَخْبِزْ مَعَكِ وَاقْدَحِي مِنْ بُرْمَتِكُمْ وَلَا تُنْزِلُوْهَا » وَهُمْ أَلْفٌ فَأُقْسِمُ بِاللهِ لَأَكَلُوْا حَتّٰى تَرَكُوْهُ وَانْحَرَفُوْا وَإِنَّ بُرْمَتَنَا لَتَغِطُّ كَمَا هِيَ وَإِنَّ عَجِيْنَنَا لَيُخْبَزُ كَمَا هُوَ.
مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٨٧٧ ، صحيح البخاري رقم الحديث ٤١٠١ ، صحيح مسلم ١٤١ (٢٠٣٩)

# د حضرت ابوطلحه ﷺ دعوت

## ( لږ خوراک د اتيا کسانو د پاره کافي کيدل )

د مسلم شريف حديث دی ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې ( يوه ورځ ) حضرت ابو طلحه انصاري ﷺ ام سُليم ته وويل (۱) :

قَدْ سَمِعْتُ صَوْتَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعِيْفًا أَعْرِفُ فِيْهِ الْجُوْعَ . فَهَلْ عِنْدَكِ مِنْ شَيْءٍ ؟

ما د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم آواز واوريده چې ډير کمزورې ؤ ، ماته معلومه شوه چې نبي عليه السلام اوږې دی ، آيا د تا سره خوراک شته ؟

امّ سُليم رضي الله عنها ورته وويل : آو ( شته ) . بيا هغې د اوربشو يو څو روټۍ رااوويستی ، د خپل پړوني ( لوپټې ) په يوه حصه کې يې راتاؤ کړی ، او په نوريې زما سَر پټ کړو ، په پړوني کې دا تاؤ شوې روټۍ يې زما د لاس لاندې پټې کړی ، بيا يې زه رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته اوليږلم ، ما دا روټۍ هغوی ته وَروړی ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم په جُمات کې د صحابه کرامو سره تشريف فرما ؤ ، ( چې د هغوی تعداد اَتيا ۸۰ کسان وو ) زه اودريدم ، ما په دوی سلام واچول ، رسولُ الله ﷺ ( د سلام جواب راکولو نه پس ) د مانه پوښتنه اوکړه :

أَرْسَلَكَ أَبُوْ طَلْحَةَ . آيا ته ابو طلحه راليږلې يې ؟

ما ورته وويل : آو ، ( زه هغه راليږلې يم ) .

پيغمبر عليه السلام بيا پوښتنه اوکړه :

أَلِطَعَامٍ ؟ آيا روټۍ يې درکړې ده ؟ ما ورته وويل : آو . ( دې اوريدو سره ) نبي عليه السلام ټولو موجودو صحابه کرامو ته وفرمايل :

قُوْمُوْا . راپاڅئ ( د ابو طلحه ﷺ کورته ځو ) .

(۱) حضرت ابو طلحة رضي الله عنه د حضرت انس رضي الله عنه ميړني پلار ( پَلندر ) هم ؤ .

حضور صلی الله علیه وسلم د خپله صحابه کرامو سره ( د حضرت ابوطلحة کور طرف ته روان شو ، زه هم د دوی نه مخکې ( د خادم او مېزبان په شان ) راروان شوم ، تر دې پورې چې زه ابوطلحه رضي الله عنه ته راغلم ، او ما هغه ته د پیغمبر علیه السلام د صحابه کرامو سره د راتلو خبر ورکړو ، ابوطلحه رضي الله عنه ( چې د نبي علیه السلام سره د دومره ډېرو صحابه کرامو راتلو خبره واورېده نو ده ) اُمّ سُلیم رضي الله عنها ته ووېل :

يَا أُمَّ سُلَيْمٍ ! قَدْ جَاءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ . وَلَيْسَ عِنْدَنَا مَا نُطْعِمُهُمْ .

اې اُمّ سُلیم ! رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو سره راغی ، او د مونږ سره خو د همدې څو روټو نه علاوه نور څه نشته چې په دوی یې اُوخورو ( صرف همدا د اُوریشو یو څو روټۍ دي چې کومې مونږ نبي علیه السلام ته ورلیږلې وی ) .

اُمّ سُلیم رضي الله عنها ورته ووېل :

اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم بنه پوهېږي .

بیا ابوطلحه رضي الله عنه د نبي علیه السلام د اِستقبال د پاره د کور نه بهر اُووتلو ، تر دې پورې چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره یې ملاقات اوشو ، دواړه یو ځای کور ته راغلل ، نبي علیه السلام اُمّ سُلیم ته وفرمایل :

هَلُمِّي مَا عِنْدَكِ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ . اې اُمّ سُلیم ! د تاسره چې کومې روټۍ دي هغه راوړه .

هغې دا روټۍ ورله راوړی ، نبي علیه السلام حکم اوکړو چې دا روټۍ ماته کړئ ( یعنی تکړې تکړې یې کړئ ) ، نو روټۍ ماته کړې شوه ، اُمّ سُلیم لوخې نچوړ کړو ، د هغې نه یې غوړي را اُوویسته ، او دا یې د تَلکاری ( سالن ) په طور ( د روټۍ سره ) کیښوده .

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ( په دې روټۍ او تلکاری باندې ) هغه څه ووېل څه چې الله جل جلاله غوښته . (١) بیا پیغمبر علیه السلام وفرمایل :

اِئْذَنْ لِعَشَرَةٍ . لسو کسانو ته اِجازت اوکړه چې راشي .

(١) یعنی د خېر او برکت دُعا یې اوکړه . یا دا چې نبي علیه السلام د الله جل جلاله نومونه اُولوسته او دا یې په دې خوراک دَم کړل . په یو روایت کې راځي چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم دا دُعا اوکړه : بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ أَعْظِمْ فِيْهَا الْبَرَكَةَ .

نو لس كسانو ته اِجازت اوكړې شو ، هغوی راغله ، په مړه خېټه يې خوراك اوكړو ، بيا هغوی پاڅيده ، لاړل ، نبي عليه السلام دوباره حكم اوكړو چې اوس نور لس كسان رااوغواړئ ، هغوی هم راغله ، په مړه خېټه يې خوراك اوكړو ، بيا لاړل .

همدغه شان لس لس كسان به راغوښتلې شو ، هغوی به په مړه خېټه خوراك كولو او واپس به تلل ، تر دې پورې چې ټولو صحابه كرامو دا خوراك په مړه ګېډه اُوخوړو ، او دوی ټول اَويا (٧٠) يا اَتيا (٨٠) كسان وو . (١)

د مسلم شريف په يو روايت كې دا هم ذكر دي :

فَأَكَلُوا حَتّٰى فَعَلَ ذٰلِكَ بِثَمَانِيْنَ رَجُلًا . ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ وَأَهْلُ الْبَيْتِ ، وَتَرَكُوْا سُؤْرًا . (٢)

---

(١) عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ ، يَقُوْلُ : قَالَ أَبُوْ طَلْحَةَ لِأُمِّ سُلَيْمٍ : قَدْ سَمِعْتُ صَوْتَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعِيْفًا أَعْرِفُ فِيْهِ الْجُوْعَ . فَهَلْ عِنْدَكِ مِنْ شَيْءٍ ؟ فَقَالَتْ : نَعَمْ . فَأَخْرَجَتْ أَقْرَاصًا مِنْ شَعِيْرٍ . ثُمَّ أَخَذَتْ خِمَارًا لَهَا . فَلَفَّتِ الْخُبْزَ بِبَعْضِهِ . ثُمَّ دَسَّتْهُ تَحْتَ ثَوْبِيْ وَرَدَّتْنِيْ بِبَعْضِهِ . ثُمَّ أَرْسَلَتْنِيْ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ : فَذَهَبْتُ بِهِ . فَوَجَدْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا فِي الْمَسْجِدِ وَمَعَهُ النَّاسُ . فَقُمْتُ عَلَيْهِمْ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَرْسَلَكَ أَبُوْ طَلْحَةَ » . قَالَ . فَقُلْتُ : نَعَمْ . فَقَالَ : « أَلِطَعَامٍ ؟ » . فَقُلْتُ : نَعَمْ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَنْ مَعَهُ : « قُوْمُوْا » قَالَ : فَانْطَلَقَ . وَانْطَلَقْتُ بَيْنَ أَيْدِيْهِمْ حَتّٰى جِئْتُ أَبَا طَلْحَةَ . فَأَخْبَرْتُهُ . فَقَالَ أَبُوْ طَلْحَةَ : يَا أُمَّ سُلَيْمٍ ! قَدْ جَاءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ ، وَلَيْسَ عِنْدَنَا مَا نُطْعِمُهُمْ . فَقَالَتْ : اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . قَالَ : فَانْطَلَقَ أَبُوْ طَلْحَةَ حَتّٰى لَقِيَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَأَقْبَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهُ حَتّٰى دَخَلَا . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « هَلُمِّيْ مَا عِنْدَكِ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ » فَأَتَتْ بِذٰلِكَ الْخُبْزِ . فَأَمَرَ بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفُتَّ ، وَعَصَرَتْ عَلَيْهِ أُمُّ سُلَيْمٍ عُكَّةً لَهَا فَأَدَمَتْهُ . ثُمَّ قَالَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُوْلَ . ثُمَّ قَالَ : « اِئْذَنْ لِعَشَرَةٍ » . فَأَذِنَ لَهُمْ فَأَكَلُوْا حَتّٰى شَبِعُوْا . ثُمَّ خَرَجُوْا . ثُمَّ قَالَ : « اِئْذَنْ لِعَشَرَةٍ » . فَأَذِنَ لَهُمْ فَأَكَلُوْا حَتّٰى شَبِعُوْا . ثُمَّ خَرَجُوْا . ثُمَّ قَالَ : « اِئْذَنْ لِعَشَرَةٍ » حَتّٰى أَكَلَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ وَشَبِعُوْا . وَالْقَوْمُ سَبْعُوْنَ رَجُلًا أَوْ ثَمَانُوْنَ . صحيح مسلم كتاب الاشربة بَابُ جَوَازِ اسْتِتْبَاعِهِ غَيْرَهُ إِلٰى دَارِ مَنْ يَثِقُ بِرِضَاهُ بِذٰلِكَ ... رقم الحديث رقم الحديث ( ١٤٢ ) ٢٠٤٠ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٩٠٨ .

(٢) صحيح مسلم كتاب الاشربة بَابُ جَوَازِ اسْتِتْبَاعِهِ غَيْرَهُ إِلٰى دَارِ مَنْ يَثِقُ بِرِضَاهُ بِذٰلِكَ رقم الحديث ٢٠٤٠ ( ٢ ) .

چې اَتيا (٨٠) كسانو دا خوراک اُوخوړو ، بيا ددې نه پس نبي عليه السلام او ددې كور والهٔ خلقو هم اُوخوړو ، خو بيا يې هم په لوخي كې خوراک پرېخود . ( يعنى ددې ټولو د خوراک نه پس بيا هم په لوخي كې خوراک پاتې شو ) .

## د نبي ﷺ د دُعا په بركت معمولي خوراک يو لک كسانو ته رسيدل

صاحب د مشكوة د بخاري شريف او مسلم شريف په حواله دا حديث رانقل كړى .
حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي :

كله چې په غزوه تبوک كې خلقو ته سخته اُولږه اُورسيده نو حضرت عُمر ﷺ نبي عليه السلام ته وفرمايل :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! أُدْعُهُمْ بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ . ثُمَّ ادْعُ اللهَ لَهُمْ عَلَيْهَا بِالْبَرَكَةِ .

اې د الله رسوله ! د خلقو سره چې څه لږه ډيره توخه پاتې ده هغه رااُوغواړئ ، بيا د الله جل جلاله نه دُعا اوغواړئ چې د دوى د پاره په دې لږه توخه كې بركت واچوي . پيغمبر عليه السلام اوفرمايل : صحيح ده .

بيا نبي كريم صلى الله عليه وسلم د څرمنې دَستر خوان رااُوغوښت ، دا خور كړې شو ، بيا يې خلقو ته حكم اوكړو چې د چا سره څه خوراک پاتې شوې وي هغه دې دلته راجَمع كړي ، نو خلقو سره چې د خوراک څه پاتې شوې وو هغه يې راوړل شروع كړل : چا يو مُوټې برابر چنړې راوړى ، چا يو مُوټې برابر قجورې راوړى ، او چا د روټۍ ماتې ټُكړې راوړى ، تر دې پورې چې په دسترخوان كې څه لږ شيان راجمع شو ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې كې د بركت دُعا اوكړه ، او بيا يې ټولو خلقو ته وفرمايل :

خُذُوْا فِيْ أَوْعِيَتِكُمْ . تاسو ددې نه خپل لوخي ډک كړئ .

نو ټولو صحابه كرامو ددې نه خپل خپل لوخي ډكول شروع كړل ، تر دې پورې چې دوى په غونډ لښكر كې خالي لوخې پرې نه خود ، بلكه ټول يې ترې ډک كړل .

حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې بيا غونډ لښكر واله خلقو ( چې تقريبًا يولک ١٠٠٠٠٠ كسان وو ) ددې نه خوراک اوكړو ، تر دې پورې ټول پرې ماړه شو ، او بيا هم ډير

خوراک هماغه شان پاتې شو ، دې نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته او فرمایل:

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنِّي رَسُوْلُ اللّٰهِ لَا يَلْقَى اللّٰهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرُ شَاكٍّ فَيُحْجَبَ عَنِ الْجَنَّةِ.

زه دا ګواهي ورکوم چې نشته دې لائق د عبادت مګر صِرف يو الله دی ، او زه ( بې د شک و شبهې نه ) د الله ﷻ رسول يم ، او ( دا خبره ياد لرئ چې ) داسې هيڅ کله نشي کيدی چې يو کس بغير د څه شک و شبهې نه دا ګواهي ورکړی او دې په دې حالت کې د الله ﷻ سره مُلاقي شي او دې د جنت نه منع کړې شي ( بلکه خامخا به جنت ته داخليږي )

يعنې څوک چې بغير د شک و شبهې نه د الله ﷻ د وَحدانيت او د نبي عليه السلام د رِسالت ګواهي ورکړي ، او دې د دې يقين سره وفات شي ، او د الله ﷻ سره يې په داسې حالت کې ملاقات اوشي نو دې به خامخا جنت ته داخليږي . (١)

# د يوې پيالۍ مِقدار خوراک درې سوه کسانو ته رسيدل

د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، کوم چې صاحب د مشکوة هم رانقل کړی . حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې ( کله ) رسول الله صلی الله عليه وسلم نکاح د اُمّ المؤمنين حضرت زينب رضي الله عنها سره اوشوه ( او شَبِ عروسي تيره شو ) نو زما مور

---

(١) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : لَمَّا كَانَ يَوْمُ غَزْوَةِ تَبُوْكٍ أَصَابَ النَّاسَ مَجَاعَةٌ . فَقَالَ عُمَرُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اُدْعُهُمْ بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ . ثُمَّ ادْعُ اللّٰهَ لَهُمْ عَلَيْهَا بِالْبَرَكَةِ . فَقَالَ : نَعَمْ . قَالَ : فَدَعَا بِنِطَعٍ فَبُسِطَ ثُمَّ دَعَا بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيْءُ بِكَفِّ ذُرَةٍ . وَيَجِيْءُ الْآخَرُ بِكَفِّ تَمْرٍ . وَيَجِيْءُ الْآخَرُ بِكِسْرَةٍ حَتَّى اجْتَمَعَ عَلَى النِّطَعِ شَيْءٌ يَسِيْرٌ . فَدَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَرَكَةِ . ثُمَّ قَالَ : خُذُوْا فِي أَوْعِيَتِكُمْ . فَأَخَذُوْا فِي أَوْعِيَتِهِمْ حَتَّى مَا تَرَكُوْا فِي الْعَسْكَرِ وِعَاءً إِلَّا مَلَؤُوْهُ . قَالَ فَأَكَلُوْا حَتَّى شَبِعُوْا وَفَضَلَتْ فَضْلَةٌ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنِّي رَسُوْلُ اللّٰهِ لَا يَلْقَى اللّٰهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرُ شَاكٍّ فَيُحْجَبَ عَنِ الْجَنَّةِ » مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الاول رقم الحديث ٥٩١٢ ( ٤٧ ) ، صحيح البخاري رقم الحديث ٢٤٨٤ . ورقم ٢٩٨٢ ، صحيح مسلم كتاب الايمان بَابُ مَنْ لَقِيَ اللّٰهَ بِالْإِيْمَانِ وَهُوَ غَيْرُ شَاكٍّ فِيْهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَحُرِّمَ عَلَى النَّارِ رقم الحديث ٤٥ ( ٢٧ ) .

اُمّ سُلیم قجورې ، غوړي ، او پنير راواخيسته ، ددې نه يې د حلوا په شان خوراک تيار کړو (١) ، بيا يې په يو وړوکي لوخي ( پياله وغيره ) کې واچول ، او ماته يې وويل :

يَا أَنَسُ ! اِذْهَبْ بِهٰذَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْ بَعَثَتْ بِهٰذَا إِلَيْكَ أُمِّي وَهِيَ تُقْرِئُكَ السَّلَامَ وَتَقُوْلُ : إِنَّ هٰذَا لَكَ مِنَّا قَلِيْلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ .

اې انس ! دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم خدمت ته ويسه ، او ورته ووايه : چې دا ( هديه ) زما مور تاسو ته راليږلې ده ، هغه تاسو ته سلام وايي ، او دا درته وايي چې : اې د الله رسوله ! دا معمولي خوراک زمونږ د طرفه ستاسو د پاره هديه ده ( اګر چې ستاسو د شان لائقه نده ، خو بيا هم ستاسو د مهربانۍ نه دا اُميد دی چې دا به قبوله کړی ) .

حضرت انس ﷺ فرمايي : چې ما دا خوراک راواخيسته ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شوم ، او خپلې مور چې راته څه خبرې کړې وې هغه مې نبي عليه السلام ته اوکړی ، پيغمبر عليه السلام ( په خوشحالۍ باندې قبلولو سره ) وفرمايل : دا کيږده ، بيا يې وفرمايل :

اِذْهَبْ فَادْعُ لِيْ فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا رِجَالًا سَمَّاهُمْ وَادْعُ مَنْ لَقِيْتَ .

ته لاړ شه ، فلانې ، فلانې ، او فلانې کس راوله ، او په لاره کې چې درسره څوک ملاؤ شي هغه هم راوله ( حضرت انس ﷺ فرمايي چې ماته نبي عليه السلام ددې کسانو نومونه هم اخيستي وو ، خو چونکه اوس د هغوی نومونه زما د ذِهن نه اُوتي دي ، نو ځکه مې تعبير ترې په فلان ، فلان او فلان سره اوکړو ) .

پس زه لاړم ، نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې راته د چا چا نومونه اخيستي وو او د ما سره په لاره کې څوک ملاؤ شو دا ټول مې راوستل . کله چې کور ته راغلم نو کور د خلقونه پوره ډک ؤ ، د حضرت انس رضي الله عنه نه پوښتنه اوشوه چې : په دغه وخت کې تاسو څومره خلق وی ؟ ده ورته وويل : تقريبًا درې سوه ( ٣٠٠ ) کسان به وو .

---

(١) په عربۍ کې ديته " حَيس " وايي ، په پښتو ژبه کې ورته بعضې خلق " مَاليده " وايي .

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي : ما اُوليده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغه خوراک باندې ځېل لاس مبارک ايښې وُ ، او هغه څه يې ورباندې وويل کوم چې الله ﷻ غوښته ( يعنې د خير او برکت دُعا يې اوکړه ) .

بيا نبي عليه السلام لس لس کسان د خوراک د پاره راغوښتل شروع کړل ، او هغوی ته يې وفرمايل :

اُذْكُرُوا اسْمَ اللهِ وَلْيَأْكُلْ كُلُّ رَجُلٍ مِمَّا يَلِيْهِ .

تاسو د الله ﷻ نوم يادوئ ، او هر کس دې د خپلې مخې نه خوراک کوي .

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي : دې لسو کسانو خوراک اوکړو تر دې پورې چې دوی ماړه شو نو دوی اُووتل ، بيا د نورو لسو کسانو جَماعت راغی ، هغوی هم په مړه خېټه خوراک اوکړو ، دغه شان ( نمبر په نمبر ) ټولو ( درې سوه ٣٠٠ کسانو ) په مړه خېټه خوراک اوکړو . بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ما ته وفرمايل :

اِرْفَعْ . اې انس ! ( چونکه ټول خلق د خوراک نه فارغ شوي دي نو ) ته اوس دا پيالې راپورته کړه . فَمَا أَدْرِيْ حِيْنَ وَضَعْتُ كَانَ أَكْثَرَ أَمْ حِيْنَ رَفَعْتُ ؟ (١)

(١) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرُوْسًا بِزَيْنَبَ فَعَمَدَتْ أُمِّيْ أُمُّ سُلَيْمٍ إِلَى تَمْرٍ وَسَمْنٍ وَأَقِطٍ فَصَنَعَتْ حَيْسًا فَجَعَلَتْهُ فِيْ تَوْرٍ . فَقَالَتْ : يَا أَنَسُ ! اِذْهَبْ بِهٰذَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْ بَعَثَتْ بِهٰذَا إِلَيْكَ أُمِّيْ وَهِيَ تُقْرِئُكَ السَّلَامَ وَتَقُوْلُ : إِنَّ هٰذَا لَكَ مِنَّا قَلِيْلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ فَذَهَبْتُ . فَقُلْتُ . فَقَالَ: ضَعْهُ . ثُمَّ قَالَ : اِذْهَبْ فَادْعُ لِيْ فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا رِجَالًا سَمَّاهُمْ وَادْعُ مَنْ لَقِيْتَ . فَدَعَوْتُ مَنْ سَمَّى وَمَنْ لَقِيْتُ . فَرَجَعْتُ فَإِذَا الْبَيْتُ غَاصٌّ بِأَهْلِهِ . قِيْلَ لِأَنَسٍ : عدد كم كَانُوا؟ قَالَ : زهاء ثَلَاث مائَة . فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَضَعَ يَدَهُ عَلَى تِلْكَ الْحَيْسَةِ وَتَكَلَّمَ بِمَا شَاءَ اللهُ . ثُمَّ جَعَلَ يَدْعُوْ عَشَرَةً عَشَرَةً يَأْكُلُوْنَ مِنْهُ وَيَقُوْلُ لَهُمْ : « اُذْكُرُوا اسْمَ اللهِ وَلْيَأْكُلْ كُلُّ رَجُلٍ مِمَّا يَلِيْهِ » قَالَ : فَأَكَلُوْا حَتّٰى شَبِعُوْا . فَخَرَجَتْ طَائِفَةٌ وَدَخَلَتْ طَائِفَةٌ حَتّٰى أَكَلُوْا كُلُّهُمْ . قَالَ لِيْ : يَا أَنَسُ ! اِرْفَعْ . فَرَفَعْتُ . فَمَا أَدْرِيْ حِيْنَ وَضَعْتُ كَانَ أَكْثَرَ أَمْ حِيْنَ رَفَعْتُ . مشكاة المصابيح كتاب الفضائل والشمائل باب فى المعجزات الفصل الاول رقم الحديث ٥٩١٣ ( ٤٦ ) ، صحيح البخاري كتاب النكاح بَابُ الْهَدِيَّةِ لِلْعَرُوْسِ رقم الحديث ٥١٦٣ ، صحيح مسلم كتاب النكاح بَابُ زَوَاجِ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ، وَنُزُوْلِ الْحِجَابِ، وَإِثْبَاتِ وَلِيْمَةِ الْعُرْسِ رقم الحديث ٩٢ ( ١٤٢٨ ) ، سنن الترمذي رقم الحديث ٣٢١٨ .

پس ما دا پياله راپورته کړه ، نو ماته اوس صحيح اندازه نه لګيده چې کله ما دا پياله ايخې وه نو آيا هاغه وخت په دې کې دا خوراک زيات وُ يا اوس چې (د درې سوه کسانو د خوراک نه پس چې) ما را اُوچته کړه اوس په کې زيات دی ؟

## د يوې چيلۍ ځګر يو سَل ديرش (۱۳۰) کسانو په مړه خېټه اُوخوړ. او بيا هم پاتې شو

د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، حضرت عبدالرحمن بن ابي بکر ﷺ فرمايي چې مونږ د نبي عليه السلام سره (په يو سفر کې) يو سل او ديرش (۱۳۰) کسان وو . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

هَلْ مَعَ أَحَدٍ مِنْكُمْ طَعَامٌ ؟

آيا په تاسو کې د چا سره څه خوراک شته ؟

نو د يو کس سره تقريبًا يو صاع اُوړيشې ملاوُ شوی ، دا واغږل شوی ، بيا يو مشرک راغی ، چې د ګدوَد او اُوږدو ويښتانو واله وُ ، يوه چيلۍ يې راروانه کړې وه ، نبي عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه :

أَبَيْعٌ أَمْ عَطِيَّةٌ .

آيا دا چيلۍ د خرڅ ده يا عطيه ده ؟ (يا هِبه ده ؟)

هغه ورته ووېل : دا د خرڅ د پاره ده ، نبي عليه السلام ورنه چيلۍ واخيسته ، بيا ذبح کړې شوه ، پيغمبر عليه السلام حکم اوکړو چې ددې ځګر دې ورِيت کړې شي .

حضرت عبدالرحمن بن ابي بکر ﷺ فرمايي : قسَم په الله ، په يو سل ديرشو (۱۳۰) کسانو کې هر يو کس ته نبي عليه السلام ددې ځګر نه د خوراک د پاره حِصه راپرېکړه ، چې کوم کس به حاضر وُ هغه ته به يې ورکړه ، او چې کوم به غائب وُ هغه له به يې حِصه کيښوده ، بيا يې دا په دوه غټو پيالو (کاسو) کې کيښوده :

فَأَكَلْنَا أَجْمَعُونَ وَشَبِعْنَا . وَفَضَلَ فِي الْقَصْعَتَيْنِ . فَحَمَلْتُهُ عَلَى الْبَعِيرِ .

پس مونږ ټولو دا ځِګر اوخوړ ، مونږ وربانديې ماړه هم شو ، خو بيا هم په کاسو کې هماغه شان پاتې شو ، بيا مادا په اوښ باندې کيښود . (١)

## په نيم وَسق اوربشو کې د برکت مُعجزه

د مسلم شريف حديث دی ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې يو کس نبي عليه الصلوة والسلام ته راغی ، او خوراک يې ورنه اوغوښت ، پيغمبر عليه السلام هغه ته نيم وَسق اوربشې ورکړې .

دې سړي به هميشه په خپله ، ده بي بي او د دوی ميلمنو ددې وَربشو نه خوراک کولو ، خو دا به نه ختميدی ، تر دې پورې چې يوه ورځ دې سړي دا باقي مانده اوربشې اوتَللې ، نو ددې په وجه هغه وَربشې بيا ختمې شوی ، دا سړی بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی ( او صورتِ حال يې ورته بيان کړو ) ، پيغمبر عليه السلام ده ته وفرمايل :

لَوْ لَمْ تَكِلْهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ، وَلَقَامَ لَكُمْ . (٢)

---

(١) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثِيْنَ وَمِائَةً ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « هَلْ مَعَ أَحَدٍ مِنْكُمْ طَعَامٌ ؟ » فَإِذَا مَعَ رَجُلٍ صَاعٌ مِنْ طَعَامٍ أَوْ نَحْوُهُ ، فَعُجِنَ ، ثُمَّ جَاءَ رَجُلٌ مُشْرِكٌ مُشْعَانٌّ طَوِيْلٌ ، بِغَنَمٍ يَسُوْقُهَا ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَبَيْعٌ أَمْ عَطِيَّةٌ » أَوْ قَالَ : « هِبَةٌ » قَالَ : لَا ، بَلْ بَيْعٌ ، قَالَ : فَاشْتَرَى مِنْهُ شَاةً فَصُنِعَتْ ، فَأَمَرَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَوَادِ الْبَطْنِ يُشْوٰى ، وَأَيْمُ اللهِ ، مَا مِنَ الثَّلَاثِيْنَ وَمِائَةٍ إِلَّا قَدْ حَزَّ لَهُ حُزَّةً مِنْ سَوَادِ بَطْنِهَا ، إِنْ كَانَ شَاهِدًا أَعْطَاهَا إِيَّاهُ ، وَإِنْ كَانَ غَائِبًا خَبَأَهَا لَهُ ، ثُمَّ جَعَلَ فِيْهَا قَصْعَتَيْنِ ، فَأَكَلْنَا أَجْمَعُوْنَ وَشَبِعْنَا ، وَفَضَلَ فِي الْقَصْعَتَيْنِ ، فَحَمَلْتُهُ عَلَى الْبَعِيْرِ ، أَوْ كَمَا قَالَ . صحيح البخاري كتاب الاطعمة بَابُ مَنْ أَكَلَ حَتّٰى شَبِعَ رقم الحديث ٥٣٨٢ ، رقم ٢٦١٨ باب قبول الهدية من المشركين ، صحيح مسلم باب اكرام الضيف وفضل ايثاره رقم الحديث ٢٠٥٦ ، السنن الكبرى للبيهقي ١٨٧٨٩ باب ما جاءني في هدايا المشركين للامام .

(٢) عَنْ جَابِرٍ ﷺ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَطْعِمُهُ ، فَأَطْعَمَهُ شَطْرَ وَسْقِ شَعِيْرٍ ، فَمَا زَالَ الرَّجُلُ يَأْكُلُ مِنْهُ وَامْرَأَتُهُ وَضَيْفُهُمَا ، حَتّٰى كَالَهُ ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : « لَوْ لَمْ تَكِلْهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ ، وَلَقَامَ لَكُمْ » . صحيح مسلم كتاب الفضائل بَابٌ فِي مُعْجِزَاتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٢٢٨١ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٥٠٧٥ ذکر مناقب نوفل بن الحارث بن عبدالمطلب ... مشكاة المصابيح باب فی المعجزات رقم الحديث ٥٩٣١ ، كنزالعمال رقم الحديث ٣١٨١٢ .

که چیرته تا هغه اوربشې نه وی تَللی نو همیشه به تاسو د هغې نه راخیستو سره خوراک کولی، او هغه به د تاسره هماغه شان باقي پاتې وی.

**فائده**: دا د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د برکت معجزه ده چې نیم وَسق وَربشې دې خلقو دومره ډیره زَمانه اُوخوړی خو بیا هم نه ختمیدی.

## د نبي ﷺ د دُعا په برکت یَو وِیشت قجورې په کلونو کلونو اِستعمالول

د ترمذي شریف حدیث دی، حضرت ابوهریرة ؓ فرمایي چې ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یو څو (یعنی یَو وِیشت ۲۱) قجورې راوړی، او ورته اُومې فرمایل:

يَارَسُولَ اللهِ! اُدْعُ اللهَ فِيهِنَّ بِالْبَرَكَةِ.

اې د الله رسوله! د الله ﷻ نه زما د پاره په دې قجورو کې د برکت دُعا اوکړئ.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغه قجورې په خپل لاس مُبارک کې راواخیستی (یا دا چې خپل لاس مبارک یې پرې کیښود)، بیا یې زما د پاره په دې کې د هدایت دُعا اوکړه، او راته وې فرمایل:

خُذْهُنَّ وَاجْعَلْهُنَّ فِيْ مِزْوَدِكَ هٰذَا، أَوْ فِيْ هٰذَا الْمِزْوَدِ، كُلَّمَا أَرَدْتَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا فَأَدْخِلْ يَدَكَ فِيْهِ فَخُذْهُ وَلَا تَنْثُرْهُ نَثْرًا.

دا قجورې واخله، او په خپل دې تُوشه دان کې یې واچوه، کله چې ته ددې نه څه قجورې راخیستل غواړې نو دې توشه دان ته لاس ننَباسه، او ددې نه قجورې راخله خو توشه دان هیڅ کله مه څَنډه (یعنی مکمل یې مه خالي کوه).

حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي:

فَقَدْ حَمَلْتُ مِنْ ذٰلِكَ التَّمْرِ كَذَا وَكَذَا مِنْ وَسْقٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، فَكُنَّا نَأْكُلُ مِنْهُ وَنُطْعِمُ.

چې (ما په دې قجورو کې دومره برکت اُولید چې) ما ددې قجورو نه دومره دومره وَسقه (یعنی د مَنونو په حساب سره ډیرې زیاتې) قجورې د الله ﷻ په لاره کې خرچ کړی، او مونږ ټولو به په خپله هم ددینه خوراک کولو، او په نورو (دُوستانو او فقیرانو) مو هم خوَرلی.

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي: دا توشه دان ( ما د خپلي ملا سره تړلې ؤ ، دا ) ما د خپلې ملا نه نه جُدا كول ، تر دې پورې چې حضرت عثمان رضي الله عنه شهيد شو نو په هاغه ورځ دا په خپله زما د ملا نه راوغورځيد ( او رانه ورک شو ) . (١)

**فائده**: د دې حديث د آخري الفاظو نه دا هم معلومه شوه چې كله په معاشره كې قتل و قتال ، ظلم و فساد خورشي نو بيا خير و بركت هم ختميږي.

## په قجورو كې د بركت بله مُعجزه

د بخاري شريف حديث دى ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي: كله چې زما پلار ( په غزوه اُحد كې ) شهيد شو نو په هغه باندې ( د يهوديانو ) ډير قرض ؤ ، ما قرض خواهانو ته پيش كش اوكړو چې د مونږ سره دا څومره قجورې دي دا ټولې زما د پلار د قرض په بدل كې واخلئ ، ليكن هغوى انكار اوكړو ( ځكه دې يهودو ته دا قجورې د خپل قرض په مقابله كې كمې ښكاره كيدى ) ، آخر زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شوم ، او ورته مې وويل:

يَا رَسُولَ اللهِ ! قَدْ عَلِمْتَ أَنَّ وَالِدِيْ اُسْتُشْهِدَ يَوْمَ اُحُدٍ ، وَتَرَكَ عَلَيْهِ دَيْنًا كَثِيْرًا ، وَإِنِّيْ اُحِبُّ أَنْ يَرَاكَ الْغُرَمَاءُ .

(اې د الله رسوله ! ) يقينًا تاسو ته معلومه ده چې زما پلار په غزوهٔ اُحد كې شهيد شوې دى ، او هغه د ځان پسې ډير قرض پريخې دى ، او بيشكه زه دا خوښوم چې دا قرض خواهان

(١) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمَرَاتٍ ، فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اُدْعُ اللهَ فِيْهِنَّ بِالْبَرَكَةِ . فَضَمَّهُنَّ ثُمَّ دَعَا لِيْ فِيْهِنَّ بِالْبَرَكَةِ . فَقَالَ لِيْ: خُذْهُنَّ وَاجْعَلْهُنَّ فِيْ مِزْوَدِكَ هٰذَا ، أَوْ فِيْ هٰذَا الْمِزْوَدِ ، كُلَّمَا أَرَدْتَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا فَأَدْخِلْ يَدَكَ فِيْهِ فَخُذْهُ وَلَا تَنْثُرْهُ نَثْرًا . فَقَدْ حَمَلْتُ مِنْ ذٰلِكَ التَّمْرِ كَذَا وَكَذَا مِنْ وَسْقٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . فَكُنَّا نَأْكُلُ مِنْهُ وَنُطْعِمُ ، وَكَانَ لَا يُفَارِقُ حِقْوِيْ حَتّٰى كَانَ يَوْمُ قَتْلِ عُثْمَانَ فَإِنَّهُ انْقَطَعَ . رواه الترمذي ابواب المناقب بَابُ مَنَاقِبِ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث ٣٨٣٩ ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٩٣٣ ( ٦٦ ) ، صحيح ابن حبان ذكر مَا بَارَكَ اللهُ ما فضل من أزواد أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم .

تاسو اُووينې ( يعنى چې تاسو هلته تشريف فرمايئ. او دا قرض خواهان تاسو اُووينې نو ستاسو په ليدلو سره به دوى د ما سره څه رِعايت اوكړي ) ، نبي عليه السلام راته وفرمايل:

اِذْهَبْ فَبَيْدِرْ كُلَّ تَمْرٍ عَلٰى نَاحِيَتِهٖ .

ته لاړ شه ، او د هر قِسمه قجورو ځانله ځانله ډِهيرې جوړ كړه ( يعنى هر قِسمه قجورې جدا جدا كيږده ) .

نو ما همداسې اوكړل ( چې د ما سره څومره قجورې وى د هغې ټول نه مې جدا جدا ډِهيري جوړكړل ) ، بيا مې نبي عليه السلام ته د راتلو دعوت وركړو .

كله چې قرض خواهانو رسولُ الله صلى الله عليه وسلم اُوليده نو هغوى د ما سره داسې رَوِيه اوكړه ګويا چې دوى په ما باندې حاوي شوي وي . (۱)

نبي عليه السلام چې د دوى دا رَوِيه اُوليده نو د قجورو د هغه غټ ډِهيري نه درې پيرې ګېرچاپېره تاؤ شو ، بيا يې وفرمايل :

اُدْعُ أَصْحَابَكَ .

ته خپل قرض خواهان را اُوغواړه .

( هر كله چې دوى ټول راغله ) نو دوى ته يې قجورې وركول شروع كړه ، تر دې پورې چې الله تعالى زما د پلار ټول قرض خلاص كړو .

او زه په دې هم راضي ووم چې الله تعالى په دې قجورو باندې صِرف زما د پلار قرضه اَداء كړي ، اګر چې زه خپلو خورانو د پاره يوه قجوره هم وې نه سَم ، خو ليكن الله تعالى د نبي عليه السلام د مُعجزې په بركت سره د قجورو ټول ډِهيرې هماغه شان محفوظ اُوساتل ، تر دې پورې چې نبي رسول الله صلى الله عليه وسلم كوم ډِهيري ته ناست وُ ما چې هغې ته اُوكتل نو داسې معلوميده چې د دېنه يوه قجوره هم نده كمه شوې .

---

(۱) يعنى هغه يهودو قرض خواهانو چې نبي عليه السلام اُوليده نو دا ګمان يې اوكړو چې ګنې اوس به دې مونږ ته د قرض معاف كولو يا د صبر كولو په باره كې مشوره راكوي نو ځكه دوى په سخته لهجه كې د قرض د غوښتلو مطالبه اوكړه ، او داسې رَوِيه يې ظاهره كړه چې مونږ ته فوري طريقې سره قرض واپس كول په كار دي .

( نو چې کله د قجورو ددې غټ ډېرۍ نه څه نه وو کم شوي حالانکه ددې نه ټولو قرض خواهانو ته قجورې ورکړې شوې وې نو دا نور ډېرۍ د قجورو خو به په طريقِ اولى باندې محفوظ پاتې وو ) . (١)

## يوه پياله شوده (پۍ) ډېرو صحابه کرامو په مړه ګېډه اوڅکل

د بخارې شريف حديث دى ، حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي : قسَم په هغه ذات چې د هغه نه علاوه بل ذات د عبادت لائق نشته چې زه به د ډيرې اُولږې د وجې نه پرمخې په زمکه څملاستم ، او ما به د ډيرې اُولږې د وجې نه په خپله خېټه پورې کانړې تړَل.

يوه ورځ زه ( د ډيرې اُولږې د وجې نه ) په هغه لاره کې کيناستم په کومه لاره به چې صحابه کرام تلل ، نو حضرت ابوبکر صديق ﷺ په دې لاره باندې راغى ، ما د هغه نه د کتابُ الله د يو آيت متعلق پوښتنه اوکړه ، زما د پُوښتنې مقصد صِرف دا وُ چې هغه به په ما باندې څه اُوخوري ، ( د جواب راکولو نه پس ) هغه لاړو خو څه يې او نه کړل ( يعنى په ما باندې يې څه او نه خوړل ، ځکه هغه زما په اُولږه پوهه نه شو ) .

بيا په ما باندې حضرت عُمر ﷺ تېر شو نو ما د هغه نه هم د قرآن مجيد د يو آيت متعلق پوښتنه اوکړه ، او د پوښتنې مقصد مې صرف همدا وُ چې دې را باندې څه اُوخوري ، خو هغه هم لاړو ، او څه يې او نه کړل.

---

(١) قَالَ الشَّعْبِيُّ : حَدَّثَنِيْ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيُّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : أَنَّ أَبَاهُ اسْتُشْهِدَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ سِتَّ بَنَاتٍ . وَتَرَكَ عَلَيْهِ دَيْنًا . فَلَمَّا حَضَرَ جِدَادُ النَّخْلِ أَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! قَدْ عَلِمْتَ أَنَّ وَالِدِيْ اُسْتُشْهِدَ يَوْمَ أُحُدٍ ، وَتَرَكَ عَلَيْهِ دَيْنًا كَثِيْرًا . وَإِنِّيْ أُحِبُّ أَنْ يَرَاكَ الْغُرَمَاءُ . قَالَ: « اِذْهَبْ فَبَيْدِرْ كُلَّ تَمْرٍ عَلَى نَاحِيَتِهِ » . فَفَعَلْتُ ثُمَّ دَعَوْتُهُ . فَلَمَّا نَظَرُوْا إِلَيْهِ أُغْرُوْا بِيْ تِلْكَ السَّاعَةَ . فَلَمَّا رَأَى مَا يَصْنَعُوْنَ أَطَافَ حَوْلَ أَعْظَمِهَا بَيْدَرًا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . ثُمَّ جَلَسَ عَلَيْهِ . ثُمَّ قَالَ : « اُدْعُ أَصْحَابَكَ » فَمَا زَالَ يَكِيْلُ لَهُمْ حَتَّى أَدَّى اللهُ أَمَانَةَ وَالِدِيْ . وَأَنَا وَاللهِ رَاضٍ أَنْ يُؤَدِّيَ اللهُ أَمَانَةَ وَالِدِيْ ، وَلَا أَرْجِعَ إِلَى أَخَوَاتِيْ بِتَمْرَةٍ . فَسَلِمَ وَاللهِ الْبَيَادِرُ كُلُّهَا حَتَّى أَنِّيْ أَنْظُرُ إِلَى الْبَيْدَرِ الَّذِيْ عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّهُ لَمْ يَنْقُصْ تَمْرَةً وَاحِدَةً .
رواه البخاري كتاب الوصايا بَابُ قَضَاءِ الْوَصِيِّ دُيُوْنَ الْمَيِّتِ بِغَيْرِ مَحْضَرٍ مِنَ الْوَرَثَةِ رقم الحديث ٢٧٨١ ، ورقم ٤٠٥٢ كتاب المغازي بَابُ: إِذْ هَمَّتْ طَائِفَتَانِ مِنْكُمْ أَنْ تَفْشَلَا .... مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٩٠٦ (٣٩) بابٌ فى المعجزات .

ددې نه پس په ما باندې ابوالقاسم محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم تېر شو، دوی چې کله زه اُولیدم نو مُسکې شو، دوی زما د زړه په خبره پوهه شو، او زما د مَخ د آثارو نه یې معلومه کړه، بیا یې ماته وفرمایل: یَاأَبَاهِرٍّ ! اې ابوهریرة ! ما ورته وویل:

لَبَّيْكَ يَارَسُولَ اللهِ . اې د الله رسوله ! حاضریم .

دوی وفرمایل: اِلْحَقْ . د ماسره راځه .

نبي علیه السلام روان شو، زه هم ورپسې شاته روان ووم، بیا پیغمبر ﷺ دننه تشریف وې وړو، اجازت یې اُوغوښتو، نو ماته اجازت ملاوُ شو.

کله چې رسولُ الله ﷺ دننه داخل شو نو په یوه پیاله کې یې شُوده اُومونده، پوښتنه یې اوکړه: مِنْ أَيْنَ هٰذَا اللَّبَنُ ؟ دا شُوده د کوم ځای نه راغلي دي ؟

هغوی ورته وویل: دا تاسو ته فلاني سړي یا فلاني ښځې هدیه رالیږلې ده، پیغمبر علیه السلام وفرمایل: اې ابوهریرة ! ما جواب ورکړو: اې د الله رسوله ! په خِدمت کې حاضریم (څه حکم دی ؟)، نبي علیه السلام وفرمایل:

اِلْحَقْ إِلىٰ أَهْلِ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ لِيْ .

اهلِ صفهٔ (صحابه کرامو) ته ورشه، او هغوی ماته رااُوغواړه.

(اهلِ صُفه څوک وو ؟) راوي وایي: چې اهلِ صُفه د اسلام میلمانه وو، دوی نه د چا په کور کې، نه د چا د مال سره، او نه یې د هیچا سره پناه اخیسته، کله به چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته صدقه راغله نو دا به یې اَصحابِ صُفّهٔ ته وَرااُولیږله او په خپله به یې ددې نه هیڅ نه خوَړه، خو چې کله به دوی ته هدیه راغله نو دا به یې دوی ته هم اُولیږله او په خپله به یې هم ورنه څه اُوخوَړه، هغوی به یې هم د ځان سره په دې کې شریکول.

حضرت ابوهریرة ﷺ فرمایي (چې کله نبي علیه السلام ماته د اَصحابِ صُفّهٔ خبره اوکړه نو) ماته دا خبره گرانه معلومه شوه، ما د ځان سره وویل: چې دا لږ شُوده به په دې ټولو اَصحابِ صُفّهٔ باندې څنگه تقسیم شي ؟ ددې حَقدار خو زه ووم چې دا اُوڅکم، او څه قوت ورباندې حاصل کړم.

( بل دا ) چې کله اهلِ صُفه راشي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به همدا ماته حکم کوي چې دوی ته دا شوده (پی) ورکړه، او شاید چې ماته په دې کې هیڅ هم را او نه رسي.

لیکن د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د حکم منلو نه بغیر زما د پاره بله چاره نه وه ( یعنی ما د دوی د حکم خِلاف وَرزي نه شوه کولی ) نو زه اَصحاب صفه ؤ ته راغلم او هغوی ته مې د نبي ﷺ د طرفه دعوت ورکړو، دوی ټول راغلل، د نبي ﷺ نه یې اجازت اوغوښتو، دوی ورته د راتللو اِجازت ورکړو، دوی په دې کور کې په خپل خپل ځای باندې کیناست، نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل: يَا أَبَا هِرٍّ! اې ابوهریرة!

ما ورته جواب ورکړو: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ. اې د الله رسوله! حاضریم.

نبي علیه السلام وفرمایل:

خُذْ فَأَعْطِهِمْ. دا (د شودو پیاله) واخله، او دوی ته یې (نمبر په نمبر) ورکړه.

حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي چې ما دا پیاله را واخیسته او یو کس ته مې ورکړه، هغه ورنه په مړه خېټه شوده اُوڅکل، بیا یې ماته واپس راکړه، نو ما دا دویم کس ته ورکړه، هغه هم ورنه په مړه ګېډه اُوڅکل، دغه شان ما (نمبر په نمبر) هر کس ته پیاله ورکوله هغه به ورنه په مړه خېټه شوده څکل او ماته به یې واپس راکوله، تر دې پورې چې زه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته اُورسیدم، تر دې وخته پورې ټول صحابه کرام ماړه شوي وو، پیغمبر علیه السلام پیاله را واخیسته په خپل لاس مُبارک یې کېښوده، ما طرف ته یې اُوکتل، مُسکې شو، او راته وې ویل: اې ابوهریرة! ما ورته وویل: اې د الله رسوله حاضِریم، راته وې فرمایل: بَقِيتُ أَنَا وَأَنْتَ. صِرف زه او ته پاتې یو.

ما ورته وویل: صَدَقْتَ يَا رَسُولَ اللهِ. اې د الله رسوله! تاسو ریښتیا وویل.

بیا یې راته وفرمایل: اُقْعُدْ فَاشْرَبْ. کېنه، او دا شوده اُوڅکه.

نو زه کیناستم، شوده مې اُوڅکل، دوی بیا وفرمایل: اُوڅکه. ما نور هم اُوڅکل، دوی به مسلسل ماته فرمایل: چې اُوڅکه. تر دې پورې چې ما ورته وویل:

لَا وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ ، مَا أَجِدُ لَهُ مَسْلَكًا . قسم په هغه ذات چې تاسو يې برحق پيغمبر راليږلي يې. په ما کې ددې د څکلو نور ګنجائش نشته.

نبي عليه السلام راته وفرمايل : دا پياله ماله راکړه. نو ما د اپياله هغوی ته ورکړه، هغوی د الله ﷻ حمد بيان کړو . بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ يې وويله ، او باقي پاتې شوده يې أوڅکل . (١)

---

(١) عَنْ مُجَاهِدٍ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ كَانَ يَقُوْلُ : أَللّٰهِ الَّذِيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ، إِنْ كُنْتُ لَأَعْتَمِدُ بِكَبِدِيْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْجُوْعِ. وَإِنْ كُنْتُ لَأَشُدُّ الْحَجَرَ عَلَى بَطْنِيْ مِنَ الْجُوْعِ ، وَلَقَدْ قَعَدْتُ يَوْمًا عَلَى طَرِيْقِهِمُ الَّذِيْ يَخْرُجُوْنَ مِنْهُ . فَمَرَّ أَبُوْ بَكْرٍ. فَسَأَلْتُهُ عَنْ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ ، مَا سَأَلْتُهُ إِلَّا لِيُشْبِعَنِيْ ، فَمَرَّ وَلَمْ يَفْعَلْ ، ثُمَّ مَرَّ بِيْ عُمَرُ ، فَسَأَلْتُهُ عَنْ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ ، مَا سَأَلْتُهُ إِلَّا لِيُشْبِعَنِيْ ، فَمَرَّ فَلَمْ يَفْعَلْ ، ثُمَّ مَرَّ بِيْ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَبَسَّمَ حِيْنَ رَآنِيْ ، وَعَرَفَ مَا فِيْ نَفْسِيْ وَمَا فِيْ وَجْهِيْ ، ثُمَّ قَالَ : « يَا أَبَا هِرٍّ ! » قُلْتُ : لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ، قَالَ : « اِلْحَقْ » وَمَضَى فَتَبِعْتُهُ. فَدَخَلَ ، فَاسْتَأْذَنَ ، فَأَذِنَ لِيْ ، فَدَخَلَ ، فَوَجَدَ لَبَنًا فِيْ قَدَحٍ ، فَقَالَ : « مِنْ أَيْنَ هٰذَا اللَّبَنُ ؟ » قَالُوْا : أَهْدَاهُ لَكَ فُلَانٌ أَوْ فُلَانَةُ . قَالَ : « أَبَا هِرٍّ ! » قُلْتُ : لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ، قَالَ : « اِلْحَقْ إِلَى أَهْلِ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ لِيْ » قَالَ : وَأَهْلُ الصُّفَّةِ أَضْيَافُ الْإِسْلَامِ ، لَا يَأْوُوْنَ إِلَى أَهْلٍ وَلَا مَالٍ وَلَا عَلَى أَحَدٍ ، إِذَا أَتَتْهُ صَدَقَةٌ بَعَثَ بِهَا إِلَيْهِمْ وَلَمْ يَتَنَاوَلْ مِنْهَا شَيْئًا ، وَإِذَا أَتَتْهُ هَدِيَّةٌ أَرْسَلَ إِلَيْهِمْ وَأَصَابَ مِنْهَا وَأَشْرَكَهُمْ فِيْهَا . فَسَاءَنِيْ ذٰلِكَ ، فَقُلْتُ : وَمَا هٰذَا اللَّبَنُ فِيْ أَهْلِ الصُّفَّةِ ، كُنْتُ أَحَقُّ أَنَا أَنْ أُصِيْبَ مِنْ هٰذَا اللَّبَنِ شَرْبَةً أَتَقَوَّى بِهَا ، فَإِذَا جَاءَ أَمَرَنِيْ ، فَكُنْتُ أَنَا أُعْطِيْهِمْ ، وَمَا عَسَى أَنْ يَبْلُغَنِيْ مِنْ هٰذَا اللَّبَنِ ، وَلَمْ يَكُنْ مِنْ طَاعَةِ اللّٰهِ وَطَاعَةِ رَسُوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُدٌّ ، فَأَتَيْتُهُمْ فَدَعَوْتُهُمْ فَأَقْبَلُوْا ، فَاسْتَأْذَنُوْا فَأَذِنَ لَهُمْ ، وَأَخَذُوْا مَجَالِسَهُمْ مِنَ الْبَيْتِ ، قَالَ : « يَا أَبَا هِرٍّ ! » قُلْتُ : لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ، قَالَ : « خُذْ فَأَعْطِهِمْ » قَالَ : فَأَخَذْتُ الْقَدَحَ ، فَجَعَلْتُ أُعْطِيْهِ الرَّجُلَ فَيَشْرَبُ حَتَّى يَرْوَى ، ثُمَّ يَرُدُّ عَلَيَّ الْقَدَحَ ، فَأُعْطِيْهِ الرَّجُلَ فَيَشْرَبُ حَتَّى يَرْوَى ، ثُمَّ يَرُدُّ عَلَيَّ الْقَدَحَ فَيَشْرَبُ حَتَّى يَرْوَى ، ثُمَّ يَرُدُّ عَلَيَّ الْقَدَحَ ، حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ رَوِيَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ ، فَأَخَذَ الْقَدَحَ فَوَضَعَهُ عَلَى يَدِهِ ، فَنَظَرَ إِلَيَّ فَتَبَسَّمَ ، فَقَالَ : « أَبَا هِرٍّ ! » قُلْتُ : لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ، قَالَ : « بَقِيْتُ أَنَا وَأَنْتَ » قُلْتُ : صَدَقْتَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ، قَالَ : « اُقْعُدْ فَاشْرَبْ » فَقَعَدْتُ فَشَرِبْتُ ، فَقَالَ : «اِشْرَبْ » فَشَرِبْتُ ، فَمَا زَالَ يَقُوْلُ : « اِشْرَبْ » حَتَّى قُلْتُ : لَا وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ ، مَا أَجِدُ لَهُ مَسْلَكًا . قَالَ : « فَأَرِنِيْ » فَأَعْطَيْتُهُ الْقَدَحَ ، فَحَمِدَ اللّٰهَ وَسَمَّى وَشَرِبَ الْفَضْلَةَ .

صحيح البخاري كتاب الرقاق باب : كَيْفَ كَانَ عَيْشُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ ، وَتَخَلِّيهِمْ مِنَ الدُّنْيَا رقم الحديث ٦٢٥٢ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْهِجْرَةِ وَقَدْ صَحَّ أَكْثَرُ أَخْبَارِهَا عِنْدَ الشَّيْخَيْنِ رقم الحديث ٤٢٩١ ، السنن الكبرى للنسائي كتاب الرقاق رقم الحديث ١١٨٠٨ .

**فائده** د اَصحابِ صُفّهٔ تعداد کم ازکم اَتیا (۸۰) کسان ، او زیات نه زیات څلور سوه (۴۰۰) کسانو پورې وو خو دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم مُعجزه وه چې یوه پیالی شوده دومره ډیرو صحابه کرامو په مړه ګېډه اُوڅکل او بیا هم په کې هماغه شان پاتې شو ، چې هغه په خپله پیغمبر علیه السلام اُوڅکل.

## په نبي عليه السلام باندې د اونو او کاڼو سلام اچول

۱ . د ترمذي شريف حديث دی ، حضرت علي رضي الله عنه فرمايي :

زه د نبي عليه السلام سره په مکه مکرّمه کې ووم ، يوه ورځ مونږ د مکې بعضې اطرافو ته اُووتو ، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخې ته به چې کوم غَر یا اُونه راتله نو هغې به دوی ته ويل :

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ . (۱)

اې د الله رسوله ! په تاسو باندې دې سلام وي.

۲ . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

إِنِّي لَأَعْرِفُ حَجَرًا بِمَكَّةَ كَانَ يُسَلِّمُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ إِنِّي لَأَعْرِفُهُ الْآنَ . (۲)

بيشکه زه اوس هم په مکه کې هغه کاڼې پيژنم کوم به چې په ما باندې د نبوت نه مخکې سلام اچول ، بيشکه زه خامخا هغه کاڼې اوس هم پيژنم .

(۱) عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ . قَالَ : كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ فَخَرَجْنَا فِي بَعْضِ نَوَاحِيْهَا فَمَا اسْتَقْبَلَهُ جَبَلٌ وَلَا شَجَرٌ إِلَّا وَهُوَ يَقُوْلُ : اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْمَنَاقِبِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باب ٦ رقم الحديث ٣٦٢٦ ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٩١٩ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۴۲۳۸ .

(۲) صحيح مسلم كتاب الفضائل بَابُ فَضْلِ نَسَبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَتَسْلِيمِ الْحَجَرِ عَلَيْهِ قَبْلَ النُّبُوَّةِ رقم الحديث ۲۲۷۷ ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم ۵۸۵۳ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۳۷۰۹ .

# په یو سفر کې درې مُعجزې ښکاره کېدل

## ( د اوښ شکایت . د اونو سلام اچول . ماشوم ته شفاء )

د مشکوة شریف حدیث دی ، حضرت یَعلی بن مرّة ثقفي ﷺ فرمایي چې ما په یو سفر کې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه درې معجزې اولیدی : ( اوله دا چې ) مونږ د نبي علیه السلام سره روان وو ، ناڅاپه مونږ په داسې یو اوښ باندې تېر شو چې په هغه باندې اوبه راویستې شوی . هر کله چې اوښ پیغمبر علیه السلام اولیده نو برړېږ (آواز) یې اوکړو . او خپل څټ یې په زمکه کېښود ، نبي علیه السلام د اوښ سره اودرید ، او وې فرمایل : أَيْنَ صَاحِبُ هٰذَا الْبَعِيْرِ ؟ ددې اوښ مالِک چیرته دی ؟

مالِک یې راحاضر شو ، نبي علیه السلام ورته اوفرمایل :

بِعْنِيْهِ . دا اوښ په ما راخرڅ کړه .

د اوښ مالِک ورته وویل : اې د الله رسوله ! ( زه دا اوښ خرڅولې نه شم خو ستاسو د احترام په وجه ) زه به دا تاسو ته هِبه کړم ( یعنی بغیر د قیمت نه به یې درکړم ) ، او بیشکه دا اوښ دداسې کورنۍ دی چې د دوی د پاره ددې نه عِلاوه بله ذریعه معاش نشته ( یعنی دا زما او زما د اَهل و عیال د پاره د معاش ذریعه ده ) ، نبي علیه السلام ورته وفرمایل :

أَمَا إِذْ ذَكَرْتَ هٰذَا مِنْ أَمْرِهِ فَإِنَّهُ شَكَا كَثْرَةَ الْعَمَلِ وَقِلَّةَ الْعَلَفِ فَأَحْسِنُوْا إِلَيْهِ .

کله چې تا ددې په باره کې صحیح حقیقتِ حال بیان کړو نو بیا خبره داده چې ( ما دا د خپل ضرورت د پاره نه اخیستو ، بلکه اَصل مقصد مې دا وُ چې دا اوښ د تَنګۍ او مُشقّت نه خلاص کړم ځکه ) دې اوښ ماته د کار د ډیروالي او د خوراک د کم والي شِکایت اوکړو (یعنی چې دا مالِک د ده نه کار ډیر اَخلي خو خوراک کم راکوي ) ، لهذا ( که ته دا اوښ د ځان سره ساتل غواړې نو ) ته ددې سره اِحسان کوه ( کار ورنه په خپل مقدار اَخله او خوراک پوره ورکوه (١) ) .

(١) ځکه دا په ظلم کې راځي چې د ځاروي نه کار ډیر اَخلي او خوراک کم ورکوي ، او که چیرته خوراک زیات ورکوي او د ...ضې په اَندازه کار ورنه اَخلي نو دا بیا خبر دی .

( حضرت يعلى بن مرّة ثقفي ﷺ فرمايي چې په دې سفر کې ما دويمه معجزه د نبي عليه السلام نه دا اُوليده چې ) بيا مونږ سفر کولو ، مخکې روان وو ، تر دې پورې چې په يو ځاى کې مونږ د آرام کولو د پاره پَړاوْ واچول ، نبي عليه السلام اُوده شو :

فَجَاءَتْ شَجَرَةٌ تَشُقُّ الْأَرْضَ حَتّٰى غَشِيَتْهُ ثُمَّ رَجَعَتْ إِلٰى مَكَانِهَا .

( ما اُوليده چې ) يوه اُونه زمکې څيرې کولو سره راغله ، تر دې پورې چې په نبي عليه السلام باندې رابنکته شوه ، بيا واپس خپل ځاى ته لاړه .

کله چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د خُوب نه راپيدار شو ، ما ورته د اُونې د راتلو دا واقعه بيان کړه ، دوى اُوفرمايل :

هِيَ شجرةٌ اِسْتَأْذَنَتْ رَبَّهَا عَزَّ وَجَلَّ أَنْ تُسَلِّمَ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَأَذِنَ لَهَا .

دا هغه اُونه وه چې دې د خپل رَب " الله ﷻ " نه اِجازت اُوغوښت چې د الله په رسول ﷺ ( يعنى ما باندې ) سلام واچوي ، نو الله ﷻ ورته اِجازت ورکړو ( نو ځکه زما سلام کولو ته راغلې وه ) .

( حضرت يعلى بن مرّة ثقفي ﷺ دريمه معجزه دا بيانوي چې ) بيا مونږ مخکې روان شو ، پس زمونږ تېريدل په داسې علاقه باندې اُوشو چې هلته اُوبه وى ، نو يوې ښځې خپل داسې يو ځوي نبي عليه السلام ته راوست چې په هغه باندې ليوَنتوب وُ ( يعنى د جِنّاتو او شيطانانو آثر ورباندې وُ ) .

پيغمبر ﷺ هغه هلک د پوزې نه اُونيوه ، بيا يې ( هغه جِنّي يا شيطان ته ) ووېل :

اُخْرُجْ إِنِّيْ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ .

اُووځه ، بيشکه زه محمد د الله ﷻ رسول يم .

ددې نه پس مونږ مخکې روان شو ، هر کله چې مونږ د سفر پوره کولو نه پس راواپس شو نو زمونږ تېريدل د همدې اُوبو واله په علاقې باندې اوشو ، پس رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د هغې ښځې نه د هغې د ځوي متعلق پوښتنه اوکړه ( چې هغه اوس څنګه دى ؟ )

هغې وويل :

وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا رَأَيْنَا مِنْهُ رَيْبًا بَعْدَكَ . (١)

قسَم په هغه ذات چې هغه تاسو بَر حق رسول رالیږلی یی ( هغه ستاسو د دُعاګانو په برکت داسې ښه شوې دی چې ) مونږ ستاسو د تللو نه پس په هغه کې هيڅ د پريشانۍ خبره نده ليدلی ( بلکه د هغه نه د جِنّاتو او شيطانانو بَد آثر مکمل ختم شوې دی ) .

## د نبي ﷺ په رابللو سره اونه د خپل ځای نه راتلل

١ . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې يو ځل مونږ د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم سره سفر کولو ، تر دې پورې چې مونږ په يو فراخه ( وسيع ) ميدان کې ښکته شو ( هلته مو پَړاؤ واچول ) ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم قضائ حاجت د پاره تشريف وړې ورو ، هلته يې د پَناهۍ داسې څه شی او نه ليده چې په هغې سره د خلقو د نظرونو نه پټ شي ، او قضائ حاجت پوره کړي .

(١) عَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ الثَّقَفِيِّ قَالَ : ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ رَأَيْتُهَا مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : بَيْنَا نَحْنُ نَسِيْرُ مَعَه إِذْ مَرَرْنَا بِبَعِيْرٍ يُسْنٰى عَلَيْهِ فَلَمَّا رَآهُ الْبَعِيْرُ جَرْجَرَ فَوَضَعَ جِرَانَهُ . فَوَقَفَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : أَيْنَ صَاحِبُ هٰذَا الْبَعِيْرِ ؟ فَجَاءَهُ . فَقَالَ : بِعْنِيْهِ . فَقَالَ : بَلْ نَهَبُهُ لَكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ، وَإِنَّهُ لِأَهْلِ بَيْتٍ مَا لَهُمْ مَعِيْشَةٌ غَيْرُهُ . قَالَ : أَمَا إِذْ ذَكَرْتَ هٰذَا مِنْ أَمْرِهِ فَإِنَّهُ شَكَا كَثْرَةَ الْعَمَلِ وَقِلَّةَ الْعَلَفِ فَأَحْسِنُوْا إِلَيْهِ .

قَالَ : ثُمَّ سِرْنَا فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فَنَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَجَاءَتْ شَجَرَةٌ تَشُقُّ الْأَرْضَ حَتّٰى غَشِيَتْهُ ثُمَّ رَجَعَتْ إِلٰى مَكَانِهَا . فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذُكِرَتْ لَهُ . فَقَالَ : هِيَ شَجَرَةٌ اِسْتَأْذَنَتْ رَبَّهَا عَزَّ وَجَلَّ أَنْ تُسَلِّمَ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَأَذِنَ لَهَا .

قَالَ : ثُمَّ سِرْنَا فَمَرَرْنَا بِمَاءٍ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ بِابْنٍ لَهَا بِهِ جِنَّةٌ فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْخِرِهِ فَقَالَ : أُخْرُجْ إِنِّيْ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ . قَالَ ثُمَّ سِرْنَا . فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ سَفَرِنَا مَرَرْنَا بِذٰلِكَ الْمَاءِ . فَسَأَلَهَا عَنِ الصَّبِيِّ . فَقَالَتْ : وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا رَأَيْنَا مِنْهُ رَيْبًا بَعْدَكَ . رَوَاهُ البغوي في شرح السنة كتاب الفضائل باب علامات النبوة رقم الحديث ٣٧١٨ ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٩٢٢ .

ناڅاپه يې د ميدان په غاړه ( اَطرافو کې ) دوه اُونې اُوليدې ، رسول الله ﷺ يوې اُونې ته ورغی د هغې يوه څانگه يې را اُونيوه ، او ورته وې فرمايل ؛

اِنقَادِيْ عَلَيَّ بِإِذنِ اللهِ .

د الله ﷻ په حکم سره د پَناه جوړولو د پاره زما اِطاعت اوکړه .

دا اُونه رابنکته شوه او د نبي عليه السلام حکم يې داسې اُومنل لکه مهار شوې اُوښ چې د شَړونکې اِطاعت کوي .

بيا پيغمبر عليه السلام دويمې اُونې ته راغی او دهغې يوه څانگه يې اُونيوه ، او ورته وې فرمايل :

اِنقَادِيْ عَلَيَّ بِإِذنِ اللهِ . د الله ﷻ په حکم زما اِطاعت اوکړه .

دې هم د ړومبۍ اُونې په شان فورًا د نبي ﷺ اِطاعت اوکړو ( او په زمکه رابنکته شوه ) .

بيا نبي ﷺ د دواړو اُونو په مينځ کې اُودريده ، او دواړو ته يې اُوفرمايل :

اِلتَئِمَا عَلَيَّ بِإِذنِ اللهِ .

اوس تاسو دواړه د الله ﷻ په حکم سره په ما باندې رايو ځای شئ ( چې زه ستاسو د لاندې پټ شم ) .

نو دا دواړه اُونې رايو ځای شوی ، نبي عليه السلام ددې دواړو په پَناه کې قضائ حاجت پوره کړو .

حضرت جابر ﷺ فرمايي : زه کيناستم ، ددې عجيبه مُعجزې په ليدلو سره مې په زړه کې خبرې کولی ( يعنی زه په دې سوچ کې ډُوب ووم چې الله ﷻ داسې د لويو قُدرتونو خاوند دی چې د نبي عليه السلام په لاس مبارک باندې يې داسې نادِره معجزه ښکاره کړه ) زما نظر يو طرف ته اُوچت شو ، ناڅاپه مې رسول الله صلی الله عليه وسلم اُوليده چې راروان ؤ ،

او دا مې هم اُوليده چې ناڅاپه دا دواړه اُونې د يو بل نه جدا شوى، او هره يوه په خپله تنه باندې په خپل ځاى اُودريده. (۱)

۲. په سنن الدارمي کې يو حديث ذکر دى، کوم چې صاحب د مشکوة او نورو مُحدّثينو هم رانقل کړى، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي: يو ځل حضرت جبريل عليه السلام د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم خدمت ته حاضر شو، په دې وخت کې پيغمبر ﷺ ډير خفه ناست وُ، د زَخمونو په وينه يې بدن سُور شوې وُ، ځکه اهلِ مکه وُ ورته ضَرر (او زَخم) رسولې وُ، حضرت جبريل عليه السلام ورته وفرمايل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! هَلْ تُحِبُّ أَنْ أُرِيَكَ آيَةً؟

اې د الله رسوله! آيا دا ستاسو خوَښه ده چې زه تاسو ته يوه مُعجزه اوښائم؟ (چې دا به ستاسو د نبوت د پاره يوه نخه وي، او ورسره به تاسو د پاره د تسلّى سبب هم وي)،

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: ضروريې اُوښايئ.

نو حضرت جبريل عليه السلام د نبي عليه السلام شاته يوې اُونې طرف ته اوکتل، بيا يې پيغمبر عليه السلام ته وفرمايل:

اُدْعُ بِهَا. دا اُونه رااُوبلئ (چې تاسو ته راشي). نبي عليه السلام هغه اُونه رااُوبلله،

---

(۱) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ: سِرْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى نَزَلْنَا وَادِيًا أَفْيَحَ. فَذَهَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِيْ حَاجَتَهُ. فَلَمْ يَرَ شَيْئًا يَسْتَتِرُ بِهِ. وَإِذَا شَجَرَتَيْنِ بِشَاطِئِ الْوَادِيْ فَانْطَلَقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى إِحْدَاهُمَا. فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا. فَقَالَ: اِنْقَادِيْ عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ. فَانْقَادَتْ مَعَهُ كَالْبَعِيْرِ الْمَخْشُوْشِ الَّذِيْ يُصَانِعُ قَائِدَهُ حَتّٰى أَتَى الشَّجَرَةَ الْأُخْرٰى. فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا. فَقَالَ: اِنْقَادِيْ عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ. فَانْقَادَتْ مَعَهُ كَذٰلِكَ حَتّٰى إِذَا كَانَ بِالْمَنْصَفِ مِمَّا بَيْنَهُمَا. قَالَ: اِلْتَئِمَا عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ. فَالْتَأَمَتَا. فَجَلَسْتُ أُحَدِّثُ نَفْسِيْ فَحَانَتْ مِنِّيْ لفتة فَإِذَا أَنَا بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقْبِلًا. وَإِذَا الشَّجَرَتَيْنِ قَدِ افْتَرَقَتَا فَقَامَتْ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا عَلَى سَاقٍ. مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الاول رقم الحديث ٥٨٨٥ (١٨). صحيح مسلم كتاب الزهد والرقائق بَابُ حَدِيثِ جَابِرٍ الطَّوِيلِ وَقِصَّةِ أَبِي الْيَسَرِ رقم الحديث ٣٠١٢، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٤٢٧ باب الإستتار عند قضاء الحاجة، صحيح ابن حبان ذكر خبر فيه دلائل معلومة ... رقم الحديث ٦٥٦٢.

فَجَاءَتْ وَقَامَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ . پس دا اونه راغله او د پيغمبر ﷺ په مخکې اودريده.

بيا جبريل ﷺ نبي ﷺ ته وفرمايل : اوس ورته واپس د تللو حکم اوکړئ . دوی ورته واپس د تللو حکم اوکړو ، هغه واپس خپل ځای ته لاړه ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل :

حَسْبِيْ حَسْبِيْ . بس ماله همدا کافي ده ، بس ماله همدا کافي ده ( يعنی د الله تعالی دا مهرباني زما د پاره کافي ده چې ماته يې دا بهترينه معجزه اوخوده ، په دې سره اوس ماته د زخمونو احساس نشته ، او زما غم ورنج باقي پاتې نشو . (۱)

## د کيکر اونې د نبي عليه السلام د رسالت ګواهي ورکړه

حضرت عبد الله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې مونږ د نبي عليه السلام سره په يو سفر کې وو ، په دې کې يو باندېچي راغی ، هر کله چې دا پيغمبر عليه السلام ته رانزدې شو نو رسول الله ﷺ ورنه پوښتنه اوکړه : أَيْنَ تُرِيْدُ ؟ ته چيرته د تللو اراده لرې ؟

هغه ورته وويل : خپل کور ته ځم . نبي ﷺ ورنه پوښتنه اوکړه :

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . قَالَ: جَاءَ جِبْرِيْلُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ حَزِيْنٌ . وَقَدْ تَخَضَّبَ بِالدَّمِ مِنْ فِعْلِ أَهْلِ مَكَّةَ مِنْ قُرَيْشٍ . فَقَالَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! هَلْ تُحِبُّ أَنْ أُرِيَكَ آيَةً ؟ قَالَ : « نَعَمْ ». فَنَظَرَ إِلَى شَجَرَةٍ مِنْ وَرَائِهِ . فَقَالَ: أُدْعُ بِهَا . فَدَعَا بِهَا . فَجَاءَتْ وَقَامَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ . فَقَالَ : مُرْهَا فَلْتَرْجِعْ . فَأَمَرَهَا فَرَجَعَتْ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وَسَلَّمَ : « حَسْبِيْ حَسْبِيْ » . سنن الدارمي بَابُ مَا أَكْرَمَ اللهُ تَعَالَى بِهِ نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِيمَانِ الشَّجَرِ بِهِ . وَالْبَهَائِمِ . وَالْجِنِّ رقم الحديث ۲۳ .

په ترمذي شريف کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی : عَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : جَاءَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ذَاتَ يَوْمٍ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ حَزِيْنٌ قَدْ خُضِبَ بِالدِّمَاءِ . قَدْ ضَرَبَهُ بَعْضُ أَهْلِ مَكَّةَ . فَقَالَ : مَا لَكَ ؟ فَقَالَ : « فَعَلَ بِيْ هٰؤُلَاءِ . وَفَعَلُوْا » . قَالَ : أَتُحِبُّ أَنْ أُرِيَكَ آيَةً ؟ قَالَ : « نَعَمْ . أَرِنِيْ » فَنَظَرَ إِلَى شَجَرَةٍ مِنْ وَرَاءِ الْوَادِيْ . قَالَ : أُدْعُ تِلْكَ الشَّجَرَةَ . فَدَعَاهَا فَجَاءَتْ تَمْشِيْ . حَتَّى قَامَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ . قَالَ : قُلْ لَهَا فَلْتَرْجِعْ . فَقَالَ لَهَا . فَرَجَعَتْ حَتَّى عَادَتْ إِلَى مَكَانِهَا . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « حَسْبِيْ » . سنن ابن ماجه كتاب الفتن باب الصبر على البلاء رقم الحديث ۴۰۲۸ ، مشكاة المصابيح باب فى المعجزات رقم الحديث ۵۹۲۴ .

هَلْ لَكَ إِلٰى خَيْرٍ ؟ آيا ته د يو خير اراده لرى ؟ هغه وويل : د کوم خير ؟
رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

تَشهدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ .

ته ددې خبرې ګواهي ورکړه چې نشته دی لائق د عبادت مګر صرف يو الله دی ، هغه ايکې يوائې دی ، د هغه سره هيڅوک شريک نشته ، او محمد (ﷺ) د هغه بنده او د هغه رسول دی .

دې اَعرابي وويل : ته چې څه وايې ( يعنې د نبوت دا کومه دعویٰ کوی ) نو آيا په دې باندې ( د انسانانو علاوه ) بل څوک ګواه شته او که نه ؟ رسولُ الله ﷺ ورته وفرمايل :

هٰذِهِ السَّمُرَةُ . دا د کِيکر اُونه ده ( دا به زما د پيغمبرۍ ګواهي ورکړي ) .

بيا نبي عليه السلام د کِيکر دا اُونه را اُوبلله ، دا ددې وادۍ په يو طرف باندې ولاړه وه ( اُونې چې دا حکم واوريده ) نو زمکه يې څيرَله راروانه وه ، تر دې پورې چې د رسولُ الله ﷺ مخې ته اُودريده ، نبي عليه السلام ددې اُونې نه درې پېرې ګواهي طلب کړه ، دې اُونې داګواهي ورکړه چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د نبوت کومه دعویٰ کوي دا صحيح ده ( دې يقينًا د الله ﷻ رسول دی ، ددې ګواهۍ نه پس ) بيا دا اُونه واپس خپل ځای ته لاړه ، او دا اَعرابي هم خپل قوم ته لاړو ... (١)

(١) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ : كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ . فَأَقْبَلَ أَعْرَابِيٌّ . فَلَمَّا دَنَا مِنْهُ . قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَيْنَ تُرِيْدُ ؟ » . قَالَ : إِلٰى أَهْلِيْ . قَالَ : « هَلْ لَكَ إِلٰى خَيْرٍ؟ » . قَالَ : مَا هُوَ ؟ قَالَ: « تَشهدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ. وَرَسُوْلُهُ » . قَالَ : هَلْ مِنْ شَاهِدٍ عَلٰى مَا تَقُوْلُ ؟ قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « هٰذِهِ السَّمُرَةُ » . فَدَعَاهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ بِشَاطِئِ الْوَادِيْ، فَأَقْبَلَتْ تَخُدُّ الْأَرْضَ خَدًّا حَتّٰى كَانَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ . فَاسْتَشْهَدَهَا ثَلَاثًا . فَشَهِدَتْ أَنَّهُ كَمَا قَالَ . ثُمَّ رَجَعَتْ إِلٰى مَنْبَتِهَا. وَرَجَعَ الْأَعْرَابِيُّ إِلٰى قَوْمِهِ . صحيح ابن حبان مُحققا باب المعجزات ذِكْرُ شَهَادَةِ الشَّجَرِ لِلْمُصْطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالرِّسَالَةِ رقم الحديث ٦٥٠٥ ، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب انقياد الشجر لرسول الله صلى الله عليه وسلم، مشكوة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٩٢٥ ، ورواه الدارمي .

## د قجورې غنچک د نبي عليه السلام د رسالت ګواهي ورکړه

د ترمذي شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې يو اَعرابي د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم مجلس ته راغی ( کوم چې تر اوسه اسلام نه ؤ راوړی ) او ورته وې ويل :

بِمَ أَعْرِفُ أَنَّكَ نَبِيٌّ ؟

زه به دا څنګه اُوپيژنم چې تاسو د الله ﷻ بَرحق نبي يئ ؟ ( چې په دې سره زما يقين پيدا شي ) .

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

إِنْ دَعَوْتُ هٰذَا الْعِذْقَ مِنْ هٰذِهِ النَّخْلَةِ تَشْهَدُ أَنِّي رَسُوْلُ اللهِ ؟

زه به اوس د دې قجورې دا غُنچکه راأوبلم هغه به ( راشي او ) دا ګواهي به ورکړي چې زه ( محمد ﷺ ) د الله ﷻ بَرحق رسول يم .

نو د قجورې هغه غُنچکه د اُونې نه راجدا شوه ، د نبي عليه السلام سره نزدې راپريوته ، او د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د رِسالت ګواهي يې ورکړه ، بيا نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

اِرْجِعْ . اوس واپس خپل ځای ته لاړه شه .

نو د قجورې دا غنچک واپس خپل ځای ته لاړه . کله چې دې اَعرابي د نبي عليه السلام دا معجزه اُوليده نو فورًا يې اِسلام قبول کړو . (١)

(١) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : بِمَ أَعْرِفُ أَنَّكَ نَبِيٌّ ؟ قَالَ : إِنْ دَعَوْتُ هٰذَا الْعِذْقَ مِنْ هٰذِهِ النَّخْلَةِ تَشْهَدُ أَنِّي رَسُوْلُ اللهِ ؟ فَدَعَاهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَجَعَلَ يَنْزِلُ مِنَ النَّخْلَةِ حَتّٰى سَقَطَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . ثُمَّ قَالَ : اِرْجِعْ . فَعَادَ . فَأَسْلَمَ الْأَعْرَابِيُّ . سنن الترمذي ابواب المناقب باب ٦ رقم الحديث ٣٦٢٨ وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٤٢٣٧ وقال الحاكم : هذا حديث صحيح على شرط مسلم ولم يخرجاه ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٢٦٢٢ ، مشكوة المصابيح بابٌ فی المعجزات رقم الحديث ٥٩٢٦ .

# هُوسۍ د نبي عليه السلام د رِسالت ګواهي ورکړه

حافظ ابونعيم اَصبهاني رحمه الله په خپل کتاب " دلائل النبوة " کې د نبي عليه السلام دا معجزه ذکر کړې :

حضرت زيد بن اَرقم رضي الله عنه فرمايي چې زه د مدينې منوّرې په يوه کوڅه کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره ووم ، زمونږ تېريدل د يو اَعرابي په خيمه باندې اُوشو ، هلته په خېمه کې يوه هوسۍ تړل شوې وه ، هغې هوسۍ نبي عليه السلام ته وفرمايل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ هٰذَا الْأَعْرَابِيَّ صَادَنِيْ قبيْلًا . وَلِيْ خَشْفَانِ فِي الْبَرِيَّةِ . وَقَدْ تَعَقَّدَ هٰذَا اللَّبَنُ فِيْ أَخْلَافِيْ . فَلَا هُوَ يَذْبَحُنِيْ فَأَسْتَرِيْح . وَلَا يَدَعُنِيْ فَأَذْهَب إِلٰى خَشْفَيَّ فِي الْبَرِيَّةِ .

اې د الله رسوله ! دې اَعرابي لږ ساعت مخکې زه ښکار کړم ، په دې صحرا کې زما دوه واړه واړه بچي دي ، زما په غُلانځه کې شوده (پۍ) جمع شوي دي ( چې د دې په وجه ما ته تکليف دی ) دا کس خو ما نه ذَبح کوي چې ما ته آرام ملاؤ شي ، او نه ما پرېږدي چې په صَحرا کې خپلو بچو له لاړه شم .

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم دې هوسۍ ته وويل :

إِنْ تَرَكْتُكِ تَرْجِعِيْنَ ؟

که زه تا پرېږدم نو ته به واپس راشې ؟

وې ويل : آو (خامخا به راځم) ، او که رانغلم نو الله جل جلاله دې ما ته سخت عذاب راکړي .

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم دا خُوشې کړه ( خپلو بچو له لاړه ) څه لږ وخت پس واپس راغله ، خپله ژبه يې څټله ، نبي عليه السلام دا په خېمه کې اُوتړله .

په دې وخت کې ( د دې خېمې مالِک ) دا اَعرابي راغی او ورسره مشک هم وُ ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : آيا ته دا هوسۍ په ما راخرڅوی ؟ اَعرابي ورته وويل :

اې دالله رسوله ! دا همدا ستاسو د پاره ده . نبي ﷺ دا پرېخوده . حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه فرمايي : قسم په الله ، ما دا هوسۍ اوليده چې په ځمکه روانه وه او دايې ويل :

أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

زه دا ګواهي ورکوم چې نشته دی لائق د عبادت مګر صرف يو الله جل جلاله دی ، او بېشکه محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله (رښتيني) رسول دی . (۱)

## لیوه د نبي علیه السلام د نبوت خبر ورکړو

حضرت ابوسعيد خُدري رضي الله عنه فرمايي چې يو لېوه د يوې ګډې پسې منډه کړه ، هغه يې راونيوه ، شپونکې د لېوه پسې ورپسې شو ، او ګډه يې ورنه راخلاصه کړه ، لېوه په خپله لکۍ باندې کېناست ، او وې ويل :

أَلَا تَتَّقِي اللهَ . تَنْزِعُ مِنِّيْ رِزْقًا سَاقَهُ اللهُ إِلَيَّ ؟

آيا ته د الله جل جلاله نه نه وېرېږې ؟ کوم رزق چې ماته الله جل جلاله راکړې ؤ ته د مانه هغه اخلې ؟

---

(۱) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رضي الله عنه قَالَ : كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَعْضِ سِكَكِ الْمَدِيْنَةِ فَمَرَرْنَا بِخِبَاءِ أَعْرَابِيٍّ فَإِذَا ظَبْيَةٌ مَشْدُوْدَةٌ إِلَى الْخِبَاءِ . فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ هٰذَا الْأَعْرَابِيَّ صَادَنِيْ قَبِيْلًا . وَلِيْ خِشْفَانِ فِي الْبَرِيَّةِ . وَقَدْ تَعَقَّدَ هٰذَا اللَّبَنُ فِيْ أَخْلَافِيْ . فَلَا هُوَ يَذْبَحُنِيْ فَأَسْتَرِيْحُ . وَلَا يَدَعُنِيْ فَأَذْهَبُ إِلَى خِشْفَيَّ فِي الْبَرِيَّةِ . فَقَالَ لَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنْ تَرَكْتُكِ تَرْجِعِيْنَ ؟ قَالَتْ : نَعَمْ وَإِلَّا عَذَّبَنِيَ اللهُ عَذَابَ الْعَشَّارِ . فَأَطْلَقَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ تَلْبَثْ أَنْ جَاءَتْ تَلَمَّظُ . فَشَدَّهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْخِبَاءِ وَأَقْبَلَ الْأَعْرَابِيُّ وَمَعَهُ قِرْبَةٌ . فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَتَبِيْعُنِيْهَا ؟ قَالَ : هِيَ لَكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَأَطْلَقَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ : فَأَنَا وَاللهِ رَأَيْتُهَا تَسِيْحُ فِي الْأَرْضِ وَهِيَ تَقُوْلُ : أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . دلائل النبوة لابن نعيم الاصبهاني اَلْفَصْلُ الثَّامِنَ عَشَرَ فِيْ ذِكْرِ الْأَخْبَارِ مِنْ شَكْوَى الْبَهَائِمِ وَالسِّبَاعِ ذِكْرُ الظَّبْيِ وَالضَّبِّ ۳۷۵/۱ رقم الحديث ۲۷۳ ، معجزات النبي ﷺ لابن كثير رحمه الله حديث الغزالة .

دې شپونکي وويل : د تعجُب خبره ده چې لیوه په لکۍ باندې کيني ، او د ماسره د انسانانو په شان خبرې کوي ، لیوه ورته وویل :

أَلَا أُخْبِرُكَ بِأَعْجَبَ مِنْ ذٰلِكَ ؟ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَثْرِبَ يُخْبِرُ النَّاسَ بِأَنْبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ .

آیا زه تاته ددینه هم د ډیر تعجبي څیز په باره کې خبر درنکړم؟ هغه دا چې محمد صلى الله علیه وسلم په يَثرب ( يعنی مدينه منوّره ) کې خلقو ته د تېرې شوې زمانې واقعاتو متعلق خبر ورکوي .

ابوسعید خُدري ﷜ فرمايي چې دې شپونکي خپلې ګډې مدينې منوّرې طرف ته راروانې کړې ، کله چې مدينې منورې ته راداخل شو نو ګډې یې په یوه حِصه کې پریخودی ، بیا د رسولُ الله صلى الله علیه وسلم مجلس ته راغی ، او دوی ته یې ددې واقعې خبر ورکړو .

د نبي علیه السلام په حکم باندې د مانځه د پاره آواز اوکړې شو چې :

اَلصَّلاةُ جَامِعَةٌ .

بیا رسول الله ﷺ تشريف راوړو ، او دې شپونکي ته یې وفرمایل :

أَخْبِرْهُمْ .

ته دې خلقو ته ددې ( خپلې چشَم دِید ) واقعې خبر ورکړه .

شپُونکي خلقو ته پوره واقعه بیان کړه ، ( ددې نه پس ) رسول الله ﷺ اوفرمایل :

صَدَقَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يُكَلِّمَ السِّبَاعُ الْإِنْسَ . وَيُكَلِّمَ الرَّجُلَ عَذَبَةُ سَوْطِهِ . وَشِرَاكُ نَعْلِهِ . وَيُخْبِرَهُ فَخِذُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ .

دې شپونکي ریښتیا وویل ، قسَم په هغه ذات چې د هغه په لاس ( يعنی قبضه ) کې د محمد ( ﷺ ) ساه ده تر هاغه وخته پورې به قیامت نه قائمیږي تر دې پورې چې دَرِندګان ( څناور ) د انسانانو سره خبرې اوکړي ، او تر دې پورې چې د سړي سره دده د کوړې لومه

(آخري طرف)، او دده د ځپلو تسمه خبري اوکړي، او دده ورنون (پتون) ده ته د هغه واقعاتو خبر ورکړي کوم چې دده په غائب والي کې دده کور واله کړي دي. (١)

---

(١) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: عَدَا الذِّئْبُ عَلَى شَاةٍ. فَأَخَذَهَا فَطَلَبَهُ الرَّاعِي. فَانْتَزَعَهَا مِنْهُ. فَأَقْعَى الذِّئْبُ عَلَى ذَنَبِهِ. قَالَ: أَلَا تَتَّقِي اللهَ. تَنْزِعُ مِنِّي رِزْقًا سَاقَهُ اللهُ إِلَيَّ؟ فَقَالَ: يَا عَجَبِي ذِئْبٌ مُقْعٍ عَلَى ذَنَبِهِ. يُكَلِّمُنِي كَلَامَ الْإِنْسِ. فَقَالَ الذِّئْبُ: أَلَا أُخْبِرُكَ بِأَعْجَبَ مِنْ ذٰلِكَ؟ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَثْرِبَ يُخْبِرُ النَّاسَ بِأَنْبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ. قَالَ: فَأَقْبَلَ الرَّاعِي يَسُوقُ غَنَمَهُ. حَتّٰى دَخَلَ الْمَدِينَةَ. فَزَوَاهَا إِلَى زَاوِيَةٍ مِنْ زَوَايَاهَا. ثُمَّ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ. فَأَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنُودِيَ: اَلصَّلَاةُ جَامِعَةٌ. ثُمَّ خَرَجَ. فَقَالَ لِلرَّاعِي: «أَخْبِرْهُمْ» فَأَخْبَرَهُمْ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَدَقَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتّٰى يُكَلِّمَ السِّبَاعُ الْإِنْسَ. وَيُكَلِّمَ الرَّجُلَ عَذَبَةُ سَوْطِهِ. وَشِرَاكُ نَعْلِهِ، وَيُخْبِرَهُ فَخِذُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ». رواه الإمام احمد في المسند ١٨ / ٣١٥ رقم الحديث ١١٧٩٢ مُسْنَدُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، وابن سعد في الطبقات (١/ ١٧٣) والحاكم في المستدرك (٤/ ٤٦٧، ٤٦٨) وقال: هذا حديث حسن صحيح على شرط مسلم ولم يخرجاه ووافقه الذهبي. والبيهقي في دلائل النبوة وصححه (٦/ ٤١، ٤٢) وقال ابن كثير: إسناده على شرط الصحيح. انظر البداية والنهاية (٦/ ١٥٠). نضرة النعيم ج١ ص٥٣٤ إخبار الذئب بنبوّته صلّى الله عليه وسلّم.

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: جَاءَ ذِئْبٌ إِلَى رَاعِي غَنَمٍ. فَأَخَذَ مِنْهَا شَاةً. فَطَلَبَهُ الرَّاعِي حَتّٰى انْتَزَعَهَا مِنْهُ. قَالَ: فَصَعِدَ الذِّئْبُ عَلَى تَلٍّ. فَأَقْعٰى وَاسْتَذْفَرَ. فَقَالَ: عَمَدْتَ إِلَى رِزْقٍ رَزَقَنِيهِ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ انْتَزَعْتَهُ مِنِّي. فَقَالَ الرَّجُلُ: تَاللهِ إِنْ رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ ذِئْبًا يَتَكَلَّمُ. قَالَ الذِّئْبُ: أَعْجَبُ مِنْ هٰذَا: رَجُلٌ فِي النَّخَلَاتِ بَيْنَ الْحَرَّتَيْنِ. يُخْبِرُكُمْ بِمَا مَضٰى وَبِمَا هُوَ كَائِنٌ بَعْدَكُمْ. وَكَانَ الرَّجُلُ يَهُودِيًّا. فَجَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمَ وَخَبَّرَهُ. وَصَدَّقَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهَا أَمَارَةٌ مِنْ أَمَارَاتٍ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ. قَدْ أَوْشَكَ الرَّجُلُ أَنْ يَخْرُجَ فَلَا يَرْجِعَ حَتّٰى تُحَدِّثَهُ نَعْلَاهُ وَسَوْطُهُ مَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ». مسند احمد ١٣/ ٤٢٥ رقم الحديث ٨٠٦٣ مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. قال ابن كثير: تفرد به احمد وهو على شرط السنن ولم يخرجوه. انظر البداية والنهاية (٦/ ١٥١). وقال الهيثمي: رجاله ثقات. انظر مجمع الزوائد (٨/ ٢٩٢). وقال السيوطي: سنده صحيح. انظر الخصائص (٢/ ١٠٣)، نضرة النعيم ج١ ص٥٣٤ إخبار الذئب بنبوّته صلّى الله عليه وسلّم.

# وريتې شوې غوښې نبي عليه السلام ته د زهرو اطلاع ورکړه

د ابوداؤد شريف حديث دی (۱)، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي :

په اهلِ خيبر کې يوې يهودنۍ ښځې د چيلۍ په وريته شوې غوښه کې زهر واچول، بيا يې دا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هديه کړه ، نبي عليه السلام ددې يو پتون راواخيست او ددې په خوراک يې شروع اوکړه ، همدارنګې د دوی صحابه کرامو يو جماعت هم ددې په خوړلو شروع اوکړه.

بيا (ناڅاپه) رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وفرمايل :

اِرْفَعُوْا أَيْدِيَكُمْ . لاسونه د خوراک نه پورته کړئ (يعنی ددېنه خوراک مه کوئ) .

نبي عليه السلام ددې يهودنۍ راوستلو پسې يو کس وراوليږل (هغه راغله) ، پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل :

أَسَمَمْتِ هٰذِهِ الشَّاةَ ؟ آيا تا ددې چيلۍ په غوښه کې زهر اچولي دي ؟

دې يهودنۍ ښځې ورته وويل :

مَنْ أَخْبَرَكَ ؟

تاسو ته چا خبر درکړو ؟ (چې په دې کې زهر دي) ، نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

أَخْبَرَتْنِيْ هٰذِهِ فِيْ يَدِيْ .

---

(۱) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ . قَالَ : كَانَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ يُحَدِّثُ أَنَّ يَهُودِيَّةً. مِنْ أَهْلِ خَيْبَرَ سَمَّتْ شَاةً مَصْلِيَّةً ثُمَّ أَهْدَتْهَا لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذِّرَاعَ . فَأَكَلَ مِنْهَا . وَأَكَلَ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِهِ مَعَهُ . ثُمَّ قَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اِرْفَعُوْا أَيْدِيَكُمْ ». وَأَرْسَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَهُوْدِيَّةِ فَدَعَاهَا . فَقَالَ لَهَا « أَسَمَمْتِ هٰذِهِ الشَّاةَ ؟ » قَالَتِ الْيَهُوْدِيَّةُ : مَنْ أَخْبَرَكَ ؟ قَالَ « أَخْبَرَتْنِيْ هٰذِهِ فِيْ يَدِيْ » لِلذِّرَاعِ . قَالَتْ : نَعَمْ . قَالَ « فَمَا أَرَدْتِ إِلَى ذٰلِكَ ؟ » قَالَتْ : قُلْتُ : إِنْ كَانَ نَبِيًّا فَلَنْ يَضُرَّهُ . وَإِنْ لَمْ يَكُنْ نَبِيًّا اِسْتَرَحْنَا مِنْهُ . فَعَفَا عَنْهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُعَاقِبْهَا... سنن ابي داؤد كتاب الديات باب فِيْمَنْ سَقَى رَجُلًا سُمًّا أَوْ أَطْعَمَهُ فَمَاتَ أَيُقَادُ مِنْهُ رقم الحديث ۴۵۱۰ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۶۰۰۸ ، مشكوة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ۵۹۳۱ .

ماته زما په دې لاس کې وريتې شوې غوښې خبر راکړو .

پيغمبر ﷺ د چيلۍ وريت شوي پټون طرف ته اشاره اوکړه ( چې دې راته داخبر راکړو ) ، نو دې يهودنړې ښځې اقرار اوکړو چې : آو ، ما په دې غوښه کې زهر اچولي دي .

پيغمبر ﷺ ورته وويل : فَمَا أَرَدْتِ إِلَى ذٰلِكَ ؟ ستا ددې نه څه اراده وه ؟

دې جواب ورکړو : ما د ځان سره په زړه کې ( دا سوچ کولو ، او دا مې ) وويل : که چيرته محمد ( ﷺ ) د الله ﷻ رېښتينې نبي وي نو دا زهر به ده ته نقصان او نه رسوي . او که ( رېښتينې ) نبي نه وي نو ( په دې زهرو به مړ شي او ) مونږ به ترې راحت حاصل کړو ( يعنې مونږ به ترې خلاص شو ) .

فَعَفَا عَنْهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُعَاقِبْهَا. (۱)

رسول الله صلی الله عليه وسلم دا معاف کړه ، او سزا يې ورته ورنکړه .

د حاکم په روايت کې دا هم ذکر دي چې کله صحابه کرامو ددې د خوړلو اراده اوکړه نو نبي عليه السلام دوی ته وفرمايل :

كُفُّوْا أَيْدِيَكُمْ فَإِنَّ عُضْوًا مِنْ أَعْضَائِهَا يُخْبِرُنِيْ أَنَّهَا مَسْمُوْمَةٌ . (۲)

تاسو خپل لاسونه د خوراک کولو نه پورته کړئ ، ځکه ددې وريت شوي ګډ يو اندام ماته خبر راکړو چې په دې کې زهر ګډ شوي دي .

---

(۱) وَلَمْ يُعَاقِبْهَا. په دې روايت او بعضې نورو روايتونو کې راځي چې نبي عليه السلام دا يهودنړه ښځه معاف کړه او هيڅ سزا يې ورنکړه ، په بعضې روايتونو کې راځي چې دې بيا ايمان راوړو . خو علامه طيبي رحمه الله ليکلي چې ددې په باره کې مختلف روايات راغلي ، ځکه په يو روايت کې دا هم ذکر دي چې نبي عليه السلام ددې د قتلولو حکم اوکړو . اوس په دې ټولو روايتونو کې تطبيق داسې دی چې نبي عليه السلام اول دا ښځه معاف کړه خو چې کله يو صحابي " حضرت بشير بن براء ﷺ " ددې غوښې د يوې نوړۍ خوړلو په وجه وفات شو ( کوم چې د نبي عليه السلام د مَنع کولو نه مخکې يوه نوړۍ تېره کړې وه او ددې زهرو په وجه وفات شو ) نو نبي عليه السلام ددې ښځې د قتلولو حکم اوکړو ، او ددې صحابي په قِصاص کې دا قتل کړې شوه . مظاهرحق شرح مشکوة ج۹ باب فی المعجزات .

(۲) المستدرک علی الصحيحين للحاکم كِتَابُ الْأَطْعِمَةِ رقم الحديث ۷۰۹۰ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . الخصائص الکبری ، واخرجه البيهقي وابونعيم .

**نوټ** : په دې حديث کې د پيغمبر عليه السلام دا معجزه ذکر شوه چې د چيلۍ وريتې شوې غوښې د وی ته د زَهرو موجوديدو اِطلاع ورکړه.

## د نبي ﷺ د خلې مبارکې أوبه په کوهي کې اچولو سره أوچ کوهي د اوبو نه ډکيدل

: بخاري شريف حديث دی، حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي ... د حُديبې په ورځ مونږ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره څوارلس سوه کسان وو، او حُديبيه يو کوهي دی، مونږ ټولو ددې أوبه (د اِستعمال د پاره) راويستې، پس مونږ په دې کې يو قَطره أوبه هم پرې نه خودې.

نبي عليه السلام ته دا خبره أورسيده (چې کوهي أوچ شوې دی، او د أوبو د ختميدو په وجه ټول لښکر پريشانه دی) نو رسولُ الله صلی الله عليه وسلم کوهي ته راغی، ددې په غاړه کيناست، بيا يې د أوبو يو لوخې راأوغوښته، أودس يې پرې أوکړو، د أودس نه پس نبي عليه السلام په خُله کې أوبه واچولې، دُعا يې اوکړه، بيا يې دا أوبه په دې کوهي واچولې (بيا يې صحابه کرامو ته حکم اوکړو چې دا کوهي لږ ساعت پريږدئ) صحابه کرام فرمايي چې مونږ دا کوهي لږ ساعت پريخود، بيا مونږ د خپلو ځانونو او ځاروو د پاره دومره ډيرې أوبه راأوويستې څومره چې مونږ غوښتل. (١)

صحابه کرام چې تر څو پورې دلته وو دوی ټولو به دا أوبه اِستعمالولې تر دې پورې چې دوی ددې ځای نه سفر اوکړو. (٢)

---

(١) عَنِ البَرَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنهُ. قَالَ .... كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ أَربَعَ عَشرَةَ مِائَةً. وَالحُدَيبِيَةُ بِئرٌ. فَنَزَحنَاهَا فَلَم نَترُك فِيهَا قَطرَةً. فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَتَاهَا. فَجَلَسَ عَلَى شَفِيرِهَا ثُمَّ « دَعَا بِإِنَاءٍ مِن مَاءٍ فَتَوَضَّأَ. ثُمَّ مَضمَضَ وَدَعَا ثُمَّ صَبَّهُ فِيهَا. فَتَرَكنَاهَا غَيرَ بَعِيدٍ. ثُمَّ إِنَّهَا أَصدَرَتنَا مَا شِئنَا نَحنُ وَرِكَابَنَا. صحيح البخاري كتاب المغازي باب غزوة الحديبية رقم الحديث ۴١٥٠، مشكاة المصابيح بابٌ في المعجزات الفصل الاول رقم الحديث ٥٨٨٣ (١٥).

(٢) فَأَروَوا أَنفُسَهُم وَرِكَابَهُم حَتَّى ارتَحَلُوا. صحيح البخاري كتاب المغازي باب غزوة الحديبية رقم الحديث ۴١٥١

# په غزوه حُنين کې د نبي ﷺ په يو موټي خاورې سره د څلور زره کافرانو دواړه سترګې د خاورو نه ډکيدل

د "مسلم شريف" حديث دی ، حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه فرمايي : مونږ صحابه کرام د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم سره په غزوه حُنين کې شريک وو ، د کافرانو د سختې حَملې په وجه (بعضې) صحابه کرام خواره شو .

کله چې کافران د هر طرف نه په رسولُ الله ﷺ باندې راغلل نو نبي ﷺ د خپل قچر نه راښکته شو ، بيا يې د زمکې نه يو موټې خاورې راواخيستې او دا يې د کافرانو مخونو طرف ته وَرَاوويشتې ، او وې فرمايل :

شَاهَتِ الْوُجُوْهُ. خراب (قبيح) دې شي مخونه د کافرانو .

فَمَا خَلَقَ اللهُ مِنْهُمْ إِنْسَانًا إِلَّا مَلَأَ عَيْنَيْهِ تُرَابًا بِتِلْكَ الْقَبْضَةِ . فَوَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ فَهَزَمَهُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ .

نو الله ﷻ په دوی کې داسې انسان پيدا کړې نه ؤ مګر د هغه دواړه سترګې په دې يو موټې خاورې سره د خاورو نه ډکې شوې (يعنې په دې يو موټې خاورې سره په څلورو زره ۴۰۰۰ کافرانو کې د هر کافر دواړه سترګې د خاورو نه ډکې شوې) پس دوی ټول په شا اُوتختيدل ، الله ﷻ دوی ته شِکست ورکړو .

بيا رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د دوی نه پاتې شوې مالِ غنيمت په مسلمانانو باندې تقسيم کړو . (۱)

---

(۱) وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رضي الله عنه قَالَ : غَزَوْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا فَوَلَّى صَحَابَةُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَلَمَّا غَشُوْا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ عَنِ الْبَغْلَةِ ثُمَّ قَبَضَ قَبْضَةً مِنْ تُرَابٍ مِنَ الْأَرْضِ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ بِهِ وُجُوْهَهُمْ . فَقَالَ : شَاهَتِ الْوُجُوْهُ . فَمَا خَلَقَ اللهُ مِنْهُمْ إِنْسَانًا إِلَّا مَلَأَ عَيْنَيْهِ تُرَابًا بِتِلْكَ الْقَبْضَةِ فَوَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ فَهَزَمَهُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ . وَقَسَمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَائِمَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ .
مشكاة المصابيح كتاب الفضائل والشمائل باب في المعجزات الفصل الاول رقم الحديث ٥٨٩١ (٢٤) ، صحيح مسلم كتاب الجهاد والسير باب في غزوة حنين رقم الحديث ١٧٧٧ ، وهكذا ذكر في مسند ابي داؤد الطيالسي رقم ١٤٦٨ .

**نوټ**: دا د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم معجزه ده چې په يو موټې خاورې سره د څلور زره کافرانو دواړه سترګې د خاورو نه ډکې شوی ، او ټول اوتختيده .

## نبي ﷺ د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه د مور د پاره د اسلام راوړلو دُعا اوکړه او سَمدستي قبوله شوه

د مسلم شريف حديث دی ، حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې ما به خپله مور اِسلام طرف ته رابلله ، ځکه دا مُشرکه وه ، يوه ورځ ما ( د خپل معمول مطابق ) هغه د اسلام قبلولو طرف ته رااوبلله نو هغې ماته د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په شان کې داسې خبرې راواورولی چې هغه ما بَدې ګڼړلی ( يعنی د نبي ﷺ د شان خلاف خبرې يې اوکړی ، خو چونکه زما مور وه نو بې اَدبي مې يې هم نه شوه کولی ) . نو زه په ژړا باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلم ، او ورته مې ووېل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ كُنْتُ أَدْعُوْ أُمِّيْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَتَأْبٰى عَلَيَّ . فَدَعَوْتُهَا الْيَوْمَ فَأَسْمَعَتْنِيْ فِيْكَ مَا أَكْرَهُ . فَادْعُ اللهَ أَنْ يَهْدِيَ أُمَّ أَبِيْ هُرَيْرَةَ .

اې د الله رسوله ! ما به خپله مور اِسلام طرف ته رابلله خو دې به اِنکار کولو ، نن چې ما هغې ته د اِسلام دعوت ورکړو نو هغې راته ستاسو متعلق داسې خبرې راواورولی چې زه هغه بدې ګڼړم ، لهذا تاسو د الله جل جلاله نه دُعا اوغواړئ چې د ابوهريرة ( يعنی زما ) مور ته هدايت اوکړي .

رسولُ الله ﷺ ( دُعا کولو سره ) وفرمايل :

اَللّٰهُمَّ اهْدِ أُمَّ أَبِيْ هُرَيْرَةَ . اې الله ! د ابوهريرة مور ته هدايت اوکړه .

د نبي کريم ﷺ په دُعا کولو سره زه ډير خوشحاله شوم ، او د هغه ځای نه واپس راغلم ، د خپلې مور کور طرف ته روان شوم ، کله چې دَروازې ته رااورسيدم نو دَروازه بنده وه ، زما مور زما د قدمونو آواز واوريده ، نو هغې د دننه نه ووېل : مَكَانَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ .

اې ابوهريره ! په خپل ځای اُودرېږه ( څه وخت انتظار اوکړه ، اوس کور ته مه راننوزه ) .

حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې ما د اوبو غورځيدو آواز واوريد . پس زما مور غُسل اوکړو ، جامې يې واچولې ، د ډيرې تادۍ ( جَلتي ) په وجه د لوپټې اچولو نه بغير دَروازې ته راغله ، دورازه يې کلاؤ کړه ، بيا يې وويل :

يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ .

اې ابوهريرة ! زه دا ګواهي ورکوم چې نشته دې لائق د عبادت مګر صرف يو الله جل جلاله دی ، او زه دا ګواهي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او د هغه رسول دی .

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې ( کله ما د خپلې مور اسلام قبلول اُوليده نو ) زه د ډيرې خوشحالۍ په وجه په ژړا شوم ، او د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم دَربار ته حاضر شوم ، ورته مې وويل : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَبْشِرْ قَدِ اسْتَجَابَ اللهُ دَعْوَتَكَ وَهَدٰى أُمَّ أَبِيْ هُرَيْرَةَ .

اې د الله رسوله ! زيرې قبول کړه ( خوشحاله شه ) الله جل جلاله ستاسو دُعا قبوله کړه ، او د ابوهريرة مور ته يې هدايت وکړو .

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله تعالی حمد او ثناء بيان کړه ، او ښه يې وويل ( يا دا چې د خير جُمله يې وويله ) . (۱)

---

(۱) حَدَّثَنِيْ أَبُوْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : كُنْتُ أَدْعُوْ أُمِّيْ إِلَى الْإِسْلَامِ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ . فَدَعَوْتُهَا يَوْمًا فَأَسْمَعَتْنِيْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَكْرَهُ . فَأَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِيْ . قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ كُنْتُ أَدْعُوْ أُمِّيْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَتَأْبٰى عَلَيَّ . فَدَعَوْتُهَا الْيَوْمَ فَأَسْمَعَتْنِيْ فِيْكَ مَا أَكْرَهُ . فَادْعُ اللهَ أَنْ يَهْدِيَ أُمَّ أَبِيْ هُرَيْرَةَ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « اَللّٰهُمَّ اهْدِ أُمَّ أَبِيْ هُرَيْرَةَ » فَخَرَجْتُ مُسْتَبْشِرًا بِدَعْوَةِ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَلَمَّا جِئْتُ فَصِرْتُ إِلَى الْبَابِ . فَإِذَا هُوَ مُجَافٌ . فَسَمِعَتْ أُمِّيْ خَشْفَ قَدَمَيَّ . فَقَالَتْ : مَكَانَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ . وَسَمِعْتُ خَضْخَضَةَ الْمَاءِ . قَالَ : فَاغْتَسَلَتْ وَلَبِسَتْ دِرْعَهَا وَعَجِلَتْ عَنْ خِمَارِهَا . فَفَتَحَتِ الْبَابَ . ثُمَّ قَالَتْ : يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ . وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ . قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَأَتَيْتُهُ وَأَنَا أَبْكِيْ مِنَ الْفَرَحِ . قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَبْشِرْ قَدِ اسْتَجَابَ اللهُ دَعْوَتَكَ وَهَدٰى أُمَّ أَبِيْ هُرَيْرَةَ . فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ وَقَالَ خَيْرًا . صحيح مسلم كتاب فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ بَابٌ مِنْ فَضَائِلِ أَبِيْ هُرَيْرَةَ الدَّوْسِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث ۱۵۸ ( ۲۴۹۱ ) ، مشكاة المصابيح كتاب الفضائل والشمائل باب في المعجزات الفصل الاول رقم الحديث ۵۸۹۵ .

# د باران په حق کې دعا کول او سمدستي قبليدل

د بخاري او مسلم شريف حديث دی، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي:
چې يو کرت د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې د خشک سالۍ په وجه قحط راغی، په دغه ورځو يو ځل نبي کريم صلی الله عليه وسلم (په مسجد نبوي کې) د جمعې په ورځ خطبه ورکوله، چې يو اعرابي أودريده او رسولُ الله ﷺ ته يې (په ولاړه) ووېل:
يَا رَسُولَ اللهِ! هَلَكَ الْمَالُ وَجَاعَ الْعِيَالُ. فَادْعُ اللهَ لَنَا.
اې د الله رسوله! مال (څاروي، باغونه، د اوبو د نشت والي په وجه) تباه شو، او اهل و عيال مو د اولږې د وجې ژاړي، پس تاسو د الله تعالی نه زمونږ د پاره دعا اوغواړئ.
(دې أوريدو سره) نبي عليه السلام د دعا د پاره دواړه لاسونه مبارک پورته کړل، په دغه وخت کې په آسمان باندې د وريځې يوه ټوټه هم مونږ ته په نظر نه راتله.
(حضرت انس رضي الله عنه قسم کوي) قسم په هغه ذات د چا په قبضه کې چې زما ساه ده چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم لاسونه مبارک د دعا نه نهٔ ښکته کړي چې د غرونو په شان وريځ راپورته شوه، او نبي عليه السلام لا تر اوسه د ممبر نه نهٔ راکوز شوی تر دې چې ما اوليده چې د باران اوبه د دوی په ږيره مبارکه باندې راغورځيدل شروع شو (او اوبه د نبي عليه السلام د ږيرې مبارکې نه راڅڅيدی).
په مونږ باندې په دغه ورځ هم باران اوشو، په صبا، په بل صبا حتی چې د راتلونکې جمعې پورې مسلسل په مونږ باندې باران رااوورېده.
(کله چې د مسلسل باران کيدو په وجه خلقو ته نقصان رسيدل شروع شو نو) په راتلونکې جمعه باندې د خطبې په دوران کې همدغه اعرابي (يا بل کس) أودريده، او نبي عليه السلام ته يې وفرمايل:
يَا رَسُوْلَ اللهِ! تَهَدَّمَ الْبِنَاءُ وَغَرِقَ الْمَالُ. فَادْعُ اللهَ لَنَا.
اې د الله رسوله! کورونه وران شو، او مال و اسباب غرق شو، لهذا تاسو زمونږ د پاره د الله ﷻ نه (د باران د اودريدو) دعا اوغواړئ.

حضور صلی الله علیه وسلم خپل دواړه لاسونه مبارک د دُعا د پاره پورته کړل، او دا دُعا یې اوغوښته :

اَللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا .

اې الله ! ( دا باران ) زمونږ په اَطرافو ( یعنی پټو او باغونو ) باندې اووَروه، زمونږ په کورونو باندې یې مه وَروه .

( ددې دُعا نه پس ) نبي کریم صلی الله علیه وسلم به چې لاس مُبارک شره کومې وریځې طرف ته اشاره کوله هغه طرف به ( د وریځې نه ) مکمل صفا شو، تر دې پورې چې ټوله مدینه منوّره د یو ګول تالاب په شان شوه ( یعنی د مدینې مُنوّرې د آبادۍ د پاسه وریځ بالکل نه وه ، مَطلع بالکل صفا وه ، خو ګیرچاپیره ګلور واړه طرفه وریځې وی ، باران به ترې کیدلو ) .

د ګیر چاپیره مسلسل بارانونو په وجه د مدینې مُنوّرې " قناة " نالې تر د یوې میاشت پورې بهیدله ، او دا َطرافو نه به چې کوم کس مدینې منوّرې ته راغی ، نو هغه به ( په اَطرافو کې ) د ډیر باران خبر ورکولو . (١)

---

(١) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ : أَصَابَتِ النَّاسَ سَنَةٌ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَبَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ . قَامَ أَعْرَابِيٌّ . فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! هَلَكَ الْمَالُ وَجَاعَ الْعِيَالُ . فَادْعُ اللهَ لَنَا . فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَمَا نَرَى فِي السَّمَاءِ قَزَعَةً . فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ . مَا وَضَعَهَا حَتَّى ثَارَ السَّحَابُ أَمْثَالَ الْجِبَالِ . ثُمَّ لَمْ يَنْزِلْ عَنْ مِنْبَرِهِ حَتَّى رَأَيْتُ الْمَطَرَ يَتَحَادَرُ عَلَى لِحْيَتِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَمُطِرْنَا يَوْمَنَا ذٰلِكَ . وَمِنَ الْغَدِ وَبَعْدَ الْغَدِ . وَالَّذِي يَلِيهِ . حَتَّى الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى . وَقَامَ ذٰلِكَ الْأَعْرَابِيُّ أَوْ قَالَ غَيْرُهُ . فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! تَهَدَّمَ الْبِنَاءُ وَغَرِقَ الْمَالُ . فَادْعُ اللهَ لَنَا . فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ : « اَللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا » فَمَا يُشِيرُ بِيَدِهِ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ السَّحَابِ إِلَّا انْفَرَجَتْ . وَصَارَتِ الْمَدِينَةُ مِثْلَ الْجَوْبَةِ . وَسَالَ الْوَادِي قَنَاةُ شَهْرًا . وَلَمْ يَجِئْ أَحَدٌ مِنْ نَاحِيَةٍ إِلَّا حَدَّثَ بِالْجَوْدِ . صحيح البخاري كتاب الجمعة بَابُ الإِسْتِسْقَاءِ فِي الْخُطْبَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رقم الحديث ٩٣٣ ، و رقم ١٠٣٣ ، صحيح مسلم رقم الحديث ٨٩٧ باب الدعاء في الاستسقاء ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٩٠٢ (٣٥) .

# د نبي ﷺ د لاس مبارک راښکلو او دُعا په برکت سره د اُوچې چيلۍ په غولانځه کې شوده پيدا کيدل

د مشکوة شريف حديث دی ، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د مکې مکرمې نه د وتلو حکم اوشو ، او مدينې منورې ته د هجرت کولو د پاره روان شو .

نو دوی په خپله ، حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ، د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه غلام "عامر بن فُهيرة" او دوی ته د مدينې منورې لارخودونکې عبدالله الليثيّ ( دا څلور وارو په سفر روان وو ) د دوی تيريدل د اُمّ معبد رضي الله عنها په دوه خېمو باندې اوشو . (١)

دوی ددې خېمو واله نه د څه غوښې او قجورو متعلق پوښتنه اوکړه چې دا ورنه په قيمت باندې واخلي ، خو دوی ورسره په دې شيانو کې هيڅ هم پيدا نکړه ، ځکه په دغه وخت کې خلق د قحط سالۍ او بې سَر و سامانۍ ښکار وو ( يعنی په خلقو باندې قحط سالي وه ، د چا سره د خوراک ډير څه نه پيدا کيدل ) .

ناڅاپه د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم نظر په يوه چيلۍ باندې پريوَت کومه چې د خېمې په يو ګوټ کې ( ولاړه ) وه ، نبي عليه السلام پوښتنه اوکړه :

مَا هٰذِهِ الشَّاةُ يَا اُمَّ مَعْبَدٍ ؟

اې اُمّ معبد ! په دې چيلۍ څه شوي ؟

هغې ورته وويل : ددې کمزورۍ دا د نورو چيلو سره د تللو نه پاتې کړې ده ( يعنی دا دومره کمزورې ده چې د ډيرې کمزورتيا په وجه دا د نورو چيلو سره د څريدلو د پاره نشي تللی ، نو ځکه دلته ولاړه ده ) ، حضور ﷺ ورنه پوښتنه اوکړه :

هَلْ بِهَا مِنْ لَبَنٍ ؟

آيا په دې کې څه شوده ( پَی ) شته ؟

(١) اُم معبد ډيره ميلمه دوسته زَنانه وه ، خپل نوم يې عاتکه بنت خالد خزاعيه وُ ، د نبي عليه السلام معجزه يې چې اُوليده نو بيا يې اسلام راوړو . مظاهر حق شرح مشکوة ج ٩ باب في المعجزات .

اُمّ معبد رضي الله عنها ورته جواب ورکړو : په کوم مصيبت کې چې دا مُبتلاء ده په دې کې به شوده د کوم ځای نه راشي ( يعنی په دې کې د لږو شودو ورکولو صلاحيت هم نشته )

نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

أَتَأْذَنِينَ لِي أَنْ أَحْلِبَهَا ؟

آيا ته ماته اجازت راکوی چې زه دا راأولوشم ؟

اُمّ معبد ﷺ ورته وويل : زما مور او پلار دې په تاسو قربان وي که تاسو په دې کې شوده ګوری نو راوې لوشئ .

نبي کريم صلی الله عليه وسلم ( دې اوريدو سره ) دا چيلۍ راأوغوښته ، خپل لاس مُبارک يې د هغې په غُلانځه راښکود ، د الله ﷻ نوم يې واخيست ( يعنی بسم الله يې وويله ) او د اُمّ معبد د پاره يې په دې چيلۍ کې د برکت دُعا اوکړه .

نو چيلۍ د شوده ورکولو د پاره خپلې خپې کلاؤ کړې ، (١) بيا دې چيلۍ شوده بَهيُول، او شخوَند وهل يې شروع کړو .

بيا حضور صلی الله عليه وسلم دومره لوخې راأوغوښت چې يو جماعت پرې مړيدې شي ، په هغه لوخي کې يې دا بَهيدونکي شوده راأولوَشل ، تر دې پورې چې د شودو (پيو) زګ د لوخي پاس سَر ته راأورسيده .

بيا حضور صلی الله عليه وسلم دا شوده اول په اُمّ معبد باندې اُوڅکل ، تر دې پورې چې هغه په دې شودو ښه مړه شوه ، بيا يې په خپلو ملګرو اُوڅکل ، هغوی هم پرې ښه ماړه شو، بيا يې په آخِر کې په خپله اُوڅکل .

بيا نبي ﷺ د اول ځل نه پس په دويم ځل په دې لوخي کې شوده راأولوَشل تر دې پورې چې دا لوخې ( دوباره ) ډک شو ، بيا رسولُ الله صلی الله عليه وسلم دا شوده اُمّ معبد

(١) د هر شوده ورکوونکي حيوان دا عادت وي چې د لوَشلو په وخت دواړه خپې کلاووي .

فَتَفَاجَّتْ : التفاج : اَلْمُبَالَغَةُ فِي تَفْرِيْجِ مَا بَيْنَ الرِّجْلَيْنِ . النهاية ٣/٤١٢ ، كنزالعمال في تشريح رقم الحديث ٣٦٣٠٠ .

رضي الله عنها ته پريخوده ( چې خپل خاوند ته هم دا معجزه اُوښايي ) ، بيا حضور صلى الله عليه وسلم اُمّ معبد مُسلمانه کړه ، او ددې نه پس ( د مدينې په طرف ) روان شو . (١)

## د نبي ﷺ د سورلۍ په برکت سست رفتاره اس هم تېز رفتاره شو

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې يو ځل اهلِ مدينې واله ( د غلو يا د دُشمن خطره محسوسولو سره د شپې ) اُوېرېدل ( او ژړا فرياد يې شروع کړو ) ، نبي عليه السلام ( د صحيح صورتِ حال معلومولو د پاره ) د حضرت ابو طلحة رضي الله عنه په اَس باندې سور شو ، خو دا اَس ډېر سست رَفتاره ؤ ( نبي عليه السلام هغې طرف ته لاړو د کوم طرف نه چې خطره محسوسيده ) ، کله چې رسول الله ﷺ راواپس شو نو حضرت ابو طلحه رضي الله عنه ته يې وفرمايل :

وَجَدْنَا فَرَسَكُمْ هٰذَا بَحْرًا .

مونږ خوستا دا اَس د اُوبو په شان تېز رَفتاره ( او کُشاده قدم واله ) اُوموندو .

---

(١) عَن حَازِمِ بْنِ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ حُبَيْشِ بن خَالِد وَهُوَ أَخُو أُمِّ مَعْبَد أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ أُخْرِجَ مِنْ مَكَّةَ خَرَجَ مُهَاجِرًا إِلَى الْمَدِيْنَةِ هُوَ وَأَبُوْ بَكْرٍ وَمَوْلَى أَبِيْ بَكْرٍ عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ وَدَلِيْلُهُمَا عَبْدُ اللهِ اللَّيْثِيْ مَرُّوْا عَلَى خَيْمَتَيْ أُمِّ مَعْبَدٍ . فَسَأَلُوْهَا لَحْمًا وَتَمْرًا لِيَشْتَرُوْا مِنْهَا . فَلَمْ يُصِيْبُوْا عِنْدَهَا شَيْئًا مِنْ ذٰلِك ، وَكَانَ الْقَوْمُ مُرْمِلِيْنَ مُسْنِتِيْنَ . فَنَظَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى شَاةٍ فِيْ كِسْرِ الْخَيْمَةِ . فَقَالَ : « مَا هٰذِهِ الشَّاةُ يَا أُمَّ مَعْبَدٍ ؟ » قَالَتْ : شَاةٌ خَلَّفَهَا الْجَهْدُ عَنِ الْغَنَمِ . قَالَ : « هَلْ بِهَا مِنْ لَبَنٍ ؟ » قَالَتْ : هِيَ أَجْهَدُ مِنْ ذٰلِكَ . قَالَ : « أَتَأْذَنِيْنَ لِيْ أَنْ أَحْلِبَهَا ؟ » قَالَتْ : بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ إِنْ رَأَيْتَ بِهَا حَلَبًا فَاحْلُبْهَا . فَدَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَسَحَ بِيَدِهِ ضَرْعَهَا وَسَمَّى اللهَ تَعَالَى وَدَعَا لَهَا فِيْ شَاتِهَا . فَتَفَاجَّتْ عَلَيْهِ وَدَرَّتْ وَاجْتَرَّتْ . فَدَعَا بِإِنَاءٍ يُرْبِضُ الرَّهْطَ . فَحَلَبَ فِيْهِ ثَجًّا حَتّٰى عَلَاهُ الْبَهَاءُ . ثُمَّ سَقَاهَا . حَتّٰى رَوِيَتْ . وَسَقَى أَصْحَابَهُ حَتّٰى رَوُوْا ثُمَّ شَرِبَ آخِرَهُمْ . ثُمَّ حَلَبَ فِيْهِ ثَانِيًا بَعْدَ بَدْءٍ حَتّٰى مَلَأَ الْإِنَاءَ . ثُمَّ غَادَرَهُ عِنْدَهَا وَبَايَعَهَا وَارْتَحَلُوْا عَنْهَا . مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٩٤٣ ، وَرَوَاهُ الْبغوي فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ كتاب الفضائل باب جامع صِفَاته صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَابْنُ عَبْدِ الْبَرِّ فِيْ « الاِسْتِيعَابِ » وَابْنُ الْجَوْزِيِّ فِيْ كِتَابِ « الْوَفَاءِ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٤٢٧٤ ، كنز العمال رقم الحديث ٣٦٣٠٠ .

فَكَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ لَا يُجَارٰى . (۱)

(د نبي عليه السلام د سورلۍ په برکت) ددې نه پس دا آس دومره تېز رفتاره شو چې بيا به هيڅ يو آس ددې سره مَنډه نه شوه وهلی .

په يو روايت کې راځي :

فَمَا سُبِقَ بَعْدَ ذٰلِكَ الْيَوْمِ . (۲)

ددې ورځې نه پس هيڅ آس دده نه ندې مخکې شوی .

## د هجرت په موقع د معجزې ښکاره کېدل

### ( د سُراقه بن مالک نه د حفاظت واقعه )

د بخاري شريف حديث دی ، ( حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د غارِ ثور نه د وتلو نه پس مدينې منورې ته د هجرت کولو واقعه بيانوي ) .... کله چې د نمر زائله کيدو نه پس مونږ سفر شروع کړو ، نو مونږ پسې شاته سُراقه بن مالک راغی (۳) ، ما نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته وويل : اې د الله رسوله ! دُشمن زمونږ د نيولو د پاره راغلې دی ، حضور صلی الله علیه وسلم راته وفرمايل

لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا .

غم مه کوه ، بيشکه الله جل جلاله د مونږ سره دی .

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ أَهْلَ الْمَدِينَةِ فَزِعُوا مَرَّةً . فَرَكِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا لِأَبِي طَلْحَةَ كَانَ يَقْطِفُ . أَوْ كَانَ فِيهِ قِطَافٌ . فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ : « وَجَدْنَا فَرَسَكُمْ هٰذَا بَحْرًا . فَكَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ لَا يُجَارٰى . صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ الْفَرَسِ الْقَطُوفِ رقم الحديث ۲۸٦۷ ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ۵۹۰۵ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ السُّرْعَةِ وَالرَّكْضِ فِي الْفَزَعِ رقم الحديث ۲۹٦۹ ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ۵۹۰۵ .

(۳) د مکې قريشو اِعلان کړې وُ چې : که چا مونږ له محمد ( صلی الله علیه وسلم ) لاس نيولې راوست نو مونږ به هغه ته د اِنعام په طور سل ( ۱۰۰ ) اوښان ورکوو ، سُراقه بن مالک هم په همدې لالچ باندې د نبي عليه السلام د تلاش پسې راوتې وُ ، اگر چې دا سُراقه د فتحِ مکې نه پس مسلمان شوې وُ . مظاهر حق شرح مشکوة ج۹ .

( سُراقه د نبي عليه السلام د نيولو اِراده اوکړه نو ) نبي ﷺ سراقه ته خېرې اوکړې نو د سُراقه آس دده سره په زمکه کې د خېټې پورې غرق شو .

سُراقه ووېل : زه پوهېږم چې تاسو دواړو ماته خېرې اوکړې ، لهذا اوس تاسو ماته دُعا اوکړئ ( چې ددې عذاب نه خلاص شم ) زه الله ﷻ ګواه جوړولو سره دا کلکه وعده کوم چې کافران به د تاسو پسې د تلاش کولو نه منع کوم .

بيا نبي عليه السلام ده ته دُعا اوکړه نو هغه ددې غَرقيدو نه نجات اوموندو . ( سُراقه بن مالک واپس روان شو (١) ) ، کله به چې د مکې په کافرانو کې کوم کافر د سُراقه سره ( په لاره کې ) ملاؤ شو او د نبي عليه السلام تلاش به يې کولو نو سُراقه به ورته ووېل :

ستاسو د پاره زما تلاش کافي دی ، ما تر ډيره لرې پورې تلاش کړی خو ما دوی ندي ليدلي ( لهذا تاسو د هغوی د تلاش کولو پسې مه ځي ) ، همدغه شان هر کافر به چې سُراقه ليدلو نو هغه به يې واپس کولو ، دا ځکه چې ده د نبي عليه السلام سره کومه وعده کړې وه هغه يې پوره کړه . (٢)

(١) په بعضې رواياتو کې راځي چې د سُراقه آس نيم په زمکه کې د ډُوبيدو نه پس ده نبي عليه السلام ته د دُعاؤ درخواست اوکړو ، پيغمبر عليه السلام ورته دُعا اوکړه او د غرق کيدو نه بَچ شو ، نو ده په دويم ځل د نبي ﷺ د نيولو اِراده اوکړه نو بيا يې آس تر د خېټې پورې غرق شو ، ده بيا د دُعاؤ درخواست اوکړو ، کله چې د نبي عليه السلام د دُعاؤ په وجه ورته نِجات حاصل شو نو ده په دريم ځل د نبي ﷺ د نيولو اِراده اوکړه نو د خپل آس سره په زمکه کې په غرقيدو شو ، ده بيا ډير مِنّت او زاری اوکړی ، د نبي عليه السلام په دُعاؤ ورته نِجات حاصل شو . نو بيا د خپلې اِرادې نه منع شو ، او واپس لاړ ، بيا به په لاره کې چې کوم کافران دده سره ملاويده نو هغه به يې هم واپس کول. مظاهر حق شرح مشکوة ج٩ .

(٢) حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه فرمايي ... فَارْتَحَلْنَا بَعْدَ مَا مَالَتِ الشَّمْسُ . وَاتَّبَعَنَا سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ . فَقُلْتُ : أُتِينَا يَا رَسُوْلَ اللهِ . فَقَالَ: « لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللهَ مَعَنَا » فَدَعَا عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَطَمَتْ بِهِ فَرَسُهُ إِلَى بَطْنِهَا أُرَى فِي جَلَدٍ مِنَ الأَرْضِ . شَكَّ زُهَيْرٌ - فَقَالَ : إِنِّي أُرَاكُمَا قَدْ دَعَوْتُمَا عَلَيَّ . فَادْعُوَا لِي . فَاللهُ لَكُمَا أَنْ أَرُدَّ عَنْكُمَا الطَّلَبَ . فَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَجَا . فَجَعَلَ لَا يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا قَالَ : قَدْ كَفَيْتُكُمْ مَا هُنَا . فَلَا يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا رَدَّهُ . قَالَ : وَوَفَى لَنَا . صحيح البخاري كتاب المناقب بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ فِي الإِسْلَامِ رقم الحديث ٣٦١٥ ، صحيح مسلم رقم الحديث ٢٣٠٩ باب في حديث الهجرة ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٨٦٩ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٣٧٦٦ .

## د نبي عليه السلام پيشن ګويانې صادقيدل

رسول الله صلى الله عليه وسلم چې د کوم شي يا کوم کار متعلق پيشن ګويي يعنى د مخکې نه خبر ورکړى هغه خبر هماغه شان صادق شوى ، او دا د نبي عليه السلام معجزه وه . اګر چې ددې متعلق په صحيح اَحاديثو کې دومره ډير واقعات موجود دي چې هغه ټول راجَمع کول د انسان د وَس نه بهر دي ، خو زه به درته صرف د نمونې د پاره د يو څو پيشَن ګويانو صادِقيدل بيان کړم :

### ۱. د يو کس متعلق خبر ورکول چې د مرګ نه پس به دا زمکه نه قبلوي

صاحب د مشکوٰة د بخاري او مسلم شريف په حواله دا واقعه رانقل کړى ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي :

چې يو کس ؤ ، نبي کريم صلى الله عليه وسلم له به يې وَحي ليکله ، څه وخت پس مُرتَد شو د اِسلام نه واوړيد ، او د مشرکينو سره يو ځاى شو ، نبي عليه السلام ددې کس متعلق وفرمايل :

إِنَّ الْأَرْضَ لَا تَقْبَلُهُ .

بيشکه ( د وفات کيدو نه پس ) زمکه به دا قبول نه کړي ( بلکه دده لاش به بهر ته راغورځوي ) .

حضرت انس ﷺ فرمايي چې ماته ابوطلحة ﷺ دا خبر راکړو چې کله زه هغه علاقې ته لاړم چيرته چې دا مُرتد کس مړ شوې ؤ نو دده دا مُرتد اُوليده چې د قبر نه بهر پروت ؤ ، دده د خلقو نه پوښتنه اوکړه :

مَا شَأْنُ هٰذَا ؟

په ده څه شوي چې د قبر نه بهر پروت دى ؟

د هغه ځاى خلقو ورته وويل :

دَفَنَّاهُ مِرَارًا فَلَمْ تَقْبَلْهُ الْأَرْضُ .

مونږ دا کس څو پېرې دفن کړو خو لیکن دې زمکې قبول نه کړو ( هر ځل چې دا دفن کړو او بیا راشو نو دا د قبر نه بهر پروت وي ، آخِر مونږ تَنګ شو او بغیر د ځخولو نه مو همداسې پریخود . (١)

**تشریح** : دا مُرتد کس اول نَصراني (عیسائي) ؤ ، بیا یې اِیمان راوړو مسلمان شو ، دې چونکه په لیکلو باندې پوهیده نو ځکه حضور صلی الله علیه وسلم د وَحي په لیکلو مقرر کړو ، په څه وجه د اِسلام نه مُرتَد شو ، دوباره عیسائي شو ، او د مشرکانو په صَف شامل شو . نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې خبر شو نو خفه شو او ژبې مُبارکې نه یې د دې متعلق دا اَلفاظ اُووتل :

إِنَّ الْأَرْضَ لَا تَقْبَلُهُ .

بېشکه ( د مَړ کیدو نه پس ) زمکه به دا قبول نه کړي ، بلکه دده لاش به بهَر راأوغورځوي .

---

(١) وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : إِنَّ رَجُلًا كَانَ يَكْتُبُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَدَّ عَنِ الْإِسْلَامِ وَلَحِقَ بِالْمُشْرِكِيْنَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّ الْأَرْضَ لَا تَقْبَلُهُ » . فَأَخْبَرَنِي أَبُوْ طَلْحَةَ أَنَّهُ أَتَى الْأَرْضَ الَّتِي مَاتَ فِيْهَا فَوَجَدَهُ مَنْبُوْذًا . فَقَالَ : مَا شَأْنُ هٰذَا ؟ فَقَالُوْا : دَفَنَّاهُ مِرَارًا فَلَمْ تَقْبَلْهُ الْأَرْضُ . مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٨٩٨ .

په بخاري شریف کې دا واقعه په دې الفاظو ذکر ده : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . قَالَ : كَانَ رَجُلٌ نَصْرَانِيًّا فَأَسْلَمَ . وَقَرَأَ الْبَقَرَةَ وَآلَ عِمْرَانَ . فَكَانَ يَكْتُبُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَعَادَ نَصْرَانِيًّا . فَكَانَ يَقُوْلُ : مَا يَدْرِيْ مُحَمَّدٌ إِلَّا مَا كَتَبْتُ لَهُ فَأَمَاتَهُ اللهُ فَدَفَنُوْهُ . فَأَصْبَحَ وَقَدْ لَفَظَتْهُ الْأَرْضُ . فَقَالُوْا : هٰذَا فِعْلُ مُحَمَّدٍ وَأَصْحَابِهِ لَمَّا هَرَبَ مِنْهُمْ . نَبَشُوْا عَنْ صَاحِبِنَا فَأَلْقَوْهُ . فَحَفَرُوْا لَهُ فَأَعْمَقُوْا . فَأَصْبَحَ وَقَدْ لَفَظَتْهُ الْأَرْضُ . فَقَالُوْا : هٰذَا فِعْلُ مُحَمَّدٍ وَأَصْحَابِهِ . نَبَشُوْا عَنْ صَاحِبِنَا لَمَّا هَرَبَ مِنْهُمْ فَأَلْقَوْهُ . فَحَفَرُوْا لَهُ وَأَعْمَقُوْا لَهُ فِي الْأَرْضِ مَا اسْتَطَاعُوْا . فَأَصْبَحَ وَقَدْ لَفَظَتْهُ الْأَرْضُ . فَعَلِمُوْا : أَنَّهُ لَيْسَ مِنَ النَّاسِ . فَأَلْقَوْهُ .

صحيح البخاري كتاب المناقب بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ فِي الْإِسْلَامِ رقم الحديث ٣٦١٧ ، صحيح مسلم كِتَابُ صِفَاتِ الْمُنَافِقِيْنَ وَأَحْكَامِهِمْ رقم الحديث ٢٧٨١ ، سنن ابي داؤد رقم ٢١٣٢ .

بيا همداسې اوشو : کله چې دا مُرتد مړ شو او مشرکينو دې خخ کړو نو سهر دده لاش د قبر نه بهر پروت ؤ . مشرکينو وويل :

دا کار د محمد (ﷺ) ملګرو کړی چې دده قبر يې سپړلی ، او دده لاش يې بهر راغورځولی .

نو مشرکينو په ډير محنت سره دده د پاره ډير ژَوَر قبر اوکنيسته او په هغې کې يې خخ کړو . صبا سهَر چې راغلل نو وې کته چې لاش يې بيا د قبر نه بهَر پروت دی ، دوی پوهه شو چې دا د محمد (ﷺ) د ملګرو کارندی . نو دوی مايُوسه شو لاش يې همداسې بهَر پريخود او نور ورنه لاړل . (۱)

## ۲ . د يو کس متعلق د جهنمي کيدو خبر ورکول

د بخاري شريف حديث دی ، حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي :

مونږ د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم سره په غزوه خيبر کې شريک وو (۲) ( د جنګ شروع کيدو نه مخکې ) رسولُ الله ﷺ د خپل لښکر په خلقو کې دداسې يو کس متعلق " کوم چې د اِسلام دعوئ کوله " اوفرمايل :

هٰذَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ .

دا سړي جهَنَمي ( دُوزخي ) دی . (۳)

کله چې جنګ شروع شو نو دې کس ( د کافرانو په مقابله کې ) ډير سخت جنګ اوکړو ، او ډير زيات زخمي هم شو ، ليکن بيا هم په جنګ کې ثابت قدَمه پاتې شو .

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په صحابه ؤ کې يو کس راغی او ( اِظهارِ تعجّب په طور) عرض يې اوکړو :

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج ۹ .

(۲) نوټ : په مشکوة شريف کې د غزوه حُنين تذکره ده .

(۳) ددې کس نوم قرمان ؤ . دا يو منافق ؤ . اګر چې دده منافق کيدل ظاهر نه وو . مظاهر حق ج۹

يَا رَسُوْلَ الله ! أَرَأَيتَ الَّذِي تَحَدَّثْتَ أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ قَدْ قَاتَلَ فِي سَبِيْلِ اللهِ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ فَكَثُرَتْ بِهِ الجِرَاحُ .

اې د الله رسوله ! آيا د هغه كس متعلق تاسو ته معلومه ده چې د هغه په باره كې تاسو فرمايلي وو چې هغه جهنمي دى ، حالانكه ( د هغه ظاهري حال دادى چې ) هغه د الله ﷻ په لاره كې سخت جنګ اوكړو ، او ډير زيات زخمي شو ( نو ددې نه خو د هغه ظاهرًا جنتي كيدل معلوميږي ) .

نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

أَمَا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ .

خبردار ، هغه جهنمي دى . ( ځكه اعتبار آخري خاتمې له وي ) .

قريبه وه چې بعضې ضعيفُ الإيمان واله مسلمانان ( د نبي كريم ﷺ ددې پيشن ګويۍ په باره كې ) په شک و شبهه كې مبتلاء شوي وى ، په دې دوران كې ناڅاپه خلقو اوليده چې دې كس د خپلو زخمونو تكليف برداشت نكړې شو نو خپل لاس يې ترکش ته داخل كړو ، د هغې نه يې يو غشې رااوويست ، او هغه يې په خپله سينه كې ننويست ( او ځان يې پرې ذبح كړو ، يعنى خودكشي يې اوكړه ) . (١)

ډير مسلمانان رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته په منډه راغلل ، او ورته وې ويل : اې د الله رسوله ! الله تعالى ستاسو خبره ريښتيني كړه ( چې دا كس جهنمي دى ) ، هغه كس خپله سينه په خپله اوڅيرله ، او په خپله يې خپل ځان قتل كړو ( يعنى خود كشي يې اوكړه ) .

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

---

(١) د بخاري شريف په روايت كې ذكر دي : فَجَعَلَ ذُبَابَةَ سَيْفِهِ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ حَتَّى خَرَجَ مِنْ بَيْنِ كَتِفَيْهِ . دې سړي د خپلې توري تېره طرف په خپله سينه كې كيښود ، او د برَه نه يې پرې زور اوكړو تر دې چې توره يې شاته اولو طرف ته اووته او مړ شو . صحيح البخاري كتاب القدر بَابٌ: العَمَلُ بِالخَوَاتِيمِ رقم الحديث ٦٦٠٧ .

تطبيق : خو په دې دواړو روايتونو كې هيڅ تضاد نشته ، ځكه كيدې شي چې دې كس اول د غشي په ذريعه خپل ځان وژل غوښته خو چې په غشي سره فورًا مړ نشو نو بيا يې د توري په ذريعه ځان مړ كړو ، او خودكشي يې اوكړه .
مظاهر حق شرح مشكوة ج٩ .

يَا بِلَالُ ! قُمْ فَأَذِّنْ : لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مُؤْمِنٌ . وَإِنَّ اللهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ . (١)

اې بلال ! پاڅه ، او خلقو ته دا اعلان اوکړه چې جنت ته به صرف مؤمن داخليږي ، او الله تعالى د دې دِين تائيد (او مضبوطوالې) د يو فاسق سړي په ذريعه هم کوي .

**فائده** : بهر حال د دې حديث بيانولو مطلب دا دی چې نبي عليه السلام د کوم منافق په باره کې د مخکې نه د جهنمي کيدو پيشن گويي کړې وه هغه صادقه شوه : چې د دې منافق خودکشي اوکړه او خپل ځان يې په خپله اووژل ، چې د دې په وجه دا کس د جهنم مُستحق شو ، او د نبي عليه السلام خبره رِښتينې شوه . (٢)

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ شَهِدْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ مِمَّنْ مَعَهُ يَدَّعِي الْإِسْلَامَ : هٰذَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ . فَلَمَّا حَضَرَ الْقِتَالُ قَاتَلَ الرَّجُلُ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ . وَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ . فَجَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ الله ! أَرَأَيْتَ الَّذِيْ تَحَدَّثْتَ أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ قَدْ قَاتَلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ فَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ . فَقَالَ : أَمَا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ . فَكَادَ بَعْضُ النَّاسِ يَرْتَابُ فَبَيْنَمَا هُوَ عَلَى ذٰلِكَ إِذْ وَجَدَ الرَّجُلُ أَلَمَ الْجِرَاحِ فَأَهْوٰى بِيَدِهِ إِلَى كِنَانَتِهِ فَانْتَزَعَ سَهْمًا فَانْتَحَرَ بِهَا . فَاشْتَدَّ رِجَالٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! صَدَّقَ اللهُ حَدِيْثَكَ . قَدِ انْتَحَرَ فُلَانٌ وَقَتَلَ نَفْسَه . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَللهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنِّي عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ . يَا بِلَالُ ! قُمْ فَأَذِّنْ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مُؤْمِنٌ . وَإِنَّ اللهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ . مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٨٩٢ (٢٥) ، صحيح البخاري كتاب الجهاد والسير بَابُ إِنَّ اللهَ يُؤَيِّدُ الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ رقم الحديث ٣٠٦٢ ، ورقم ٤٢٠٣ كتاب المغازي بَابُ غَزْوَةِ خَيْبَرَ ، ورقم ٦٦٠٦ كتاب القدر بَابُ الْعَمَلُ بِالْخَوَاتِيْمِ صحيح مسلم رقم ١١٢ ، شرح السنة للبغوي باب وعيد من قتل نفسه رقم ٢٥٢٦ .

(٢) **مسئله** که يو مسلمان خودکشي اوکړي يعنې په خپل ژوند پورې تنګ وي او ځان په خپله اووژني نو اګر چې په دې سره دا د جهنم مُستحق ګرځي ځکه خودکشي حرامه ده خو چونکه دا مؤمن دی او تصديق قلبي لري نو ځکه په جهنم کې به د کافرانو په شان هميشه نه وي ، بلکه د سزا خوړلو نه پس به د جهنم نه راويستلې شي ، او همدا د أهل السنة والجماعة مسلک هم دی ، اګر چې أهل ظواهر د دې خلاف دي . مظاهر حق ج٩ .

## ٣ د جنګ نه مخکې د مقتول کافرانو نومونه او د لاشونو غورځيدو ځايونه صحابه کرامو ته ښودل

د مسلم شريف حديث دی ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د حضرت عُمر رضي الله عنه سره د مکې او مديني په مينځ کې په يو ځای کې پړاؤ اچولې و ...... بيا حضرت عمر رضي الله عنه مونږ ته د اهلِ بَدر کافرانو خبره شروع کړه ( کوم کافران چې په جنګ بدر کې وژل شوي وو ) .

حضرت عُمر رضي الله عنه وفرمايل چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته د جنګ نه يو ورځ مخکې د قتليدونکو کافرانو ځايونه اُوخوده ، پيغمبر ﷺ يو يو ځای طرف ته اِشاره کوله سره وفرمايل : هٰذَا مَصۡرَعُ فُلَانٍ غَدًا إِنۡ شَاءَ اللهُ .

دا هغه ځای دی چې صبا به اِن شَاء الله فلانې مُشرک دلته وژلې شي ( همدغه شان نبي ﷺ د هر کافر نوم او وژلو ځای اُوخوده ) .

حضرت عُمر رضي الله عنه وفرمايل :

فَوَالَّذِيۡ بَعَثَهُ بِالۡحَقِّ مَا أَخۡطَئُوا الۡحُدُوۡدَ الَّتِيۡ حَدَّ رَسُوۡلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ .

قسَم دې په هغه ذات چې نبي عليه السلام يې بَرحق پيغمبر راليږلې دی رسولُ الله ﷺ چې د دې قتليدونکو کافرانو د پاره کوم ځايونه مُعيّن کړي وو دوی د هغې ځای نه يو ذره هم اَخوا ديخوا نه شو ( بلکه په هماغه ځای کې اُووژل شو ، او په هماغه ځايونو کې پراته وو ) . (١)

---

(١) عَنۡ أَنَسِ بۡنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ : كُنَّا مَعَ عُمَرَ بَيۡنَ مَكَّةَ وَالۡمَدِيۡنَةِ .... ثُمَّ أَنۡشَأَ يُحَدِّثُنَا عَنۡ أَهۡلِ بَدۡرٍ . فَقَالَ إِنَّ رَسُوۡلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُرِيۡنَا مَصَارِعَ أَهۡلِ بَدۡرٍ بِالۡأَمۡسِ . يَقُوۡلُ : « هٰذَا مَصۡرَعُ فُلَانٍ غَدًا إِنۡ شَاءَ اللهُ » قَالَ : فَقَالَ عُمَرُ : فَوَالَّذِيۡ بَعَثَهُ بِالۡحَقِّ مَا أَخۡطَئُوا الۡحُدُوۡدَ الَّتِيۡ حَدَّ رَسُوۡلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ . صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيۡمِهَا وَأَهۡلِهَا باب عَرۡضِ مَقۡعَدِ الۡمَيِّتِ مِنَ الۡجَنَّةِ أَوِ النَّارِ عَلَيۡهِ وَإِثۡبَاتِ عَذَابِ الۡقَبۡرِ وَالتَّعَوُّذِ مِنۡهُ رقم الحديث ٧٦ ( ٢٨٧٣ ) ، سنن ابي داؤد باب في الاسير يُنال منه ... مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٩٣٨ ( ٧١ ) ، شرح السنة للبغوي باب غزوة بدر رقم ٣٧٧٩ .

**فائده** : دا هم د نبي عليه السلام معجزه وه چې د جنګ نه يوه ورځ مخکې د هر کافر نوم او وژلو ځاى يې اوخوده ، او بيا هماغه شان اوشو .

## ۴ . د يو مُنافِق د مرګ خبر ورکول

د مسلم شريف حديث دى ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي :

چې يوه ورځ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د يو ( جِهادي ) سفر نه واپس مدينې منوّرې ته راتلو ، کله چې مدينې منوّرې ته رانزدې شو نو داسې سخته سيلۍ راغله قريبه وه چې ( په سوَرلۍ ) سور کس په زمکه کې دَفن کړي . (۱) نبي کريم صلى الله عليه وسلم په دې موقع وفرمايل : بُعِثَتْ هٰذِهِ الرِّيْحُ لِمَوْتِ مُنَافِقٍ .

دا هوا د يو منافِق د مرګ د پاره راليږل شوې ده . (۲)

کله چې پيغمبر عليه السلام مدينې منوّرې ته راغى نو معلومه شوه چې :

فَإِذَا مُنَافِقٌ عَظِيْمٌ مِنَ الْمُنَافِقِيْنَ قَدْ مَاتَ . (۳)

د منافقانو يو لوى سَردار مَړ شوى وُ .

**فائده** : دا هم د نبي عليه السلام معجزه وه چې د يو منافق د مرګ پيشَن ګوئي يې ورکړې وه او هماغه شان اوشوه .

---

(۱) دا سيلۍ دومره تېزه وه چې د ډير تېزوالي په وجه دا محسوسېده چې هيڅ په سوَرلۍ سور کس به په زمکه ولاړ پاتې نشي ، بلکه سيلۍ به يې والوزوي ، او چيرته لرې به يې هلاک کړي .

(۲) لِمَوْتِ مُنَافِقٍ : أي عقوبة له علامة لموته و راحة للبلاد والعباد منه . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم .

(۳) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ . فَلَمَّا كَانَ قُرْبَ الْمَدِيْنَةِ هَاجَتْ رِيْحٌ شَدِيْدَةٌ تَكَادُ أَنْ تَدْفِنَ الرَّاكِبَ فَزَعَمَ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « بُعِثَتْ هٰذِهِ الرِّيْحُ لِمَوْتِ مُنَافِقٍ » فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ فَإِذَا مُنَافِقٌ عَظِيْمٌ مِنَ الْمُنَافِقِيْنَ قَدْ مَاتَ . صحيح مسلم رقم الحديث ۱۵ ( ۲۷۸۲ ) كِتَابُ صِفَاتِ الْمُنَافِقِيْنَ وَأَحْكَامِهِمْ . مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ۵۹۰۰ ( ۳۳ ) ، صحيح ابن حبان ذكر الاخبار عن الريح الشديد التي هبت لموت بعض المنافقين رقم ۶۵۰۰ .

## ٥ . د يهوديانو د قبرونو احوال معلومول

د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ فرمايي چې يوه ورځ نبي کريم صلی الله عليه وسلم د کور نه په داسې وخت کې را اووت چې نمر ډوب شوی وُ ، نو دوی يو آواز واوريد ، وې فرمايل :

يَهُوْدُ تُعَذَّبُ فِيْ قُبُوْرِهَا . (١)

دا يهوديان دي ( يا دا مطلب چې دا د يهوديانو آواز دی ) چې په خپلو قبرونو کې ورته عذاب ورکولې شي .

## الله ﷻ د ظاهري أسبابو محتاج ندې

مُعجزه چونکه يو خَارِقُ العادة څيز دی ، عام انسانان ددې د ښکاره کولو نه عاجز وي ، بلکه الله ﷻ دا صرف د پيغمبرانو په لاس باندې ښکاره کوي ، دغه وجه ده چې بعضې وخت د انسان عقل ديته رسيدګي نه کوي .

ځکه د عامو انسانانو نظر په ظاهري وسائلو باندې وي ، د دوی عقل او تجربه دا وايي چې که ظاهري أسباب وي نو په دې باندې به نتيجه هم مُرتّب وي ، او که ظاهري سبب نه وي نو په دې به نتيجه هم مُرتّب نه وي .

د دوی مُشاهَده دا وايي چې أور سوزول کوي ، دَرياب ډوبول کوي ، مړې دوباره نشي راژوندې کيدی ، د نَر او ښځې نه بغير توالُد او تَناسُل نشي کيدی .

ليکن د کوم مسلمان چې په الله ﷻ باندې اِيمان مضبوط وي ، د الله ﷻ قدرتونه مني داسې انسان هيڅ کله د مُعجزاتو نه اِنکار نه کوي ، ځکه دې دا تسليموي چې داسې يو

(١) عَنْ أَبِيْ أَيُّوْبَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ وَجَبَتِ الشَّمْسُ . فَسَمِعَ صَوْتًا فَقَالَ : يَهُوْدُ تُعَذَّبُ فِيْ قُبُوْرِهَا . صحيح البخاري كِتَابُ الجَنَائِزِ بَابُ التَّعَوُّذِ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ رقم الحديث ١٣٧٥ ، صحيح مسلم باب عرض مقعد الميت ... رقم ٢٨٦٩ ، كنز العمال رقم الحديث ٤٢٩٢٨ ، مشكاة المصابيح بابٌ فى المعجزات رقم الحديث ٥٨٩٩ .

عظيم ذات " الله رب العزت " شته چې هغه دد ي ظاهري اَسبابو هيڅ محتاج ندی ، هغه بغير د ظاهري اَسبابو نه هر څه موجودولې شي ، ځکه د هغه حکم په هر شي چليږي :
په زمکه ، آسمان ، غرونو ، دَريابونو ، اُور ، هوا ، انسانانو ، حيواناتو ، جناتو ، فرشتو بلکه په هر شي باندې هغه قادِر دی ، ددې په موجودولو ، ختمولو او په دې کې د تغير و تبديل کې هغه د هيڅ اَسبابو محتاج ندی .

دغه وجه ده چې الله ﷻ حضرت عيسى ﷺ بغير د پلار نه پيدا کړو ، حضرت حوا رضي الله عنها يې بغير د مور نه پيدا کړه ، حضرت آدم ﷺ يې بغير د مور او پلار نه پيدا کړو ، د حضرت صالح ﷺ اوښه يې د کاڼي نه پيدا کړه ، د حضرت عيسى ﷺ په لاس يې مړي ژوندي کړه ، د حضرت ابراهيم ﷺ حفاظت يې په اُور کې اوکړو ، د بني اِسرائيلو د پاره يې په دَرياب کې لاره ورکړه ، حضرت يونس ﷺ يې د ماهي په خيټه کې ژوندې اُوساتل ، حضرت مريم بي بي ته يې بغير د موسم نه ميوې ورکړی ، حضرت موسى عليه السلام ته يې وريت شوې ماهي دوباره راژوندې کړو ، د حضرت عُزير ﷺ اوښه يې سل (۱۰۰) کاله پس راژوندې کړه ، اَصحابِ کهف يې درې سوه (۳۰۰) کاله اُوده کړل او بيا يې راپاڅول ، د حضرت يوسف ﷺ په قميص يې د حضرت يعقوب ﷺ تللي نظر دوباره صحيح کړو .

خلاصه دا چې د چا په الله ﷻ اِيمان مضبوط وي هغه هيڅ کله د مُعجزاتو نه اِنکار نه کوي ، بلکه هغه دا ټولې خبرې بغير د چُون و چرا تسليموي .

## د نبي ﷺ په زَمانه کې ډيرو مسلمانانو د مُعجزاتو ليدلو نه بغير اِيمان راوړی

اګر چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په زمانه کې بعضې بَدبخته کافران داسې هم وو چې د رسول الله ﷺ نه به يې د يوې مُعجزې ښکاره کولو مطالبه اوکړه ، کله به يې چې هغه اُوليده نو بيا به يې هم اِيمان رانه وړو ، بلکه دې مُعجزې ته به يې سِحر ويل ، او نبي عليه السلام ته به يې ساحِر ويل ، لکه ابو جهل او دده ملګري .

چې کله يو مسلمان د خپل پيغمبر " محمدٌ رّسول الله صلی الله علیه وسلم " دا معجزات واوري نو په دې سره دده ايمان نور هم قوي کيږي ، په زړه کې يې د خپل پيغمبر سره مينه پيدا کيږي ، د نبي کريم صلی الله علیه وسلم د اقوالو ، افعالو او سُنتو اِتباع ورته نصيبه کيږي .

## دُعا

الله ﷻ دې زمونږ په زړونو کې هم د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره مِينه پيدا کړي، د هغوی د هر هر سُنت ژوندي کولو توفيق دې راته نصيب کړي ، او د ژوند په هره مرحله کې دې راته د هغوی په نقشِ قدم د تللو توفيق راپه بَرخه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

# د نبي عليه السلام يو څو نورو مُعجزاتو ته اشاره کول

( **نوټ** : په صحيح احاديثو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نور ډير معجزات هم ذکر دي که هغه تفصيلاً ذکر کوم نو بيا دا موضوع ډيره اُوږديږي ، او نور موضوعات پاتې کيږي . البته يو څو نورو معجزاتو ته به په خپلو الفاظو کې صرف اِشاره اوکړم ، که چا پوره تفصيلي معجزه معلومول غوښته نو لاندې په حاشيه کې مې حواله ذکر کړې ، د هغې کتاب نه تفصيلي معجزه کتلې شي . ابوالشمس عفي عنه )

١. په اُوبو کې د برکت معجزه . ( لږې اُوبه ځلوېښتو کسانو په مړه ګېډه اُوڅکلې ، او خپل مَشکونه او بَتکي يې ترې هم ډک کړل ) . (١)

٢. مُشتبِه نوَرې د نبي عليه السلام د حَلق نه ښکته نه تلل . (٢)

٣. په غزوه اُحد کې د فرښتو د مدد معجزه . (٣)

۴. د حضرت عمار ابن ياسر رضي الله عنه په باره کې د پيشَن ګوئي معجزه ( چې دا به د باغيانو د لاسه شهيد کيږي ، او بيا همداسې اوشوه ) . (۴)

۵. د غزوه اَحزاب په موقع د نبي عليه السلام د پيشن ګوئي معجزه ( چې ددې نه پس به دشمن په مونږ حمله نشي کولی ، او مونږ به د هغوی سره جهاد کوو . او دا پيشن ګوئي صادِقه شوه ، ځکه کافرانو بيا په مدينې منوّرې باندې د حملې کولو جُرأت اونکړې شو ، بلکه نبي عليه السلام به پرې لشکر کشي کوله . (۵)

٦. د فرقهٔ خوارجو په باره کې د نبي عليه السلام د پيشَن ګويئ معجزه ( کومه چې حرف په حرف صادقه شوه ) . (٦)

---

(١) رواه البخاري ومسلم ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الاول رقم ١٦ .

(٢) رواه ابوداؤد ، والبيهقي في دلائل النبوة ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الثالث حديث ٧٣ .

(٣) بخاري ومسلم ، مشكاة المصابيح بابٌ في المعجزات الفصل الاول حديث ٨١ .

(۴) رواه مسلم ، مشكوة المصابيح بابٌ في المعجزات الفصل الاول رقم الحديث ١١ .

(۵) بخاري ، مشكاة المصابيح بابٌ في المعجزات الفصل الاول حديث ١٢ .

(٦) بخاري ، مسلم ، مشكاة المصابيح بابٌ في المعجزات الفصل الاول حديث ٢٥ .

٧. د مصر د فتح متعلق پیشَن گوئي او هغه صادقیدل. (١)
٨. د غارِ ثور د محفوظ کیدو معجزه. (٢)
٩. د قیامته پورې د اَهمو واقعاتو متعلق خبر ورکولو معجزه. (٣)
١٠. نبي علیه السلام ته د جِنّاتو د راتلو اطلاع یوې اُونې ورکړې وه. (۴)
١١. معجزه رَدّ الشَمس، او معجزه حبسِ الشمس. (۵)
١٢. د نبي علیه السلام د دُعاؤ په برکت سره د اَهلِ مدینې نه تَبې ختمیدل. (٦)
١٣. نبي علیه السلام د حضرت انس بن مالک ﷺ د پاره د مال، اَولاد او عُمر زیاتیدو دُعا اوکړه، او حرف په حرف قبوله شوه. (٧)
١۴. نبي علیه السلام اُووه (٧) کسانو مشرکینو ته خېرې اوکړې هغه داسې قبولې شوې چې اُووه واړه د بَدر په کوهي کې مردار پراته وو. (٨)
١۵. د آخرت متعلق د یهودو علماؤ څه سوالات، او د نبي علیه السلام جوابات. (٩)
١٦. د اُمیه بن خلف د قتل په باره کې د نبي علیه السلام پیشَن گوئي، او هماغه شان صادقیدل. (١٠)

(١) رواه مسلم، مشكوة المصابيح باب في المعجزات الفصل الاول حديث ۴٧.
(٢) رواه احمد، مشكوة المصابيح باب في المعجزات الفصل الثالث حديث ٦۵
(٣) رواه مسلم، مشكوة المصابيح باب في المعجزات الفصل الثالث حديث ٦٧.
(۴) رواه البخاري و مسلم، مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الثالث حديث ٦٨
(۵) معارف القرآن لمولانا ادريس كاندهلوي رحمه الله ج٧ ص ۵٩٢.
(٦) صحيح البخاري كتاب مناقب الانصار، و كتاب الحج، صحيح مسلم كتاب الحج رقم ۴٨٠، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير.
(٧) مسلم كتاب فضائل الصحابة رقم ١۴٢، ١۴٣، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.
(٨) بخاري كتاب الوضوء باب اذا القي على ظهر المصلي قذر او جيفة لم تفسد عليه صلوته، و مسلم كتاب الجهاد والسير رقم ١٠٧، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.
(٩) بخاري كتاب احاديث الانبياء باب خلق آدم و ذريته، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.
(١٠) صحيح البخاري كتاب المناقب باب علامات النبوة في الاسلام، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.

۱۷. د أبيّ بن خلف د قتل په باره کې د نبي عليه السلام پيشن ګوئي "چې دې به زه قتلوم" او هماغه شان اوشو (چې د نبي عليه السلام په لاس قتل شو). (۱)

۱۸. په شام جنګِ موته کې د درې صحابه کرامو (حضرت زيد، حضرت جعفر، او حضرت ابن رواحة رضي الله عنهم) شهيد کيدل، او نبي عليه السلام په مدينه منوّره کې صحابه کرامو ته د دوی د شهادت خبر ورکول، حالانکه د شام او مدينې منورې په مينځ کې د يو مياشت په اندازه سفر دی. (۲)

۱۹. د حضرت جرير رضي الله عنه په حق کې د نبي عليه السلام د دُعا قبليدو معجزه (چې ده به په آس سوَرلي نه شوه کولی او ترې راغورځيدو به، خو چې نبي عليه السلام ده په سينه باندې لاس مبارک راښکل او دُعا يې ورته اوکړه نو داسې زر قبوله شوه چې بيا هيڅ کله د آس نه ندې راغورځيدلی). (۳)

۲۰. نبي ﷺ ته د تکبّر د وجې دروغ ويونکې د خې لاس د طاقت نه محرومه شو. (۴)

۲۱. سترې او سست اُوښ د نبي ﷺ د آواز او دُعا په برکت ډير تېز تلل. (۵)

۲۲. د غزوه تبوک په موقع د درې (۳) معجزاتو ظهور. (۶)

۲۳. د نبي عليه السلام د دُعاؤ او لاس راښکلو په برکت يو ليوني هلک سَمدستي ښه کيدل. (۷)

۲۴. په جنګِ بدر کې د دُعا د قبوليت معجزه. (۸)

---

(۱) رواه البيهقي في دلائل النبوة ۳/ ۲۲۱، ۲۵۸، البداية والنهاية لابن كثير ۴/ ۳۲، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.

(۲) رواه البخاري، مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الاول حديث ۱۹.

(۳) رواه البخاري و مسلم، مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الاول حديث ۲۸.

(۴) مسلم شريف، مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الاول حديث ۳۵.

(۵) رواه البخاري و مسلم، مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الاول ۴۵.

(۶) متفق عليه، مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الاول حديث ۴۶.

(۷) رواه الدارمي، مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الاول حديث ۵۴.

(۸) رواه ابوداؤد، مشكاة المصابيح باب في المعجزات الفصل الثاني حديث ۶۰.

۲۵. د رسول الله ﷺ په وجه د اُمّ سليم په غورړو کې د برکت معجزه. (۱)

۲۶. د اُم شريک په غوړو کې د برکت معجزه. (۲)

۲۷. د اُمّ مالک په غوړو کې د برکت معجزه. (۳)

۲۸. د نبي عليه السلام په لاس مبارک کې د کاڼړو تسبيح ويل. (۴)

۲۹. د نبي عليه السلام په دُعا باندې د کور دِيوالونو درې پېرې آمين وويل. (۵)

۳۰. اُوښ نبي عليه السلام ته شکايت اوکړو. (۶)

۳۱. الله ﷻ د نبي عليه السلام غلام "سفينه" د پاره زمرې مُسخّر کړو. (۷)

۳۲. مرغۍ د خپلو بچو راخلاصولو دپاره نبي عليه السلام ته فرياد اوکړو. (۸)

۳۳. د نبي عليه السلام په دُعا سره د طفيل بن عمرو الدوسي د مخ نه رڼا تلل. (۹)

۳۴. د رضاعت په وخت د حليمې سعديه سره ظاهريدونکې معجزات. (۱۰)

۳۵. اُمّ ورقة بنت نوفل ته د شهادت زيرې ورکول، بيا د حضرت عُمر رضي الله عنه په زمانه کې دا شهيده کيدل. (۱۱)

۳۶. حضرت عُمر رضي الله عنه ته د شهادت زيرې ورکول، بيا همدغه شان حضرت عمر رضي الله عنه ته شهادت نصيبه کيدل. (۱۲)

(۱) رواه الهيثمي في مجمع الزوائد ۳۰۹/۸، ورواه ابويعلى والطبراني، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.

(۲) دلائل النبوة ۱۲۳/۶، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.

(۳) مسلم كتاب الفضائل باب في معجزات النبي صلى الله عليه وسلم رقم ۸.

(۴) دلائل النبوة للبيهقي ۶۴/۶، ۶۵، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير.

(۵) دلائل النبوة ۶/ ۷۱، ۷۲، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.

(۶) مسند امام احمد ۱۵۸/۳، ۲۰۴/۱، مجمع الزوائد للهيثمي ۴/۹، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.

(۷) معجزات النبي، دلائل النبوة للبيهقي ۴۶/۶.

(۸) دلائل النبوة للبيهقي ۳۲/۶.

(۹) السيرة النبوية لابن هشام ۲۵۴/۱، ۲۵۶، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير.

(۱۰) السيرة النبوية لابن هشام ۱۱۶/۱ _ ۱۱۹.

(۱۱) ابوداؤد كتاب الصلوة باب امامة النساء، دلائل النبوة ۳۸۲/۶، مسند احمد، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.

(۱۲) مسند احمد ۸۹/۲، سنن ابن ماجه كتاب اللباس باب ما يقول الرجل إذا لبس ثوبا جديدا رقم ۳۵۵۸.

۳۷. حضرت عثمان ﷺ ته د جنت زيرې اُوروول، او په مصيبتونو کې د مبتلاء کيدو پيشَن گوئي کول، ( بيا همدغه شان اوشو چې روستو دده محاصره اوشوه، او شهيد کړې شو ). (۱)

۳۸. د حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه متعلق پيشَن گويي چې په يو بيابان کې به وفات کيږي او د مؤمنينو يو جماعت به ورته راحاضريږي ( بيا همدغه شان دا پيشَن گويي صادقه هم شوه ). (۲)

۳۹. د حضرت عثمان ﷺ په آخِري ورځو، او د حضرت علي ﷺ د خلافت په دَوران کې د واقع کيدونکو فِتنو متعلق د نبي ﷺ پيشَن گوياني، او بيا هماغه شان واقع کيدل. (۳)

۴۰. د خوارِجو متعلق پيشَن گوياني، او هماغه شان واقع کيدل. (۴)

۴۱. د تُرکو سره د جنگ متعلق پيشَن گوياني، او بيا هماغه شان صادقيدل. (۵)

۴۲. د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ متعلق د نبي عليه السلام پيشَن گويي چې په آخِري عُمر کې به يې نظر ختميږي ( بيا همدغه شان اوشو ). (٦)

۴۳. نبي عليه السلام ته د نبوت ورکولو نه پس پيريان آسمان طرف ته د تللو نه بنديل، او د شِهاب ثاقِب په ذريعه د دوی ويشتل.

۴۴. د وريځې په نبي عليه السلام باندې سورې کول.

۴۵. نبي عليه السلام د مسجدِ نبوي نه د غزوه موته نَنداره کول.

---

(۱) بخاري كتاب فضائل اصحاب النبي باب قول النبي ﷺ: لو كنت متخذا خليلا. و مسلم كتاب فضائل الصحابة رقم ۲۹.

(۲) مسند احمد ۵ / ۱۵۵، و بنحوه ۵/۱٦٦، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.

(۳) دا په بخاري او مسلم شريف کې په تفصيل سره ذکر دي. معجزات النبي صلى الله عليه وسلم.

(۴) بخاري كتاب المناقب باب علامات النبوة في الاسلام، و كذا مسلم كتاب الزكوة رقم ۱۴۸، ۱۵۹، ۱۵۸، ۱٦۰، معجزات النبي لابن كثير

(۵) بخاري كتاب المناقب باب علامات النبوة في الاسلام، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير.

(٦) دلائل النبوة للبيهقي ٦/ ۲۷۸، مجمع الزوائد للهيثمي ۹/ ۲۷٦، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير.

۴٦. د نبي عليه السلام په دُعا سره د ګونګ ماشوم خبرې شروع کول. (١)

۴٧. د نبي عليه السلام په دُعا سره د حضرت ابو هريرة حافظه داسې مضبوطېدل چې بيا ورنه هيڅ شی نه هېرېده. (٢)

۴٨. د نبي عليه السلام په دُعا سره د حضرت عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه د نسيان بيماري ختمېدل. (٣)

۴٩. د نبي عليه السلام په دُعا سره د مديني منورې آب و هوا صحيح کېدل، او ددې نه وَبا او تبې بيماري ختمېدل. (۴)

۵٠. نبي عليه السلام د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په حَق کې د مُستجاب الدعوات کېدو دُعا اوکړه، او سَمدستي قبوله شوه. (۵)

۵١. په غارِ ثور کې چې کله حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه مار اُوچيچل او نبي عليه السلام په هغه ځای خپلې لاړې مبارکې پورې کړې نو په هماغه وخت ښه شو. (٦)

(١) سنن ابن ماجه باب العشرة، وابونعيم ص ١٦٧، وابن ابي شيبة، سيرة النبي لعلامه شبلي نعماني رحمه الله حصه سوم ص ٣۴٩، سيرة مصطفى لمولانا محمد ادريس كاندهلوي ج٣ ص ۴٦٨.

(٢) بخاري و مسلم مناقب ابي هريرة، سيرة النبي لعلامه شبلي نعماني حصه سوم ص ٣۴٦.

(٣) سنن ابن ماجه باب الفزع ... سيرة النبي لعلامة شبلي نعماني حصه سوم ص ٣۴٩.

(۴) بخاري باب الهجرة، و مسلم باب الترغيب في سكنى المدينة وباب صيانة المدينة، سيرة النبي لعلامة شبلي نعماني حصه سوم ص ٣۵۵.

(۵) بخاري كتاب الصلات، سيرة النبي لعلامه شبلي نعماني حصه سوم ص ٣۵٨.

(٦) سيرة المصطفى لمولانا محمد ادريس كاندهلوي ج٣ ص ۴٦٨.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اِقۡتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانۡشَقَّ الۡقَمَرُ ، وَاِنۡ يَّرَوۡا اٰيَةً يُّعۡرِضُوۡا وَيَقُوۡلُوۡا سِحۡرٌ مُّسۡتَمِرٌّ ﴾

سورة القمر آية ۱، ۲

# نبي ﷺ ته د نورو پیغمبرانو په نسبت بهترینې معجزې ورکړې شوې وې

تاليف


اَبُوالشَّمس مولانا نُوۡرُ الۡهُدٰی عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

# د مقرّرينو حضراتو د پاره ضروري تنبيه

په دې کې هيڅ شک نشته چې الله ﷻ مخکيني پيغمبرانو ته څومره مُعجزې ورکړې وې د هغې په شان بلکه د هغې نه بهترينې مُعجزې يې محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته هم ورکړې وې.

خو بيا هم دا موضوع په داسې اَنداز بيانول په کار دي چې په دې سره د نورو پيغمبرانو بې اَدبي او تَنقيص رانشي، بلکه په اَنداز بيان کې د ډير احتياط او اَدب نه کار اخيستل په کار دي.

چونکه دا موضوع ډيره نازکه ده نو ځکه د هرې خبرې سره مې لاندې په حاشيه کې اصل عربي عبارت هم رانقل کړی.

صرف په دې موضوع کې مې ډير اَخذ د حافظ ابن کثير رحمه الله د کتاب '' معجزات النبي صلی الله عليه وسلم '' نه کړی.

او د نورو ډيرو کتابونو نه مې هم اَخذ کړی.

ابوالشمس نورالهدا عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# نبي ﷺ ته د نورو پيغمبرانو په نسبت بهترينې معجزې ورکړې شوې وې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيْرًا ، وَأَتْقَنَ مَا شَرَعَهُ وَصَنَعَهُ حِكْمَةً وَّتَدْبِيْرًا ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ أَرْسَلَهُ إِلَى الْخَلْقِ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ، وَدَاعِيًا إِلَى اللّٰهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ، صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ وَسَلَّمَ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا ، .

أَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ . (١)

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ وَلَا فَخْرَ ، وَأَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ ، وَأَوَّلُ شَافِعٍ ، وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ . (٢)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ

---

(١) سورة الانشراح آية ۴ .

(٢) صحيح ابن حبان كِتَابُ التَّارِيخِ بَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ ذِكْرُ الْخَبَرِ الْمُصَرِّحِ بِأَنَّ هٰذَا الْقَوْلَ إِنَّمَا زَجَرَ عَنْهُ رقم الحديث ٦٢۴٢ ، إسناده صحيح على شرط الصحيح ، مسند احمد مُسْنَدُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رقم الحديث ١٠٩٨٧ ، سنن ابن ماجه كتاب الزهد بَابُ ذِكْرِ الشَّفَاعَةِ رقم ۴٣٠٨ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٣٩٩ ، شعب الايمان رقم الحديث ١۴٠٨ .

وفي رواية : أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ ، وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ . صحيح مسلم كتاب الفضائل بَابُ تَفْضِيلِ نَبِيِّنَا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَمِيعِ الْخَلَائِقِ رقم الحديث ٢٢٧٨ ، سنن ابي داؤد كتاب السنة بَابٌ فِي التَّخْيِيرِ بَيْنَ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ۴٦٧٣ .

# تمهيدي خبره

ډير د قدر وړ ، عزت مندو مسلمانانو ورونو ! الله رب العزت دُنيا ته د رُوحاني مرضونو دَ علاج د پاره اَنبياء كرام راليږلي وو ، چې دوى به خلق د گمراهۍ نه بچ كول ، او هدايت طرف ته به يې رابلل .

بيا يې دوى ته مختلف قِسمه معجزې هم ورکړې وې چې دا به د دوى د نبوت د پاره واضح دلائِل وو ، او په خلقو به حُجت هم وُ .

په همدې سلسله کې الله ﷻ زمونږ خوږ پيغمبر سردارِ دُوجهان محمّدُ رَسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته هم په زَرهاوُ معجزې او نخې ورکړې وې .

چونکه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم شان د مخكيني پيغمبرانو په نِسبت ډير اُوچت دى : ځکه دې جامِع د کمالاتو او فضائلو دى ، اِمامُ الأنبياء او رحمةٌ لِّلعالمين دى ، جِسماني مِعراج يې ورته نصيبه کړى ، د قيامت په ورځ د شفاعتِ کُبرىٰ حَق يې صِرف دوى ته ورکړى . لهذا مخكيني پيغمبرانو ته چې څومره معجزې ورکړې شوې وى د هغې په شان ، بلكه د هغې نه بهترينې معجزې نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته هم ورکړې شوې وى ، ځکه ډيرې داسې معجزې دي چې هغه صِرف د پيغمبر عليه السلام سره خاص دي ، دا قِسمه معجزې وړانديني پيغمبرانو کې هيچاته نه وې وُرکړې شوى . (۱)

---

(۱) حافظ ابن كثير رحمه الله ليكلي : وَالْمُرَادُ مِنْ إيراد ما نذكره فى هذا الباب ، والبينة على مَا أَعْطَى اللهُ أَنْبِيَاءَهُ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ مِنَ الآيَاتِ الْبَيِّنَاتِ ، وَالْخَوَارِقِ الْقَاطِعَاتِ ، وَالْحُجَجِ الْوَاضِحَاتِ ، وَأَنَّ الله جَمَعَ لِعَبْدِهِ وَرَسُولِهِ سَيِّدِ الأَنْبِيَاءِ وَخَاتَمِهِمْ مِنْ جَمِيعِ أَنْوَاعِ الْمَحَاسِنِ وَالآيَاتِ مَعَ مَا اخْتَصَّهُ اللهُ بِهِ مِمَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا قَبْلَهُ . كما ذكرنا فى خصائصه وشمائله صلى الله عليه وسلم . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ج۱ ص ۲۸۳ .

بلكه حافظ ابن كثير رحمه الله په دې باندې مستقل باب لړولى : " باب معجزات النبي صلى الله عليه وسلم تفوق معجزات الأنبياء السابقين " بيا ليكي : البينة عَلَى ذِكْرِ مُعْجِزَاتٍ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلم مماثلة لمعجزات جماعة من الأنبياء قبله ، وأعلى منها ، خارجة عَمَّا اخْتَصَّ بِهِ مِنَ الْمُعْجِزَاتِ الْعَظِيمَةِ الَّتِي لم يكن لِأَحَدٍ قَبْلَهُ مِنْهُمْ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص ۳۸۱ .

په نن موضوع کې به درته اِن شاء الله د مخکيني پیغمبرانو د معجزاتو سره د نبي علیه السلام د معجزاتو موازنه ذکر کوم :

## نبي علیه السلام ته د حضرت نوح ؈ د معجزې نه بهترینه معجزه ورکړې شوې وه

حافظ ابن کثیر رحمه الله په خپل کتاب " معجزات النبي ﷺ " کې ذکر کړي : که حضرت نوح ؈ ته دا معجزه ورکړې شوې وه چې په کشتۍ کې یې د مؤمنانو سره نجات اُوموندہ ( او په اُوبو کې د ډُوبیدو نه تول بَچ شو ) ،

نو په دې کې هم هیڅ شک و شُبه نشته چې بغیر د کشتۍ نه د اُوبو د پاسه تلل هم لوی کار دی ، د نبيِّ علیه السلام په اُمت کې ډیر صحابه کرام او اَولیاء الله د کشتۍ نه بغیر د اُوبو د پاسه همداسې تللي دي . (١)

د حضرت عَلاء بن حَضرمي ؓ په واقعه کې نقل دي چې دې په یوه غزا کې اَمیر وُ ، دده او د دُشمن په مینځ کې سمندر وُ ( د دوی سره کِشتۍ نه وی ) نو ده دا دُعا اوکړه :

يَا عَلِيُّ يَا حَكِيْمُ ! إِنَّا عَبِيْدُكَ وَفِيْ سَبِيْلِكَ . نُقَاتِلُ عَدُوَّكَ . فَاجْعَلْ لَنَا إِلَيْهِمْ سَبِيْلًا .

اې علیم او حکیم ذاته ! مونږ ستا بندګان یو ، ستا په لاره کې یو ، او ستا د دشمنانو سره جهاد کوو ، مونږ د پاره دوی ته د رسیدو لاره پیدا کړه .

دوی وایي چې مونږ په سمندر وَر روان شو :

وَمَشَيْنَا عَلَى مَتْنِ الْمَاءِ وَلَمْ يَبْتَلَّ لَنَا شَيْءٌ .

---

(١) حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلي : فَلْنَذْكُرْ جَلَائِلَ مُعْجِزَاتِ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ . فَمِنْهَا نَجَاةُ نُوحٍ فِي السَّفِيْنَةِ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ، وَلَا شَكَّ أَنَّ حَمْلَ الْمَاءِ لِلنَّاسِ مِنْ غَيْرِ سَفِيْنَةٍ أَعْظَمُ مِنَ السُّلُوْكِ عَلَيْهِ فِي السَّفِيْنَةِ . وقد مَشَى كَثِيْرٌ مِنَ الْأَوْلِيَاءِ عَلَى مَتْنِ الْمَاءِ . وَفِيْ قصة العلاء بن زياد ، صَاحِبِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما يدل على ذلك . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب معجزات النبي صلى الله عليه وسلم تفوق معجزات الأنبياء السابقين القَوْلُ فِيمَا أُوتِيَ نُوحٌ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ٣٨١ .

مونږ د اُوبو د پاسه بغير د كشتۍ نه روان وو او زمونږ هيڅ شي په اُوبو لوند نه شو. (١)

همدا رنګې امام بيهقي او ابن عساكر رحمهما الله نقل كړي: چې كله ابو مُسلم خولاني رحمه الله د رُوميانو سره د جهاد د پاره اُووت نو په لاره كې ورته يو نهر راغى، د نهر دا اُوبه دومره تېزې وې چې غټ غټ لرګي ورته نشو تېنګيدى، نو دوى د الله ﷻ نوم واخيست، او بغير د كشتۍ نه په خپلو اَسونو سواره وو او په نهر ورپورې وَتل. (٢)

حافظ ابن كثير رحمه الله دا واقعه په متعددو طريقو سره رانقل كړې، بيا فرمايي:

---

(١) دلائل النبوة للبيهقي ٦ / ٥٢، معجزات النبي ﷺ لابن كثير ج١ ص ٣٨٦.

حافظ ابن كثير رحمه الله ليكلي: فَهٰذَا أَبْلَغُ مِنْ رُكُوْبِ السَّفِيْنَةِ. فَإِنَّ حَمْلَ الْمَاءِ لِلسَّفِيْنَةِ مُعْتَادٌ. وأبلغ من فلق الْبَحْرِ لِمُوسٰى. فَإِنَّ هُنَاكَ اِنْحَسَرَ الْمَاءُ حَتّٰى مَشَوْا عَلَى الْأَرْضِ. فَالْمُعْجِزُ اِنْحِسَارُ الْمَاءِ. وَهَا هُنَا صَارَ الْمَاءُ جَسَدًا يَمْشُوْنَ عَلَيْهِ كَالْأَرْضِ. وَإِنَّمَا هٰذَا مَنْسُوْبٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَرَكَتِهِ. معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب معجزات النبي ﷺ تفوق معجزات الأنبياء السابقين اَلْقَوْلُ فِيْمَا أُوْتِيَ نُوحٌ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ٣٨٦.

(٢) [ قصة اقتحام أبي مسلم الخولاني دجلة ] وروى الْبَيْهَقِيُّ مِنْ طَرِيقِ أَبِي النَّضْرِ عَنْ سُلَيْمَانَ بن المغيرة أن أبا مسلم الخولاني جاء إِلٰى دِجْلَةَ وَهِيَ تَرْمِي الْخَشَبَ مِنْ مَدِّهَا فمشى على الماء والتفت إِلٰى أَصْحَابِهِ. وَقَالَ: هَلْ تَفْقِدُوْنَ مِنْ مَتَاعِكُمْ شَيْئًا فَنَدْعُوَ اللهَ تَعَالٰى ؟ .... ثُمَّ قَالَ: هٰذَا إِسْنَادٌ صَحِيْحٌ.

قُلْتُ: وَقَدْ ذَكَرَ الْحَافِظُ الْكَبِيْرُ أَبُو الْقَاسِمِ بْنُ عَسَاكِرَ. فِي تَرْجَمَةِ أَبِي عبد الله ابن أيوب الخولانى هذه القصة بأبسط من هذه مِنْ طَرِيقِ بَقِيَّةَ بْنِ الْوَلِيدِ: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ عَنْ أَبِي مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيِّ أَنَّهُ كَانَ إِذَا غَزَا أَرْضَ الرُّوْمِ فَمَرُّوْا بِنَهَرٍ قَالَ: أَجِيْزُوا بِسْمِ اللهِ. قَالَ: وَيَمُرُّ بَيْنَ أيديهم. فيمرون على الماء فما يَبْلُغُ مِنَ الدَّوَابِّ إِلَّا إِلَى الرُّكَبِ. أَوْ فِي بَعْضِ ذٰلِكَ. أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذٰلِكَ. قَالَ: وإذا جَازُوْا قَالَ لِلنَّاسِ: هَلْ ذَهَبَ لَكُمْ شَيْءٌ؟ مَنْ ذَهَبَ له شيءٌ فَأَنَا ضَامِنٌ. قال: فألقى مخلاة عمدا. فلما جاوزوا قَالَ الرَّجُلُ: مِخْلَاتِيْ وَقَعَتْ فِي النَّهَرِ. قَالَ لَهُ: اتْبَعْنِي. فَإِذَا الْمِخْلَاةُ قَدْ تَعَلَّقَتْ بِبَعْضِ أَعْوَادِ النَّهَرِ. فَقَالَ: خُذْهَا.

وَقَدْ رَوَاهُ أَبُو داود من طريق الأعرابي عنه عن عمرو ابن عُثْمَانَ عَنْ بَقِيَّةَ بِهِ. ثُمَّ قَالَ أَبُو دَاوُدَ: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ. حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ ابن الْمُغِيرَةِ عَنْ حُمَيْدٍ أَنَّ أَبَا مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيَّ أَتٰى عَلٰى دِجْلَةَ وَهِيَ تَرْمِي بِالْخَشَبِ مِنْ مَدِّهَا فَوَقَفَ عَلَيْهَا ثُمَّ حَمِدَ اللهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ وَذَكَرَ مَسِيْرَ بَنِي إِسْرَائِيلَ فِي الْبَحْرِ. ثُمَّ لَهَزَ دَابَّتَهُ فَخَاضَتِ الْمَاءَ وَتَبِعَهُ النَّاسُ حَتّٰى قَطَعُوا. ثُمَّ قَالَ: هَلْ فَقَدْتُمْ شَيْئًا مِنْ مَتَاعِكُمْ فَأَدْعُوَ اللهَ أَنْ يَرُدَّهُ عَلَيَّ؟ معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب معجزات النبي ﷺ تفوق معجزات الأنبياء السابقين ص ٣٨٩.

هٰذِهِ الْكَرَامَاتُ لِهٰؤُلَآءِ الْأَوْلِيَاءِ هِيَ مُعْجِزَاتٌ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا تَقَدَّمَ تَقْرِيْرُهُ . لِأَنَّهُمْ إِنَّمَا نَالُوْهَا بِبَرَكَةِ مُتَابَعَتِهِ . (١)

ددې اولياؤ دا کرامات هم دَ اصل د رسول الله صلى الله عليه وسلم معجزات دي، ځکه دوی دا کرامت د نبي عليه السلام په مُتابَعت باندې حاصل کړې دی.

حافظ ابن کثير رحمه الله په خپل کتاب " معجزات النبي ﷺ " کې په دې باندې مستقل باب قائم کړی " باب معجزات النبي صلّى الله عليه وسلم تفوق معجزات الأنبياء السابقين " يعنې ددې باب لاندې د حضرت نوح عليه السلام او نورو پيغمبرانو معجزې ذکر کړي، بيا يې د نورو پيغمبرانو د معجزو سره د نبي عليه السلام د معجزو موازنه کړی، او دايې ثابته کړی چې نبي عليه السلام ته الله ﷻ د مخکيني پيغمبرانو په شان، بلکه د هغې نه بهترينې معجزې ورکړې وی.

## نبي عليه السلام ته د حضرت صالح عليه السلام د معجزې نه بهترينه معجزه ورکړې شوې وه

حافظ ابونعيم اصبهاني رحمه الله ليکلي : که څوک دا اُووايي چې الله ﷻ حضرت صالح عليه السلام ته دا معجزه ورکړې وه چې د کاڼي نه يې اُوښه راويستلې وه. چې دا دده د پاره يوه نخه او د قوم د پاره حُجتؤ....

نو مونږ دا وايو چې الله رب العزت محمد صلى الله عليه وسلم ته هم ددې په شان، بلکه ددې نه عظيمې معجزې ورکړې وی.

ځکه د حضرت صالح عليه السلام اُوښې نه خو دده سره خبرې کړې وی او نه يې دده د نبوت ګواهي ورکړې وه، او د نبي عليه السلام سره اُوښ خبرې هم کړې وی( چې د خپل مالِک شکايت يې ورته اوکړو) ، او د نبي ﷺ د نبوت او رِسالت ګواهي يې هم ورکړې وه.

(١) معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب معجزات النبي ﷺ تفوق معجزات الأنبياء السابقين ص ٣٩١.

بيا حافظ ابونعيم رحمه الله دا حديث په صحيح، حسَن، او مرفوع درې واړه طريقو سره نقل کړی، او د احاديثو په اکثره کتابونو کې موجود دی.

همدارنګې هوسۍ هم د نبي عليه السلام سره خبرې کړي، او ددوی د رِسالت ګواهي يې هم ورکړې. (١)

همدارنګې په مسلم شريف او د احاديثو په کتابونو کې ذکر دي چې د نبوت نه مخکې په نبي عليه السلام باندې اُونو، کاڼو، لوټو وغيره سلام اچولو. (٢)

## نبي عليه السلام ته د حضرت ابراهيم عليه السلام د معجزاتو او کمالاتو نه بهترينې معجزې او کمالات ورکړې شوي وو

١. حافظ ابن کثير رحمه الله ليکلي دي چې زمونږ شيخ ابوالمعالي بن الزملکاني رحمه الله به فرمايل: چې که د حضرت ابراهيم عليه السلام د پاره اُور يَخ او سالِم کړځيدلې وُ نو زمونږ د پيغمبر محمّد رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم د پيدائش په وخت هم د فارس اُور مړ شوې وُ، حالانکه د نبي عليه السلام د پيدائش او نبوّت په مينځ کې څلويښت کاله فاصله وه.

---

(١) **نوټ** دا معجزه په تفصيل سره مخکې تيره شوی. ددې عنوان لاندې: " هوسۍ د نبي عليه السلام د رِسالت ګواهي ورکړه "

(٢) ﴿ اَلْقَوْلُ فِيمَا أُوتِيَ صَالِحٌ عَلَيْهِ السَّلَامُ ﴾ : قَالَ أَبُوْ نُعَيْمٍ : فَإِنْ قِيلَ : فَقَدْ أَخْرَجَ اللهُ لِصَالِحٍ نَاقَةً مِنَ الصَّخْرَةِ جَعَلَهَا اللهُ لَهُ آيَةً وَحُجَّةً عَلَى قَوْمِهِ وَجَعَلَ لَهَا شِرْبَ يَوْمٍ. وَلَهُمْ شِرْبَ يَوْمٍ مَعْلُومٍ. قُلْنَا : وَقَدْ أَعْطَى اللهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ. بَلْ أَبْلَغَ لِأَنَّ نَاقَةَ صَالِحٍ لَمْ تُكَلِّمْهُ وَلَمْ تَشْهَدْ لَهُ بِالنُّبُوَّةِ وَالرِّسَالَةِ. وَمُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهِدَ لَهُ الْبَعِيْرُ بِالرِّسَالَةِ، وَشَكَى إِلَيْهِ مَا يَلْقَى مِنْ أَهْلِهِ، مِنْ أَنَّهُمْ يُجِيْعُوْنَهُ وَيُرِيْدُوْنَ ذَبْحَهُ. ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيْثَ بِذٰلِكَ كَمَا قَدَّمْنَا فِي دلائل النبوة بطرقه وألفاظه وغرره بما أغنى عن إعادته ههنا. وَهُوَ فِي الصِّحَاحِ وَالْحِسَانِ وَالْمَسَانِيْدِ. وَقَدْ ذَكَرْنَا مَعَ ذٰلِكَ حَدِيْثَ الْغَزَالَةِ، وَحَدِيْثَ الضَّبِّ وَشَهَادَتَهُمَا لَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالرِّسَالَةِ. كَمَا تَقَدَّمَ التَّنْبِيْهُ عَلَى ذٰلِكَ وَالْكَلَامُ فِيْهِ. وَثَبَتَ الْحَدِيْثُ فِي الصَّحِيْحِ بِتَسْلِيمِ الْحَجَرِ عَلَيْهِ قَبْلَ أَنْ يُبْعَثَ. وَكَذٰلِكَ سَلَامُ الْأَشْجَارِ وَالْأَحْجَارِ وَالْمَدَرِ عليه قبل أن يبعث صلى الله عليه وسلم. معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب معجزات النبي ﷺ تفوق معجزات الأنبياء السابقين اَلْقَوْلُ فِيمَا أُوتِيَ صَالِحٌ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص٤٠١.

٢ . همدارنګې که چیرته د ابراهیم علیه السلام اُور دده په اُور کې د غورځیدو په وجه يَخ شوي وُ نو د فارس اُور هم د نبي علیه السلام د پیدائش په وجه مړ شوي وُ ، حالانکه دنبي علیه السلام او د فارس په مینځ کې د څو میاشتو په اندازه سفر وُ . (١) .

با دا چې په دې اُمت کې هم داسې خلق تېر شوي چې کافرانو دوی په اُور کې اچولي خو دنبي کریم صلى الله علیه وسلم په برکت سره اُور په دوی باندې هیڅ اَثر ندې کړی ، لکه په مُعتمدو کتابونو کې د ابومسلم الخولاني رحمه الله واقعه ذکر ده ، چې دا اَسود بن قیس العَنسي په اُور کې اچولې وُ لیکن اُور په ده هیڅ تاثیر او نکړو . (٢)

---

(١) ﴿ اَلْقَوْلُ فِيْمَا أُوتِيَ إِبْرَاهِيْمُ الْخَلِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ﴾ : قَالَ شَيْخُنَا الْعَلَّامَةُ أَبُو الْمَعَالِي بْنُ الزَّمْلَكَانِيِّ رحمه الله : وَأَمَّا خُمُوْدُ النَّارِ لِإِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فَقَدْ خَمَدَتْ لِنَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَارُ فَارِس لِمَوْلِدِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ بِعْثَتِهِ أَرْبَعُوْنَ سَنَةً ، وَخَمَدَتْ نَارُ إِبْرَاهِيْمَ لِمُبَاشَرَتِهِ لَهَا ، وَخَمَدَتْ نَارُ فَارِسَ لِنَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَهُ وَبَيْنَهَا مَسَافَةُ أَشْهُرٍ كَذَا . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب معجزات النبي ﷺ تفوق معجزات الأنبياء السابقين اَلْقَوْلُ فِيْمَا أُوتِيَ إِبْرَاهِيْمُ الْخَلِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص٤٠٣ .

(٢) حافظ ابن كثیر رحمه الله د ابومسلم الخولاني واقعه په مختلفو طریقو سره رانقل کړی : مَعَ أَنَّهُ قَدْ أُلْقِيَ بَعْضُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ فِي النَّارِ فَلَمْ تُؤَثِّرْ فِيْهِ بِبَرَكَةِ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، مِنْهُمْ أَبُوْ مُسْلِمٍ الخولانى ، قال : بينما الْأَسْوَدُ بْنُ قَيْسٍ الْعَنْسِيُّ بِالْيَمَنِ ، فَأَرْسَلَ إِلَى أبي مسلم الخولانى فقال : أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ ؟ قَالَ نَعَمْ ، قَالَ : أَتَشْهَدُ أَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ ؟ قَالَ : مَا أسمع ، فأعاد إليه ، قال : ما أسمع ، فأمر بنار عظيمة فأججت فطرح فِيهَا أَبُو مُسْلِمٍ فَلَمْ تَضُرَّهُ . فَقِيلَ لَهُ : لَئِنْ تَرَكْتَ هٰذَا فِي بِلَادِكَ أَفْسَدَهَا عَلَيْكَ . فَأَمَرَهُ بِالرَّحِيْلِ ، فَقَدِمَ الْمَدِيْنَةَ وَقَدْ قُبِضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتُخْلِفَ أَبُوْ بَكْرٍ ، فَقَامَ إِلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ يُصَلِّيْ ، فَبَصُرَ بِهِ عُمَرُ فَقَالَ مِنْ أَيْنَ الرَّجُلُ ؟ قَالَ : مِنَ الْيَمَنِ ، قَالَ : مَا فَعَلَ الله بصاحبنا الذى حرق بِالنَّارِ فَلَمْ تَضُرَّهُ ؟ قَالَ : ذَاكَ عَبْدُ اللهِ بن أيوب ، قَالَ : نَشَدْتُكَ بِاللهِ أَنْتَ هُوَ ؟ قَالَ : اَللّٰهُمَّ نعم ، قال : فقبل ما بين عينيه ثم جاء بِهِ حَتّٰى أَجْلَسَهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيْقِ وَقَالَ : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يُمِتْنِيْ حَتّٰى أَرَانِيْ فِيْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فُعِلَ بِهِ كَمَا فُعِلَ بِإِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلِ الرَّحْمٰنِ عَلَيْهِ السَّلَامُ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب معجزات النبي ﷺ تفوق معجزات الأنبياء السابقين اَلْقَوْلُ فِيْمَا أُوتِيَ إِبْرَاهِيْمُ الْخَلِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص٤٠٣ . همدارنګې حافظ ابن عساکر رحمه الله هم دا واقعه په متعددو طریقو سره رانقل کړی .

**نوټ** : د ابومسلم الخولاني دا واقعه د همدې ( اصلاحي مدلل تقریرونه ) کتاب په څلورم جلد کې په صفحه ١٤٢ باندې لاندې په اوله حاشیه کې په تفصیل سره ذکر ده .

٣. ابن حامد په خپل کتاب " المقابلة " کې ذکر کړي : که حضرت ابراهيم عليه السلام د حکم الهي د پوره کولو د پاره خپل ځوي حضرت اسماعيل عليه السلام د حلالولو د پاره په زمکه راچولې ؤ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په غزوه أحد او نورو غزاګانو کې په خپله خپل ځان د الله ﷻ په لاره کې د قرباني کولو د پاره پيش کړې ؤ ، دغه وجه وه چې په غزوه أحد کې د دوی سَر مبارک زخمي شوې ؤ ، او غاښونه مبارک يې مات شوي وو . (١)

۴ . يا ابن حامد دا هم ليکلي چې که څوک أووايي چې ابراهيم عليه السلام خپل قوم په أور کې اچولې ؤ ، او الله تعالى په ده باندې أور يَخ او سلامتيا واله ګرځولې ؤ ، نو مونږ وايو چې داسې معجزه الله ﷻ نبي عليه السلام ته هم ورکړې وه : هغه دا چې په خيبر کې يوې زَنانه نبي عليه السلام ته د چيلۍ په غوَښه کې تيز زَهر اچولي وو ، کله چې دا زهر د نبي عليه السلام خېټې مبارکې ته لاړل نو دا هم الله ﷻ يخ او د سلامتيا واله أوګرځول . دغه وجه وه چې دا تر د آخري عُمره پورې د نبي کريم ﷺ په خېټه مبارکه کې ؤ ، علماؤ ليکلي چې پيغمبر عليه السلام د مرګ په وخت ددې زهرو تکليف محسوس کړو . (٢)

۵ . حافظ ابونعيم رحمه الله ليکلي دي : که څوک دا أووايي چې حضرت ابراهيم عليه السلام د الله ﷻ د رضا دپاره غصه شو او دخپل قوم بُتان يې مات کړل ، نو مونږ دا وايو چې نبي عليه السلام هم درې سوه او شپيته (٣٦٠) بُتان مات کړي دي ، کله به يې چې بُت ته لرګې ورنزدې کړو نو د بُت سره د لړيدو نه بغير به بُت راأوغورځيد او مات به شو .

(١) ذكر ابن حامد فى كتابه فى « المقابلة » إِضْجَاعَ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَلَدَهُ لِلذَّبْحِ مُسْتَسْلِمًا لِأَمْرِ اللهِ تعالى ببذل رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفْسَهُ لِلْقَتْلِ يَوْمَ أُحُدٍ وَغَيْرَهُ حَتَّى نَالَ مِنْهُ الْعَدُوُّ مَا نَالُوا. مِنْ هَشْمِ رَأْسِهِ . وَكَسْرِ ثَنِيَّتِهِ الْيُمْنَى السُّفْلَى. معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب معجزات النبي ﷺ تفوق معجزات الأنبياء السابقين اَلْقَوْلُ فِيمَا أُوتِيَ إِبْرَاهِيمُ الْخَلِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص٤١٢ .

(٢) ثُمَّ قَالَ . قَالُوا: كَانَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَلْقَاهُ قَوْمُهُ فِي النَّارِ فَجَعَلَهَا اللهُ بَرْدًا وَسَلَامًا . قُلْنَا: وَقَدْ أُوتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ . وَذٰلِكَ أَنَّهُ لَمَّا نَزَلَ بِخَيْبَرَ سَمَّتْهُ الْخَيْبَرِيَّةُ . فَصَيَّرَ ذٰلِكَ السُّمُّ فِي جَوْفِهِ بَرْدًا وَسَلَامًا إِلَى منتهى أجله معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص٤١٢ .

همدارنګې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د پیدائش په وخت هم ډیر بُتان راغورځیدلي.
او مات شوي.

د پیدائش په وخت د بُتانو په خپله راغورځیدلو او ماتیدلو دا معجزه په خپل لاس باندې د بتانو ماتولو د معجزې نه ډیره ظاهره او قوي ده.

همدارنګې د پیغمبر علیه السلام د پیدائش په وخت د فارس اُور په خپله مړ شوې وُ، حالانکه د فارس واله خلقو به ددې اُور عبادت کولو، او د زر (۱۰۰۰) کالو نه راپه دیخوا دا اُور نه وُ مړ شوی.

همدغه رنګې د نبي علیه السلام د پیدائش په وخت د کِسری د قلعې څوارلس برجونه پخپله غورځیدلي وو. (۱)

۶ . حافظ ابونعیم رحمه الله لیکلي : که څوک دا وایي چې الله ﷻ حضرت ابراهیم علیه السلام ته د نبوت ورکولو سره سره خپل " خلیل " هم جوړ کړې وُ ، نو مونږ به ورته ووایو چې الله ﷻ رسولُ الله صلی الله علیه وسلم هم خپل " خلیل " او " حبیب " دواړه جوړ کړې وُ ، او د " حبیب " مرتبه د " خلیل " نه اُوچته ده . (۲)

(۱) ثُمَّ قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ : فَإِنْ قِيلَ : فَإِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَسَرَ أَصْنَامَ قَوْمِهِ غَضَبًا لِلّٰهِ. قِيلَ : فَإِنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم كسَرَ ثلث مائة وستين صَنَمًا. قد ألزمها الشَّيْطَانُ بِالرَّصَاصِ وَالنُّحَاسِ . فَكَانَ كُلَّمَا دَنَا مِنْهَا بِمِخْصَرَتِهِ تَهْوِي مِنْ غَيْرِ أَنْ يَمَسَّهَا. وَيَقُولُ : جَاءَ الْحَقُّ وَ زَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا فَتَسَاقَطَ لِوُجُوهِهَا . ثُمَّ أَمَرَ بِهِنَّ فَأُخْرِجْنَ إلى الميل. وَهٰذَا أَظْهَرُ وَأَجْلى مِنَ الَّذِيْ قَبْلَهُ. وَقَدْ ذَكَرْنَا هٰذَا فِي أَوَّلِ دُخُولِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ بِأَسَانِيْدِهِ وَطُرُقِهِ مِنَ الصِّحَاحِ وَغَيْرِهَا . بِمَا فِيْهِ كِفَايَةٌ . وَقَدْ ذَكَرَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ عُلَمَاءِ السِّيَرِ أَنّ الأصنام تساقطت أيضا لمولده الكَرِيمِ . وَهٰذَا أَبْلَغُ وَأَقْوٰى فِي الْمُعْجِزِ مِنْ مُبَاشَرَةِ كَسْرِهَا . وَقَدْ تَقَدَّمَ أَنَّ نَارَ فَارِسَ الَّتِي كَانُوا يَعْبُدُونَهَا خَمَدَتْ أَيْضًا لَيْلَتَئِذٍ. وَلَمْ تَخْمُدْ قَبْلَ ذٰلِكَ بِأَلْفِ عَامٍ . وَأَنَّهُ سَقَطَ من شرفات قصر كسرى أربع عشر شرفة . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص۴۱۴

(۲) وَأَمَّا الْحَافِظُ أَبُو نُعَيْمٍ فَإِنَّهُ قال : فإنْ قيل: فإنّ إبراهيم اختص بِالْخُلَّةِ مَعَ النُّبُوَّةِ . قِيلَ: فَقَدِ اتَّخَذَ اللهُ مُحَمَّدًا خَلِيلًا وَ حَبِيْبًا. وَالْحَبِيْبُ أَلْطَفُ مِنَ الْخَلِيْلِ. معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص۴۰۶ .

اوس دا خبره چې نبي عليه السلام د الله ﷻ خليل دی، په دې باندې دليل د مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيْلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيْلًا، وَلَكِنَّهُ أَخِيْ وَصَاحِبِيْ. وَقَدِ اتَّخَذَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيْلًا. (١)

که چيرته ما په دې اُمت کې څوک " خليل " جوړولی نو ما به ابوبکر صديق خپل خليل جوړ کړې وُ، ليکن هغه زما ورور او دوست دی، او په تحقيق سره الله ﷻ ستاسو صاحِب خپل " خليل " جوړ کړی (يعنی زه الله ﷻ خپل خليل جوړ کړې يم).

بهر حال رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله ﷻ " خليل " هم وُ، او " حبيب " هم وُ، او د " حبيب " مرتبه په " خليل " اُوچته ده. (٢)

اوس درته د قرآن کريم څه آيتونه د حضرت ابراهيم عليه السلام او نبي عليه السلام متعلق ذکر کوم چې ددې د موازنې نه به تاسو ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مقام پته اُولږي:

١. ابراهيم خليل الله فرمايلي وو:

﴿وَالَّذِيْٓ أَطْمَعُ أَنْ يَّغْفِرَ لِيْ خَطِيْٓئَتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ﴾. (٣)

---

(١) صحيح مسلم كتاب فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث ٢٣٨٣، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ٣١٢. همدغه مضمون په نورو بې شماره احاديثو کې هم ذکر دی.

(٢) فقيه ابومحمد عبدالله بن محمد په دې موضوع باندې ډير اُږد تحقيق کړی، د خليل او حبيب په مينځ کې يې فرق بيان کړی، دی وايي: يُقَالُ الْخَلِيْلُ الَّذِيْ يَعْبُدُ رَبَّهُ عَلَى الرَّغْبَةِ وَالرَّهْبَةِ. مِنْ قَوْلِهٖ: إِنَّ إِبْرَاهِيْمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيْمٌ. من كثرة ما يقول: أواه. والحَبِيْبُ الَّذِيْ يَعْبُدُ رَبَّهُ عَلَى الرُّؤْيَةِ وَالْمَحَبَّةِ.
وَيُقَالُ: اَلْخَلِيْلُ الَّذِيْ يَكُوْنُ مَعَهُ اِنْتِظَارُ الْعَطَاءِ، وَالْحَبِيْبُ الَّذِيْ يَكُوْنُ مَعَهُ اِنْتِظَارُ اللِّقَاءِ.
وَيُقَالُ: اَلْخَلِيْلُ الَّذِيْ يَصِلُ بِالْوَاسِطَةِ مِنْ قَوْلِهٖ: وَكَذٰلِكَ نُرِيْ إِبْرَاهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ. والحبيب الذی يصل إليه من غير واسطة. مِنْ قَوْلِهٖ: فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنٰى. معجزات النبي ﷺ ج١ ص٢٠٨.

(٣) سورة الشعراء آية ٨٢.

ترجمه: او هغه الله چې زه (د هغه نه) دا اميد لرم چې زما خطاګانې (يعني لغزشونه) په د قيامت په ورځ اوبخي.

ليکن الله ﷻ د خپل حبيب محمّدُ رّسولُ الله ﷺ په باره کې په خپله فرمايي:

﴿ لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ ﴾ . (١)

ترجمه: ( اې پيغمبره ! بيشکه مونږ تاته ښکاره فتح درکړه ) ددې د پاره چې الله تعالى ستا مخکينۍ او روستونۍ ټولې خطاګانې ( يعنى لغزشونه ) معاف کړي.

٢. ابراهيم خليلُ الله فرمايلي وو:

﴿ وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴾ . (٢)

ترجمه: او ( اې الله ! ) ما مه رَسوا کوه په هغه ورځ باندې په کومه ورځ چې ټول خلق دوباره راپاڅولې شي.

ليکن الله تعالى په خپله د خپل حبيب محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم په باره کې فرمايلي:

﴿ يَوْمَ لَا يُخْزِى اللهُ النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهُ ﴾ . (٣)

ترجمه: په کومه ورځ چې الله ﷻ به نه رَسوا کوي خپل نبي او هغه کسان چا چې دده سره ايمان راوړی.

٣. کله چې ابراهيم خليلُ الله په اُور کې واچول شو نو هغه اُوفرمايل:

﴿ حَسْبِيَ اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ﴾ .

ترجمه: ما لره الله ﷻ کافي دی او هغه ښه کارساز دی.

ليکن الله تعالى خپل حبيب محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته فرمايي:

---

(١) سورة الفتح آية ٢.

(٢) سورة الشعراء آية ٨٧.

(٣) سورة التحريم آية ٨.

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللَّهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾. (١)

ترجمه: اې پيغمبره! تا لره الله ﷻ او هغه مؤمنان کافي دي کوم چې د تاپسې روان دي.

۴. ابراهيم عليه السلام فرمايلي وو:

﴿إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ﴾. (٢)

ترجمه: بيشکه زه تلونکې يم خپل رب طرف ته، ډير زَر به هغه ما ته لاره اُوښائي.

ليکن د محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم په باره کې الله ﷻ په خپله فرمايي:

﴿وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ﴾. (٣)

ترجمه: او الله تعالى اُوموندو تا لره (اې پيغمبره!) ناخبره (د احکامو د شريعت نه) نو بيا يې درته لاره اُوخوده.

۵. ابراهيم عليه السلام فرمايلي وو:

﴿وَاجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ﴾. (۴)

ترجمه: او (اې الله!) په روستنو راتلونکو خلقو کې زما رښتينې ذِکر (يعنى د نيک نامۍ ذِکر) جاري اُوساته.

ليکن الله ﷻ د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په باره کې په خپله فرمايي:

﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾. (٥)

ترجمه: او مونږ اُوچت کړو ستا ذِکر (او ستانوم).

---

(١) سورة الانفال آية ٦۴.

(٢) سورة الصافات آية ٩٩.

(٣) سورة الضحى آية ٧.

(۴) سورة الشعراء آية ٨۴.

(٥) سورة الم نشرح.

٦ . ابراهيم خليلُ الله فرمايلي وو :

﴿ وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَنْ نَعْبُدَ الْأَصْنَامَ ﴾ . (١)

ترجمه : او ( اې الله ! ) ما او زما اُولاد د بُتانو د عبادت نه لرې اُوساته .

ليکن الله تعالى د خپل حبيب محمّدُ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په باره کې په خپله فرمايي :

﴿ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴾ . (٢)

ترجمه : اې اهلِ بَيتو ! بيشکه الله ﷻ دا غواړي چې د تاسو نه پليتي لرې کړي ، او تاسو پاک کړي په پاکولو سره .

٧ . ابراهيم عليه السلام فرمايلي وو :

﴿ وَاجْعَلْنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ ﴾ . (٣)

او ( اې الله ! ) ما جوړ کړه د وارِثانو د هغه جنت نه کوم چې د نعمتونو واله دى .

ليکن الله تعالى نبي عليه السلام ته فرمايي :

﴿ إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴾ . (٤)

ترجمه : بيشکه مونږ دکړو تاته حوضِ کوثر ( يا خيرِ کثير ) .

٨ . د حضرت ابراهيم عليه السلام په باره کې الله تعالى فرمايلي :

﴿ وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ ﴾ . (٥)

ترجمه : او همدارنګې مونږ ابراهيم عليه السلام ته د آسمانونو او زمکو ( د ) حکومت ( نظام ) اُوخوده ، او ددې د پاره چې هغه د يقين کوونکو نه شي .

ليکن د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په باره کې الله تعالى فرمايلي :

---

(١) سورة ابراهيم آية ٣٥ .

(٢) سورة الاحزاب آية ٣٣ .

(٣) سورة الشعراء آية ٨٥ .

(٤) سورة الكوثر آية ١ .

(٥) سورة الانعام آية ٧٥ .

﴿ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ﴾. (١)

ترجمه: پاكي ده هغه ذات لره چا چې خپل بنده ( محمد ﷺ ) د شپې د مسجدِ حرام نه مسجدِ اقصى (يعنى بيتُ المقدس) پورې بوتلو ، هغه (مسجدِ اقصى) چې د هغې ګېر چاپيره (يعنى د شام علاقې) له مونږ بركتونه وركړي ، ددې د پاره چې مونږ نبي عليه السلام ته خپلې (عجيبه) نخې او قدرت اُوښايو ، بشكه الله تعالى اَوريدونكې او ليدونكې دى.

حافظ ابونعيم اصفهاني رحمه الله ددې نه علاوه د نبي عليه السلام نور فضيلتونه هم ذكر كړي. (٢)

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنِّي سَأَقُومُ مَقَامًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَرْغَبُ إِلَيَّ الْخَلْقُ كُلُّهُمْ حَتَّى أَبُوهُمْ إِبْرَاهِيمُ الْخَلِيلُ. (٣)

يقينًا زه به د قيامت په ورځ په داسې يو مقام باندې يم چې هر يو كس به ماته د راتلو رغبت (خواهش) كوي ، تر دې پورې چې د ټولو خلقو پلار حضرت ابراهيم عليه السلام به هم دا خواهش كوي.

**فائده**: ددې حديث نه هم معلومه شوه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په ټولو اَنبياء كرامو كې افضل دى ، ځكه حضرت ابراهيم عليه السلام به هم په دې موقع باندې د نبي عليه السلام محتاج وي. (٤)

---

(١) سورة الاسراء ( بني اسرائيل) آية ١ .

(٢) معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص ٤٠٩ .

(٣) معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص ٤١٠ . همدا مضمون په مسلم شريف او نورو د احاديثو په كتابونو كې هم شته .... وَأَخَّرْتُ الثَّالِثَةَ لِيَوْمٍ يَرْغَبُ إِلَيَّ الْخَلْقُ كُلُّهُمْ. حَتَّى إِبْرَاهِيمُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِينَ وَقَصْرِهَا بَابُ بَيَانِ أَنَّ الْقُرْآنَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ وَبَيَانِ مَعْنَاهُ رقم الحديث ٢٧٣ ( ٨٢٠ ) ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٤٠ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ١٢٢٧ وقال: هذا حديث صحيح .

(٤) فدلّ على أنّه أفضل إذ هو يحتاج إِلَيْهِ فِي ذَٰلِكَ الْمَقَامِ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص ٤١٠

# نبي عليه السلام ته د حضرت موسى عليه السلام د معجزاتو نه بهترينې معجزې ورکړې شوې وې

۱ . علامه ابن کثير رحمه الله ليکلي چې زمونږ شيخ علامه ابن زملکاني رحمه الله فرمايي چې که د حضرت موسى عليه السلام امسا ژوندى کيده (يعنى چې په زمکه به يې واچوله نو لويا اژدها به ورنه جوړه شوه) ، نو مونږ وايو چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاس کې هم کاڼو تسبيح ويلى . حالانکه کاڼي جَماد دي ، بيا دې کاڼو د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عُمر رضي الله عنه په لاسونو کې هم تسبيح ويلى ده .

همدارنګې په بخاري ، مسلم او نورو د احاديثو په کتابونو کې د خوراک نه د تسبيح آواز راتلل ، په نبي عليه السلام باندې د اُونو او کاڼو سلام اَچول ، د قجورو د اُوچې تَنې نه د ژړا آواز راتلل ، او د اُونو د اِطاعت معجزې ذکر دي . (۱)

لهذا که حضرت موسى عليه السلام ته د امسا ژوندى کيدو معجزه ورکړې شوې وه نو نبي عليه السلام ته هم دا معجزې ورکړې شوې وې : چې جَماداتو ، او نباتاتو ورسره خبرې کړي ، او ددې نه ورته آواز راغلى . (۲)

۲ . که حضرت موسى عليه السلام ته د الله جل جلاله سره د خبرو کولو فضيلت حاصل وُ نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته هم د معراج په شپه باندې د الله جل جلاله سره د خبرو کولو او د الله جل جلاله د ليدلو فضيلت حاصل وُ ، او د نبي عليه السلام دا فضيلت زيات دى ، ځکه په دې کې د خبرو کولو سره سره د ليدلو سعادت هم دى .

---

(۱) **نوټ** : دا مذکوره ټولې معجزې د معتمدو حوالو سره په مخکينى موضوع ﴿ د نبي عليه السلام معجزات ﴾ کې تفصيلاً تېرې شوي . ابو الشمس عفي عنه

(۲) أَمَّا الْعَصَا . فَقَالَ شَيْخُنَا الْعَلَّامَةُ ابْنُ الزَّمْلَكَانِيّ : وَأَمَّا حَيَاةُ عَصَا مُوسٰى . فَقَدْ سَبَّحَ الْحَصَا فِيْ كَفِّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَمَادٌ ، وَالْحَدِيْثُ فِيْ ذٰلِكَ صَحِيْحٌ .... وقيل : اِنَّهُنَّ سَبَّحْنَ فِيْ كَفِّ أَبِيْ بَكْرٍ ثُمَّ عُمَرَ ثُمَّ عُثْمَانَ . كَمَا سَبَّحْنَ فِيْ كَفِّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير مقارنة بين عصا موسى وتسبيح الحصى في يد النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ص ۴۱۹ .

اګر چې د الله ﷻ په رُؤيَت کې د سَلفو او خَلفو علماؤ اختلاف شته ليکن په ائمهؤ کې ابوبکر محمد بن اسحاق ( کوم چې د اِمامُ الائمّة په لقب سره مشهور ؤ ) د رُؤيَت تائيد کړی ، همدارنګې قاضي عياض او شيخ مُحي الدين النّووي رحمهم الله هم دا غوره کړې ( چې نبي عليه السلام رُؤيَت کړی ) . (١)

٣ . که حضرت موسى عليه السلام ته د يَدِ بَيضاء معجزه ورکړې شوې وه يعنی چې لاس به يې ګريوان ( ترَخ ) کې دننه کړو او رااو به يې ويسته نو هغې به تَکه سپينه رڼا کوله ، او پړقيدو به .

نو ددې په عِوض کې الله ﷻ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته د شَقّ القَمر معجزه ورکړې وه چې د دوی په اِشارې سره سپوږمۍ دوه ټوټې شوې وه ، کومه چې د قرآن کريم په دې آيت کې ذکر ده : ﴿ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴾ . (٢)

او په دې کې هيڅ شک نشته چې د شَقُّ القمر دا معجزه د حضرت موسى عليه السلام د يَدِبَيضاء د معجزې نه ډيره اُوچته ده . (٣)

همدارنګې په صحيح احاديثو کې دا خبره ثابت ده چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم بعضې صحابهؤ ته هم دا سعادت حاصل ؤ چې دهغوی اَمسا به رڼا کوله .

---

(١) قَالَ شَيْخُنَا : وَأَمَّا أَنَّ اللهَ كَلَّمَ مُوْسَى تَكْلِيمًا. فَقَدْ تَقَدَّمَ حُصُوْلُ الْكَلَامِ لِلنَّبِيِّ صَلَّى الله عليه وسلم ليلة الإسراء مع الرؤية وهو أبلغ . . . وَأَمَّا الرُّؤْيَةُ فَفِيْهَا خِلَافٌ مَشْهُوْرٌ بَيْنَ الْخَلَفِ وَالسَّلَفِ. وَنَصَرَهَا مِنَ الْأَئِمَّةِ أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ بْنِ خُزَيْمَةَ الْمَشْهُوْرُ بِإِمَامِ الْأَئِمَّةِ. وَاخْتَارَ ذٰلِكَ الْقَاضِيْ عِيَاضٌ وَالشَّيْخُ مُحْيِي الدِّيْنِ النَّوَوِيُّ . معجزات النبي ﷺ لابن كثير مقارنة بين عصا موسى وتسبيح الحصى فِي يَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ص ٤٢٣ .

**نوټ** : د رُؤيت د مسئلې تحقيق په الشفاء بتعريف حقوق المصطفى ج١ ص ٣٧٥ تا ٣٨٨ کې موجود دی .

(٢) سورة القمر آية ١ . **نوټ** : د شَقُّ القَمر معجزه په تفصيل سره په مخکينی موضوع ﴿ د نبي عليه السلام معجزات ﴾ کې تېره شوی . ابوالشمس علي عنه

(٣) معجزات النبي صلى الله عليه وسلم ص ٤٢٥ .

**د امسا نه رڼا تلل** په بخاري شريف ، صحيح ابن حبان او نورو د احاديثو په کتابونو کې د حضرت عبّاد بن بشر رضي الله عنه او حضرت أسيد بن حُضير رضي الله عنه په مناقبو کې دا خبره ذکر ده ، حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې حضرت عبّاد بن بشر رضي الله عنه او أسيد بن حُضير رضي الله عنه د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه راأووت ، خپلو کورونو ته تلل ، سخته تَکه توره تياره وه ، د هر يو سره خپله اَمسا وه ، د يو کس اَمسا په کې روښانه شوه ، تيزه رڼا ورنه راوته ، کله چې دوی جدا شو نو بيا د هر کس د اَمسا نه تيزه رڼا راوته ( نو دوی دواړه د اَمسا په رڼا سره خپلو کورونو ته أورسيده ) . (۱)

امام بيهقي رحمه الله ذکر کړي دي : چې ابوعبس رضي الله عنه به د نبي عليه السلام سره ټول مونځونه کول ، بيا به قبيله بني حارثه ته واپس راتلو ، يوه پيره دې په تکه توره د باران واله تياره شپه کې راأووت ( چونکه تياره وه ) نو په لاره کې دده اَمسا رَڼا شروع کړه ، تر دې پورې چې دې د اَمسا په دې رڼا کې دارِ بني حارثه ته راغی . امام بيهقي رحمه الله ويلي چې ابوعبس رضي الله عنه بدري صحابي دی . (۲)

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه : أَنَّ عَبَّادَ بْنَ بِشْرٍ وَأُسَيْدَ بْنَ حُضَيْرٍ خَرَجَا مِنْ عِنْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ لَيْلَةٍ ظَلْمَاءَ حِنْدِسٍ . فَكَانَ مَعَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَصًا فَأَضَاءَتْ عَصَا أَحَدِهِمَا كَأَشَدِّ شَيْءٍ . فَلَمَّا تَفَرَّقَا أَضَاءَتْ عَصَا كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا. صحيح ابن حبان ذِكْرُ اسْمِ الأَنْصَارِيِّ الَّذِي كَانَ مَعَ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ حَيْثُ أَضَاءَتْ عَصَاهُمَا لَهُمَا رقم الحديث ۲۰۳۲ ، إسناده صحيح على شرط مسلم ، واخرجه الطيالسي "۲۰۳۵" ، واحمد ۳/ ۱۹۰ و۲۷۲ ، والنسائي في فضائل الصحابة "۱۴۱" ، وابن سعد في الطبقات ۳/ ۶۰۶ ، وصححه الحاكم ۳/ ۲۸۸ .

په بخاري شريف کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: « أَنَّ رَجُلَيْنِ خَرَجَا مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ وَإِذَا نُوْرٌ بَيْنَ أَيْدِيهِمَا. حَتَّى تَفَرَّقَا، فَتَفَرَّقَ النُّوْرُ مَعَهُمَا . صحيح البخاري كتاب مناقب الانصار بَابُ مَنْقَبَةِ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ، وَعَبَّادِ بْنِ بِشْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا رقم الحديث ۳۸۰۵ .

(۲) ... أَنَّ أَبَا عَبْسٍ رضي الله عنه كَانَ يُصَلِّيْ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَوَاتِ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى بَنِيْ حَارِثَةَ. فَخَرَجَ فِيْ لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ مَطِيْرَةٍ . فَنُوِّرَ لَهُ فِيْ عَصَاهُ حَتَّى دَخَلَ دَارَ بَنِيْ حَارِثَةَ . قَالَ الْبَيْهَقِيُّ: أَبُوْ عَبْسٍ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا . معجزات النبي ﷺ ص ۱۸۰ .

**رڼا پيدا کېدل** همدارنګې امام بيهقي رحمه الله دا هم ذکر کړي چې يو پېره د ماسخوتن د مانځه نه پس سخته تياره وه، او حضرت حسَن رضي الله عنه او حضرت حُسين رضي الله عنه د نبي ﷺ سره وو، په دې کې يوه رَڼا راپيدا شوه، نبي ﷺ دوی ته وفرمايل:

اِلْحَقَا بِأُمِّكُمَا. اوس دواړه خپلې مور له لاړ شئ.

نو دا دواړه د بجلۍ په دې رڼا کې روان وو تر دې پورې چې کور ته داخل شو. (١)

**د خپې د غټې ګوتې نه رڼا پيدا کېدل**: حافظ ابن کثير رحمه الله ليکلي چې مشهوُر تابعي يزيد بن اسود رحمه الله به د جِسرِين نه د دمشق جامع مسجد ته د مانځه د پاره راتلو، کله کله به په تياره کې دده د خپې غټې ګوتې نه رڼا تلله. (٢)

**د کوړې د سر نه رڼا تلل**: امام بيهقي رحمه الله او نورو محدّثينو د طُفيل بن عَمرو الدوسي رضي الله عنه د اسلام راوړلو اوږده واقعه رانقل کړې، ددې واقعې په آخِر کې ذکر دي چې کله ده اسلام راوړو، او خپل قوم ته واپس تللو نو ده نبي عليه السلام ته ووېل:

يَا نَبِيَّ اللهِ! إِنِّي امْرُؤٌ مُطَاعٌ فِي قَوْمِي وَإِنِّي رَاجِعٌ إِلَيْهِمْ فداعيهم إِلَى الاسلام فَادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَ لِي آيَةً تَكُونُ لِي عَوْنًا عَلَيْهِمْ.

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ وَكَانَ يُصَلِّي فَإِذَا سَجَدَ وَثَبَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ عَلَى ظَهْرِهِ. فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ أَخَذَهُمَا فَوَضَعَهُمَا وَضْعًا رَفِيقًا. فَإِذَا عاد عادا. فلما صلى جعل واحدا ههنا وواحدا ههنا. فَجِئْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا أَذْهَبُ بهما إلى أمهما؟ فَبَرَقَتْ بِرْقَةٌ فَقَالَ: اِلْحَقَا بِأُمِّكُمَا. فَمَا زَالَا يَمْشِيَانِ فِي ضَوْئِهَا حَتَّى دَخَلَا. دلائل النبوة للبيهقي بَابُ مَا جَاءَ فِي الْبَرْقَةِ الَّتِي بَرَقَتْ لِابْنَيِ ابْنَةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ خَرَجَا مِنْ عِنْدِهِ حَتَّى مَشَيَا فِي ضَوْئِهَا كَرَامَةً لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ٧٦/٦. معجزات النبي ﷺ حديث آخر [الضوء الذي أضاء للحسن والحسين رضي الله عنهما] ص ١٧٩، مسند احمد مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ٣٨٦/١٦ رقم الحديث ١٠٦٥٩.

(٢) وَرَوَيْنَا عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْأَسْوَدِ وَهُوَ مِنَ التَّابِعِينَ أَنَّهُ كَانَ يَشْهَدُ الصَّلَاةَ بِجَامِعِ دِمَشْقَ مِنْ جِسْرِين. فَرُبَّمَا أَضَاءَتْ لَهُ إِبْهَامُ قَدَمِهِ فِي اللَّيْلَةِ الْمُظْلِمَةِ. (البداية مرجع عن صفحه.

اې د الله رسوله ! زه داسې کس يم چې زما په قوم کې زما خبره منلې شي ، کله چې زه دوی ته ورشم نو دوی به اسلام ته رابلم ، نو ته د الله ﷻ نه زما د پاره دُعا اوغواړه چې ماله داسې يوه نخه راکړي چې دا زما د پاره هغوی ته په دعوت ورکولو کې مددګاره وي .

نو پيغمبر عليه السلام ورته دُعا اوکړه :

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ لَهُ آيَةً . اې الله ! ده ته يوه نخه ورکړی .

طُفيل بن عَمرو الدوسي رضي الله عنه وايي چې زه خپل قوم طرف ته روان شوم ، کله چې زه هغه غونډۍ ته اُورسيدم د کوم ځای نه چې زما د قوم کلي ښکاره کيده :

وَقَعَ نُوْرٌ بَيْنَ عَيْنَيَّ مِثْلَ الْمِصْبَاحِ .

نو زما ( په مخ کې ) د دواړو سترګو په مينځ کې د ډيوې په شان رَڼا پيدا شوه .

ما د الله ﷻ نه دُعا اوغوښته : اې الله ! دا رڼا زما د مخ نه علاوه بل ځای طرف ته نقل کړی ، ځکه د ما سره دا يَره ده چې زما قوم به ( زما ددې رڼا متعلق ) وايي چې : دا مُثله ده ، ځکه ده د خپل پلار نيکه دِين پريخې دی ، نو ځکه يې په مخ باندې عذاب رانښکاره شوی . حضرت طفيل رضي الله عنه فرمايي :فَتَحَوَّلَ فَوَقَعَ فِيْ رَأْسِ سَوْطِيْ كَالْقِنْدِيْلِ الْمُعَلَّقِ (١)

(١) وَأخرج الْبَيْهَقِيُّ عَن ابْن اسحاق قَالَ كَانَ الطُّفَيْل بن عمر والدوسي يحدث...... وَقُلْتُ : يَا نَبِيَّ اللهِ ! إِنِّيْ امْرُؤٌ مُطَاعٌ فِيْ قَوْمِيْ وَإِنِّيْ رَاجِعٌ إِلَيْهِم فداعيهم إِلَى الاسلام فَادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَ لِيْ آيَةً تَكُوْنُ لِيْ عَوْنًا عَلَيْهِمْ فَقَالَ : اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ لَهُ آيَةً . فَخَرَجْتُ إِلَى قَوْمِيْ حَتّٰى إِذَا كُنْتُ بثنية كداء وَقَعَ نُوْرٌ بَيْنَ عَيْنَيَّ مِثْلَ الْمِصْبَاحِ فَقُلْتُ : اَللّٰهُمَّ فِيْ غَيْرِ وَجْهِيْ إِنِّيْ أَخْشٰى أَنْ يَظُنُّوْا أَنَّهَا مُثْلَةٌ وَقَعَتْ فِيْ وَجْهِيْ . فَتَحَوَّلَ فَوَقَعَ فِيْ رَأْسِ سَوْطِيْ كَالْقِنْدِيْلِ الْمُعَلَّقِ ... الخصائص الكبرى باب مَا وَقع فِي اسلام الطُّفَيْل بن عَمْرو الدوسي من الْآيَات ج ١ ص ٢٢٥ ،

حافظ ابن كثير رحمه الله دا واقعه داسې رانقل کړی : وَقَدْ ذَكَرْنَا فِي السِّيرَةِ عِنْدَ إِسْلَامِ الطُّفَيْلِ بْنِ عَمْرٍو الدَّوْسِيِّ أَنَّهُ طَلَبَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آيَةً تَكُوْنُ لَهُ عَوْنًا عَلَى إِسْلَامِ قَوْمِهِ من بيته هُنَاكَ. فَسَطَعَ نُوْرٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَالْمِصْبَاحِ. فَقَالَ: اَللّٰهُمَّ فِيْ غَيْرِ هٰذَا الْمَوْضِعِ فَإِنَّهُمْ يَظُنُّوْنَهُ مُثْلَةً . فَتَحَوَّلَ النُّوْرُ إِلَى طَرَفِ سَوْطِهِ فَجَعَلُوْا يَنْظُرُوْنَ إِلَيْهِ كَالْمِصْبَاحِ . فَهَدَاهُمُ اللهُ عَلَى يَدَيْهِ بِبَرَكَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِدُعَائِهِ لَهُمْ فِيْ قَوْلِهِ : اَللّٰهُمَّ اهْدِ دَوْسًا ، وَأْتِ بِهِمْ ، وَكَانَ يُقَالُ لِلطُّفَيْلِ: ذُو النُّوْرِ لِذٰلِكَ . معجزات النبي ﷺ ص ۴٢٥ .

بيا دا رڼا زما د کوړې سَر طرف ته نقل شوه ، او داسې به ښکاره کيده لکه زَوړَند قنديل .

حافظ ابن کثير رحمه الله بار بار دا خبره ليکلي چې د صحابه کرامو يا اولياؤ کرامت په حقيقت کې د نبي عليه السلام معجزات دي ، ځکه دوی ته دا مرتبه او کمال د خپل پيغمبر محمّد رَسولُ الله صلى الله عليه وسلم د اِتباع په وجه نصيب شوې وي . (١)

۴ . که حضرت موسى عليه السلام ته دا معجزه ورکړې شوې وه چې په خپله اَمسا يې دَرياب اُووهل نو هغه ټوټې شو ، په هغې کې لارې جوړې شوی ، او اُوبه د غرونو په شان اُودريدی ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ددې نه غټه معجزه ورکړې شوه ، هغه دا چې سپوږمۍ ته يې په لاس اِشاره اوکړه او هغه دوه ټوټې شوه .

بلکه مخکيني پيغمبرانو ته چې څومره حِسّي معجزې ورکړې شوې وی د هغې نه ټولو نه د نبي عليه الصلوة والسلام دا د شَقّ القمر معجزه ډيره لويه او ظاهره ده . (٢)

بل دا چې حضرت عَلاء بن حَضرمي رضي الله عنه هم په يوهٔ غزا کې د خپلو ملګرو سره په سمندر وَر روان شو ، او بغير د کشتۍ نه د اوبو د پاسه اَخوا پوريوَتل . (٣)

همدا رنګې ابومسلم خولاني رحمه الله او دده ملګري بغير د کشتۍ نه د خپلو سوَرلو سره په دَرياب وَر روان شو ، او اَخوا ورنه پورې وَتل . (۴)

---

(١) وَذَكَرَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْعُلَمَاءِ : أَنَّ كَرَامَاتِ الْأَوْلِيَاءِ مُعْجِزَاتٌ لِلْأَنْبِيَاءِ . لِأَنَّ الْوَلِيَّ إِنَّمَا نَالَ ذٰلِكَ بِبَرَكَةِ مُتَابَعَتِهِ لِنَبِيِّهِ . وَثَوَابِ إِيْمَانِهِ . معجزات النبي ﷺ ص ٣٨٢ .

(٢) وَأَمَّا فَلْقُ الْبَحْرِ لِمُوسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ حِينَ أَمَرَهُ اللهُ تَعَالٰى حِينَ تَرَاءَى الْجَمْعَانِ أَنْ يَضْرِبَ الْبَحْرَ بِعَصَاهُ فَانْفَلَقَ . فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ . فَإِنَّهُ مُعْجِزَةٌ عَظِيمَةٌ بَاهِرَةٌ ، وَحُجَّةٌ قَاطِعَةٌ قَاهِرَةٌ .... وَفِي إِشَارَتِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ الْكَرِيمَةِ إِلَى قَمَرِ السَّمَاءِ فَانْشَقَّ الْقَمَرُ فلقتين وَفْقَ مَا سَأَلَهُ قُرَيْشٌ ، وَهُمْ مَعَهُ جُلُوسٌ فِي لَيْلَةِ الْبَدْرِ ، أَعْظَمُ آيَةٍ . وَأَيْمَنُ دَلَالَةٍ . وَأَوْضَحُ حُجَّةٍ وَأَبْهَرُ برهان على نبوته وجاهه عِنْدَ اللهِ تَعَالٰى . وَلَمْ يُنْقَلْ مُعْجِزَةٌ عَنْ نَبِيٍّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ مِنَ الْآيَاتِ الْحِسِّيَّاتِ أَعْظَمُ مِنْ هٰذَا . كَمَا قَرَّرْنَا ذٰلِكَ بِأَدِلَّتِهِ مِنَ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ . معجزات النبي ﷺ مقارنة بين عصا موسى وتسبيح الحصى فِي يَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ص ٤٢٧ .

(٣) دلائل النبوة للبيهقي ٦ / ٥٢ ، معجزات النبي ﷺ لابن كثير ج١ ص ٣٨٦ . نوټ : دا واقعه په همدې موضوع کې لږ مخکې تېره شوه . ابوالشمس عفي عنه

(۴) پوره واقعه امام بيهقي او حافظ ابن کثير رانقل کړی . معجزات النبي ﷺ ص ٣٨٩ . نوټ : دا واقعه يو څو صفحې مخکې په همدې موضوع کې په تفصيل سره تېره شوی . ابوالشمس عفي عنه

حافظ ابن کثير رحمه الله ليکلي چې د اوبو د پاسه تلل دا هم ډيره حيرانوونکې خبره ده ، ځکه د حضرت موسى عليه السلام په امسا وهلو سره اوبه اودريدلې وې . او دوی په زمکه روان وو ، او د حضرت علاء بن حضرمي ﷺ او ابومسلم الخولاني رحمه الله د پاره اوبه يو جسد کرځيدلې وې ، او دوی د اوبو د پاسه روان وو . (۱)

۵ . حافظ ابونعيم اصبهاني رحمه الله ويلي : که څوک ووايي چې حضرت موسى عليه السلام ته دا معجزه ورکړې شوې وه چې په ميدانِ تِيْه کې يې په خپله امسا باندې کانړې ووهل نو د هغې نه دولس (۱۲) چينې روانې شوی ، د هرې قبيلې د پاره ځانله چينه وه ، نو مونږ وايو چې ددې په شان بلکه ددينه بهترينه معجزه رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته هم ورکړې شوې وه ، هغه دا چې : په ډيرو موقعو کې د نبي عليه السلام د ګوتو مبارکو نه بهترينې روانې اوبه رااوتې وې ، او ډيرو صحابه کرامو دا څکلې وې .

دا معجزه د حضرت موسى عليه السلام د معجزې نه ځکه کامله او د تعجب ده چې د کاڼي نه اوبه راوتل د خلقو په نزد باندې مشهور و معروف دي ، ليکن د غوښې وينې او هډوکي ( يعنی د نبي عليه السلام د ګوتو مبارکو ) نه جاري اوبه راوتل ډير تعجبي دي . (۲)

---

(۱) حافظ ابن کثير رحمه الله ليکلي : فَهٰذَا أَبْلَغُ مِنْ رُكُوبِ السَّفِينَةِ . فَإِنَّ حَمْلَ الْمَاءِ لِلسَّفِينَةِ مُعْتَادٌ . وأبلغ من فلق الْبَحْرِ لِمُوسٰى . فَإِنَّ هُنَاكَ إِنْحَسَرَ الْمَاءُ حَتّٰى مَشَوْا عَلَى الْأَرْضِ . فَالْمُعْجِزُ إِنْحِسَارُ الْمَاءِ . وَهَا هُنَا صَارَ الْمَاءُ جَسَدًا يَمْشُوْنَ عَلَيْهِ كَالْأَرْضِ . وَإِنَّمَا هٰذَا مَنْسُوبٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَرَكَتِهِ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب معجزات النبي ﷺ تفرق معجزات الأنبياء السابقين اَلْقَوْلُ فِيمَا أُوتِيَ نُوحٌ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ۳۸٦ .

(۲) قَالَ أَبُوْ نُعَيْمٍ الْحَافِظُ : فَإِنْ قِيْلَ : إِنَّ مُوسٰى كَانَ يَضْرِبُ بِعَصَاهُ الْحَجَرَ فَيَنْفَجِرُ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا فِي التِّيهِ . وقد عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَشْرَبَهُمْ . قِيْلَ : كَانَ لِمُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم مثله أو أعجب . فَإِنَّ نَبْعَ الْمَاءِ مِنَ الْحَجَرِ مَشْهُوْرٌ فِي الْعُلُوْمِ وَالْمَعَارِفِ . وَأَعْجَبُ مِنْ ذٰلِكَ نَبْعُ الْمَاءِ من بين اللحم والدم والعظم . فكان يفرج بين أصابعه في مخضب فَيَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ الْمَاءُ فَيَشْرَبُوْنَ وَيَسْقُوْنَ مَاءً جَارِيًا عَذْبًا . يَرْوِي الْعَدَدَ الْكَثِيْرَ مِنَ النَّاسِ وَالْخَيْلِ وَالْإِبِلِ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص ۴۳۱ .

( نوټ د نبي علیه السلام د ګوتو مبارکو نه د اوبو راوتلو معجزه مخکینی موضوع ﴿ د نبي ﷺ معجزات ﴾ کې په تفصیل سره تېره شوی ، هلته یې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه ).

٦ . که په حضرت موسی علیه السلام باندې په میدانِ تِیه کې وریځې سورې کړې وُ ، نو رسولُ الله صلی الله علیه وسلم هم چې کله د دولسو (١٢) کالو وُ او د خپل تره ابوطالب سره شام ته د تجارت د پاره تللې وُ نو بحیرا راهب وریځ اولیده چې په نبي علیه السلام باندې یې سورې کړې وُ . (١)

په نبي ﷺ باندې د وریځې د سوري دا معجزه په حضرت موسی ﷺ باندې د وریځې د سورې د معجزې نه په یو اِعتبار سره ډیره اُوچته ده ، ځکه په نبي ﷺ باندې چې وریځې سورې کړې وُ نو دې په دې وخت کې پیغمبر نه وُ ، بلکه د دولسو کالو وُ .

بل دا چې دې وریځې صرف په پیغمبر علیه السلام باندې سورې کړې وُ ، په ورسره موجود نورو خلقو باندې یې نه وُ کړی . (٢)

٧ . که د حضرت موسی علیه السلام په قوم (بني اسرائیلو) باندې "مَن" او "سَلوٰی" نازله شوې وه نو په ډیرو موقعو کې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په دُعا سره لږ خوراک او لږ څکاک ډیرو خلقو د پاره کافي شوی ، په دې کې به د آسمان د طرفه برکت نازلیده ، لکه :

د غزوه خَندق په موقع د حضرت جابر ﷺ په دَعوت کې معمولي وَربشې او د چیلۍ وړوکي بچې د زرو (١٠٠٠) کسانو د پاره کافي کیدل .

(١) امام ترمذي ، امام حاکم ، ابن عساکر ، او امام بیهقي رحمهم الله دا روایت رانقل کړې دی .

(٢) وَأَمَّا تَظْلِيلُهُ بِالْغَمَامِ فِي التِّيهِ . لَقَدْ تقدم ذکر حدیث الغمامة التی رآها بحیرا تُظِلُّهُ مِنْ بَيْنِ أَصْحَابِهِ . وَهُوَ ابْنُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً صُحْبَةَ عَمِّهِ أَبِي طَالِبٍ وَهُوَ قادم إلى الشَّامَ فِي تِجَارَةٍ ، وَهٰذَا أَبْهَرُ مِنْ جِهَةِ أَنَّهُ كَانَ وَهُوَ قَبْلَ أَنْ يُوحٰى إِلَيْهِ . وَكَانَتِ الْغَمَامَةُ تُظِلُّهُ وَحْدَهُ مِنْ بَيْنِ أَصْحَابِهِ . فَهٰذَا أَشَدُّ فِي الِاعْتِنَاءِ ، وَأَظْهَرُ مِنْ غَمَامِ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَغَيْرِهِمْ . معجزات النبي صلی الله علیه وسلم لابن کثیر ص ٤٢٨ .

د حضرت ابو طلحة رضي الله عنه په دَعوت کې معمولي خوراک د اَتيا (٨٠) کسانو د پاره کافي کيدل.

په يوه موقع معمولي خوراک يو لک (١٠٠٠٠٠) کسانو له کافي کيدل.
يوه پياله شوده (پَی) ټولو اهلِ صُفهؤ د پاره کافي کيدل. (١)

٨ . حافظ ابو نعيم او ابن حامد رحمهما الله په دې موقع دا هم ليکلي چې د "مَن" او "سَلوٰی" نه هغه رِزق مراد دی چې بني اسرائيلو ته بغير د مُشقت او تکليف نه ورکولې شو، ددې په مقابله کې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته مالِ غنيمت حلال کړې شوې ؤ، چې دا د پيغمبر ﷺ مخکې د بل هيچا د پاره حلال نه ؤ. (٢)

همدارنګې د نبي عليه السلام صحابهؤ ته هم په يو جِهادي سفر کې بِلا مُشقته داسې رِزق (عنبر ماهي) ملاؤ شوې ؤ چې دوی دري سوه (٣٠٠) کسانو ددې ماهي نه پنځلس ١٥ (يا ديرش ٣٠) ورځې مسلسل خوراک کولو. دا واقعه په بخاري شريف او مسلم شريف کې ذکر ده. (٣)

---

(١) **نوټ** دا ټولې معجزې په مخکيني موضوع ﴿ د نبي ﷺ معجزات ﴾ کې په تفصيل سره تېره شوی. هلته يې اوګوره. ابوالشمس عفي عنه).

(٢) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي .... وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ. وَلَمْ تُحَلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي.... صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةَ رقم الحديث ٣ (٥٢١)، صحيح البخاري كتاب الصلوة بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: جُعِلَتْ لِي الأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا رقم الحديث ٤٣٨.

(٣) عَنْ عَمْرٍو، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرًا، يَقُوْلُ: بَعَثَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مِائَةِ رَاكِبٍ. وَأَمِيرُنَا أَبُوْ عُبَيْدَةَ. نَرْصُدُ عِيْرًا لِقُرَيْشٍ. فَأَصَابَنَا جُوْعٌ شَدِيْدٌ حَتَّى أَكَلْنَا الْخَبَطَ. فَسُمِّيَ جَيْشَ الْخَبَطِ. وَأَلْقَى الْبَحْرُ حُوْتًا يُقَالُ لَهُ الْعَنْبَرُ. فَأَكَلْنَا نِصْفَ شَهْرٍ وَادَّهَنَّا بِوَدَكِهِ. حَتَّى صَلَحَتْ أَجْسَامُنَا. صحيح البخاري كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ} رقم الحديث ٥٤٩٤، صحيح مسلم باب اباحة ميتات البحر، سنن ابي داؤد باب في دواب البحر رقم الحديث ٣٨٤٠.

# نبي عليه السلام ته د حضرت داؤد عليه السلام د معجزاتو نه بهترينې معجزې ورکړې شوې وې

١ . که حضرت داؤد عليه السلام د ښکلي آواز واله وُ نو زمونږ پيغمبر محمّد رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د ښکلي آواز واله وُ ، د بخاري شريف حديث دی حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي :

سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْعِشَاءِ " وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ " فَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا أَحْسَنَ صَوْتًا أَوْ قِرَاءَةً مِنْهُ . (١)

ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه د ماسخوتن په مانځه کې " وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ " سورت واوريد ، نو ما تر اوسه د نبي عليه السلام نه ښائسته آواز او ښائسته قِرأت د بل هيچا نه ندې اَوريدلی . ( يعنې د پيغمبر عليه السلام آواز او قرأت ډير ښائسته وُ ) .

٢ . که چيرته د حضرت داؤد عليه السلام سره غرونو او مرغانو تسبيح ويله ، نو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په لاس مبارک کې هم کاڼو تسبيح ويلی . (٢)

کاڼو اُونو او غرونو په پيغمبر عليه السلام سلام اچولی . (٣)

---

(١) صحيح البخاري كتاب التوحيد بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « اَلْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ » رقم الحديث ٧٥٤٦ ، مشكوة المصابيح ٨٣٤ (١٣) باب القراءة فى الصلاة الفصل الاول .

(٢) دلائل النبوة للبيهقي ٦ / ٦٤ ، ٦٥ ، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير .

(٣) عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ . قَالَ : كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ فَخَرَجْنَا فِي بَعْضِ نَوَاحِيْهَا فَمَا اسْتَقْبَلَهُ جَبَلٌ وَلَا شَجَرٌ إِلَّا وَهُوَ يَقُوْلُ : اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْمَنَاقِبِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باب ٦ رقم الحديث ٣٦٢٦ ، مشكاة المصابيح بابٌ فى المعجزات رقم الحديث ٥٩١٩ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٤٢٣٨ . و في رواية : إِنِّي لَأَعْرِفُ حَجَرًا بِمَكَّةَ كَانَ يُسَلِّمُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ إِنِّي لَأَعْرِفُهُ الْآنَ . صحيح مسلم كتاب الفضائل بَابُ فَضْلِ نَسَبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَتَسْلِيمِ الْحَجَرِ عَلَيْهِ قَبْلَ النُّبُوَّةِ رقم حديث ٢٢٧٧ . مشكاة المصابيح باب فى المعجزات رقم ٥٨٥٣ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٣٧٠٩ .

د چيلۍ پخې غوښې، نبي ﷺ ته د زهرو اطلاع وکړې. (۱)

ځنګلي حيواناتو او جماداتو د رسول الله ﷺ د نبوت ګواهي ورکړې. (۲)

د پيغمبر ﷺ په موجودګۍ کې د خوراک نه د تسبيح آواز آوريدل شوې. (۳)،(۴)

لهذا د کاڼو او خوراک نه د تسبيح آواز راتلل. د غرونو نه د آواز راتلو په نسبت ډير عجيب دی. ځکه په غرونو کې عام طور ډډ والې وي چې د دې سره آواز تکراروُ شي نو د دې نه آواز رااوځي، لکه حضرت عبدالله بن جُبير رضي الله عنه چې کله د مدينې منورې امير وُ او ده

---

(۱) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ . قَالَ : كَانَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ يُحَدِّثُ أَنَّ يَهُودِيَّةً، مِنْ أَهْلِ خَيْبَرَ سَمَّتْ شَاةً مَصْلِيَّةً ثُمَّ أَهْدَتْهَا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذِّرَاعَ . فَأَكَلَ مِنْهَا . وَأَكَلَ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِهِ مَعَهُ . ثُمَّ قَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اِرْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ ». وَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَهُودِيَّةِ فَدَعَاهَا . فَقَالَ لَهَا « أَسَمَمْتِ هٰذِهِ الشَّاةَ ؟ » قَالَتِ الْيَهُودِيَّةُ : مَنْ أَخْبَرَكَ ؟ قَالَ « أَخْبَرَتْنِي هٰذِهِ فِي يَدِي » لِلذِّرَاعِ . قَالَتْ : نَعَمْ . قَالَ « فَمَا أَرَدْتِ إِلَى ذٰلِكَ ؟ » قَالَتْ : قُلْتُ : إِنْ كَانَ نَبِيًّا فَلَنْ يَضُرَّهُ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ نَبِيًّا اِسْتَرَحْنَا مِنْهُ . فَعَفَا عَنْهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُعَاقِبْهَا... سنن ابي داؤد كتاب الديات بَابٌ فِيمَنْ سَقَى رَجُلًا سُمًّا أَوْ أَطْعَمَهُ فَمَاتَ أَيُقَادُ مِنْهُ رقم الحديث ۴۵۱۰ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۶۰۰۸ . مشكوة المصابيح باب فى المعجزات رقم الحديث ۵۹۳۱ .

وفي رواية كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ فَإِنَّ عُضْوًا مِنْ أَعْضَائِهَا يُخْبِرُنِي أَنَّهَا مَسْمُومَةٌ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الأَطْعِمَةِ رقم الحديث ۷۰۹۰ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . الخصائص الكبرى ، و اخرجه البيهقي وابونعيم .

(۲) د نبي عليه السلام د رسالت ګواهي د کيکر اونې ، د قجورې غنچک ، هوسۍ ، ليوه او نورو ډيرو شيانو ورکړې ، دا معجزې په تفصيل سره په مخکينۍ ( د نبي عليه السلام معجزات ) موضوع کې تيرې شوې . ابوالشمس عفي عنه

- عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ وَلَقَدْ كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيحَ الطَّعَامِ وَهُوَ يُؤْكَلُ صحيح البخاري كتاب المناقب بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ فِي الإِسْلَامِ ۴ : ۱۹۴ رقم الحديث ۳۵۷۹ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۹۱۰ (۴۳)

(۴) وَأَمَّا تَسْبِيحُ الطَّيْرِ مَعَ دَاوُدَ عليه السلام فَتَسْبِيحُ الْجِبَالِ الصم أَعْجَبُ مِنْ ذٰلِكَ . وَقَدْ تَقَدَّمَ فِي الْحَدِيثِ أَنَّ الْحَصَا سَبَّحَ فِي كَفِّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ ابْنُ حَامِدٍ : وَهٰذَا حَدِيثٌ مَعْرُوفٌ مَشْهُورٌ . وَكَانَتِ الأَحْجَارُ وَالأَشْجَارُ وَالْمَدَرُ تُسَلِّمُ عَلَيْهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ... وَكَلَّمَهُ ذِرَاعُ الشَّاةِ الْمَسْمُومَةِ . وَأَعْلَمَهُ بِمَا فِيهِ مِنَ السُّمِّ . وَشَهِدَتْ بِنُبُوَّتِهِ الْحَيَوَانَاتُ الإِنْسِيَّةُ وَالْوَحْشِيَّةُ . وَالْجَمَادَاتُ أَيْضًا . كَمَا تَقَدَّمَ بَسْطُ ذٰلِكَ كُلِّهِ . معجزات النبي ﷺ القَوْلُ فِيمَا أُوتِيَ دَاوُدُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ۴۴۵ .

خطبه ويله نو د ابوقبيس او زرود د غر سره به چې کله دا آواز ټکراويده نو د دينه به يو قسم آواز پيدا کيده ( البته د غر نه د تسبيح آواز راتلل د حضرت داؤد عليه السلام معجزه وه ) . (۱)

۳ . که د حضرت داؤد عليه السلام په لاس کې به اوسپنه بغير د اور ګرمولو نه نرمه وه او ده به ورنه زغرې جوړولی ، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د خندق کنستلو په موقع ډير غټ کانړې په دريم ګوذار سره داسې ذرې ذرې کړو چې ددې نه مخکې دا هيڅ نښو ماتولی . او په دې کې هيڅ شک نشته چې کانړې ذرې ذرې کيدل د اوسپنې د نرمېدو نه ډير تعجبي دی ، ځکه اوسپنه په ګرمولو سره نرميږي خو کانړې په ګرمولو سره هم نه نرميږي . (۲)

حافظ ابونعيم اصبهاني رحمه الله ليکلي چې که د حضرت داؤد عليه السلام د پاره اوسپنه نرمه شوې وه نو زمونږ پيغمبر محمّدٌ رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته هم کانړې او غټ غټ ګټان نرم شوي وو ، لکه د معراج په شپه باندې کانړې نبي ﷺ ته د اَغګل شوي اوړو په شان نرم شوې وُ ، او په هغې پورې يې خپل بُراق تړلې وُ . (۳)

---

(۱) وَلَا شَكَّ أَنَّ صُدُوْرَ التَّسْبِيْحِ مِنَ الْحَصَا الصِّغَارِ الصم الَّتِيْ لَا تجاويف فيه أَعْجَبُ مِنْ صُدُوْرِ ذٰلِكَ مِنَ الْجِبَالِ ,لِمَا فِيْهَا مِنَ التَّجَاوِيْفِ وَالْكُهُوْفِ ، فَإِنَّهَا وَمَا شَاكَلَهَا تردد صدى الأصوات العالية غالبا . كما قال عبد الله بن الزبير : كان إذا خطب وهو أمير المدينة بالحرم الشريف تجاوبه الجبال أبو قبيس و زرود . وَلٰكِنْ مِنْ غَيْرِ تَسْبِيْحٍ . فَإِنَّ ذٰلِكَ مِنْ معجزات داود عليه السلام . ومع هذا كان تسبيح الْحَصَا فِيْ كَفِّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِيْ بكرٍ وعمر وعثمان أعجب . معجزات النبي ﷺ اَلْقَوْلُ فِيْمَا أُوْتِيَ دَاوُدُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ۴۲۶ .

(۲) وأَمَّا إِلَانَةُ الْحَدِيْدِ بِغَيْرِ نَارٍ كَمَا يَلِيْنُ الْعَجِيْنُ فِيْ يَدِهِ ..... وَالْمَقْصُوْدُ الْمُعْجِزُ فِيْ إِلَانَةِ الْحَدِيْدِ. وَقَدْ تَقَدَّمَ فِي السِّيْرَةِ عِنْدَ ذِكْرِ حَفْرِ الْخَنْدَقِ ..... ثُمَّ انْسَالَتِ الصَّخْرَةُ كأنها كثيب مِنَ الرمل . ولاشَكَّ أَنَّ انسيال الصخرةِ الَّتِي لَا تَنْفَعِلُ وَلَا بِالنَّارِ أَعْجَبُ مِنْ لين الحديد الذی إن أحمی ..... وَحَاصِلُهُ أَنَّ الْحَدِيْدَ أَشَدُّ امْتِنَاعًا فِي السَّاعَةِ الرَّاهِنَةِ مِنَ الْحَجَرِ مَا لَمْ يُعَالَجْ فَإِذَا عُولِجَ انْفَعَلَ الْحَدِيْدُ وَلَا يَنْفَعِلُ الْحَجَرُ . وَاللهُ أَعْلَمُ . معجزات النبي ﷺ اَلْقَوْلُ فِيْمَا أُوْتِيَ دَاوُدُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ۴۲۷ .

(۳) وَأَمَّا رَبْطُ الدَّابَّةِ فِي الْحَجَرِ فَصَحِيْحٌ. وَالَّذِيْ رَبَطَهَا جِبْرِيْلُ كَمَا هُوَ فِيْ صَحِيْحِ مسلم معجزات النبي ﷺ اَلْقَوْلُ فِيْمَا أُوْتِيَ دَاوُدُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ۴۲۸ .

په احاديثو کې ددې تذکره شته. (١)

# نبي عليه السلام ته د حضرت سليمان عليه السلام د معجزاتو نه بهترينې معجزې ورکړې شوې وې

١ . حافظ ابونعيم ليکلي :که د حضرت سليمان عليه السلام د پاره هوا مسخر کړې شوې وه چې دې هوا به دې د الله ﷻ په ملکونو کې ګرځول، د سهر په وخت به يې د يو مياشت په اندازه سفر کولو، او د ماښام په وخت به يې هم د يو مياشت په اندازه سفر کولو. (٢)

نو ددې په ځای باندې الله ﷻ زمونږ خوږ پيغمبر محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته هم يوه عظيمه معجزه ورکړې وه، هغه دا چې د معراج په يوه شپه کې يې د مکې مکرّمې نه تر د بيتُ المقدس پورې د يو مياشت په فاصله سفر اوکړو، بيا د شپې د دريمې حصې نه په کم وخت کې يې د پنځوس زره (٥٠٠٠٠) کاله مسافت په اَندازه د آسمانونو سفر اوکړو، هر هر آسمان ته به داخليدو، د هغې د عجائباتو مشاهده به يې کوله، د جنّت او جهنم ديدار يې اوکړو، د خپل اُمت اَعمال ورباندې پيش شو، اَنبياء کرامو او فرښتو ته يې اِمامت اوکړو.

لهذا دا ټول کارونه صِرف په يوه شپه کول ډيره لويه او عجيبه معجزه ده. (٣)

(١) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَمَّا كَانَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي اِنْتَهَيْتُ إِلى بَيْتِ الْمَقْدِسِ فَخَرَقَ جِبْرِيْلُ الصَّخْرَةَ بِإصبعه وشَدَّ بِهَا الْبُرَاق . صحيح ابن حبان كتاب الاسراء ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ جِبْرِيلَ شَدَّ الْبُرَاقَ بِالصَّخْرَةِ عِنْدَ إِرَادَةِ الإِسْرَاءِ رقم الحديث ٤٧ ، سنن الترمذي رقم الحديث ٣١٣٢ .

(٢) لکه په دې آيتونو کې ددې تذکره شته : ﴿وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ عَاصِفَةً تَجْرِي بِأَمْرِهِ إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عَالِمِينَ﴾ . سورة الانبياء آية ٨١ . بل ځای ذکر دي : ﴿وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ﴾ سورة سبا آية ١٢ .

(٣) قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ : فَإِنْ قِيلَ : فَإِنَّ سُلَيْمَانَ سُخِّرَتْ لَهُ الرِّيحُ فَسَارَتْ بِهِ فِي بِلَادِ اللهِ وَكَانَ غُدُوُّهَا شَهْرًا وَرَوَاحُهَا شَهْرًا. قِيلَ : مَا أُعْطِيَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْظَمُ وَأَكْبَرُ . لِأَنَّهُ سَارَ فِي لَيْلَةٍ وَاحِدَةٍ مِنْ مَكَّةَ إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ. وَعُرِجَ بِهِ فِي ملكوت السموات مَسِيرَةَ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، فِي أَقَلِّ مِنْ ثلث ليلة. فدخل السموات سَمَاءً سَمَاءً . وَرَأَى عَجَائِبَهَا . وَوَقَفَ عَلَى الْجَنَّةِ وَالنَّارِ . وَعُرِضَ عَلَيْهِ أَعْمَالُ أُمَّتِهِ . وَصَلَّى بِالْأَنْبِيَاءِ وبملائكة السموات، واخترق فى الحجب. وهذا كله فى ليلة قائما أَكْبَرُ وَأَعْجَبُ . معجزات النبي ﷺ الْقَوْلُ فِيمَا أُوتِيَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ٢٥٠ .

همدارنګې الله ﷻ په ډيرو موقعو کې د نبي عليه السلام مدد د هوا په ذريعه کړی، لکه: د غزوه احزاب په باره کې الله تعالى فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَمْ تَرَوْهَا وَكَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴾. (۱)

ترجمه: اې مومنانو! تاسو د الله ﷻ هغه نعمت رایاد کړئ کوم يې په تاسو باندې کړی، هغه دا چې کله په تاسو باندې (د غزوه خندق په موقع باندې د کافرانو) ډيرې لښکرې راغلی، نو مونږ په دوی باندې (سخته تېزه) هوا راوليږله، او داسې (غيبي) لښکرې مو ورباندې رااوليږلی چې تاسو هغه نه ليدلی، او تاسو چې څه کارونه کوئ په هغې باندې الله ﷻ بينا دی (يعنی دا ټول ګوري).

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

نُصِرْتُ بِالصَّبَا. وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ. (۲)

زما مدد په مشرقي هوا سره شوی، او عاديان د مغربي هوا په ذريعه هلاک شوي.

همدارنګې په ډيرو موقعو کې داسې شوي چې نبي عليه السلام به کله د باران د پاره دُعا اوکړه نو هوا د دوی د پاره داسې مُسخّر وه چې دې هوا به وريځ د باران ورولو د پاره دغه ځای ته رابنکله، او هلته به باران اوشو. (۳)

---

(۱) سورة الاحزاب آية ۹.

(۲) صحيح البخاري أَبْوَابُ الإِسْتِسْقَاءِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُصِرْتُ بِالصَّبَا رقم الحديث ۱۰۳۵، ورقم ۳۲۰۵، ورقم ۴۱۰۵. صحيح مسلم باب في ريح الصبا والدبور رقم الحديث ۹۰۰.

(نُصِرْتُ بِالصَّبَا): هي الريح التي تهب من مشرق الشمس ونصرته بها صلى الله عليه وسلم كانت يوم الخندق إذا أرسلها الله تعالى على الأحزاب باردة في ليلة شاتية فقلعت خيامهم وأطفأت نيرانهم وقلبت قدورهم وكان ذلك سبب رجوعهم وانهزامهم. (اَلدَّبُوْرُ) هي الريح التي تهب من مغرب الشمس وبها كان هلاك قوم عاد كما قص علينا القرآن الكريم. تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري.

(۳) وسخرت الرِّياح تسوق السَّحاب لِإِنْزال الْمَطَرِ الَّذِي امْتَنَّ اللهُ بِهِ حِيْنَ اسْتَسْقَى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَيْرِ مَا مَوْطِنٍ كَمَا تَقَدَّمَ. معجزات النبي ﷺ القَوْلُ فِيمَا أُوتِيَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ۴۵۰.

۲ . ابن حامد رحمه الله په خپل کتاب کې ذکر کړي چې : که الله ﷻ د حضرت سليمان عليه السلام د پاره شيطانان مُسخّر کړي وو چې ده ده د مرضى موافق به يې ده له قلعه ګانې، غټې غټې خانګونه او مضبوط ديګونه جوړول (۱) نو ددې په عوض کې الله ﷻ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مدد د پاره په ډېرو ځايونو کې فرښتې نازلې کړي ، لکه : په غزوه بَدر ، غزوه اُحد ، غزوه اَحزاب او غزوه حُنين کې .

او د فرښتو دا مدد د شيطانانو د تَسخِير نه ډېره اُوچته ، اَعلى او واضحه مُعجزه ده . (۲)

بل دا چې نبي عليه السلام ته هم په ډېرو موقعو کې په جِناتو او شيطانانو باندې هم قدرت حاصل شوى ، د بخاري شريف حديث دى ، رسول الله ﷺ فرمايي :

بيګاه شپه ناڅاپه ماته عِفرِيت جن ددې د پاره رابنکاره شو چې زما مونځ کټ کړي : فَأَمْكَنَنِي اللهُ مِنْهُ فَأَخَذْتُهُ . پس الله ﷻ ماته په هغه باندې قدرت راکړو ، ما هغه اُونيوه.

ما اِراده اوکړه چې زه هغه د جُمات په ستنو کې يوې ستَنې پورې اُوتړم ، ددې د پاره چې تاسو ټول دا اُوګورئ ، خو ماته د خپل ورور حضرت سليمان عليه السلام دُعا رايادة شوه چې هغه دا دُعا کړې وه :

﴿ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَّا يَنبَغِي لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِي إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ﴾ . (۳)

---

(۱) لکه د سورة سبا په دې آيت کې الله ﷻ ددې تذکره کړې: ﴿ يَعْمَلُونَ لَهُ مَا يَشَاءُ مِن مَّحَارِيبَ وَتَمَاثِيلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَّاسِيَاتٍ ﴾ . سورة سبا آية ۱۳ .

(۲) وَأَمَّا تَسْخِيرُ الشَّيَاطِينِ بَيْنَ يَدَيْهِ تَعْمَلُ مَا يَشَاءُ مِنْ مَحَارِيبَ وَتَمَاثِيلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَاسِيَاتٍ، فَقَدْ أَنْزَلَ اللهُ الْمَلَائِكَةَ الْمُقَرَّبِين لِنصرة عبده رَسُول اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَيْرِ مَا مَوْطِنٍ. يَوْمَ أُحُدٍ وَبَدْرٍ. وَيَوْمَ الْأحزاب ويوم حنين، كما تقدم ذكرناه ذٰلِكَ مُفَصَّلًا فِي مَوَاضِعِهِ. وَذٰلِكَ أَعْظَمُ وَأَبْهَرُ وأجل وأعلا مِنْ تَسْخِيرِ الشَّيَاطِينِ. وَقَدْ ذَكَرَ ذٰلِكَ ابْنُ حَامِدٍ فِي كِتَابِهِ . معجزات النبي ﷺ الْقَوْلُ فِيمَا أُوتِيَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ۲۵۰

(۳) سورة ص آية ۳۵ .

ترجمه : اې زما ربه ! زما لغزشونه معاف کړه ، او ماته داسې بادشاهي راکړه چې ( په دې زمانه کې ) د مانه پس بل هیچا ته حاصله نشي ، بیشکه ته ډېر زیات ورکوونکې ( بخنه کوونکې ) یې .

( نبي علیه السلام فرمایي ) نو ما هغه ( شیطان ) ذلیله پریخود . (۱)

د مسلم شریف په روایت کې ورسره دا هم ذکر دي ، رسول الله ﷺ فرمایي :

ثُمَّ أَرَدْتُ أَخْذَهُ . وَاللهِ لَوْلَا دَعْوَةُ أَخِينَا سُلَيْمَانَ لَأَصْبَحَ مُوْثَقًا يَلْعَبُ بِهِ وِلْدَانُ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ . (۲)

بیا ما د شیطان د نیولو اراده اوکړه ، قسم په الله ﷻ ، که چیرته زمونږ د ورور حضرت سلیمان علیه السلام دُعا ( رَبِّ هَبْ لِيْ مُلْكًا... ) نه وی نو دې به د سهره پورې دلته تړل شوې وی او د اهلِ مدینې ماشومانو به دده سره لوبې کولې .

دغه رنګې اوس هم د رمضان المبارک د روژو په برکت په دې میاشت کې سَرکشه شیطانان په زَنځیرونو باندې تړلې شي ، د بخاري شریف حدیث دی ، نبي ﷺ فرمایي :

إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ فُتِحَتْ أَبْوَابُ السَّمَآءِ ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ ، وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِيْنُ . (۳)

چې کله د رمضان المبارک میاشت راداخله شي نو د آسمان ( یعنی د جنت ) دروازې کلاؤ شي ، او د جهنم دروازې بندې کړې شي ، او سَرکشه شیطانان په زَنځیرونو اُوتړلې شي .

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ عِفْرِيْتًا مِّنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ صَلَاتِي ، فَأَمْكَنَنِي اللهُ مِنْهُ فَأَخَذْتُهُ ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبُطَهُ عَلَى سَارِيَةٍ مِّنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ حَتَّى تَنْظُرُوْا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ ، فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ أَخِيْ سُلَيْمَانَ ﴿ رَبِّ هَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْبَغِيْ لِأَحَدٍ مِّنْ بَعْدِيْ ﴾ فَرَدَدْتُهُ خَاسِئًا . صحیح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : ( وَوَهَبْنَا لِدَاوُدَ سُلَيْمَانَ نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ ) رقم الحدیث ۳۴۲۳ .

(۲) صحیح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ جَوَازِ لَعْنِ الشَّيْطَانِ فِي أَثْنَاءِ الصَّلَاةِ ، وَالتَّعَوُّذِ مِنْهُ ... رقم الحدیث ۴۰ ( ۵۴۲ )

(۳) صحیح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ هَلْ يُقَالُ رَمَضَانُ أَوْ شَهْرُ رَمَضَانَ رقم الحدیث ۱۸۹۹ . وفي رواية : إِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ ، وَصُفِّدَتِ الشَّيَاطِيْنُ . صحیح مسلم كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ شَهْرِ رَمَضَانَ رقم الحدیث ۱۰۷۹ .

دغه رنګې ډيرو جِنّاتو چې کله د نبي عليه السلام نه قرآن کريم واوريد نو هغوی ايمان راوړو، د قرآن کريم په سورة الجنّ کې ددې تذکره شته.

همدغه رنګې په بخاري شريف کې هغه اوږده واقعه ذکر ده چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د زکوة په مال باندې حضرت ابوهريرة ﷺ مقرر کړې وُ، د شپې شيطان ددې نه غلا کوله نو حضرت ابوهريرة ﷺ هغه اُونيوه (اوږده واقعه ده). (۱)

همدارنګې نبي عليه السلام د جِنّاتو او د دوی د ځاروو د خوراک د پاره شَرعي حکم هم بيان کړی.

دا ټولې خبرې د شيطانانو د تَسخير نه اَهمې دي. (۲)

۳. حافظ ابونعيم رحمه الله ليکلي: که حضرت سليمان عليه السلام ته دا معجزه ورکړې شوې وه چې دې د مرغو او ميږيانو په خبرو باندې پوهيدو، لکه په قرآن کريم کې ددې تذکره شته، نو زمونږ پيغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته هم دغه شان بلکه ددې نه بهترينې معجزې ورکړې شوې وی، لکه:

د حيواناتو د نبي عليه السلام سره خبرې کول.

د قجورې د اُوچې تَنې نه د نبي عليه السلام د فِراق، او ذِکرُ الله نه د لرې والي په وجه د ژړا آواز راتلل.

د پيغمبر عليه السلام په لاس مبارک کې د کانړو تسبيح ويل.

د نبي ﷺ په رابللو سره اُونه او غُنچَکه د خپل ځای نه راتلل.

د چيلۍ د يَخ شوې غوښې نه خبردارې " چې په ما کې زَهر ملاوُ شوي ".

د اُونو او کانړو په نبي ﷺ باندې سلام اَچول. (۳)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَاب الوَكَالَةِ بَابُ إِذَا وَكَّلَ رَجُلًا فَتَرَكَ الوَكِيلُ شَيْئًا فَأَجَازَهُ المُوَكِّلُ فَهُوَ جَائِزٌ رقم الحديث ۲۳۱۱ .

(۲) وَشَرَعَ لَهُمْ مَا يَأْكُلُونَ وَمَا يُطْعِمُونَ دَوَابَّهُمْ. فَدَلَّ عَلَى أَنَّهُ بَيَّنَ لَهُمْ مَا هُوَ أَهَمُّ مِنْ ذٰلِكَ وَأَكْبَرُ . معجزات النبي ﷺ الفَرْقُ بَيْنَنَا أُوتِيَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَامُ ص ۴۵۲ .

(۳) **نوټ** : دا هره معجزه د پوره تفصيل او معتمد حوالې سره په مخکينې موضوع (د نبي عليه السلام معجزات) کې تيره شوی . ابوالشمس علي عنه

د نبي عليه السلامْ دا ټولې معجزې د حضرت سليمان عليه السلام سره د مرغو او ميږيانو د خبرو کولو معجزې په شان دي ، بلکه د هغې نه هم ډېرې بَليغې دي ، ځکه د مرغو او ميږيانو په نسبت د کاڼړې ، اُونې او نورو جَماداتو نه د سلام او تسبيح آواز راتلل ډېر عجيبه دي . (١)

## نبي عليه السلام ته د حضرت عيسى عليه السلام د معجزو نه بهترينې معجزې ورکړې شوې وې

١ . که حضرت حضرت عيسىٰ عليه السلام ته دمړي ژوندي کولو معجزه ورکړې شوې وه نو ددې په شان بلکه ددې نه بهتره نبي عليه السلام ته د استوانه حَنانې معجزه ورکړې شوې وه ، چې د پيغمبر عليه السلام نه د فِراق او ذِکرُ الله نه د لرې والي په وجه د قجورې اُوچې تَنې نه د ژړا ، چغو او سُورو آواز راوتو .

او دا د حضرت عيسىٰ عليه السلام د معجزې نه ډېره اُوچته معجزه ده ، ځکه که حضرت عيسىٰ عليه السلام د الله جل جلاله په حکم مړي ژوندي کول نو دا په انساني لاش کې صرف د رُوح

(١) قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ : فَإِنْ قِيْلَ : سُلَيْمَانُ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَفْهَمُ كَلَامَ الطَّيْرِ وَالنَّمْلَةِ كَمَا قَالَ تَعَالَى : ﴿ وَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ ﴾ وقال: ﴿ حَتَّى إِذَا أَتَوْا عَلَى وَادِ النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ . فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِنْ قَوْلِهَا ﴾.
قِيْلَ : قَدْ أُعْطِيَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ وَأَكْثَرَ مِنْهُ . فَقَدْ تَقَدَّمَ ذِكْرُنَا لِكَلَامِ الْبَهَائِمِ . وَالسِّبَاعِ . وَحَنِيْنِ الْجِذْعِ . وَرُغَاءِ الْبَعِيْرِ . وَكَلَامِ الشَّجَرِ . وَتَسْبِيْحِ الْحَصَا وَالْحجرِ ....قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي لَأَعْرِفُ حَجَرًا كان يسلم عليّ بمكة قبل أن أبعث. إني لأعرفه الْآنَ. فَهٰذَا إِنْ كَانَ كَلَامًا مِمَّا يَلِيْقُ بحاله ففهم عنه الرسول ذٰلِكَ فَهُوَ مِنْ هٰذَا الْقَبِيْلِ وَأَبْلَغُ . لِأَنَّهُ جَمَادٌ بِالنِّسْبَةِ إِلَى الطَّيْرِ وَالنَّمْلِ. لِأَنَّهُمَا مِنَ الْحَيَوَانَاتِ ذَوَاتِ الْأَرْوَاحِ . وَإِنْ كَانَ سَلَامًا نُطْقِيًا وَهُوَ الْأَظْهَرُ. فَهُوَ أَعْجَبُ مِنْ هٰذَا الْوَجْهِ أَيْضًا . كَمَا قَالَ عَلِيٌّ : خَرَجْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ شِعَابِ مَكَّةَ فَمَا مَرَّ بِحَجَرٍ وَلَا شَجَرٍ وَلَا مَدَرٍ إِلَّا قَالَ : اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ . فَهٰذَا النُّطْقُ سَمِعَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . معجزات النبي ﷺ اَلْقَوْلُ فِيْمَا أُوْتِيَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ۴۵۳ .

دوباره راوستل دي ، او د رُوح چونکه د بَدن سره د. مخکې نه مناسبت هم شته ، نو که رُوح د بدن نه وتلې شي نو دوباره وَرننوتلې هم شي ، ځکه دا يې خپل مَحَل دی .

ليکن د قجورې په اُوچه تَنه کې ژوند راتلل ، او بيا د دې نه د انسانانو بلکه د عاشقانو په شان اَفعال صادريدل ډير عجيبه دي . (١)

امام بيهقي رحمه الله د امام شافعي رحمه الله نه نقل کړي چې د نبي عليه السلام د فراق په وجه د قجورې د اُوچ ډَډ نه د ژړا آواز راتلل د حضرت عيسىٰ ﷺ د اِحياءِ موتیٰ د معجزې نه ډيره اُوچته معجزه ده . ځکه که مړې ژوندې شي نو دا خپل سابقه حالت ته راواپس شي ، او اُوچ لرګي چونکه جَمادِ مَحض دی ، په دې کې خو د مخکې نه د ژوند هيڅ آثرات نه وو ، نو د دې نه د نبي عليه السلام د مفارقت او ذِکرُ الله نه د لرې والي په وجه د ژړا آواز راتلل ډير عجيبه دی . (٢)

همدغه رنګې د اُونو او غرونو نه د اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ آواز راتلل ، د نبي عليه السلام په اِشارې سره د بتانو راغورځيدل ، د دوی په مجلس کې د خوراک نه د تسبيح آواز راتلل ، د دوی په رابللو سره اُونه د خپل ځای نه راتلل او په اِشارې سره واپس خپل ځای ته تلل ، دا ټول د اِحياء موتیٰ د معجزې نه کم ندي . (٣)

حافظ ابن کثير رحمه الله ليکلي چې زمونږ شيخ علامه ابن زملکاني رحمه الله فرمايلي : چې د حضرت عيسىٰ ﷺ په معجزو کې لويه معجزه د مړي ژوندي کولو معجزه وه ، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته هم همدغه شان د مړي ژوندي کولو معجزه ورکړې شوې وه .

دا معلومه خبره ده چې د جَماداتو ( يعنی د بې رُوحه شيانو ) ژوندي کول د مړي ژوندي کولو په نسبت ډير بليغ او ډير تعجبي دي .

---

(١) خطبات حکيم الاسلام ج١ ص ١٦٩ .

(٢) سيرة المصطفى لمولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله ج٣ ص ٢٧٣ .

همدغه شان خبره علامه ابن حجر رحمه الله هم د امام شافعي صاحب نه رانقل کړې ده . فتح الباري ٦/٦٩٨ ، نضرة النعيم ج١ ص ٥٣٥ . معجزاته ودلائل نبوته .

(٣) سيرة المصطفى لمولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله ج٣ ص ٢٧٣ .

په ابوداؤد شريف او مشکوة شريف کې د نبي عليه السلام دا معجزه ذکر ده چې د چيلۍ وريتې شوې غوښې نبي ﷺ سره خبرې اوکړې چې په ما کې زَهر ملاوُ شوي . (١)

اوس د وريتې شوې غوښې ژوندي کيدل ، او ددې نه خبرې راوتل د مړي ژوندي کولو معجزې نه ډير بليغ او د تعجب نه ډک دی.

ځکه داد مړ شوي حيوان صرف يو جُزء راژوندي کول دي ، حالانکه باقي حيوان هماغه شان مړ وُ ، نو دا ډير تعجبي دی.

دويم دا چې ددې چيلۍ صرف يو جُزء داسې راژوندې شو چې په ده کې اِدراک او عقل هم وُ ( ځکه خو يې نبي عليه السلام ته د زَهرو ملاويدو خبر ورکړو ) ، حالانکه چې کله دا چيلۍ ژوندۍ وه نو دې هلته عقل نه لرل ، او نه يې خبرې کولې شوې.

علامه زملکاني رحمه الله ليکلي چې د نبي عليه السلام دا معجزه د حضرت ابراهيم عليه السلام د معجزې نه هم ډيره بليغه او لويه معجزه ده ، په کومه کې چې الله جل جلاله د ابراهيم عليه السلام په فرمائش باندې حلال شوي مرغان راژوندي کړي وو . (٢)

---

(١) ... قَالَ « أَخْبَرَتْنِيْ هٰذِهِ فِيْ يَدِيْ » لِلذِّرَاعِ ... سنن ابي داؤد كتاب الديات بَابٌ فِيمَنْ سَقَى رَجُلًا سُمًّا أَوْ أَطْعَمَهُ فَمَاتَ أَيُقَادُ مِنْهُ رقم الحديث ٤٥١٠ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٦٠٠٨ ، مشكوة المصابيح بابٌ في المعجزات رقم الحديث ٥٩٣١

وفي رواية : كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ فَإِنَّ عُضْوًا مِنْ أَعْضَائِهَا يُخْبِرُنِيْ أَنَّهَا مَسْمُوْمَةٌ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْأَطْعِمَةِ رقم الحديث ٧٠٩٠ وقال الحاكم هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . الخصائص الكبرى ، و اخرجه البيهقي وابونعيم

(٢) وَقَالَ شَيْخُنَا الْعَلَّامَةُ ابْنُ الزَّمْلَكَانِيِّ رَحِمَهُ اللهُ : وَأَمَّا مُعْجِزَاتُ عِيسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ . فَمِنْهَا إِحْيَاءُ الْمَوْتٰى . وَلِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ذٰلِكَ كَثِيْرٌ . وَإِحْيَاءُ الْجَمَادِ أَبْلَغُ مِنْ إِحْيَاءِ الْمَيِّتِ . وَقَدْ كَلَّمَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذِّرَاعُ الْمَسْمُوْمَةُ . وَهٰذَا الْإِحْيَاءُ أَبْلَغُ مِنْ إِحْيَاءِ الْإِنْسَانِ الْمَيِّتِ مِنْ وُجُوْهٍ :

أَحَدُهَا : أَنَّهُ إحياء جزءٍ من الحيوان دون بقيته . وَهٰذَا مُعْجِزٌ لَوْ كَانَ مُتَّصِلًا بِالْبَدَنِ .

اَلثَّانِيْ : أَنَّهُ أَحْيَاهُ وَحْدَهُ مُنْفَصِلًا عَنْ بَقِيَّةِ أَجْزَاءِ ذٰلِكَ الْحَيَوَانِ مَعَ مَوْتِ الْبَقِيَّةِ .

اَلثَّالِثُ : أَنَّهُ أَعَادَ عَلَيْهِ الْحَيَاةَ مَعَ الْإِدْرَاكِ وَالْعَقْلِ ، وَلَمْ يَكُنْ هٰذَا الْحَيَوَانُ يَعْقِلُ في حياته الَّذِيْ هُوَ جُزْؤُهُ مِمَّا يَتَكَلَّمُ . وَفِيْ هٰذَا مَا هُوَ أَبْلَغُ مِنْ حَيَاةِ الطُّيُوْرِ الَّتِيْ أَحْيَاهَا اللهُ لِإِبْرَاهِيْمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . معجزات النبي ﷺ القول فيما أوتي عيسى بن مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ٢٥٥ .

حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمايي چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د کاڼو سلام اچولو دا معجزه د حضرت عیسی علیه السلام د مړي ژوندي کولو معجزې نه هم بليغه او کامله ده. ځکه په مړي کې خو مخکې رُوح وُ ، ليکن په دې کاڼي کې خو قطعًا د مخکې نه رُوح نه وُ ( نو د کاڼو نه د سلام آواز راتلل، او د کاڼو ژوندي کيدل ډير تعجبي دي ). (١)

## د نبي ﷺ په لاس مُبارک باندې د وفات شوو کسانو راژوندي کيدل

همدارنګې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس مُبارک باندې د وفات شوو کسانو راژوندي کيدل هم په احاديثو کې ثابت دي.

يو څو واقعات درته د نمونې د پاره ذکر کوم:

١. امام بيهقي رحمه الله ذکر کړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم يو کس ته د اسلام دَعوت ورکړو، هغه ورته ووېل:

لَا أُوْمِنُ بِكَ حَتَّى تُحْيِيَ لِيَ ابْنَتِيْ.

زه به اسلام هلته قبلوم چې ته زما هغه لور راژوندۍ کړې کومه چې څه لږ وخت مخکې وفات شوې.

نبي علیه السلام ورته وفرمايل: أَرِنِيْ قَبْرَهَا. ته ما ته د هغې قبر اُوښايه.

دې کس پيغمبر ﷺ هغې قبر ته بوتلو، نبي ﷺ د قبر سره اُودريد، څه يې ووېل، نو هغه جينۍ د قبر نه رااُووته، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

---

(١) قُلْتُ : وَفِيْ حُلُوْلِ الحَيَاةِ وَالإِدْرَاكِ وَالعَقْلِ فِي الحَجَرِ الَّذِيْ كَانَ يُخَاطِبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالسَّلَامِ عَلَيْهِ. كَمَا رُوِيَ فِيْ صَحِيْحِ مُسْلِمٍ. مِنَ المُعْجِزِ مَا هُوَ أَبْلَغُ مِنْ إِحْيَاءِ الحَيَوَانِ فِي الجُمْلَةِ ، لِأَنَّهُ كَانَ مَحَلًّا لِلْحَيَاةِ فِيْ وَقْتٍ ، بِخِلَافِ هٰذَا حَيْثُ لَا حَيَاةَ لَهُ بِالْكُلِّيَّةِ قَبْلَ ذٰلِكَ. وَكَذٰلِكَ تَسْلِيْمُ الأَحْجَارِ وَالمَدَرِ عَلَيْهِ. وَكَذٰلِكَ الأَشْجَارُ وَالأَغْصَانُ وشهادتها بالرسالة. وحنين الجذع . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم القول فيما أوتي عيسى ابن مريم عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ٢٥٥ .

أَتُحِبِّيْنَ أَنْ تَرْجِعِيْ إِلَى الدُّنْيَا ؟ آيا ته دوباره په دنياکې (د مور او پلار سره) اوسيدل خوښوې ؟ هغې جواب ورکړو : اې د الله رسوله ! د الله ﷻ قُرب (نزديکت) ماته د مور او پلار نه ډير بهتر دی ، او ما آخرت د دُنيا نه بهتر موندلې دی. (١)

٢ . علامه زرقاني رحمه الله په شرح المواهب کې او علامه بيهقي رحمه الله په دلائل النبوة کې يوه واقعه رانقل کړې : حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې د انصارو يو ځوان وفات شو ، د ده يوه بوډۍ مور وه چې په سترګو ړنده وه ، مونږ د دې ځوان په مخ باندې کپړه واچوله ، ( بوډۍ چې خبره شوه نو ډيره خفه شوه ، په ژړا شوه ) مونږ دې بوډۍ ته تسلي ورکړه ، دې پوښتنه اوکړه : آيا زما ځوي وفات شو ؟ مونږ ورته وويل : آو ( وفات شو ) ، دې بوډۍ د الله ﷻ نه دا دُعا اوغوښته :

اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّيْ هَاجَرْتُ إِلَيْكَ وَإِلَى نَبِيِّكَ رَجَاءَ أَنْ تُعِيْنَنِيْ عَلَى كُلِّ شِدَّةٍ فَلَا تَحْمِلَنَّ عَلَيَّ هٰذِهِ الْمُصِيْبَةَ .

---

(١) ويذكر ملا علي القاري في شرح الشفاء : رأيتُ الحديث في دلائل البيهقي صريحا في إحيائها حيث ذكر : أنّه صلّى الله عليه وسلم دَعَا رجلًا الى الاسلام . فقال : لا أومن بك حتى تحيي لي ابنتي . فقال صلّى الله عليه وسلم : « أرني قبرها » . فأراه إياه . فقال صلّى الله عليه وسلم : « فلانة » قالت : « لبيك وسعديك » فقال صلّى الله عليه وسلم « أَتُحِبِّيْنَ أَنْ تَرْجِعِيْ إِلَى الدُّنْيَا ؟ » فقالت : « لا والله يا رسول الله إني وجدتُ جوارَ الله خيرًا لي من جوار أبوي ، ووجدت الآخرة خيرا من الدنيا » . زرقاني شرح مواهب ج٥ ص ١٨٢ ، قاضي عياض الشفاء ص ١٦٠ ، سيرة المصطفى لمولانا محمد ادريس كاندهلوي ج٣ ص ٢٧٠ .

وفي رواية : عَنِ الْحَسَنِ البصري أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ له أَنَّهُ طَرَحَ بُنَيَّةً لَهُ فِيْ وَادِيْ كَذَا . فَانْطَلَقَ مَعَهُ إِلَى الْوَادِيْ . وَنَادَاهَا بِاسْمِهَا يَا فُلَانَةُ ! أَجِيْبِيْ بِإِذْنِ اللهِ . فَخَرَجَتْ وَهِيَ تَقُوْلُ : لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ . فَقَالَ لَهَا : إِنَّ أَبَوَيْكِ قَدْ أَسْلَمَا . فَإِنْ أَحْبَبْتِ أَنْ أَرُدَّكِ عَلَيْهِمَا . قَالَتْ : لَا حَاجَةَ لِيْ فِيْهِمَا . وَجَدْتُ اللهَ خَيْرًا لِيْ مِنْهُمَا . الشفاء بتعريف حقوق المصطفى الباب الرابع فيما أظهره الله على يديه منه المُعجزاتِ وَشَرَّفَهُ بِهِ مِنَ الخصائِصِ وَالكَرَامَاتِ الفصل العشرون إحياء الموتى في احياء الموتى وكلامهم وكلام الصِّبيانِ وَالمَرَاضِعِ وَشَهَادَتِهِمْ لَهُ بِالنُّبُوَّةِ صَلَّى اللهُ عليه وسلم ٦١٣/١

اې الله ! تاته ښه معلومه ده چې ما خالصه ستا د رضا د پاره اسلام راوړی ، بُتان مې پريښي ، بيا مې خالصه ستا د رضا د پاره ستا پيغمبر ( محمد ﷺ ) طرف ته هجرت کړی ، او زه په دې اميد يم چې ته به په هره سختئ کې زما مدد کوې ، نو اې الله ! په ما باندې دا سخت مصيبت مه راوله . حضرت انس رضي الله عنه فرمايي:

فَمَا بَرِحْنَا أَنْ كَشَفَ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ فَطَعِمَ وَطَعِمْنَا . (١)

(١) وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه أَنَّ شَابًّا مِنَ الْأَنْصَارِ تُوُفِّيَ . وَلَهُ أُمٌّ عَجُوزٌ عَمْيَاءُ . فَسَجَّيْنَاهُ . وَعَزَّيْنَاهَا فَقَالَتْ : مَاتَ ابْنِي؟ قُلْنَا : نَعَمْ . قَالَتْ : اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي هَاجَرْتُ إِلَيْكَ وَإِلَى نَبِيِّكَ رَجَاءَ أَنْ تُعِينَنِي عَلَى كُلِّ شِدَّةٍ فَلَا تَحْمِلَنَّ عَلَيَّ هٰذِهِ الْمُصِيبَةَ . فَمَا بَرِحْنَا أَنْ كَشَفَ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ فَطَعِمَ وَطَعِمْنَا . رواه ابن عدي وابن ابي الدنيا والبيهقي وأبو نعيم . شرح الزرقاني على المواهب اللدنية بالمنهج المحمدية تابع المقصد الرابع: في معجزاته صلى الله عليه وسلم الدالة على ثبوت نبوته إبراء ذوي العاهات وإحياء الموتى وكلام الصبيان وشهادتهم له بالنبوة ٧/ ٦٧ ، الشفاء بتعريف حقوق المصطفى . وحاشية الشمني فصل في إحياء الموتى وكلامهم (وكلام الصبيان والرضاع وشهادتهم لَهُ بالنبوة صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ١/ ٣٢٠.

امام بيهقي رحمه الله دا واقعه په دې الفاظو رانقل کړې : عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: عُدْنَا شَابًّا مِنَ الْأَنْصَارِ . وَعِنْدَهُ أُمٌّ لَهُ عَجُوزٌ عَمْيَاءُ . قَالَ : فَمَا بَرِحْنَا أَنْ فَاضَ . يَعْنِي: مَاتَ . وَمَدَدْنَا عَلَى وَجْهِهِ الثَّوْبَ . وَقُلْنَا لِأُمِّهِ : يَاهٰذِهِ احْتَسِبِي مُصَابَكِ عِنْدَ اللّٰهِ . قَالَتْ: « أَمَاتَ ابْنِي؟ » قُلْتُ: نَعَمْ . قَالَتْ: « اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي هَاجَرْتُ إِلَيْكَ وَإِلَى نَبِيِّكَ رَجَاءَ أَنْ تُعِينَنِي عِنْدَ كُلِّ شَدِيدَةٍ فَلَا تَحْمِلْ عَلَيَّ هٰذِهِ الْمُصِيبَةَ الْيَوْمَ » . قَالَ أَنَسٌ: فَوَاللّٰهِ مَا بَرِحْتُ حَتَّى كَشَفَ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ وَطَعِمَ وَطَعِمْنَا مَعَهُ . دلائل النبوة للبيهقي مخرجا بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُهَاجِرَةِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِي أَحْيَا اللّٰهُ تَعَالَى بِدُعَائِهَا وَلَدَهَا بَعْدَ مَا مَاتَ. ٦/ ٥٠ .

علامه ابن کثير رحمه الله دا واقعه په دې الفاظو رانقل کړې : عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ : دَخَلْنَا عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَهُوَ مَرِيضٌ يَعْقِلُ فَلَمْ نَبْرَحْ حَتَّى قُبِضَ . فَبَسَطْنَا عَلَيْهِ ثَوْبَهُ وَسَجَّيْنَاهُ . وَلَهُ أُمٌّ عَجُوزٌ كَبِيرَةٌ عِنْدَ رَأْسِهِ . فَالْتَفَتَ إِلَيْهَا بَعْضُنَا وَقَالَ : يَا هٰذِهِ ! احْتَسِبِي مُصِيبَتَكِ عِنْدَ اللّٰهِ . فَقَالَتْ : وَمَا ذَاكَ ؟ أَمَاتَ ابْنِي ؟ قُلْنَا نَعَمْ . قَالَتْ ؟ أَحَقٌّ مَا تَقُولُونَ ؟ قُلْنَا . نعم . فَمَدَّتْ يَدَهَا إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى فَقَالَتْ : اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ تَعْلَمُ أَنِّي أَسْلَمْتُ وَهَاجَرْتُ إِلَى رَسُولِكَ رَجَاءَ أَنْ تُعِينَنِي عِنْدَ كُلِّ شِدَّةٍ وَ رَخَاءٍ . فَلَا تُحَمِّلْنِي هٰذِهِ الْمُصِيبَةَ الْيَوْمَ . قَالَ : فَكَشَفَ الرَّجُلُ عَنْ وَجْهِهِ وَقَعَدَ . وَمَا بَرِحْنَا حَتَّى أَكَلْنَا مَعَهُ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم القول فيما أوتي عيسى بن مريم عَلَيْهِ السَّلَامُ ص ٤٥٦ .

په دې موقع باندې نبي کريم صلى الله عليه وسلم او مونږ اصحاب صُفّه موجود وو چې ناڅاپه دا څوان راژوندې شو ، د خپل مخ نه يې څادر لرې کړو ، بيا مونږ او ده ټولو يو ځاى خوراک اوکړو .

**فائده** دا څوان د دې اِستغاثې او د نبي عليه السلام په برکت باندې راژوندې شوې ؤ .

۳ . حافظ ابن کثير رحمه الله ليکلي : په غزوه خَندق کې چې حضرت جابر ﷺ د چيلۍ بچې حلال کړې ؤ ، او زر (۱۰۰۰) کسانو دا په مړه خېټه اُوخوړ (۱) د دې واقعې نه روستو حافظ محمد بن مُنذر رحمه الله په خپل کتاب '' الغرائب والعجائب '' کې په خپل سَنَد سره دا رِوايت نقل کړى چې : د خوراک نه روستو رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د دې چيلۍ د بچي دا هډوکي راجَمع کړه ، بيا يې د الله ﷻ نه ( د دې د ژوندي کيدو ) دُعا اوغوښته ، نو دا واپس د مخکيني په شان راژوندې شو ، بيا رسول الله ﷺ د چيلۍ دا بچې د حضرت جابر رضي الله عنه په کور کې پرېخود ( او ده ته يې حواله کړو ) . (۲)

۴ . د نبي کريم صلى الله عليه وسلم شان خو ډېر لوې دى بلکه ډېر داسې واقعات موجود دي چې د دوى د يو اُمّتي په لاس باندې هم الله ﷻ د اِحياءِ موتى دا کرامت ښکاره کړى . حافظ ابن کثير رحمه الله د امام بيهقي په حواله دا واقعه رانقل کړى چې :

د يمن نه يو کس د جِهاد د پاره راغى ، په لاره کې ورته خپل خَر مړ شو ، دې پاڅيد ، اَودس يې اوکړو ، بيا يې دوه رکعته مونځ اوکړو ، او دا دُعا يې اوکړه :

---

(۱) د غزوه خندق په موقع د حضرت جابر ﷺ د دَعوت واقعه په تفصيل سره په مخکيني موضوع ﴿ د نبي عليه السلام معجزات ﴾ کې تيره شوى . او په بخاري ، مسلم او مشکوة شريف کې ذکر ده . مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۸۷۷ ، صحيح البخاري رقم الحديث ۴۱۰۱ ، صحيح مسلم ۴۱) ۲۰۳۹) .

(۲) قُلتُ : قَدْ ذَكَرْتُ فِي قِصَّة سخلة جَابِرٍ ﷺ يَوْمَ الخَنْدَقِ وَأَكْلِ الأَلْفِ مِنْهَا وَمِنْ قَلِيْلِ شَعِيرٍ مَا تَقَدَّمَ . وَقَدْ أَوْرَدَ الحَافِظُ مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْذِرِ الْمَعْرُوْفُ بيشكر . فِيْ كِتَابِهِ الغَرَائِبِ وَالعَجَائِبِ بِسَنَدِهِ كَمَا سَبَقَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ عِظَامَهَا ثُمَّ دَعَا اللهَ تَعَالى فَعَادَتْ كَمَا كَانَتْ . فَتَرَكَهَا فِي مَنْزِلِهِ . وَاللهُ أَعْلَمُ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم القول فيما أوتي عيسى بن مريم عليه السلام ص ۴۵۸ .

اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ جِئْتُ مِنَ الدفنية مُجَاهِدًا فِيْ سَبِيْلِكَ وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِكَ . وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ تُحْيِي الْمَوْتٰى وَتَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ لَا تَجْعَلْ لِأَحَدٍ عَلَيَّ الْيَوْمَ مِنَّةً . أَطْلُبُ إِلَيْكَ الْيَوْمَ أَنْ تَبْعَثَ حِمَارِيْ.

اې الله ! زه د دفنيه مقام نه راغلی يم ، خالصه ستا د رضا د پاره ستا په لاره کې جهاد کوم ، او زه دا ګواهي ورکوم چې ته مړي ژوندي کوې ، او ته به د قبرونو واله دوباره راژوندي کوي ، نو اې الله ! ته په ما باندې د بل چا احسان مه راوړه ( چې زه د بل چا محتاج شم ) ، بلکه زه نن د تا نه سوال کوم چې زما خر ما له راژوندې کړه .

فَقَامَ الْحِمَارُ يَنْفُضُ أُذُنَيْهِ . نو دده خر راپاڅيد (راژوندې شو ) خپل غوږونه يې څنډل .

امام بيهقي رحمه الله ددې واقعې نه روستو ذكر كړي :

هٰذَا إِسْنَادٌ صَحِيْحٌ . وَمِثْلُ هٰذَا يَكُوْنُ كَرَامَةً لِصَاحِبِ الشَّرِيْعَةِ . (۱)

ددې واقعې سَنَد صحيح دی ، او دغه شان د وَلي كرامات د پيغمبر معجزه وي ( ځکه وَلي ته دا كرامت د نبي عليه السلام د اِطاعت په وجه نصيبه شوې وي ، لهذا دا هم د پيغمبر عليه السلام معجزه شوه ) .

همدا واقعه او داسې نور ډير واقعات ابن ابی الدّنيا په خپل کتاب " مَنْ عَاشَ بَعْدَ الْمَوْت " کې هم رانقل کړي . (۲)

---

(۱) أَقْبَلَ رَجُلٌ مِنَ الْيَمَنِ . فَلَمَّا كَانَ بِبَعْضِ الطَّرِيْقِ نَفَقَ حِمَارُهُ . فَقَامَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ . ثُمَّ قَالَ : اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ جِئْتُ مِنَ الدفنية مُجَاهِدًا فِيْ سَبِيْلِكَ وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِكَ . وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ تُحْيِي الْمَوْتٰى وَتَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ لَا تَجْعَلْ لِأَحَدٍ عَلَيَّ الْيَوْمَ مِنَّةً . أَطْلُبُ إِلَيْكَ الْيَوْمَ أَنْ تَبْعَثَ حِمَارِيْ . فَقَامَ الْحِمَارُ يَنْفُضُ أُذُنَيْهِ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم عودة الحياة للمولى ص ۱۸۱ .

(۲) ابن ابی الدنيا دا واقعه داسې رانقل کړی : أَنَّ قَوْمًا أَقْبَلُوْا مِنَ الْيَمَنِ مُتَطَوِّعِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . فَنَفَقَ حِمَارُ رَجُلٍ مِنْهُمْ . فَأَرَادُوْا أَنْ يَنْطَلِقَ مَعَهُمْ فَأَبٰى . فَقَامَ فَتَوَضَّأَ وَصَلّٰى . ثُمَّ قَالَ : « اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ جِئْتُ مِنَ الدثينة مُجَاهِدًا فِيْ سَبِيْلِكَ وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِكَ . وَإِنِّيْ أَشْهَدُ أَنَّكَ تُحْيِي الْمَوْتٰى وَتَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ . فَلَا تَجْعَلْ لِأَحَدٍ عَلَيَّ مِنَّةً . وَإِنِّيْ أَطْلُبُ إِلَيْكَ أَنْ تَبْعَثَ لِيْ حِمَارِيْ . ثُمَّ قَامَ إِلَى الْحِمَارِ فَضَرَبَهُ . فَقَامَ الْحِمَارُ يَنْفُضُ أُذُنَيْهِ فَأَسْرَجَهُ وَأَلْجَمَهُ . ثُمَّ رَكِبَهُ فَأَجْرَاهُ . فَلَحِقَ بِأَصْحَابِهِ » فَقَالُوْا : مَا شَأْنُكَ ؟ قَالَ : « شَأْنِيْ أَنَّ اللهَ بَعَثَ لِيْ حِمَارِيْ » قَالَ الشَّعْبِيُّ . « فَأَنَا رَأَيْتُ الْحِمَارَ بِيْعَ أَوْ يُبَاعُ بِالْكُنَاسَةِ » . من عاش بعد الموت لابن ابی الدنيا ص ۲۹ رقم الواقعه ۲۹ ، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم عودة الحياة للمولى ص ۱۸۱ .

**نوټ:** دا واقعه د حضرت عُمر رضي الله عنه په دَورِ خلافت کې پیښه شوې وه، او ددې خَر د مالِک نوم نباته بن یزید ؤ.

# د نبي ﷺ په دُعا سره پیدائشي ړُوند او لاعلاجه مرَضونو واله مریضان ښه کیدل

که د حضرت عیسی علیه السلام په دُعا سره پیدائشي ړُوند یا د برګي مرض واله ښه کیده نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم دا معجزه ورکړې شوې وه.

ددې یو څو نمونې درته ذکر کوم:

## ۱. د نبي ﷺ د دُعا په برکت د ړُوند دواړه سترګې بِینا شوې:

په مسند احمد، ترمذي، ابن ماجه او د اَحادیثو په نورو کتابونو کې دا واقعه په تفصیل سره ذِکر ده چې: یو نابِینا کس رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته وې ویل:

اُدْعُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَنِيْ. اې د الله رسوله! زما د پاره د الله ﷻ نه دُعا اوغواړه چې هغه ما صحیح سالِم کړي، یعنی زما دواړه سترګې بِینا کړي.

نبي ﷺ ورته وفرمایل: إِنْ شِئْتَ أَخَّرْتُ ذٰلِكَ. فَهُوَ أَفْضَلُ لِآخِرَتِكَ. وَإِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ لَكَ

که ستا خوَښه وي نو د تادې نه کار مه اَخله، دا روستو کړه، ځکه دا ستا د آخرت د پاره بهتره ده، او که ستا خوَښه وي نو زه به ستا د صِحت (یعنی د سترګو د رُوغوالي) د پاره دُعا اوکړم.

هغه نابِینا ورته وویل: تاسو زما د پاره د الله ﷻ نه دُعا اوغواړئ (چې زما سترګې بِینا کړي)، رسولُ الله ﷺ ورته حکم اوکړو چې اَودس اوکړه، بیا دوه رکعته مونځ اوکړه، بیا دا دُعا اوغواړه: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ. يَا مُحَمَّدُ إِنِّيْ أَتَوَجَّهُ بِكَ إِلٰى رَبِّيْ فِيْ حَاجَتِيْ هٰذِهٖ فَتَقْضِيْ. وَتُشَفِّعُنِيْ فِيْهِ. وَتُشَفِّعُهٗ فِيَّ.

اې الله! زه د تانه سوال کوم، او تاته ستا د پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم په ذریعه درمتوجه کیږم، کوم چې د رَحمت پیغمبر دی، اې محمد! زه خپل رب ته په دې خپل حاجت

کې تاسو وسيله کوم، اې الله ﷻ زما دا حاجت پوره کړه، په دې کې زما دا شفاعت (دُعا) قبول کړه، او د نبي ﷺ شفاعت زما په حق کې قبول کړه.

دې نابينا کس مسلسل دا دُعا کوله، نو الله ﷻ ده ته شِفاء ورکړه، او دواړه سترګې يې بينا شوې. (١)

دا واقعه امام بيهقي او حاکم هم رانقل کړې، عثمان بن حُنَيف فرمايي:

فَوَاللهِ مَا تَفَرَّقْنَا وَلَا طَالَ الْحَدِيْثُ حَتّٰى دَخَلَ الرَّجُلُ وَكَأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بِهِ ضُرٌّ قَطُّ. (٢)

قسَم په الله، مونږ تر اوسه خواره شوي نه وو، او نه زمونږ خبرې اوږدې شوې وې چې دا نابِينا کس رانَنوت او داسې روغ شوې وُ ګويا چې دې د سره چيرته ړُوند شوې نه وُ.

---

(١) عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ أَنَّ رَجُلًا ضَرِيْرًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ! اُدْعُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَنِيْ فَقَالَ: «إِنْ شِئْتَ أَخَّرْتُ ذٰلِكَ. فَهُوَ أَفْضَلُ لِآخِرَتِكَ. وَإِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ لَكَ». قَالَ: لَا بَلْ اُدْعُ اللهَ لِيْ. فَأَمَرَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ. وَأَنْ يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ. وَأَنْ يَدْعُوَ بِهٰذَا الدُّعَاءِ: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ. يَا مُحَمَّدُ إِنِّيْ أَتَوَجَّهُ بِكَ إِلٰى رَبِّيْ فِيْ حَاجَتِيْ هٰذِهِ فَتَقْضِيْ. وَتُشَفِّعُنِيْ فِيْهِ. وَتُشَفِّعُهُ فِيَّ. قَالَ: فَكَانَ يَقُوْلُ هٰذَا مِرَارًا. ثُمَّ قَالَ بَعْدُ: أَحْسِبُ أَنَّ فِيْهَا: أَنْ تُشَفِّعَنِيْ فِيْهِ. قَالَ: فَفَعَلَ الرَّجُلُ. فَبَرَأَ. مسند احمد مُسْنَدُ الشَّامِيِّيْنَ حَدِيْثُ عُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ ٢٨ / ٤٨٠ رقم الحديث ١٧٢٤١ ورقم الحديث ١٧٢٤٠، سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باب ١١٩ رقم الحديث ٣٥٧٨، سنن ابن ماجه كِتَابُ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ، وَالسُّنَّةُ فِيْهَا بَابُ مَا جَاءَ فِيْ صَلَاةِ الْحَاجَةِ رقم الحديث ١٣٨٥ معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير قِصَّةُ الْأَعْمَى الَّذِيْ رَدَّ اللهُ عَلَيْهِ بَصَرَهُ بدعاء الرسول ص ٢٦٣، وص ١٩٥ من معجزات الشفاء رد بصر الأعمى بدعاء علمه إياه.

(٢) عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَاءَهُ رَجُلٌ ضَرِيْرٌ فَشَكَا إِلَيْهِ ذَهَابَ بَصَرِهِ. فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! لَيْسَ لِيْ قَائِدٌ وَقَدْ شَقَّ عَلَيَّ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِئْتِ الْمِيْضَأَةَ فَتَوَضَّأْ. ثُمَّ صَلِّ رَكْعَتَيْنِ. ثُمَّ قُلْ: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ. يَا مُحَمَّدُ. إِنِّيْ أَتَوَجَّهُ بِكَ إِلٰى رَبِّيْ فَيُجَلِّيْ لِيْ بَصَرِيْ. اَللّٰهُمَّ شَفِّعْهُ فِيَّ وَشَفِّعْنِيْ فِيْ نَفْسِيْ. قَالَ عُثْمَانُ: فَوَاللهِ مَا تَفَرَّقْنَا وَلَا طَالَ الْحَدِيْثُ حَتّٰى دَخَلَ الرَّجُلُ وَكَأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بِهِ ضُرٌّ قَطُّ. دلائل النبوة للبيهقي ٦/١٦٧ بَابُ مَا فِيْ تَعْلِيْمِهِ الضَّرِيْرَ مَا كَانَ فِيْهِ شِفَاؤُهُ حِيْنَ لَمْ يَصْبِرْ. وَمَا ظَهَرَ فِيْ ذٰلِكَ مِنْ آثَارِ النُّبُوَّةِ. معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير قِصَّةُ الْأَعْمَى الَّذِيْ رَدَّ اللهُ عَلَيْهِ بَصَرَهُ بدعاء الرسول ص ٢٦٣. هيثمي مجمع الزوائد ٢ /٢٧٩، وكذا رواه الطبراني وقال الطبراني: هذا حديث صحيح، عمل اليوم والليل للنسائي رقم الحديث ٦٦٠ و رقم ٦٥٨، صحيح ابن خزيمه رقم الحديث ١٢١٩، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ١١٨٠.

## ۲. د نبي ﷺ په ذَمولو سره د سترګو ختم شوې نظر واپس راتلل:

په يوه موقع باندې نبي عليه السلام ته يو کس راغی چې د سترګو نظر يې ختم شوې ؤ
فَنَفَثَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ عَيْنَيْهِ فَأَبْصَرَ .
نو رسولُ الله صلى الله عليه وسلم دده په سترګو دَم واچول نوبينا شو . ( دواړه سترګې يې روغې شوی ، ليدل يې پرې کولې شو ) .
راوي د حديث وايي چې :
فَرَأَيْتُهُ وَإِنَّهُ لَيُدْخِلُ الْخَيْطَ فِي الْإِبْرَةِ وإنه لابن ثمانين سنة . (۱)
ما دا کس اُوليده چې د اَتيا کالو په عُمر کې بيا هم په ستَن کې تار اَچولې شو .

## ۳. د نبي ﷺ په برکت بهَر راوتلې سترګه واپس جوړه شوه

امام بيهقي رحمه الله او نورو د سِيرت علماؤ ذکر کړي : چې په غزوه اُحد کې کله د حضرت قتادة بن نعمان رضي الله عنه سترګه ( په غشي اُولږيده ، بهَر رااُووته ، اوپه ) مَخ رااُوبهيده ( يعنی مکمل ختمه شوه ) ، نو رسولُ الله صلى الله عليه وسلم دا په خپل لاس باندې راواخيسته او واپس يې په خپل ځای کې ورله کيښوده ، نو بالکل صحيح شوه ، ده وربانديې ليدل کولې شو ، بلکه د هغه بلې سترګې نه هم ډيره بهتره او ښائسته شوه . (۲)

## ۴. د نبي ﷺ په لاړو مبارکو سره خوږ سترګې ښه کيدل

په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا واقعه په تفصيل سره ذکر ده چې په غزوه خيبر کې د حضرت علي رضي الله عنه سترګې خوږ وی :

(۱) رواه البيهقي ، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم . ص ۴۶۵ قصة اخرى في شفاء رجل من العمى .

(۲) وَأَمَّا إِبْرَاءُ عِيْسَى الْأَكْمَهَ وَهُوَ الَّذِيْ يُوْلَدُ أَعْمٰى . وَقِيْلَ وهو الَّذِيْ لَا يُبْصِرُ فِي النَّهَارِ وَيُبْصِرُ فِي اللَّيْلِ . وَقِيْلَ غَيْرُ ذٰلِكَ كَمَا بَسَطْنَا ذٰلِكَ فِي التَّفْسِيْرِ . وَالْأَبْرَصُ الَّذِيْ بِهِ بَهَقٌ . فَقَدْ رَدَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ عَيْنَ قَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ رضي الله عنه إِلٰى مَوْضِعِهَا بَعْدَ مَا سَالَتْ عَلٰى خَدِّهِ . فَأَخَذَهَا فِيْ كفه الكريم وأعادها إلى مقرها فاستمرت بِحَالِهَا وَبَصَرِهَا . وَكَانَتْ أَحْسَنَ عَيْنَيْهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص ۴۶۰ .

فَبَصَقَ فِي عَيْنَيْهِ، فَبَرَأَ مَكَانَهُ حَتّٰى كَأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بِهِ شَيْءٌ. (١)

نو رسول الله ﷺ ورله په کې خپلې لاړې پورې کړې نو په هماغه وخت د دوی سترګې داسې ښه شوې ګویا چې په دې کې هیڅ تکلیف نه وُ، (او بیا ددې نه پس ټول عُمر دده په سترګو کې دَرد نهٔ وُ راغلی).

## د نبي ﷺ په برکت نور لاعلاجه مرضونه ښه کیدل

بهر حال، که د حضرت عیسی ﷺ په دُعا سره لاَعلاجه مرضونه ښه کیدل نو د رسول الله ﷺ په دُعا او برکت سره هم ډیر لاَعلاجه مرضونه او تکلیفونه ښه شوي، لکه:

١. د حضرت عبد الله بن عتیک رضي الله عنه خپه مکمل ماته شوې وه لیکن چې رسول الله ﷺ په دې خپه باندې لاس مبارک راښکود نو خپه یې مکمل ښه شوه. (٢)

٢. په غزوه خیبر کې د حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه خپه سخته زخمي شوه، نبي ﷺ درې پېرې دَم کړه نو مکمل صحیح شوه. (٣)

---

(١) عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: يَوْمَ خَيْبَرَ: « لَأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ رَجُلًا يَفْتَحُ اللهُ عَلَى يَدَيْهِ ». فَقَامُوْا يَرْجُوْنَ لِذٰلِكَ أَيُّهُمْ يُعْطٰى، فَغَدَوْا وَكُلُّهُمْ يَرْجُوْ أَنْ يُعْطٰى، فَقَالَ: « أَيْنَ عَلِيٌّ؟ » فَقِيْلَ: يَشْتَكِيْ عَيْنَيْهِ، فَأَمَرَ، فَدُعِيَ لَهُ، فَبَصَقَ فِي عَيْنَيْهِ، فَبَرَأَ مَكَانَهُ حَتّٰى كَأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بِهِ شَيْءٌ.
.... صحيح البخاري رقم الحديث ٢٩٤٢ و رقم ٣٠٠٩، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٥٨١٨، ٥٨٧٧، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم ص ٢٦٥، دلائل النبوة للبيهقي ٤/ ٢١١، ٢١٢.

(٢) ..... فَانْكَسَرَتْ سَاقِيْ فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ، فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِيْ، فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ، فَقَالَ: « اُبْسُطْ رِجْلَكَ » . فَبَسَطْتُ رِجْلِيْ، فَمَسَحَهَا فَكَأَنَّمَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ. رَوَاهُ الْبُخَارِيْ. مشكوة المصابيح كتاب الفضائل والشمائل باب في المعجزات الفصل الاول رقم الحديث (٩) ٥٨٧٦.

(٣) عَنْ يَزِيْدَ بْنِ أَبِيْ عُبَيْدٍ، قَالَ: رَأَيْتُ أَثَرَ ضَرْبَةٍ فِيْ سَاقِ سَلَمَةَ، فَقُلْتُ: يَا أَبَا مُسْلِمٍ! مَا هٰذِهِ الضَّرْبَةُ؟ فَقَالَ: هٰذِهِ ضَرْبَةٌ أَصَابَتْنِيْ يَوْمَ خَيْبَرَ، فَقَالَ النَّاسُ: أُصِيْبَ سَلَمَةُ، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « فَنَفَثَ فِيْهِ ثَلَاثَ نَفَثَاتٍ، فَمَا اشْتَكَيْتُهَا حَتّٰى السَّاعَةِ » . صحيح البخاري كتاب المغازي بَابُ غَزْوَةِ خَيْبَرَ رقم الحديث ٤٢٠٦، صحيح ابن حبان ذكر برء رجل سلمة بن الاكوع من الضربة التي اصابتها ... رقم الحديث ٦٥١٠، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٨٨٦.

٣ . د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه د پاره نبي ﷺ د مرض نه د شفاء دُعا او کړه ، او دې مکمل ښه شو .

۴ . د نبي ﷺ په دَمولو سره هغه ماشوم مکمل روغ شو په کوم چې د ليوَنتوب او جنّاتو اَثر وُ . (١)

۵ . د نبي ﷺ په دُعا سره د اَهلِ مدينې نه د تَبې ( بخار ) بيماري ختمه شوه . (٢)

٦ . نبي ﷺ د محمد بن حاطب رضي الله عنه په سوَزيدلې خپه باندې خپل لاس مبارک را ښکود نو په هماغه ساعت ښه شوه . (٣)

ددې نه علاوه نور ډير بې شماره مثالونه موجود دي چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په دُعا او دَمولو سره لاَعِلاجه بيماران ښه شوي . ( که هغه ټول واقعات رانقل کړم نو بيا موضوع ډيره اُوديږي ) .

## د ابومسلم خولاني په دُعا سره د سترګو ختم شوې نظر واپس راتلل

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم خو يو عظيم پيغمبر وُ ، بلکه د دوی يو اُمّتي ته هم الله جل جلاله دا کرامت ورکړې وُ چې دده په دُعا سره د سترګو تللې نظر واپس راغلی .

ابن ابى الدنيا په خپل کتاب " مجابوا الدعوة " کې د ابومسلم خولاني رحمه الله اُوږده واقعه رانقل کړې چې دده په دُعا سره د يوې زَنانه د سترګو تللې نظر واپس راغی . (۴)

او دا ښکاره خبره ده چې د وَلي کرامت د پيغمبر معجزه وي ، ځکه وَلي ته دا کمال د خپل پيغمبر په اِتباع نصيبه شوې وي .

---

(١) قَالَ ثُمَّ سِرْنَا فَمَرَرْنَا بِمَاءٍ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ بِابْنٍ لَهَا . بِهِ جِنَّةٌ فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمنخرِهِ فَقَالَ : اُخْرُجْ إِنِّيْ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ . قَالَ ثُمَّ سِرْنَا . فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ سَفَرِنَا مَرَرْنَا بِذٰلِكَ الْمَاءِ . فَسَأَلَهَا عَنِ الصَّبِيِّ . فَقَالَتْ : وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا رَأَيْنَا مِنْهُ رَيْبًا بَعْدَكَ . رَوَاهُ البغوي في شرح السنة كتاب الفضائل باب علامات النبوة رقم الحديث ٣٧١٨ ، مشكاة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٩٢٢ .

(٢) رواه البخاري و مسلم .

(٣) دلائل النبوة للبيهقي ٦/١٢٣ ، سنن النسائي كتاب الطب ، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم ص ٣٦٥ .

(۴) مجابوا الدعوة للحافظ ابن ابى الدنيا ص ١١٢ ، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص ٣٦٦ .

خلاصه دا چې د مختلفو احاديثو او واقعاتو نه دا خبره معلومه شوه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هم د اِحياء موتٰى او لاَعِلاجه مرضونو نه د شِفاء معجزه ورکړې شوې وه ، دا قِسمه معجزې د احاديثو په کتابونو کې ذِکر دي ، بيا خاصکر دا قِسمه معجزې قاضي عياض رحمه الله په " شِفاء " کې ، مُلا علي قاري رحمه الله په " شرحه د شِفاء " کې ، علامه زرقاني رحمه الله په " شرح المواهب " کې ، او علامه قرطبي رحمه الله په خپل کتاب " التذکرة " کې په تفصيل سره ذکر کړي . (۱)

## د غونډ تقرير خلاصه :

د غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې مخکيني ټولو پيغمبرانو ته چې الله ﷻ کومې معجزې او کوم کمالات ورکړي وو نو د هغې په شان بلکه د هغې نه بهترې زمونږ خوږ پيغمبر سَردارِ دُوجهان محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته هم ورکړي وو .

دا خو درته ما صِرف د يو څو اَنبياء کرامو د معجزو او کمالاتو سره د نبي عليه السلام د معجزو او کمالاتو موازنه اوکړه ، که د هر پيغمبر معجزات او کمالات رانقل کړم ، او بيا د هغې سره د نبي کريم ﷺ د معجزاتو موازنه اوکړم نو بيا دا موضوع ډيره اُوديږي ، لهذا صرف په همدې باندې اِکتفاء کوم .

## د معجزاتو بيانولو فائده :

د معجزاتو په بيانولو کې فائده داده چې کله يو مسلمان د خپل پيغمبر " محمدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم " دا معجزات واوري ، او دا ورته معلومه شي چې الله ﷻ مخکيني پيغمبرانو ته چې کوم قِسمه معجزې ورکړې وې د هغې په شان بلکه د هغې نه بهترې زمونږ پيغمبر محمدُ رّسول الله ﷺ ته هم ورکړې وې نو په دې سره دده اِيمان نور هم قوي کيږي ، په زړه کې يې د خپل پيغمبر سره مِينه پيدا کيږي ،او بياورته د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په اَقوالو ، اَفعالو او سُنتو باندې د عمل کولو توفيق هم نصيبه کيږي .

(۱) شرح شفاء ملاعلي قاري ج۱ ص۳٦۳ ، زرقاني شرح مواهب ج۵ ص ۱۸۲ ، سيرة المصطفى لمولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله ج۳ ص ۲٦۹ .

## دعا

الله تعالی دې زمونږ په زړونو کې د خپل پیغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره مینه او محبت پیدا کړي ، پَروردِگارِ عالم دې مونږ ته په هر کار کې د هغوی اِتباع رانصیبه کړي ، خالِقِ کائنات دې مونږ ته د هغوی په هر سُنت باندې د عمل کولو توفیق راکړي ، او رَبِ لاَیَزال دې د قیامت په هغه سخته ورځ کې مونږ ته د هغوی قُرب او شفاعت رانصیب کړي.

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د حلال و حرام ، جائز او ناجائز متعلق يو څو ضروري فِقهي مسائل :

**نوټ** : د مخکيني پنځه واړه موضوع ګانو ﴿ يعنی : په اسلام کې د حلال کسب اَهميت او فوائد ، د حلال خوراک اَهميت او فوايد ، د حرام خوراک سزاګانې او نقصانات ، د مُشتبه شيانو نه ځان ساتل ، د سُود خوړلو سزاګانې او نقصانات ﴾ متعلق درته يو څو ضروري فِقهي مسائل ذکر کوم ، مُقرّرِين حضرات د وخت او مُوقع مناسب ددې مسائلو نه هم د ځان د پاره اِنتخاب کولې شي ، چې د تقرير په دَوران يا آخر کې يې بيان کړي .

نفسِ مسئله مې په پښتو ژبه کې واضحه ليکلې ، البته د علماؤ د فائدې په خاطر مې د فتاؤ نه د عربي عبارات هم بغير د ترجمې نه رانقل کړي .

ابو الشمس عفي عنه

## بې کاره څيز د اعلی څيز سره يو ځای کول ، او بيا د اعلی څيز په قيمت خرڅول ناجائز دي

که يو کس بې کاره څيز د اَعلی څيز سره يو ځای کړي او بيا دا د اَعلی څيز په قيمت خرڅوي ، يا دا د کمزوري څيز عيب پټولو د پاره مِلاوَټ کوي نو دا کار ناجائز دی ، ځکه دا دُهوکه ده ، او په احاديثو مبارکه وُ کې په دُهوکه کولو سخت وعيد راغلی .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا، فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا . فَقَالَ : « مَا هٰذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ ؟ » قَالَ : أَصَابَتْهُ السَّمَآءُ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: « أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ . مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّيْ » . (١)

## د ميخې د شودُو ( پيو ) سره د غوا شوده مِلاوول او خرڅول

که يو دُکاندار د ميخو د شوُدُو سره د غوا شوده يو ځای کوي او بيا يې د ميخې د شودو په نوم خرڅوي نو دا ناجائز او دُهوکه ده ( ځکه د ميخې شوده ګران دي او د غوا اَرزان دي ) لهذا که اخيستونکي ته دا معلومه نه وي نو داسې مِلاوَټ کول سخته دُهوکه ده ، او په احاديثو کې د دې نه سخته منع راغلی . (٢)

## د عيب دار څيز خرڅول

د عيب دار څيز عيب پټول او خرڅول ناجائز دي ، البته که عيب ورته اُوښايي او بيا يې يو کس اَخلي او هغه ورباندې خبروي نو بيا جائز دي ، مثلا نن صبا د دُکاندار سره مختلف قِسمه غنم وي ، او د هر قِسمه غنمو ځانله ځانله قيمت وي ، اوس که يو دُکاندار دا مختلف قِسمه غنم ګډ کړي او د اَعلی غنمو په نَرخ يې خرڅوي نو دا ناجائز دي ، خو که دُکاندار اخيستونکي ته ووايي چې دا غنم ما ښه او خراب يو ځای کړي او د دې په مناسب قيمت يې

---

(١) صحيح مسلم رقم الحديث ١٠٢ كِتَابُ الإِيمَانَ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا » . فتاوى عثمانيه لمولانا مفتي ظلام الرحمن صاحب دامت بركاتهم العالية ج ٧ كتاب البيوع ص ١٨٨ .

(٢) فتاوى عثمانيه ج ٧ كتاب البيوع ص ٢٣٣ .

خرڅوم ، او اخيستونكي ته معلومه هم وي چې دا مختلف قسمه غنم يو ځاى شوي دي نو دا بيا جائز دي . (١)

بل دا چې په بيع كې دا ضروري ده چې مَبيعه دې مالِ مُتقوّم وي ، او عيب خو يو خارجي څيز دى ، لهذا عيب دار څيز خرڅول جائز دي خو چې د خرڅولو په وخت يې عيب پټ نه كړي . (٢)

## بَيعه په شرط د " بَراءَت منَ العُيُوب " صحيح ده

كه يو كس د يو څيز خرڅولو په وخت اخيستونكي ته ووايي چې : " دا څيز اوس اُوګوره روستو زه ددې ذِمه وار نه يم ، يا داووايي چې : زه ددې د يو عيب ذِمه وار هم نه يم " نو دا بيع صحيح ده ، ځكه په شريعت كې د بَيع بِشَرط بَراءَت مِنَ الْعُيُوْب اجازت شته چې بائع د ټولو عيبونو نه د براءَت اعلان اوكړي . (٣)

## په قرض باندې يو شى ګران خرڅول جائز دي

كه يو كس يو څيز په نَقدو باندې په كم قيمت خرڅوي او په قرضو يې ګران خرڅوي نو دا

---

(١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : لَا يَحِلُّ كِتْمَانُ الْعَيْبِ فِي مَبِيْعٍ أَوْ ثَمَنٍ لِأَنَّ الْغِشَّ حَرَامٌ . رد المحار على الدر المختار ج٥ ص٤٧ كتاب البيوع باب خيار العيب . فتاوى حقانيه ج٦ ص٨٥ .

(٢) عن زيد بن ثابت انه قال : من باع غلاما بالبرأة فهو برى من كل عيب وكذلك ... اعلاء السنن ج ١٤ ص ٩٢ باب البيع بالبراة من كل عيب .

قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله : وإذا اطلع المشتري على عيب في المبيع فهو بالخيار . إن شاء أخذه بجميع الثمن وإن شاء ردّه . الهداية ج٣ ص٢٣ باب خيار العيب ، ومثله في رد المحتار ج٤ ص ١٠٠٠ باب خيار العيب . فتاوى حقانيه ج٦ ص ١٣٠ .

(٣) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : ( وَصَحَّ الْبَيْعُ بِشَرْطِ الْبَرَاءَةِ مِنْ كُلِّ عَيْبٍ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّ ) خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ لِأَنَّ الْبَرَاءَةَ عَنِ الْحُقُوْقِ الْمَجْهُوْلَةِ لَا يَصِحُّ عِنْدَهُ وَيَصِحُّ عِنْدَنَا لِعَدَمِ إِفْضَائِهِ إِلَى الْمُنَازَعَةِ ( وَيَدْخُلُ فِيْهِ الْمَوْجُوْدُ وَالْحَادِثُ ) بَعْدَ الْعَقْدِ ( قَبْلَ الْقَبْضِ فَلَا يُرَدُّ بِعَيْبٍ ) . بأن قال : بعتك هذا العبد على أني بريء من كل عيب . رد المحتار على الدر المختار ج٥ ص ٤٧ كتاب البيوع باب خيار العيب ، تنقيح الفتاوى الحامدية ج٢٧٣ جواب السوال باب خيار الرؤية ، ومثله في شرح المجلة لسليم رستم باز ص ٨٩ تحت المادة ١٨٩ ، فتاوى حقانيه ج٦ ص١٢٧ .

جائز دی.

قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله : ألا يرى أنه يزاد فى الثمن لأجل الأجل. (۱)

خو په دې کې شرط دا دی چې په مَجلس د عقد کې ددې روپو مِقدار او اداء کولو موده مقرر شي.

قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله : لأنّ للأجل شبها بالمبيع ألا يرى أنه يزاد في الثمن لأجل الأجل. (۲)

## په قِسطونو باندې د يو څيز اخيستل او خرڅول

نن صبا په بازار کې غټ غټ شيان ( مثلا فريج ، مشين ، موټر وغيره ) په قِسطونو باندې خرڅيږي ( يعنى څيز واخلي ، بيا په هره مياشت کې دُکاندار ته يو معين مقدار روپۍ ورکوي ) ، خو دا په قِسطونو باندې د يو څيز اخيستل د نَقدو په نسبت په قيمت کې ګران وي ، نو ددې حکم دادی چې :

د ائمۀ اَربعه ؤ او جمهورو فقهاؤ په نزد دا مُتّفقه مسئله ده چې د نقدو په نسبت په قرضو باندې د يو څيز ګران خرڅول جائز دي . خو په دې کې شرط دادی چې عاقدين دواړه په يو قيمت باندې متفق شي ، يعنی خرڅوونکې دا اُووايي چې مثلا دا څيز په نقدو په زَر

---

(۱) الهداية ج۳ ص ٧٦ باب المرابحة والتولية.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : وَيُزَادُ فِي الثَّمَنِ لِأَجْلِهِ إِذَا ذَكَرَ الْأَجَلَ بِمُقَابَلَةِ زِيَادَةِ الثَّمَنِ قَصْدًا. فَاعْتُبِرَ مَالًا فِي الْمُرَابَحَةِ اِحْتِرَازًا عَنْ شُبْهَةِ الْخِيَانَةِ . وَلَمْ يُعْتَبَرْ مَالًا فِي حَقِّ الرُّجُوعِ عَمَلًا بِالْحَقِيقَةِ .
رد المحتار على الدر المختار ج۴ ص ۱۷۷ باب الربوا ، فتاوى حقانيه ج٦ ص ۲۰۳ ، ومثله فى البحر الرائق ج٦ ص ۱۱۵ باب المرابحة والتولية .

(۲) الهداية ج۳ ص ٧٦ كتاب البيوع باب المرابحة والتولية.

قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله : لِأَنَّ لِلْأَجَلِ شبهًا بِالْمَبِيعِ أَلَا تَرَى أَنَّهُ يُزَادُ فِي الثَّمَنِ لِأَجْلِ الْأَجَلِ.
البحر الرائق ج ٦ ص ۱۱۴ كتاب البيوع باب المرابحة والتولية . و مثله في فتح القدير ج٦ ص ۱۳۳ كتاب البيوع باب المرابحة والتولية . فتاوى حقانيه ج٦ ص ۱۴۳ .

(١٠٠٠) روپۍ وركوم، او په قرضو يې په يو نيم زَر (١٥٠٠) وركوم، او دواړه په دې خبره راضي شي نو دا صحيح ده، خو كه بغير د تعين د قيمت نه دواړه جدا شو نو دا بيع بيا ناجائز ده ځكه په دې كې جهالت راځي.

همدارنګې كه دا خرڅوونكې دا ووايي چې مثلا دا شی په نقدو په سل روپۍ خرڅوم، د يو مياشت په قرض يې په يو سل او شل روپۍ خرڅوم، د دوه مياشتو په قرض يې په يو نيم سَل خرڅوم، د درې مياشو په قرض يې په دوه سوه خرڅوم نو دا هم په شريعت كې جائز دی.

ځكه لكه څرنګې چې د نقدو او قرضو په قيمت كې فرق شته همدارنګې د مُودو د اختلاف په وجه هم د شي په قيمت كې فرق راځي.

خو په دې كې هم دا خبره ضروري ده چې دواړه به تعين د مودې او قيمت كوي، او كه تعين د مودې او قيمت يې اونكړو نو بيا دا بيع ناجائز ده، ځكه د دې سره جهالت راځي.

قال الامام ترمذي رحمه الله تحت هذا الحديث : نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ... وَقَدْ فَسَّرَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ قَالُوا: بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ أَنْ يَقُولَ : أَبِيْعُكَ هٰذَا الثَّوْبَ بِنَقْدٍ بِعَشَرَةٍ ، وَبِنَسِيئَةٍ بِعِشْرِينَ، وَلَا يُفَارِقُهُ عَلَى أَحَدِ البَيْعَيْنِ، فَإِذَا فَارَقَهُ عَلَى أَحَدِهِمَا فَلاَ بَأْسَ إِذَا كَانَتِ الْعُقْدَةُ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمَا . (١)

## د مساوي حقوقو په وخت قرعه اَندازي كول (يعنى كِشت اَچول) جائز دی

كه يو څو كسان په خپل مينځ كې په هره مياشت كې يو معلوم مقدار (مثلا سل سل) روپۍ راجمع كوي، او بيا قُرع اَندازي اوكړي (يعنى پَچه پرې واچوي) چې د چا نوم

(١) سنن الترمذي ج١ ص ٢٣٣ كتاب البيوع بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ رقم الحديث ١٢٣١ . قَالَ العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله : لِأَنَّ لِلْأَجَلِ شبهًا بِالْمَبِيْعِ أَلَا تَرَى أَنَّهُ يُزَادُ فِي الثَّمَنِ لِأَجْلِ الْأَجَلِ. البحر الرائق ج ٦ ص ١١٤ كتاب البيوع باب المرابحة والتولية . ومثله في فتح القدير ج٦ ص١٢٣ كتاب البيوع باب المرابحة والتورية . فتاوى حقانيه ج٦ ص ١٤٣ .

اَلْبَيْعُ مَعَ تَأْجِيلِ الثَّمَنِ وَتَقْسِيطِهِ صَحِيحٌ . شرح المجلة سليم رستم باز اللبناني المادة ٢٢٥ كتاب البيوع الباب الثاني في المسائل المتعلقة بالمبيع ص ١٢٢ . فتاوى عثمانيه لمولانا مفتي غلام الرحمن صاحب ج ٧ كتاب البيوع ص ١٤٠ .

را اوخيجي هغه ته دا ټولې روپۍ ور کړي ، همدغه شان په هره مياشت کوي ، تر دې پورې چې ټولو ته نمبر په نمبر دا روپۍ ملاو شي نو دا جائز دی ، دا په سُود کې نه دې داخل .

ځکه دا روپۍ راجَمع کول ، او يو کس ته په قرعه اَندازۍ سره ورکول د يو بل سره مدد کول دي ، او دا مسئله ده چې کله د ټولو شريکانو حقوق مساوي وي هلته د جګړې ختمولو او طِيبِ خاطر د پاره قرعه اَندازي کول جائز دي .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (وَيَكْتُبُ أَسَامِيَهُمْ وَيَقْرَعُ )لِتَطِيْبِ الْقُلُوْبِ . (١)

## د بيعانې ( اِډوانس ، بَيانې ) روپۍ ضبط کول ناجائز دي

که يو کس په بل چا باندې يو ځای خرڅ کړي ، او د زمکې مالِک د اخيستونکي نه په بَيعانه ( بَيَانه ) کې څه روپۍ اِډوانس واخلي ، او دواړه په خپل مينځ کې دا شرط اُولږوي چې که چيرته په دې معلومه موده کې خرڅوونکي اِنکار اوکړي نو دده نه به ډبل زره روپۍ جُرمانه اخيستلې شي ، او که اخيستونکې دا باقي روپۍ په دومره وخت کې اداء نه کړي نو دده نه به دا بَيَانه اِډوانس روپۍ ضبط کولې شي ، نو ددې مسئلې حکم دا دی چې :

په بيع کې داسې قِسمه شرط لږولو سره بيع فاسديږي ، او په بيع فاسده کې دواړو ته د بيع فسخ کولو اِختيار وي .

همدارنګې د بائع نه د اِنکار په وخت د جُرمانې روپۍ اخيستل ، يا د مشتري نه د بَيَانې روپۍ ضبط کول ناجائز دي .

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . نَهَى عَنْ بَيْعِ الْعُرْبَانِ . (٢)

---

(١) رد المحتار کتاب القسمة ج٥ ص١٦٦ .

قال العلامة ابوبكر الكاساني رحمه الله : لَا لِأَنَّ الْقُرْعَةَ يَتَعَلَّقُ بِهَا حُكْمٌ بَلْ لِتَطْيِيْبِ النُّفُوْسِ . بدائع الصنائع ج٧ ص ١٩ كتاب القسمة ، ومثله في البحر الرائق ج٨ ص ١٥٢ كتاب القسمة . فتاوى حقانيه ج٦ ص ١٢٣ .

(٢) سنن الترمذي بَابُ بَيْعِ الْعُرْبَانِ رقم الحديث ٢١٩٣ ، اعلاء السنن ج١٤ ص ١٢٧ باب النهي عن بيع العربان

قال العلامه المرغيناني رحمه الله : وكل شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لأحد المتعاقدين أو للمعقود عليه وهو من أهل الاستحقاق يفسده . الهداية ج٣ ص ٦٢ باب البيع الفاسد . فتاوى حقانيه ج٦ ص ٩٩ .

# د قطعي بيع نه روستو بغير د دواړو د رضا مندۍ نه د بيع فسخ کولو حق هيچا ته نشته

چې کله په بَيع کې ايجاب و قبول اوشي نو دا بَيع پوره شي ، ددې نه پس د دواړو د رَضامندۍ نه بغير اوس هيچا ته ددې د فسخ کولو حق نشته ، لهذا اوس نه خو بائع دا څيز په بل چا خرڅولې شي ، او نه مُشتري د روپو ورکولو نه انکار کولې شي .

البته که دواړه په خوشحالۍ سره دا بيع فَسخ کول غواړي نو دا جائز ده .

لما قال علي بن ابي بكر المرغيناني رحمه الله : وإذا حصل الإيجاب والقبول لزم البيع ولاخيار لواحد منهما إلا من عيب أو عدم رؤية . (١)

خو د دواړو د رَضا نه بغير جبرًا هيڅوک هم دا عقد نشي ختمولی .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : من شَرَائِطِهَا اِتِّحَادُ الْمَجْلِسِ وَ رِضَا الْمُتَعَاقِدَيْنِ . لِأَنَّ الْكَلَامَ فِي رَفْعِ عَقْدٍ لَازِمٍ، وَأَمَّا رَفْعُ مَا لَيْسَ بِلَازِمٍ فَلِمَنْ لَهُ الْخِيَارُ بِعِلْمِ صَاحِبِهِ لَا بِرِضَاهُ . (٢)

# مشتري چې په روپو کې ټال مټول کوي نو بائع بَيعه فسخ کولې شي

بَيع داسې معامله ده چې په دې کې د فريقينو رضامندي ضروري ده ، بغير د دواړو د رضامندۍ نه دا فسخ کول صحيح نده ، خو که مشتري په روپو ورکولو کې ټال مَټول کوي (يعنې قصدًا روپۍ نه ورکوي او هسې بَانې کوي) .

---

(١) الهداية ج٣ ص ٢٥ كتاب البيوع ، فتاوى حقانيه ج٦ ص ٨٩ .

قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله : (اَلْبَيْعُ يَلْزَمُ بِإِيجَابٍ وَقَبُولٍ ) أَيْ حُكْمُ الْبَيْعِ يَلْزَمُ بِهِمَا لِأَنَّهُ جَعَلَهُمَا غَيْرَهُ وَأَنَّهُ يَلْزَمُ بِهِمَا مَعَ أَنَّ الْبَيْعَ لَيْسَ إِلَّا هُمَا... البحر الرائق ج٥ ص ٢٦٢ كتاب البيوع ، ومثله في التبيين الحقائق ج٣ ص ٣ كتاب البيوع.

(٢) رد المحتار ج٥ ص ١٢١ باب الاقالة ، فتاوى حقانيه ج٦ ص ١٣٢

قال في الهندية وَشَرْطُ صِحَّةِ الْإِقَالَةِ رِضَا الْمُتَقَايِلَيْنِ . الفتاوى الهندية ج٣ ص ١٥٧ الباب الثالث عشر في الاقالة ، ومثله في شرح مجلة الاحكام لسليم رستم باز تحت المادة ١٩٠ ص ٩٢ .

چونکه بائع په دې باندې راضي نه دی چې مشتري نه روپۍ ورکوي ، او نه دده خپل څيز (مَبيعه) ورکوي لهذا د مجبوريت په وجه بائع ته د بيع فسخ کولو حق شته.

قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله : لِأَنَّ الْمُشْتَرِيَ لَمَّا جَحَدَ كَانَ فَسْخًا مِنْ جِهَتِهِ. إِذِ الْفَسْخُ يَثْبُتُ بِهِ كَمَا إِذَا تَجَاحَدَ . فَإِذَا عَزَمَ الْبَائِعُ عَلَى تَرْكِ الْخُصُومَةِ تَمَّ الْفَسْخُ بِمُجَرَّدِ الْعَزْمِ ... وَلِأَنَّهُ لَمَّا تَعَذَّرَ اِسْتِيفَاءُ الثَّمَنِ مِنَ الْمُشْتَرِي فَاتَ رِضَا الْبَائِعِ فَيَسْتَقِلُّ بِفَسْخِهِ . (١)

## په رَضامَندۍ سره د بَيع فسخ کولو نه روستو د پښيمانتيا روپۍ اخيستل حرامې دي

که چيرته يو کس په بل چا باندې زمکه خرڅه کړه ، څه وخت پس دده اخيستونکي دا زمکه خوَښه نه شوه ، او اوس يې د زمکې مالِک ته واپس کوي نو دده حکم دادی چې که بائع هم په واپس کولو باندې راضي وُ نو مشتري به ټولې روپۍ واپس ورکړي ، د پښيمانتيا او جُرمانې روپۍ به ورنه نه کټ کوي ، ځکه د پښيمانتيا دا روپۍ حرامې دي .

قال العلامة المرغيناني رحمه الله : فإن شرطا أكثر منه أو أقل فالشرط باطل ويردّ مثل الثمن الأول . لقوله عليه السلام : من أقال نادما بيعته أقال الله عثرته يوم القيامة . (٢)

علماؤ تر دې پورې ليکلي دي چې کله دواړه دا بيع فسخ کړي (يعنی اِقاله اوکړي) نو په دې کې د هيچا د پاره د روپو کمولو شرط لږول جائز ندي ، بلکه بائع چې د مشتري نه څومره روپۍ اخيستي دي هغه ټولې به واپس ورکوي. (٣)

(١) البحر الرائق ج٧ ص ٣٦ مسائل شتى باب التحكيم . فتاوی حقانيه ج٦ ص ١٢١ .

(٢) الهداية ج٣ ص ٧١ باب الاقالة . قال العلامة ابن الهمام : وَحَقِيقَةُ الْفَسْخِ لَيْسَ إِلَّا رَفْعُ الْأَوَّلِ كَأَنْ لَمْ يَكُنْ فَيَثْبُتُ الْحَالُ الْأَوَّلُ . وَثُبُوتُ الْحَالِ الْأَوَّلِ هُوَ بِرُجُوعِ عَيْنِ الثَّمَنِ الْأَوَّلِ إِلَى مَالِكِهِ كَأَنْ لَمْ يَدْخُلْ فِي الْوُجُودِ غَيْرُهُ وَهُوَ يَسْتَلْزِمُ تَعْيِينَ الْأَوَّلِ. فتح القدير ج٦ ص ١١٤ باب الاقالة .

(٣) قال العلامة علي بن ابي بكر المرغيناني رحمه الله : فإن شرطا أكثر منه أو أقل فالشرط باطل ويرد مثل الثمن الأول . الهداية ج٣ ص ٧١ باب الاقالة . وهكذا في شرح مجلة الاحكام الفصل الخامس الاقالة ماده ١٩٠ ، فتاوی حقانيه ج٦ ص ١٣٣ .

## د صرافۍ کاروبار جائز دی

که يو کس د صرافۍ کاروبار کوي ، يعنی د بل مُلک روپۍ اَرزانه اَخلي او بيا يې ګراني خرڅوي ، مثلا د سعودي يو رِيال په شپږ ويشت ٢٦ روپۍ واخلي ، او بيا يې په اته ويشت ٢٨ روپۍ خرڅوي نو دا کاروبار جائز دی .

ځکه د مختلفو ملکونو روپو جِنسونه بدل دي ، دا مختلف روپۍ په مختلف الاجناس شيانو کې داخل دي ، لهذا په دې کې کمې يا زياتې کول جائز دي .

لما قال العلامة ابوالحسن القدوري رحمه الله : وَإِذَا عُدِمَ الْوَصْفَانِ الْجِنْسُ، وَالْمَعْنَى الْمَضْمُومُ إِلَيْهِ حَلَّ التَّفَاضُلُ وَالنَّسَاءُ . وَإِذَا وُجِدَا حَرُمَ التَّفَاضُلُ وَالنَّسَاءُ . وَإِذَا وُجِدَ أَحَدُهُمَا وَعُدِمَ الْآخَرُ حَلَّ التَّفَاضُلُ وَحَرُمَ النَّسَاءُ . (١)

## د مرغانو اخيستل او خرڅول جائز دي

بعضې خلق مرغۍ (لکه باز ، تِيتَر ، مَرَز وغيره) نيسي او بيا يې خرڅوي ، نو ددې حکم دادی چې په شريعت کې د مرغانو ښکار او نيول جائز دي ، همدارنګې ددې اخيستل او خرڅول هم جائز دي ، بائع او مشتري چې دواړه په کوم قيمت راضي شي نو په هغې يې اخيستلې او خرڅولې شي .

البته د جَنګونو د پاره ددې د اخيستلو او خرڅولو نه پرهيز په کار دی .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : وَصَحَّ بَيْعُ الْكَلْبِ .... وَكَذَا الطُّيُورُ أَي الْجَوَارِحُ ... والفهد والبازي يقبلان التعليم فيجوز بيعها على كل حال . (٢)

قال في الهندية : وَكَذٰلِكَ بَيْعُ السِّنَّوْرِ وَسِبَاعِ الْوَحْشِ وَالطَّيْرِ جَائِزٌ عِنْدَنَا مُعَلَّمًا كَانَ أَوْ لَمْ يَكُنْ . (٣)

(١) مختصر القدوري على صدر الباب ج١ ص ١٢١ باب الربوا . فتاوى حقانيه ج٦ ص ٢١٤ .

(٢) ردالمحتار ج٥ ص٢٢٧ باب المتفرقات كتاب البيوع .

(٣) كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَان . الفتاوى الهندية ج٣ ص ١١٤ الفصل الرابع في بيع الحيوانات ، ومثله في البرجندي ج٣ ص ٤٤ كتاب البيوع ، فتاوى حقانيه ج٦ ص ٥١ .

## د کمپنیانو د طرفه چې د خپلو مصنوعاتو په اخیستلو کوم انعام مقرر شي هغه اخیستل جائز دي

که چیرته په مَجلس د عقد کې بائع د مَبیعې سره یو زیاتي شی هم د تبرّع او احسان په طور اخیستونکي ته ورکړي نو ددې اخیستل جائز دي .

نن صبا چې د کمپنیانو واله د خپلو مصنوعاتو اخیستلو کوم انعامات مقرروي او په قرعه اَندازۍ کې یو کس ته دا اِنعام راأوخیجي نو ددې اخیستل جائز دي ، ځکه دا دکمپنۍ د طرفه د خپلو شیانو خرڅولو د پاره یو قِسم ترغیب وي ، او دا جائز دی .

وَفِي الْأَقْضِيَةِ قَسَّمَ الْهَدِيَّةَ وَجَعَلَ هٰذَا مِنْ أَقْسَامِهَا فَقَالَ : حَلَالٌ مِنَ الْجَانِبَيْنِ كَالْإِهْدَاءِ لِلتَّوَدُّدِ . (۱) .

## د غنمو اُوړه کولو په عِوض کې مشین واله ته غنم یا اُوړه ورکول

په بعضو علاقو کې د غنمو اُوړه کولو د پاره ژرَندې یا مشینونه وي ، دوی چې غنم اُوړه کړي نو په مزدورۍ کې شلمه ، یا دیرشمه حصه اُوړه اخلي ، دا صورت اگر چې د مسئله قفیزالطحان د لاندې راځي ، یعنی یو چا ته په مزدورۍ کې داسې څیز ورکول چې هغه دده د عمل نه پیدا شوې وي ، نبي علیه السلام دداسې قِسمه اِجارې نه منع کړې ده ، او ددې ډیر صورتونه دي .

البته که بغیر دتعین نه مخکې یا روستو ورته د همدې جنس (اُړو ) نه دا په اُجرت کې ورکړې شي نو دا بالاتفاق جائز دی .

مشائخو د بلخ د خپلې علاقې د عوامو او خواصو په دې کې د مبتلاء کیدو په وجه صرف د خوراک په باره کې د جواز فتوی ورکړې ده ، لکه په فتاوی عالمگیري کې ددې ذکر شته .
او نن صبا خو په اکثره علاقو کې همدا طریقه مُروّجه ده .

---

(۱) رد المحتار علی الدر المختار کتاب القضاء مطلب فی الکلام علی الرشوة والهدیة ۳٦۲/۵ ، فتاوی عثمانیه لمولانا مفتي غلام الرحمن صاحب ج۷ ص ۲۰۰ کتاب البیوع .

البته د قفيز الطحان مسئله به په خپل ځای باندې اوس هم بر قرار او ناجائز وي، د عُرف په وجه به په دې کې تبديلي نه راځي.

قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله: ومن دفع إلى حائك غزلا لينسجه بالنصف فله أجر مثله. وكذا إذا استأجر حمارا يحمل طعاما بقفيز منه فالإجارة فاسدة. لأنه جعل الأجر بعض ما يخرج من عمله فيصير في معنى قفيز الطحان. وقد نهى النبي صلى الله عليه وسلم عنه. (١)

په فتاوی عثمانيه کې ذکر دي: چې کوم شی د أجير (مزدور) په عمل موقوف وي نو د ته به د همدې عمل نه مزدوري نشي ورکولی، لهذا د غنمو أوړه کولو په عِوض کې مشين واله ته همدا أوړه په مزدورۍ کې ورکول صحيح ندي.
البته فقهاء کرامو ددې د جواز د پاره دا صورت ليکلی: چې د غنمو مالِک به د مشين واله سره ددې غنمو مبده کولو په عِوض کې أوړه مقرر کړي، خو دا تعين به ورسره نه کوي چې زه به تاته أوړه د همدې مبده شوي أوړو نه درکوم، بلکه بغير د تعين نه به ورسره په مزدورۍ کې د أوړو ورکولو خبره اوکړي، کله چې هغه أوړه اوکړي اوس د غنمو مالک ته دا اجازت شته چې هغه ته په مزدورۍ کې أوړه ورکړي، که هغه ددې أوړو نه ورکوي، او که د نورو أوړو نه. دواړه ورته جائز دي. (٢)

---

(١) الهداية ج٣ ص ٣٠٥ كتاب الاجارات باب الاجارة الفاسدة.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَلَوْ) (دَفَعَ غَزْلًا لِآخَرَ لِيَنْسِجَهُ لَهُ بِنِصْفِهِ) أَيْ بِنِصْفِ الْغَزْلِ (أَوْ اسْتَأْجَرَ بَغْلًا لِيَحْمِلَ طَعَامَهُ بِبَعْضِهِ أَوْ ثَوْرًا لِيَطْحَنَ بُرَّهُ بِبَعْضِ دَقِيقِهِ) فَسَدَتْ فِي الْكُلِّ. لِأَنَّهُ اسْتَأْجَرَهُ بِجُزْءٍ مِنْ عَمَلِهِ. وَالْأَصْلُ فِي ذَلِكَ نَهْيُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَفِيزِ الطَّحَّانِ وَقَدَّمْنَاهُ فِي بَيْعِ الْوَفَاءِ. وَالْحِيلَةُ أَنْ يَفْرِزَ الْأَجْرَ أَوَّلًا أَوْ يُسَمِّيَ قَفِيزًا بِلَا تَعْيِينٍ ثُمَّ يُعْطِيَهُ قَفِيزًا مِنْهُ فَيَجُوزُ. الدرالمختار على صدر رد المحتار ج٦ ص ٥٦ باب الاجارة، ومثله في الهندية ج٤ ص ٤٤٣ الفصل الثالث في قفيز الطحان. فتاوى حقانيه ج٦ ص ٢٦٩.

(٢) وكذا إذا استأجر حمارا يحمل طعاما بقفيز منه فالإجارة فاسدة. لأنه جعل الأجر بعض ما يخرج من عمله فيصير في معنى قفيز الطحان. وقد نهى النبي صلى الله عليه وسلم عنه. وهو أن يستأجر ثورا ليطحن له حنطة بقفيز من دقيقه. الهداية كتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة ٣٠٨/٣، فتاوى عثمانيه ج٨ ص ١٢٤

په فتاوی محمودیه کې لیکلي چې د غنمو میده کولو په عِوض کې اُوړه ورکول صحیح نه دي ، البته که همدومره غله دده په رَضا ورنه کښې شي نو دا صحیح ده . (۱)

# د تریشر واله ته په مزدورۍ کې غنم ورکول

نن صبا زمیندار د غنمو تَریشَر کولو په عِوض کې تریشَر واله ته په مزدورۍ کې غنم ورکوي ، نو ددې حکم دادی چې که زمیندار د تریشَر واله ته اووایي چې زه به تاته په مزدورۍ کې د همدې غنمو نه غنم درکوم کوم چې تا تریشر کړي نو دا صورت د قفیزُالطحان په حکم کې داخلیږي دا ناجائز دی .

لیکن که زمیندار د تریشَر واله سره د مطلقِ غنمو ورکولو خبره اوکړي او دا تعین ورسره او نه کړي چې زه به تاته په مزدورۍ کې د همدې غنمو نه درکوم کوم چې تا تریشر کړي نو بیا دا صورت جائز دی ، د تریشر کولو نه روستو اوس زمیندار ته دا اجازت شته که دا د همدې تریشر شوو غنمو نه هغه ته غنم و رکوي ، او که نور غنم ورکوي ، دواړه ورته جائز دي .

( اِسْتَأْجَرَ بَغْلًا لِيَحْمِلَ طَعَامَهُ بِبَعْضِهِ أَوْ ثَوْرًا لِيَطْحَنَ بُرَّهُ بِبَعْضِ دَقِيقِهِ ) فَسَدَتْ فِي الْكُلِّ ؛ لِأَنَّهُ اِسْتَأْجَرَهُ بِجُزْءٍ مِنْ عَمَلِهِ ، وَالْأَصْلُ فِي ذَلِكَ نَهْيُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَفِيزِ الطَّحَّانِ وَقَدَّمْنَاهُ فِي بَيْعِ الْوَفَاءِ. وَالْحِيلَةُ أَنْ يَفْرِزَ الْأَجْرَ أَوَّلًا أَوْ يُسَمِّيَ قَفِيزًا بِلَا تَعْيِينٍ ثُمَّ يُعْطِيَهُ قَفِيزًا مِنْهُ فَيَجُوزُ . (۲)

---

(۱) يَسْتَأْجِرُ إِنْسَانًا لِيَطْحَنَ لَهُ الْحِنْطَةَ بِنِصْفِ دَقِيقِهَا أَوْ ثُلُثِهِ أَوْ مَا أَشْبَهَ ذَلِكَ فَذَلِكَ فَاسِدٌ . وَالْحِيلَةُ فِي ذَلِكَ لِمَنْ أَرَادَ الْجَوَازَ أَنْ يَشْتَرِطَ صَاحِبُ الْحِنْطَةِ قَفِيزًا مِنَ الدَّقِيقِ الْجَيِّدِ وَلَمْ يَقُلْ : مِنْ هَذِهِ الْحِنْطَةِ . أَوْ يَشْتَرِطَ رُبْعَ هَذِهِ الْحِنْطَةِ مِنَ الدَّقِيقِ الْجَيِّدِ . لِأَنَّ الدَّقِيقَ إِذَا لَمْ يَكُنْ مُضَافًا إِلَى حِنْطَةٍ بِعَيْنِهَا يَجِبُ فِي الذِّمَّةِ وَالْأَجْرُ كَمَا يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ مُشَارًا إِلَيْهِ يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ دَيْنًا فِي الذِّمَّةِ . ثُمَّ إِذَا جَازَ يَجُوزُ أَنْ يُعْطِيَهُ رُبْعَ دَقِيقِ هَذِهِ الْحِنْطَةِ إِنْ شَاءَ. كَذَا فِي الْمُحِيطِ. عالمگیري ج۴ ص ۴۴۴ كتاب الاجارة الفصل الثالث في قفيز الطحان ، شامي ج٦ ص ۵٦، ۵۷ باب الاجارة الفاسدة ، تبيين الحقائق باب الاجارة الفاسدة ج۵ ص ۱۳۰ ، فتاوى محموديه ج۲۵ ص ۱۸۷ اجارة فاسدة .

(۲) ردالمحتار على الدرالمختار كتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة ۹/ ۷۹ ، فتاوى عثمانيه ج۸ ص ۱۲۳ .

## يو څيز په مختلفو ريټونو (قيمتونو) خرڅول جائز دي

که يو دُکاندار يو څيز په يو کس باندې په يو ريټ خرڅوي، يا همدا قِسم څيز په بل کس باندې په بل رِيټ خرڅوي نو دا جائز دی، ځکه کله چې د بيع شرائط برابر وي او دواړه طرف راضي وي نو داسې بيع جائز ده.

دلته هم ددې دُکاندار د هر کس ځانله ځانله معامله ده، او دواړه په دې قيمت باندې راضي دي نو دا جائز ده.

البته دُکاندار به دا څيز د خپل حَد نه زيات گران نه خرڅوي.

أَمَّا تَعْرِيفُهُ فَمُبَادَلَةُ الْمَالِ بِالْمَالِ بِالتَّرَاضِيْ كَذَا فِي الْكَافِي. وَأَمَّا رُكْنُهُ فَنَوْعَانِ أَحَدُهُمَا الْإِيْجَابُ وَالْقَبُوْلُ. وَالثَّانِي التَّعَاطِي. وَهُوَ الْأَخْذُ وَالْإِعْطَاءُ. كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيّ. (۱)

## د اِنټرنټ په ذريعه اخيستل او خرڅول جائز دي

فقهاء کرامو د خط و کتابت په ذريعه اخيستل خرڅول جائز کړي، په داسې بَيعو کې مُرْسَلُ اِلَيْه (يعنی چاته چې خط ليږلې شوې وي هغه) ته د خط رسيدو مجلس به مجلسِ عقد وي، لهذا که هغه په دې مجلس کې د مُرْسِلُ (يعنی خط ليږونکي) د بَيعې دا پيش کش قبول کړي نو ددې سره بيع پوره کيږي، او دا جائز هم ده.

يا خاصکر په موجوده دَور کې خو اِنټرنټ د خط و کتابت يوه جديد او تيز ترينه ذريعه ده چې په دې کې د خط ليږلو سره سره يو بل په ټيلفون خبرې (Vice chatting) هم کولې شي، او يو بل د ويډيو کيمرې په ذريعه براهِ راست کتلې هم شي، لهذا اِنټرنټ د کاغذي خط نه زياته قوي ذريعه ده، نو چې کله د خط و کتابت په ذريعه خريد و فروخت جائز دی نو د اِنټرنټ په ذريعه خو به په طريقِ اولی جائز وي.

والكتاب كالخطاب. وكذا الارسال. حتى اعتبر مجلس بلوغ الكتاب و اداء الرسالة. (۲)

(۱) الفتاوی الهندية كتاب البيوع الباب الاول ۲/۳، فتاوی عثمانيه ج۷ ص۲۱۸.

(۲) الهداية كتاب البيوع ۲۰/۳، فتاوی عثمانيه ج۷ ص۱۰۰.

# ژوندي چرګان په تول (يعنی وزن) سره خرڅول جائز دي

اګر چې فقهاء کرامو د ژوندي څاروي په تول (وزن) کولو سره خرڅول ناجائز ليکلي، او ددې وجه يې دا بيان کړی چې ژوندۍ څاروې ساه اخلي چې په دې سره دده وزن زياتيږي اوکميږي، د صحيح وزن پته يې نه لږي، نو ځکه فقهاؤ د وزن د جهالت په وجه ژوندۍ څاروې په تول کولو سره خرڅول ناجائز ګرځولي.

ليکن ننصبا فارمي چرګان په تول سره خرڅيږي، او ددې رواج عام شوی دی خو چې په دې کې په وزن کې کوم کمې يا زياتې کيږي خلق ددې لحاظ نه ساتي، او د خپل مينځي جګړې سبب نه ګرځي، نو ځکه ددې ژوندي چرګانو په تول (وزن) سره خرڅول جائز دي.

(وَمِنْهَا) أَنْ يَكُوْنَ الْمَبِيْعُ مَعْلُوْمًا وَثَمَنُهُ مَعْلُوْمًا عِلْمًا يَمْنَعُ مِنَ الْمُنَازَعَةِ. فَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا مَجْهُوْلًا جَهَالَةً مُفْضِيَةً إِلَى الْمُنَازَعَةِ فَسَدَ الْبَيْعُ. وَإِنْ كَانَ مَجْهُوْلًا جَهَالَةً لَا تُفْضِيْ إِلَى الْمُنَازَعَةِ لَا يَفْسُدُ؛ لِأَنَّ الْجَهَالَةَ إِذَا كَانَتْ مُفْضِيَةً إِلَى الْمُنَازَعَةِ كَانَتْ مَانِعَةً مِنَ التَّسْلِيْمِ وَالتَّسَلُّمِ فَلَا يَحْصُلُ مَقْصُوْدُ الْبَيْعِ. وَإِذَا لَمْ تَكُنْ مُفْضِيَةً إِلَى الْمُنَازَعَةِ لَا تَمْنَعُ مِنْ ذٰلِكَ. فَيَحْصُلُ الْمَقْصُوْدُ. (۱)

# د کافر سره د نوکرۍ کولو حکم

ننصبا اکثر مسلمانان امريکې، برطانيې او جاپان ته د نوکرۍ د پاره لاړشي او هلته د کافرانو سره نوکران وي، نو ددې حکم دادی چې که په دې نوکرۍ کې د مسلمان تذليل او سپکاوې کيده نو دا جائز نده، ځکه اسلام د مسلمانانو د عزت او عظمت ډير لحاظ ساتلی، لهذا مسلمان به د کافر سره داسې نوکري نه کوي چې په دې سره دده سپکاوې کيږي.

او که په دې نوکرۍ کې دده ذلت او سپکاوې نه کيده نو بيا د مسلمان د کافر سره په نوکرۍ کولو کې څه قباحت نشته، اګر چې خلافِ اولی بيا هم ده.

(۱) بدائع الصنائع كتاب البيوع فصل في شرائط الصحة ٥٩٢/٦، فتاوی عثمانيه ج٧ ص١٠٨.

قال العلامة ابوبكر الكاساني رحمه الله : وَلَوْ اِسْتَأْجَرَ ذِمِّيٌّ مُسْلِمًا لِيَخْدُمَهُ ذَكَرَ فِي الْأَصْلِ أَنَّهُ يَجُوزُ وَأَكْرَهُ لِلْمُسْلِمِ خِدْمَةَ الذِّمِّيِّ ، أَمَّا الْكَرَاهَةُ فَلِأَنَّ الاِسْتِخْدَامَ اِسْتِذْلَالٌ فَكَأَنَّ إِجَارَةَ الْمُسْلِمِ نَفْسَهُ مِنْهُ إِذْلَالًا لِنَفْسِهِ ، وَلَيْسَ لِلْمُسْلِمِ أَنْ يُذِلَّ نَفْسَهُ خُصُوصًا بِخِدْمَةِ الْكَافِرِ. (١)

په فتاوی عثمانیه کې لیکلي دي چې که د کافر سره په نوکرۍ کولو سره د اِسلام او مسلمانانو توهین نه راتلو نو بیا جائز ده ، او که په دې نوکرۍ کولو سره د مسلمانانو یا د دینِ اسلام د توهین شائبه وه نو بیا دداسې نوکرۍ نه ځان ساتل په کار دي .

مسلم إذا آجر نفسه من الكافر ليخدمه جاز ، ويكره . وقال الفضلي : لايجوز فى الخدمة، وما فيه إذلال ، بخلاف الزراعة والسقي . (٢)

## د تصنیف یا طباعت حقوق خرڅول جائز دي

نن صبا مُصنّفین او مُؤلّفین یو کتاب اولیکي یا ددې کتاب دا مُسوّده یا ددې د طباعت حقوق په تاجرانو باندې په ګران قیمت خرڅوي نو ددې حکم دادی چې : ددې خرڅول جائز دي ، ځکه حق د تصنیف اګر چې د حُقوقِ مجرده ؤ سره تعلق لري ، لیکن د حقوقِ مجرّده ؤ دوه قِسمونه دي :

١ . هغه حقوق چې د هغې سره څه مالي مَنفعت تړلې وي لکه حقِ وظیفه وغیره .

٢ . هغه حقوق چې د هغې سره مالي مَنفعت نه وي تړلی لکه حقِ شُفعه وغیره

نو په شریعتِ اسلامي کې د مالي منفعت واله حقوقو نه د دَست بَرداری په عِوض کې مال اخیستل جائز دي . او د تصنیف سره هم په نن دَور کې مالي منفعت تړلې دی لهذا ددې اخیستل او خرڅول جائز دي ، د فِقهې په اِصطلاح کې دیته حَقِ اَسبَقِیَت ویلې شي .

---

(١) بدائع الصنائع ج۴ ص ١٨٩ فصل و اما شرائط الركن .

قال العلامة قاضيخان : مسلم آجر نفسه من نصراني ان استأجر لعمل غير الخدمة جاز ، و ان آجر نفسه للخدمة قال الشيخ الامام ابوبكر محمد بن الفضل لايجوز . وذكر القدوري انه يجوز يكره له خدمة الكافر . الفتاوى قاضي خان ج٣ ص ١٨ كتاب الاجارات ، و مثله في خلاصة الفتاوى ج٣ ص ١۴٩ كتاب الاجارات الفصل العاشر فى الحظر و الاباحة ، فتاوى حقانيه ج٦ ص ٢٥٥ .

(٢) خلاصة الفتاوى كتاب الاجارات الفصل العاشر فى الحظر والاباحة ٣/١۴٩ .

قال الحصكفي رحمه الله : وَفِي الْأَشْبَاهِ لَا يَجُوزُ الْإِعْتِيَاضُ عَنِ الْحُقُوقِ الْمُجَرَّدَةِ كَحَقِّ الشُّفْعَةِ وَعَلَى هٰذَا لَا يَجُوزُ الْإِعْتِيَاضُ عَنِ الْوَظَائِفِ بِالْأَوْقَافِ . وَفِيهَا فِي آخِرِ بَحْثِ تَعَارَضَ الْعُرْفُ مَعَ اللُّغَةِ . اَلْمَذْهَبُ عَدَمُ اعْتِبَارِ الْعُرْفِ الْخَاصِّ لَكِنْ أَفْتَى كَثِيرٌ بِاعْتِبَارِهِ وَعَلَيْهِ فَيُفْتَى بِجَوَازِ النُّزُوْلِ عَنِ الْوَظَائِفِ بِمَالٍ . (١)

## د يو څيز د اخيستلو د پاره پيشګي روپۍ ورکول جائز دي

که يو کس د يو څيز د اخيستلو د پاره بائع ته د مخکې نه پيشګي روپۍ ورکړي نو متأخرينو فقهاؤ ديته جائز ويلی دي ؛ ځکه د اخيستو په نيت سره د مخکې نه پيشګي روپۍ ورکول بيع نده بلکه د بيع وعده ده ، ځکه حقيقي بيع د مَبيعې وصول کولو نه روستو مُتحقق کيږي . لهذا دا به د بَيع تَعَاطِي په وجه صحيح کيږي ، او مُشتري ته به د خيارِ رُؤيت حق حاصل وي .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : وَلَوْ أَعْطَاهُ الدَّرَاهِمَ . وَجَعَلَ يَأْخُذُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَةَ أَمْنَانٍ وَلَمْ يَقُلْ فِي الْاِبْتِدَاءِ إِشْتَرَيْتُ مِنْكَ يَجُوزُ وَهٰذَا حَلَالٌ وَإِنْ كَانَ نِيَّتُهُ وَقْتَ الدَّفْعِ الشِّرَاءَ ؛ لِأَنَّهُ بِمُجَرَّدِ النِّيَّةِ لَا يَنْعَقِدُ الْبَيْعُ ، وَإِنَّمَا يَنْعَقِدُ الْبَيْعُ الْآنَ بِالتَّعَاطِي وَالْآنَ الْمَبِيْعُ مَعْلُوْمٌ فَيَنْعَقِدُ الْبَيْعُ صَحِيْحًا . (٢)

---

(١) الدر المختار على رد المحتار ج٤ ص ١٦ كتاب البيوع .

قال العلامة خالد اتاسي : اقول ماذكره من جواز الاعتياض عن الحقوق المجردة بمال ينبغي ان يجوز الاعتياض عن التعلي وعن حق الشرب وعن حق السيل بمال ... كما جاز النزول عن الوظائف و نحوها لاسيما اذا كان صاحب حق العلو فقيرا قد عجز عن اعادة علوه فلو لم يجز ذلک له على الوجه الذي ذکرناه يتضرر فليتأمل وليحرز . شرح مجلة الاحكام مادة ٢١٦ ج٢ ص ١٢١ الفصل الثاني في بيع ما يجوز و ما لايجوز . و مثله في نظام الفتاوى ج٢ ص ٣١٤ كتاب المعاملات ، فتاوى حقانيه ج٦ ص ١١١ .

(٢) رد المحتار ج٤ ص ٥١٦ مطلب البيع بالتعاطي . فتاوى حقانيه ج٦ ص ٢٨ .

قال العلامة سليم رستم باز رحمه الله : ويصح البيع بالتعاطي ... وصورته ان يتفق على الثمن ثم يأخذ المشتري المتاع ويذهب برضا صاحبه من غير ان يرفع الثمن او ان يرفع المشتري الثمن للبائع ويذهب بدون قبض المبيع فان البيع لازم على الصحيح . (١)

## كه فاحشې ښځې يا كافر كوهي كنيستې وي د دې اوبه څكل جائز دي

كوم كوهي چې فاحشې ښځې يا كافر كنيستلې وي دداسې كوهي اوبه حلالې دي . د دې څكل او اودس پرې كول جائز دي . (٢)

## په ناجائزه كارونو كې د استعماليدونكو دوايانو خرڅولو حكم

بعضې خلق ځنې دوايانې د ګناه په كارونو كې استعمالوي نو دداسې دوايانو حكم دادى چې : كومې دوايانې د ګناه د كارونو د پاره مُستقِلاً نه وي جوړې شوى بلكه د نورو مقاصدو د پاره جوړې شوې وي خو ( د بَد قِسمتى نه ) ځنې خلق يې د ګناه په كارونو كې استعمالوي نو دداسې دوايانو تجارت كول او خرڅول جائز دي .

او كه دا په يقين يا ظنِ غالب سره معلومه شي چې دا دوايانې صرف د ګناه په كارونو كې استعماليږي نو بيا دداسې دوايانو تجارت او خرڅول ناجائز دي .

وَعُرِفَ بِهٰذَا أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ بَيْعُ مَالَمْ تَقُمِ الْمَعْصِيَةُ بِهِ كَبَيْعِ الْجَارِيَةِ الْمُغَنِّيَةِ . (٣)

## په كرائې باندې د نيول شوي دُكان يوه حصه بل كس ته په كرائې وركول

كه يو كس په اِجاره ( يعنى كرائي ) باندې يو دُكان نيولې وي بيا د دې دُكان يوه حصه بل كس ته په كرائې وركوي نو دا جائز ده ، خو په دې كې غټ دوه شرطونه دي :

---

(١) شرح المجلة للعلامة سليم رستم باز تحت المادة ١٧٥ ص ٧٩ ، ومثله في شرح المجلة للعلامة خالد الاتاسي تحت المادة ١٧٥ ج١ ص ٣٦ فتاوى حقانيه ج٦ ص ٢٨ .

(٢) امداد الفتاوى ج٤ ص ١٣٨ .

(٣) رد المحتار على الدر المختار كتاب الجهاد باب البغاة مطلب في كراهية ما تقوم المعصية بعينه ٦ /٤٢١ ، فتاوى عثمانيه ج٧ ص ١٧٠ .

۱. دا چې دې ددې بل کس نه کومه کرائي اخلي دا به ددې غوند ذُکان د کرائي نه زياته نه وي.

البته که دې کس په دې ذُکان کې څه اضافي کار کړې وُ نو بيا ده ته دهغې بل کس نه اضافي کرايي هم اخيستل هم جائز دي.

۲. داسې چاته به د ذُکان دا حصه په کرائي نه و رکوي چې د هغه په کسب کولو سره ددې ذُکان تعمير ته نقصان رسي.

يجوز استئجار دار او حانوت بدون بيان من يسكنها ، ولا بيان ما يعمل فيها . فللمستاجر ان يسكنها بنفسه او يسكنها غيره باجارة . او اعارة ونحوهما.

وله ان يسكنها وحده ، او يسكن غيره معه ، ولوشرط عليه المؤجر ان يسكنها وحده . وكذا كل مالا يختلف بالاستعمال ، فإنّ التقييد فيه باطل ، لانّه غير مفيد . (١)

# دزمکې قبضه پريخودلو په عوض کې روپۍ اخيستل ناجائز دي

نن صبا دا رِواج دی چې کله د يو زمُيندار سره يوه زمکه ډيره موده په اِجاره باندې وي يا چې کله د زمکې مالِک دا زمکه خرڅوي نو زميندارې ورته نه پريږدي ، بلکه دقبضې پريخودلو په عِوض کې ورنه زمکه يا څه روپۍ اَخلي ، نو ددې شرعي حکم دادی چې :

دا روپۍ اخيستل ناجائز دي ، ځکه په عقدِ اجاره کې قانون دادی چې کله هغه معين وخت پوره شي نو عقدِ اجاره په خپله ختمه شي ، اوس که دا دواړه بيا راضي وو نو دوباره به عقدِ اجاره اوکړي ، خو که په دواړو کې يو هم راضي نه وُ نو مستأجِر به د مودې په ختميدو سره دا شی خپل مالِک ته حواله کوي ، دده د پاره شرعًا دا جائز نه دي چې د قبضې پريخودلو په عِوض کې ورنه روپۍ واخلي.

همدغه شان که د يو چا سره زمکه په قبضه کې وي ، او د زمکې مالک دا خرڅول غواړي نو هغه ته اِختيار حاصل دی چې هر څنګه تصرّف په کې کوي نو کولې يې شي.

---

(١) شرح المجلة لسليم رستم باز المادة ٥٢٢ كتاب الاجارة الباب السادس في انواع الماجور ص ٢٨٤ . فتاوى عثمانيه ج٨ ص٦٥ .

د قبضې پرېښودلو په عِوض کې د زميندار د پاره د روپو مطالبه کول ناجائز ده ، ځکه د مال اخيستلو د پاره شرعي سبب په کار دی ، او موجوده د زميندارو د قبضې عُرف څه شرعي سبب نه دی .

وَأَمَّا الَّذِيْ يَنْفَسِخُ بِهِ عَقْدُ الْمُعَامَلَةِ فَأَنْوَاعٌ .....وَمِنْهَا اِنْقِضَاءُ الْمُدَّةِ . (١)

وَإِنْ كَانَ الشَّرْطُ شَرْطًا لَمْ يُعْرَفْ وُرُوْدُ الشَّرْعِ بِجَوَازِهِ فِيْ صُوْرَتِهِ وَهُوَ لَيْسَ بِمُتَعَارَفٍ إِنْ كَانَ لِأَحَدِ الْمُتَعَاقِدَيْنِ فِيْهِ مَنْفَعَةٌ أَوْ كَانَ لِلْمَعْقُوْدِ عَلَيْهِ مَنْفَعَةٌ وَالْمَعْقُوْدُ عَلَيْهِ مِنْ أَهْلِ أَنْ يَسْتَحِقَّ حَقًّا عَلَى الْغَيْرِ فَالْعَقْدُ فَاسِدٌ . (٢)

## په پُوخ مَن سره لرګي اخيستل او بيا په کچه مَن خرڅول

که يو کس د ځنګل نه لرګي د پوخ مَن په حساب سره اخلي او بيا يې د کچه مَن په حساب سره خرڅوي نو دا صورت هلته جائز دی چې کله اخيستونکي ته دا معلومه وي چې دا په ما باندې د کچه مَن په حساب سره خرڅوي ، ځکه که اخيستونکي ته دا معلومه نه وي او دُکاندار هم ورته دا او نه وايي نو دا خو بيا دُهوکه ده چې ناجائز او حرام ده .

لهذا اخيستونکي ته دا ويل لازمي دي چې دا د کچه مَن په حساب سره په تا خرڅوم .

يا که په عُرف او په دغلته موجوده بازار کې همدا کچه مَن چليږي ، او اخيستونکي ته هم دا معلومه وي چې دلته همدا کچه مَن چليږي نو بيا په همدې کچه مَن خرڅول جائز دي .

ويجوز بإناء بعينه لا يعرف مقداره وبوزن حجر بعينه لا يعرف مقداره ، لأنّ الجهالة لاتفضي إلى المنازعة . (٣)

(١) بدائع الصنائع كتاب المعاملات فصل في المعاني التي تفسخ بها المعاملة ٨/ ٢٩١ ، ٢٩٢ .

(٢) كذا في الذخيرة . الفتاوى الهندية كتاب البيوع الباب العاشر مطلب في الشروط المفسدة ٣ /١٣٤ . فتاوى عثمانيه ج٧ ص١٢٢ .

(٣) الهداية كتاب البيوع كيفية انعقاد البيع ٣/ ٢٢ . فتاوى عثمانيه ج٧ ص ١٣٦ .

# د ګیرې خریلو یا انګریزي ویښتانو جوړلو په عوض کې مزدوري اخیستل ناجائز ده

د حجامت یعنی نائِي تُوب پیشه کول څه قبیحه نده ، البته د ګیرې خریلو یا انګریزي ویښتانو جوړولو په عِوض کې مزدوري اخیستل ناجائز ده ، ځکه ګیره خریل یا انګریزي ویښتان جوړول حرام دي ، او د حرام کار په عوض کې اُجرت اخیستل ناجائز دي .

خلاصه دا چې د هر خلافِ شرع کارونو کولو په عِوض کې اُجرت اخیستل ناجائز دي .

قال العلامة طاهر بن عبدالرشيد البخاري رحمه الله : ولايجوز الإستيجار على شيء من الغناء والنوح والمزامير . (١)

قال العلامة المرغيناني رحمه الله : ولا يجوز الاستئجار على الغناء والنوح، وكذا سائر الملاهي. لأنه استئجار على المعصية ، والمعصية لا تستحق بالعقد. (٢)

په فتاوی محمودیه کې هم دا خبره ذکر ده چې ګیره خریل یا انګریزي ویښتان جوړول د ګناه کار دی ، ددې آمدني صحیح نده .

انّ الاعانة على المعصية حرام مطلقاً بنصّ القرآن ولكنّ الاعانة حقيقة هي ما قامت المعصية بعين فعل المعين ... (٣)

# کوم نائِي چې ګیره خرائي هغه ته په کرایه دُکان ورکول ناجائز دی

د حجامت پیشه اګر چې ضروري ده لیکن په دې کې به د شرعي حدودو لحاظ ساتلې شي ، اوس که یو نائِي ګیره خرایي ، یابل خلافِ شرع کار په دُکان کې کوي نو داسې نائِي ته

(١) خلاصة الفتاوى ج٣ ص ١١٦ كتاب الاجارات جنس آخر في المتفرقات .

(٢) الهداية ج٣ ص ٣٠١ باب الاجارة الفاسدة ، ومثله في رد المحتار ج٦ ص ٥٥ باب الاجارة الفاسدة . فتاوى حقانيه ج٦ ص ٢٥٩ .

(٣) جواهر الفقه ج٢ ص ٤٤٧ تفصيل الكلام في مسئلة الاعانة على الحرام ، تفسير مظهري ج٣ ص ١٩ تحت الاية و لاتعاونوا على الاثم والعدوان . سورة المائدة ، احكام القرآن للقرطبي ج٣ ص ١٨ الجزء السادس طبع دارالفكر بيروت . فتاوى محمودية ج٢٥ ص ٢٧٣ .

په کرایه باندې دُکان ورکول صحیح ندي .

ځکه دا د يو چا سره د ګناه په کار کې مدد کول دي ، او دا په نَص د قرآن کريم حرام دي ، الله تعالى فرمايي : ﴿وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ . (١)، (٢).

ترجمه : او د يو بل سره د ګناه او ظلم په کارونو کې مدد مه کوئ .

په فتاوى رحيميه کې ذکر دي چې بَدکاره او د ګناه کار کوونکو خلقو ته کور يا دُکان په کرايه باندې ورکول صحيح ندي ، ځکه په دې کې د ګناه په کار کې د چا سره مدد کول دي. (٣)

## په کرايه باندې د دُکان نيولو په وخت د پګړۍ ورکولو حکم

نن صبا په کاروباري خلقو کې دا رِواج دی چې کله يو دُکان يا کور د چا نه په کرايه باندې اَخلي نو د ځای مالِکانو ته ډيرې روپۍ ورکوي چې په عُرف کې ديته پګړۍ وايي ، نو ددې حکم دا دی چې : د پګړۍ دوه صورتونه دي :

١ . که چيرته دا کس د دُکان مالِک ته دا پګړۍ د رِشوت يا رَهن په شکل ورکوي نو دا ورکول او اخيستل دواړه ناجائز دي .

٢ . که چيرته دا پګړۍ د اُجرتِ مُعجّله په صورت کې وي ( چې دا به په کرايه کې حسابيږي ) نو بيا په دې کې څه قباحت نشته .

قال العلامة محمد خالد اتاسي رحمه الله : تلزم الاجرة بالتعجيل يعنى لو سلم المستاجر الاجرة نقدًا ملكها الآجر وليس للمستأجر إستردادها سواء كانت الاجارة منجزة او مضافة . (٤)

---

(١) سورة المائده آية ٢ .

(٢) فتاوى حقانيه ج٦ ص ٢٧٧ كتاب الاجارة .

(٣) فتاوى رحيميه ج٩ ص ٢٩١ .

(٤) مجلة الاحكام مادة ٤٦٧ ص ٢٦١ الفصل الثاني في بيان المسائل المتعلقة بسبب لزوم الاجرة و كيفية استحقاق الاجرة .

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : وَ فِي شَرْحِ الطَّحَاوِيّ اَلأُجْرَةُ لَا تَخْلُو إِمَّا أَنْ تَكُونَ مُعَجَّلَةً . أَوْ مُؤَجَّلَةً . أَوْ مُنَجَّمَةً . أَوْ مَسْكُوتًا عَنْهَا . فَإِنْ كَانَتْ مُعَجَّلَةً فَإِنَّ لَهُ أَنْ يَتَمَلَّكَهَا وَلَهُ أَنْ يُطَالِبَ بِهَا . وَإِنْ كَانَتْ مُؤَجَّلَةً فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُطَالِبَ إِلَّا بَعْدَ الأَجَلِ . وَإِنْ كَانَتْ مُنَجَّمَةً فَلَهُ أَنْ يُطَالِبَ عِنْدَ كُلِّ نَجْمٍ . (۱)

ددې مسئلې پوره تشريح په فتاوی حقانيه كتاب البيوع كې داسې ذكر ده چې :
په بعضې علاقو كې دا رِواج وي چې يو كس خپل دُكان بل چاته د اُوږدې مودې د پاره په كرايه وركوي نو د كرايه دار نه په يو ځل باندې ډيرې روپۍ واخلي چې ديته پګړۍ وايي . په دې پګړۍ وركولو سره دا كرايه دار ددې حقدار شي چې تر ډيره اُوږده موده پورې يا تر مرګه پورې به دا دُكان دده سره په كرايه وي ، دا كرايه دار بيا دا دُكان بل چاته هم په كرائي باندې وركولې شي ، او كه مالک ورنه واپس دا دُكان اخلي نو دا روپۍ به واپس وركوي ،

نو ددې مُروّجه پګړۍ حكم دادی چې دا ناجائز ده ، ځكه دا خو نه نزول عن الحق دی ، او نه اُجرتِ مُعجّله دی ، بلكه دا صرف حَقِ مُجَرَّدَه خرڅول دي ، او دا ناجائز دی ، ځكه دا په رشوت كې داخل دی ، او رِشوت په نَص د قرآن كريم حرام دی .
البته كه دا د پګړۍ روپۍ د يوې مُعيّنې مودې پورې پيشګي اُجرت وي ، او د مُعَيِّنې مودې پورې دده نه د دُكان كراي ختميږي نو دا بيا جائز دي ، ځكه دا په اِجاره كې شماريږي، او د اِجارې ټول اَحكام په دې جاري كيږي .

قال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله : الحق المجرّد أو المحض : هو الذي لا يترك أثرا بالتنازل عنه صلحا أو إبراء ... فلا يجوز الاعتياض عنه كحق الولاية على النفس والمال وحق الشفعة . (۲)

(۱) البحر الرائق ج۸ ص ٥ كتاب الاجارات ، ومثله في خلاصة الفتاوى ج۳ ص ۱۰۳ كتاب الاجارة ، فتاوى حقانيه ج٦ ص ۲٦٥ .
(۲) الفقه الاسلامي و ادلته ج۴ ص ۲۱ الحقوق المجردة وغير المجردة .

وقال العلامة الحصكفي : لَا يَجُوزُ الْاِعْتِيَاضُ عَنِ الْحُقُوْقِ الْمُجَرَّدَةِ كَحَقِّ الشُّفْعَةِ . (۱)

په فتاوی محمودیه کې هم دیته ناجائز ویل شوي . (۲)

په فتاوی عثمانیه کې ذکر دي : د پګړۍ دا روپۍ کومې چې د کرائې نه علاوه اخیستلې شي دا چونکه د یو خاص مادي شي په عِوض کې ندي بلکه دا د یو حق مُجرد یعنی د حقِ قبضې په عِوض کې اخیستلې شي ، حالانکه په شریعت کې د حقوقِ مجرده وُ اخیستل او خرڅول ناجائز دي ، لهذا د پګړۍ دا روپۍ په رِشوت کې داخلې دي . ددې اخیستل شرعًا ناجائز دي .

لَا يَجُوزُ الْاِعْتِيَاضُ عَنِ الْحُقُوْقِ الْمُجَرَّدَةِ كَحَقِّ الشُّفْعَةِ . (۳)

ترجمه : د حقوقِ مجرده وُ په عوض کې څه شی اخیستل جائز ندي ، لکه د شفعې حق (ساقطولو په عوض کې چې روپۍ اخیستل جائز ندي )

البته ددې د جواز د پاره دا صورت کیدې شي چې د پګړۍ دا روپۍ په دُکان کې د یو مادي شي په عِوض کې اوګرځولې شي ( یعنی دا په دُکان کې د موجود فرنیچر یا د بل شي عِوض اوګرځولې شي ) نو بیا ددې اخیستل جائز دي . اګر چې ددې څیز قیمت کم وي او دا روپۍ زیاتې وي نو بیا هم جائز دي ، ځکه چې د بائع او مشتري په رَضا مندۍ سره د یو شي قیمت هر څومره زیات مقرر شي په دې کې هیڅ حرَج نشته . (۴)

# په اُوړي کې د شودو خرابیدو نه د بچ کیدلو د پاره په دې کې واوره اچول ناجائز دي

که یو دُکاندار شوده (پۍ) خرڅوي او په اُوړي کې د شودو د خرابیدو نه د بچ کیدلو د

(۱) الدرالمختار على صدر رد المحتار ج۴ ص ۵۱۹ کتاب البیوع . فتاوی حقانیه ج۶ ص ۳۵ .

(۲) فتاوی محمودیه ج۲۵ ص ۱۶۵ .

(۳) الدرالمختار على صدر رد المحتار ج۴ ص ۵۱۹ کتاب البیوع مطلب لایجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة. فتاوی عثمانیه ج۷ ص ۲۰۳ .

(۴) فتاوی عثمانیه ج۸ ص ۲۰۸ .

پاره په دې کې وَاوره (يَخ) اچوي نو دا جائز ندي، ځکه په دې کې دا واوره ويلې کيږي او د شودو سره يو ځاى کيږي چې دا په مِلاوَټ او دُهوکه کې داخل دي.

البته د شودو د خرابيدو نه د بچ کيدو د پاره نورې ډيرې طريقې شته: مثلا دا شوده په فريزَر کې کيږدي، او که فريزر نه وي نو بيا دې په يوه پاکه لِفافه کې واوره واچوي او د لفافې خُوله دې ټينګه اُوتړي او په دې شودو کې دې يې واچوي نو په دې سره به دا شوده هم يَخ وي او د واورې اُوبه به هم د شودو سره نه يو ځاى کيږي.

يا دې شوده په غټ لوخي کې واچوي او وَاوره دې په يو وړوکي لوخي کې واچوي، بيا دې دا وړوکې لوخې د شودو په دې غټ لوخي کې کيږدي نو په دې سره به شودو ته يَخ والې هم ورځي او د واورې اُوبه به ورسره هم نه ملاويږي.

قال النبي صلى الله عليه وسلم: مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا. (١)

# د آزادو ښځو خرڅول ناجائز دي

په بعضو علاقو کې دا رِواج وي چې د لور يا خور په عِوض کې د مَهر په نوم ډيرې روپۍ واخلي، بيا په دې کې څه لږې روپۍ ددې د واده په جهيز (اسباب اخيستلو) کې اُولږوي، او نورې ټولې روپۍ په خپله استعمالوي نو دا ناجائز او حرامې دي.

ځکه په اسلام کې د آزاد کس خرڅول ناجائز دي.

بل دا چې په مهَر کې مبالغه کول هم بهتر ندي بلکه د متوسطې درجې مهر مقررول په کار دي، او دا به هم ددې ښځې حق وي.

په دې بعضو علاقو کې چې دا کومې روپۍ د مهر په نوم پلار اَخلي دا د ښځې د خرڅولو مُترادف دی، اګر چې په ظاهره دې ته د مهر نوم ورکولې شي.

لما قال العلامة التمرتاشي رحمه الله: بَطَلَ بَيْعُ مَا لَيْسَ بِمَالٍ كَالدَّمِ، وَالْمَيْتَةِ، وَالْحُرِّ. (٢)

(١) جامع الترمذي البيوع باب ماجاء في كراهية الغش في البيوع ١ /٣٨٧، صحيح مسلم رقم الحديث ١٠٢ كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا». فتاوى عثمانيه لمولانا مفتي غلام الرحمن صاحب ج ٧ كتاب البيوع ص ١٩٠.

(٢) تنوير الابصار على صدر رد المحتار ج٥ ص ٥٢ باب البيع الفاسد..

قال علي بن ابي بكر المرغيناني رحمه الله : وإذا كان أحد العوضين أو كلاهما محرما فالبيع فاسد كالبيع بالميتة والدم والخنزير والخمر . وكذا إذا كان غير مملوك كالحر . (١)

## د سَندرو ( موسيقي ) آلات اخيستل او خرڅول ناجائز دي

په اسلام کې سَندرې ويل او اَورېدل ناجائز دي ، لهذا کوم آلات چې بغير د څه تغير او تبديل نه د سَندرو او ډَم ټوب دپاره استعماليږي نو ددې خريد و فروخت ناجائز دی ، ځکه ددې په خرڅولو سره د ګناه په کارونو کې مدد کول لازميږي چې دا ناجائز دی .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : قُلْتُ : وَأَفَادَ كَلَامُهُمْ أَنَّ مَا قَامَتِ الْمَعْصِيَةُ بِعَيْنِهِ يُكْرَهُ بَيْعُهُ تَحْرِيمًا وَإِلَّا فَتَنْزِيهًا . نَهْرٌ . ( قَوْلُهُ: نَهْرٌ ) عِبَارَتُهُ : وَعُرِفَ بِهَذَا أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ بَيْعُ مَالَمْ تَقُمِ الْمَعْصِيَةُ بِهِ كَبَيْعِ الْجَارِيَةِ الْمُغَنِّيَةِ وَالْكَبْشِ النَّطُوحِ . (٢)

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : أَنَّ مَا قَامَتِ الْمَعْصِيَةُ بِعَيْنِهِ يُكْرَهُ بَيْعُهُ وَمَا لَا فَلَا . وَلِذَا قَالَ الشَّارِحُ : إِنَّهُ لَا يُكْرَهُ بَيْعُ الْجَارِيَةِ الْمُغَنِّيَةِ وَالْكَبْشِ النَّطُوحِ . (٣)

## د ګمراه کن کتابونو تجارت کول ناجائز دی

نن صبا بعضې خلق د بې دينۍ ، فحاشۍ ، شِرک و بدعاتو ، او فرضي ناولو کتابونه خرڅوي نو ددې تجارت کول ناجائز دی ، ځکه په دې سره په معاشره کې فحاشي او بې دِيني خوَريږي ، او ددين نه د لرې کيدو سبب ګرځي ، دغه وجه ده چې شريعتِ مُقدّسه کې مسلمانان دداسې کتابونو د مطالعې کولو او ددې د خرڅولو نه منع شوي .

البته د راسِخُ العلم علماؤ د پاره ددې کتابونو مطالعه کول جائز دي ، ددې د پاره چې خلقو ته ددې مفاسد بيان کړي ، او مخالفينو ته ددې ګمراهه خبرو جواب ورکړي .

---

(١) الهداية ج٣ ص٥٣ كتاب البيوع باب البيع الفاسد . فتاوى حقانيه ج٦ ص٥٥ .

(٢) رد المحتار ج٤ ص٢٦٨ باب البغاة .

(٣) البحر الرائق ج٥ ص١٤٣ باب البغاة ، ومثله في تنقيح الحامدية ج٢ ص١٥٣ كتاب الاجارة . فتاوى حقانيه ج٦ ص٤٦ .

لما قال العلامة محمود آلوسي رحمه الله : واستدل بعضهم بالآية على القول بأن لهو الحديث الكتب التي اشتراها النضر بن الحارث على حرمة مطالعة كتب تواريخ الفرس القديمة وسماع ما فيها وقراءته وفيه بحث، ولا يخفى أن فيها من الكذب ما فيها. فالاشتغال بها لغير غرض ديني خوض في الباطل . (١)

قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري رحمه الله : اذا اصاب المسلمون الغنائم وكان فيما اصابوا مصحف فيه شيء من كتب اليهود والنصارى .... فانه لاينبغي للامام ان يقسم ذلك في غنائم المسلمين مخافة انْ يقع في سهم رجل من المسلمين .... و بيعه من المشركين مكروه. (٢)

## د ذي رُوح تصويرانو خرڅول او اخيستل ناجائز دي

د ذي رُوح (يعنى د روح واله څيز) تصويران جوړول او ددې خريد و فروخت ناجائز دى، او د ناجائز كاروبار ګټه هم حرامه وي.

إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الدَّمِ، وَثَمَنِ الكَلْبِ، وَكَسْبِ البَغِيِّ، وَلَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ، وَالوَاشِمَةَ وَالمُسْتَوْشِمَةَ وَالمُصَوِّرَ. (٣)

قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله : وَلَا يَجُوزُ عَلَى الْغِنَاءِ وَالنَّوْحِ وَالْمَلَاهِي ؛ لِأَنَّ الْمَعْصِيَةَ لَا يُتَصَوَّرُ اِسْتِحْقَاقُهَا بِالْعَقْدِ فَلَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْأُجْرَةُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُسْتَحَقَّ عَلَيْهِ ؛ لِأَنَّ الْمُبَادَلَةَ لَا تَكُونُ إِلَّا عِنْدَ الِاسْتِحْقَاقِ. (٤)

---

(١) تفسير روح المعاني ج٧ ص٧٩ سورة المائده .

(٢) الفتاوى التاتار خانيه ج٥ ص٣١٣ كتاب السير مسائل قسمة الغنائم . فتاوى حقانيه ج٦ ص٤٧ .

(٣) صحيح البخاري رقم الحديث ٥٩٦٢ كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَنْ لَعَنَ المُصَوِّرَ .

(٤) البحر الرائق ج٨ ص٢٠ باب الاجارة الفاسدة . فتاوى حقانيه ج٦ ص١١٦ .

# د تصويرانو واله اخبار خرڅول

په اخبارونو کې عام طور باندې د مُلکي او غير مُلکي خبرونه ، تَبصرې او مفيد مضامين وي ، تصويرونه په دې کې ضِمنًا راغلي وي ، لهذا د داسې اَخباراتو په خرڅول کې څه قباحت نشته ، البته چې په کومو اَخبارونو او رِسالو کې خالِصه فُحش تصويران وي ، او د دوی مقصد فحاشي خوَرول وي نو د داسې اَخبارونو خرڅول ناجائز دي .

السؤال عن الأخبار المحدثة فى البلدة وغير ذلک ، المختار انه لابأس بالإستخبار والأخبار . (۱)

الامور بمقاصدها . يعني ان الحكم الذي يترتب على امر يكون على مقتضى ما هو المقصود من ذلک الأمر . (۲)

# د غلا څيز اخيستل ناجائز دي

اسلام انسان ته د پاکيزه او حلال رِزق ګټلو ترغيب ورکړی ، او د حرامو نه د بچ کيدلو تاکيد يې ورته کړی ، لهذا د بل چا مال بغير د هغه د اجازت او رَضامندۍ نه استعمالول شرعًا ناجائز او حرام دي ، که يو کس د بل چا نه څه شی په ظلم سره واخيست ، يا يې راپټ کړو ، او اخيستونکي ته دا معلومه وي چې دا شی د غصب يا غلا دی نو ده ته د دې څيز اخيستل ناجائز دي .

فَكُلُّ عَيْنٍ قَائِمَةٍ يَغْلِبُ عَلَى ظَنِّهِ أَنَّهُمْ أَخَذُوْهَا مِنَ الْغَيْرِ بِالظُّلْمِ وَبَاعُوْهَا فِي السُّوقِ فَإِنَّهُ لَايَنْبَغِي أَنْ يَشْتَرِيَ ذٰلِكَ وَإِنْ تَدَاوَلَتْهَا الْأَيْدِيْ . (۳)

(۱) خلاصة الفتاوى كتاب الكراهية ۴/۳۷۸ مكتبه رشيديه كوئټه .

(۲) شرح المجلة لخالد الاتاسي المادة ۲ المقالة الثانية في بيان القواعد الفقهية ۱ /۱۳ ، فتاوى عثمانيه ج۷ ص ۱۷۲ .

(۳) الفتاوى الهندية كتاب الكراهية الباب الخامس والعشرون فى البيع ۵ /۳۶۴ ، فتاوى عثمانيه ج۱۰ ص ۱۷۲ المال الحرام ومصرفه .

البته چې چاته دا معلومه نه وي چې دا څيز د غلا دی نو بيا ده ته ددې استعمالول جائز دي.

وَمَا نُقِلَ عَنْ بَعْضِ الْحَنِيفَةِ مِنْ أَنَّ الْحَرَامَ لَا يَتَعَدّٰى ذِمَّتَيْنِ. سَأَلْت عَنْهُ الشِّهَابَ ابْنَ الشَّلَبِيِّ فَقَالَ: هُوَ مَحْمُولٌ عَلٰى مَا إِذَا لَمْ يَعْلَمْ بِذٰلِكَ. (۱)

## چې د چا ګټه حرامه وي د هغه نه څه څيز اخيستل

شرعي طور باندې د اخيستلو او خرڅولو معاملات د هغه چا سره په کار دي چې د هغه مال حلال او پاک وي، خو که د چا په ګټه کې حلال زيات وي او حرام کم وي نو دداسې کس سره معامله کول خير دی، البته که د چا ګټه خالِصه حرامه وي، يا دده په ګټه کې حرام زيات وي او حلال کم وي نو دداسې کس نه څه شی اخيستل ناجائز دي.

وَفِى الْجُمْلَةِ أَنَّ طَلَبَ الْحَلَالِ مِنْ هٰذِهِ الْبِلَادِ صَعْبٌ وَقَدْ قَالَ بَعْضُ مَشَايِخِنَا: عَلَيْكَ بِتَرْكِ الْحَرَامِ الْمَحْضِ فِيْ هٰذَا الزَّمَانِ. فَإِنَّكَ لَا تَجِدُ شَيْئًا لَا شُبْهَةَ فِيْهِ. (۲)

## چې حرام مال انسان ته په ميراث کې راپاتې شي ددې د استعمالولو حکم

که يو کس ته په ميراث کې د خپل پلار وغيره نه داسې مال راپاتې شي چې په هغې کې حلال او حرام دواړه قِسمه مال وي (يعنی دده پلار حلال او حرام دواړه قِسمه مال جَمع کړې وي، او هغه ده ته په ميراث کې راپاتې شوې وي) نو ددې حکم دادی چې که دې کس ته دا يقيني معلومه وه چې دا مال حرام دی نو ده ته دا اخيستل ناجائز دي.

اوس که ده ته ددې حرام مال اَصل مالِک معلوم وي نو هغه ته به يې واپس کوي، او که مالِک يې ورثه نه وي معلوم نو د اصل مالِک د طرفه به يې صدقه کړي.

او که ده ته دا يقيني نه وي معلوم چې دا مال حلال دی او که حرام؟ نو بيا ددې اخيستل ده ته جائز دي.

---

(۱) رد المحتار على الدر المختار كتاب البيوع باب البيع الفاسد ۷/۳۰۱. فتاوى عثمانيه ج۷ ص۱۸۴ كتاب البيوع.

(۲) كَذَا فِيْ جَوَاهِرِ الْفَتَاوٰى. الفتاوى الهندية كتاب الكراهية الباب الخامس والعشرون في البيع ۵/۳۶۴، فتاوى عثمانيه ج۷ ص۱۱۳ كتاب البيوع.

وَالْحَاصِلُ أَنَّهُ إِنْ عَلِمَ أَرْبَابَ الأَمْوَالِ وَجَبَ رَدُّهُ عَلَيْهِمْ. وَإِلَّا فَإِنْ عَلِمَ عَيْنَ الْحَرَامِ لَا يَحِلُّ لَهُ وَيَتَصَدَّقُ بِهِ بِنِيَّةِ صَاحِبِهِ . وَإِنْ كَانَ مَالًا مُخْتَلَطًا مُجْتَمِعًا مِنَ الْحَرَامِ وَلَا يَعْلَمُ أَرْبَابَهُ وَلَا شَيْئًا مِنْهُ بِعَيْنِهِ حَلَّ لَهُ حُكْمًا . (١)

## که د يو کس پلار دهوکه او ملاوټ کوي، د ځوي د پاره ددې ګټې نه د خوراک کولو حکم

دهوکه او ملاوټ کول شرعًا ډير مذموم عمل دی ، اسلام هيڅ کله ددې اجازت نه ورکوي ، اوس که يو ځوي ته دا ښه معلومه وي چې زما پلار په کارو بار کې ملاوټ او دهوکه کوي نو دا خو يقيني خبره ده چې د ملاوټ او دهوکې سره دا کومه زياتي ګټه چې حاصله شوې ده دا حلاله نده ، خو که د پلار اکثره آمدني حرامه نه وي نو بيا ددې ځوي د پاره په دې کور کې خوراک کول ، يا ددې نور شيان استعمالول جائز دي.

البته د پلار سره د حُسنِ سلوک ډير تاکيد راغلی ، لهذا په نرمه لهجه کې پوهه کول يې په کار دي چې ددې دهوکې او ملاوټ نه بچ شي ، د سخت کلامۍ او بې ادبۍ نه ځان ساتل په کار دي، بلکه ده ته د هدايت دُعا په کار ده.

أَهْدٰى إِلٰى رَجُلٍ شَيْئًا أَوْ أَضَافَهُ إِنْ كَانَ غَالِبُ مَالِهِ مِنَ الْحَلَالِ فَلَا بَأْسَ إِلَّا أَنْ يَعْلَمَ بِأَنَّهُ حَرَامٌ . فَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ هُوَ الْحَرَامَ يَنْبَغِي أَنْ لَا يَقْبَلَ الْهَدِيَّةَ ، وَلَا يَأْكُلَ الطَّعَامَ إِلَّا أَنْ يُخْبِرَهُ بِأَنَّهُ حَلَالٌ وَرِثْتُهُ أَوْ إِسْتَقْرَضْتُهُ مِنْ رَجُلٍ . (٢)

## د پيپسي او ډيو په بوتلو کې سوډا واټر اچول او خرڅول ناجائز دي

نن صبا بعضې خلق د پيپسي او ډيو په بوتلو کې سوډا واټر واچوي او بيا يې د اصلي پيپسي او اصلي ډيو په نوم خرڅوي ، دا کار دهوکه او ناجائز دی ، په داسې طريقې سره مال

---

(١) رد المحتار على الدر المختار كتاب البيوع باب البيع الفاسد مطلب فيمن ورث مالا حراما ٧ / ٣٠١ ، فتاوى عثمانيه ج١٠ ص١٧٣ المال الحرام و مصرفه ./نوټ: همدغه شان مسئله په امداد الفتاوى ج۴ ص ١٣۴ کې هم ذکر ده

(٢) الفتاوى الهندية كتاب الكراهية الباب الثاني عشر في الهدايا ٥ /٣۴٢ . فتاوى عثمانيه ج١٠ ص ١٧٥ المال الحرام و مصرفه .

ګڼل حرام دي .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا، وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا . (١)

# د نسوارو استعمالولو حکم

نسوار چونکه د تمباکو نه جوړېږي ، او د تمباکو استعمال في نفسه مباح او جائز دی ، ځکه په دې کې نه نَشه شته او نه مَستي .

فَإِنَّهُ لَمْ يَثْبُتْ إِسْكَارُهُ وَلَا تَفْتِيرُهُ وَلَا إِضْرَارُهُ، بَلْ ثَبَتَ لَهُ مَنَافِعُ. فَهُوَ دَاخِلٌ تَحْتَ قَاعِدَةِ : اَلْأَصْلُ فِي الْأَشْيَاءِ الْإِبَاحَةُ . وَأَنَّ فَرْضَ إِضْرَارِهِ لِلْبَعْضِ لَا يَلْزَمُ مِنْهُ تَحْرِيمُهُ عَلَى كُلِّ أَحَدٍ . (٢)

البته د نسوارو د بَدبويۍ په وجه په جُمات کې نورو مونځ ګزارو ته تکليف وي ، بل دا چې په دې کې اِسراف او تَبذير هم دی ، او ورسره ورسره د طِبّي او ډاکټري اصولو په وجه دا صحت ته هم نقصاني دي ، لهذا د دې پرېخودل بهتر دي .

إِذَا شَرِبَ الْمَاءَ وَغَيْرَهُ مِنَ الْمُبَاحَاتِ بِلَهْوٍ وَطَرَبٍ عَلَى هَيْئَةِ الْفَسَقَةِ حَرَامٌ . (٣)

علماؤ دا هم ليکلي چې کله د يو مُباح شي په استعمالولو سره بل ته تکليف رسي نو بيا د دې استعمالول مکروه دي ، دغه رنګې نسوار هم دي چې که يو کس د مجلس د آدابو او صفائي لحاظ ساتي نو بيا مکروه نه دي ، خو که د صفائي لحاظ نه ساتي او د ده د نسوارو په وجه بل ته تکليف رسي نو بيا د دې استعمالول مکروهه دي .

(١) صحيح مسلم رقم الحديث ١٦٤ (١٠١) كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا» .
فتاوی عثمانيه لمولانا مفتي غلام الرحمن صاحب ج ٧ ص ٢٢٢ كتاب البيوع .

(٢) رد المحتار ج٥ ص٢٩٦ كتاب الاشربة .

(٣) رد المحتار ج٥ ص٢٩٢ كتاب الاشربة . قال الشيخ محمد الكامل الطرابلسي رحمه الله : وقد حقق المتاخرون من اهل مذهبنا الحنفية انه ليس بحرام ، وانما في تعاطيه الكراهية وقد قدمناه ان احسن ما قيل فيه قول الامير رحمه الله فاختلف فيه الدخان والورع تركه . الفتاوى الكاملية ص ٢٨٦ كتاب الحظر والاباحة مطلب في حكم شرب الدخان في مجلس قراءة القرآن . فتاوی حقانيه ج٥ ص ١٩٧ كتاب الاشربة .

(وَأَكْلُ نَحْوِ ثُومٍ) أَيْ كَبَصَلٍ وَنَحْوِهِ مِمَّا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيهَةٌ .... قُلْتُ : عِلَّةُ النَّهْيِ أَذَى الْمَلَائِكَةِ وَأَذَى الْمُسْلِمِيْنَ. (١)

## هر قسمه نشه ئي شيان استعمالول ممنوع دي

كه يو كس چرس، بَنگ، اَفيون وغيره نَشه يي شيان استعمالوي او په ده باندې ددې غلط اثر هم نه كيږي خو بيا هم ده ته دا د نشې شيان استعمالول ناجائز دي، فقهاؤ ددې شيانو په حُرمت باندې صراحت كړى.

(وَيَحْرُمُ أَكْلُ الْبَنْجِ وَالْحَشِيْشَةِ وَالْأَفْيُون) لِأَنَّهُ مُفْسِدٌ لِلْعَقْلِ وَيَصُدُّ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ. (٢)

لهذا ددې نَشه يي شيانو استعمالول د عادي او غير عادي دوارو قِسمه خلقو د پاره ناجائز دي، بلكه عادتي كس د پاره دا واجب دي چې په قلاره قلاره په دې كې كمي راولي، او بيا يې آخِر پرېږدي. وَيَجِبُ عَلَيْهِ التَّدْرِيْجُ فِي تَنْقِيْصِهِ شَيْئًا فَشَيْئًا. (٣)

## د شرابو خرڅول ناجائز دي

شراب حرام او گنده څيز دى، ددې حُرمت او نجاست په نصوصِ قطعيه سره ثابت دى، لهذا د يو مسلمان د پاره د شرابو اخيستل او خرڅول ناجائز دي.

وَلَا يَجُوْزُ بَيْعُهَا، لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى لَمَّا نَجَّسَهَا فَقَدْ أَهَانَهَا، وَالتَّقَوُّمُ يُشْعِرُ بِعِزَّتِهَا. وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «إِنَّ الَّذِيْ حَرَّمَ شُرْبَهَا حَرَّمَ بَيْعَهَا وَأَكْلَ ثَمَنِهَا». (۴)

---

(١) رد المحتار على الدر المختار كتاب الصلاة باب ما يفسد الصلاة و مايكره فيها ٢/ ٤٣٥، فتاوى عثمانيه ج ١٠ ص ١٨ الاكل والشرب.

(٢) رد المحتار كتاب الاشربة ج٥ ص ٢٩٤.

(٣) رد المحتار كتاب الاشربة ج٥ ص ٤٠٨ . وقال العلامة ابوبكر الحدار اليمني رحمه الله : ولايجوز اكل البنج والحشيشة والافيون وذلک کله حرام . الجوهر النيرة ج٢ ص ٢٧٠ كتاب الاشربة ، ومثله في فتاوى الكاملية ص ٢٧٠ كتاب الاشربة. فتاوى حقانيه ج٥ ص ٢٠٠ كتاب الاشربة .

(۴) الهداية كتاب الاشربة انواع الاشربة المحرمة ۴/ ۴۹۷، فتاوى عثمانيه ج١٠ ص ١٦١ كسب الحلال والحرام.

# د سګرټو کاروبار کول

په سِګرټو کې تَمباکو وي، او تمباکو د نباتاتو يو قسم دی، د اکثره علماؤ په نزد د تمباکو کَرَل اخيستل او خرڅول جائز دي، ليکن دا بَدبوداره دی او د طِبّي تحقيقاتو نه هم دا ثابته شوې ده چې په سِګرټو کې د نفع په ځای نقصان زيات دی، او باقاعده د اشتهاراتو په ذريعه هم خلقو ته ددې نقصانات معلوم شوي، لهذا ددې د کاروبار نه ځان ساتل بهتر دي.

وَلِلْعَلَّامَةِ الشَّيْخِ عَلِيِّ الْأُجْهُورِيِّ الْمَالِكِيِّ رِسَالَةٌ فِي حِلِّهِ نَقَلَ فِيهَا أَنَّهُ أَفْتَى بِحِلِّهِ مَنْ يُعْتَمَدُ عَلَيْهِ مِنْ أَئِمَّةِ الْمَذَاهِبِ الْأَرْبَعَةِ . قُلْتُ: وَأَلَّفَ فِي حِلِّهِ أَيْضًا سَيِّدُنَا الْعَارِفُ عَبْدُ الْغَنِيِّ النَّابُلُسِيُّ .... فَالَّذِي يَنْبَغِي لِلْإِنْسَانِ إِذَا سُئِلَ عَنْهُ .... أَنْ يَقُولَ هُوَ مُبَاحٌ. لَكِنَّ رَائِحَتَهُ تَسْتَكْرِهُهَا الطِّبَاعُ فَهُوَ مَكْرُوهٌ طَبْعًا لَا شَرْعًا .(۱)

# د غير مُسلمه ملکونو نه دراغلي خوراک څکاک د څيزونو استعمالولو حکم

د غير مُسلمو ملکونو نه چې د غوښې نه علاوه نور د خوراک يا څکاک کوم شيان راځي او په هغې کې حرام شيان ( مثلاً شراب، د خنزير غوښه ياد خِنزير وازګه وغيره ) شامل نه وي نو ددې شيانو خوراک او څکاک جائز دی.

خو ددې غير مُسلمه ملکونو نه راغلي غوښه استعمالول ناجائز ده، ځکه دوی څاروې په اسلامي طريقې سره نه ذبح کوي.

البته که دوی د غوښو په ډَبو باندې ليکلي وي چې دا څاروی په اسلامي طريقې سره ذبح شوی، او يقيني همداسې وي نو بيا دا غوښه استعمالول جائز دي، خو که د نورو قرينو او ذرائعو نه معلومه شوه چې دا يې هسې د دُهوکې د پاره ورباندې ليکلي دي نو بيا دا غوښه استعمالول ناجائز دي.

(۱) رد المحتار على الدر المختار كتاب الاشربة ۱۰/۳۶ ، فتاوى عثمانيه ج ۱۰ ص ۱۶۶ كسب الحلال والحرام

وفي الهندية : مَنْ أَرْسَلَ اجيرا له مَجُوسِيًّا أَوْ خَادِمًا فَاشْتَرَى لَحْمًا فَقَالَ : اِشْتَرَيْتُهُ مِنْ يَهُودِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ أَوْ مُسْلِمٍ وَسِعَهُ أَكْلُهُ ، وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذٰلِكَ لَمْ يَسَعْهُ أَنْ يَأْكُلَ مِنْهُ. مَعْنَاهُ إِذَا كَانَ ذَبِيحَةَ غَيْرِ الْكِتَابِيِّ وَالْمُسْلِمِ . (١)

قال العلامة فخر الدين حسن بن منصور رحمه الله : مُسْلِمٌ اِشْتَرَى لَحْمًا وَقَبَضَهُ فَأَخْبَرَهُ مُسْلِمٌ ثِقَةٌ أَنَّهُ ذَبِيحَةُ الْمَجُوسِيِّ، فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِلْمُشْتَرِيْ أَنْ يَأْكُلَ وَلَا يُطْعِمَ غَيْرَهُ . لِأَنَّ الْمُخْبِرَ أَخْبَرَهُ بِحُرْمَةِ الْعَيْنِ وَبُطْلَانِ الْمِلْكِ . (٢)

## په اجاره باندې د څاروي ساتلو حکم

په فتاوی حقانيه کې ذکر دي چې نن صبا دا رواج دی چې يو مالدار کس يو څاروی ( مثلا غوا ، ميښه ، چيلۍ ) واخلي ، بيا يې يو غريب کس ته ورکړي ، هغه ته ووايي چې: دا ته ساته ، کله چې ددې بچې اوشو هغه به زما او ستا په مينځ کې شريک وي ، نو ددې حکم دادی چې په دې صورت کې أجرت نامعلومه دی ، لهذا دا صحيح ندی . (٣)

په فتاوی محموديه کې هم دې ته ناجائز ويل شوي ، او دايې هم ليکلي چې په داسې صورت کې به دا څاروی يا ددې بچې يا ددې شوده ټول د اصلِ مالک وي ، او د څاروي ساتونکې به صرف د أجرِ مثل مستحق وي . (۴)

---

(١) الفتاوی الهندية ج٥ ص٣٠٨ ، ٣٠٩ کتاب الكراهية الباب الاول .

(٢) فتاوى قاضي خان على هامش الهندية ج٣ ص ٤١٦ الباب السادس والعشرون ، ومثله في رد المحتار ج٥ ص ٢۴٣ كتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء ، فتاوی حقانيه ج٥ ص ٣٢٩ .

(٣) فتاوی حقانيه ج٦ ص ٢٧١ کتاب الاجارة .

(۴) فتاوی محمودية ج٢٥ ص ١٩٠ اجاره فاسده ./ دَفَعَ بَقَرَةً إِلَى رَجُلٍ عَلَى أَنْ يَعْلِفَهَا وَمَا يَكُونُ مِنَ اللَّبَنِ وَالسَّمْنِ بَيْنَهُمَا أَنْصَافًا فَالْإِجَارَةُ فَاسِدَةٌ وَعَلَى صَاحِبِ الْبَقَرَةِ لِلرَّجُلِ أَجْرُ قِيَامِهِ وَقِيمَةُ عَلَفِهِ إِنْ عَلَفَهَا مِنْ عَلَفٍ هُوَ مِلْكُهُ لَا مَا سَرَحَهَا فِي الْمَرْعَى وَيَرُدُّ كُلَّ اللَّبَنِ إِنْ كَانَ قَائِمًا. وَإِنْ أُتْلِفَ فَالْمِثْلُ إِلَى حَقِّ الْمَالِكِ بِالصَّنْعَةِ . وَالْحِيلَةُ فِي جَوَازِهِ أَنْ يَبِيعَ نِصْفَ الْبَقَرَةِ مِنْهُ بِثَمَنٍ وَيُبْرِئَهُ عَنْهُ ثُمَّ يَأْمُرُ بِاتِّخَاذِ اللَّبَنِ وَالْمَصْلِ فَيَكُونُ بَيْنَهُمَا وَكَذَا لَوْ دَفَعَ الدَّجَاجَ عَلَى أَنْ يَكُونَ الْبَيْضُ بَيْنَهُمَا أَوْ بَزْرَ الْفَيْلَقَ عَلَى أَنْ يَكُونَ الْإِبْرَيْسَمُ بَيْنَهُمَا لَا يَجُوزُ وَالْحَادِثُ كُلُّهُ لِصَاحِبِ الدَّجَاجِ وَالْبَزْرِ. عالمكيري ج۴ ص ۴۴٥ كتاب الاجارة الفصل الثاني في قفيز الطحان .

البته ددې د جواز د پاره دا صورت کیدی شي چې مالدار کس به دا څاروی په روپو باندې واخلي، ددې قیمت به معلوم کړي، نیم قیمت به په دې مالدار راشي او نیم به په دې غریب راشي، غریب به دا نیم قیمت او مني، بیا به دا مالدار دې غریب ته دا نیم قیمت معاف کړي. اوس دا دواړه په دې څاروي کې شریک شو، بیا به دا څاروی دې غریب ته ورکړي چې ته اوس ددې پرورش کوه، چې بچې یې اوشو هغه به زما او ستا په مینځ کې شریک وي، که غریب دا طریقه او منله نو اوس دا صورت جائز دی. (١)

د جواز دا صورت په شامي کې لیکلې شوې دی. (٢)

## غوا یا میښه په نیم کاره ساتل صحیح ندي

که یو کس بل چا ته د غوا یا میښې بچې په نیم کاره ورکړو، یعنی په دې شرط یې ورکړو چې هغه به دا بچې ساتي چې کله غټ شي او خرڅ یې کړي نو قیمت به د دواړو شریک وي نو ددې حکم دادی چې دا اِجاره د قفیزُ الطّحان په حکم کې ده، دا اِجاره فاسده ده.

لعدم تعین الاجرة، ولعدم تعین المدة. ځکه په دې کې اُجرت او موده متعین نده.

دا څاروی به اوس دا اصلِ مالک وي، او دې ساتونکي ته به ددې ساتلو مزدوري ورکړې شي یا به جانبین د څاروي د ساتلو موده او مزدوري معلومه کړي (مثلاً د دوه کالو په عوض کې به درله شل زره روپۍ درکوم) چې کله موده پوره شي نو یا به هغه معینه مزدوري ورکړي، او یا د مزدورۍ په عِوض کې ورته د څاروي نیمه حصه هم ورکولې شي.

وفي الهندية: دَفَعَ بَقَرَةً إِلَى رَجُلٍ عَلَى أَنْ يَعْلِفَهَا وَمَا يَكُونُ مِنَ اللَّبَنِ وَالسَّمْنِ بَيْنَهُمَا أَنْصَافًا فَالْإِجَارَةُ فَاسِدَةٌ وَعَلَى صَاحِبِ الْبَقَرَةِ لِلرَّجُلِ أَجْرُ قِيَامِهِ وَقِيمَةُ عَلَفِهِ. إِنْ عَلَفَهَا مِنْ عَلَفٍ هُوَ مِلْكُهُ لَا مَا سَرَحَهَا فِي الْمَرْعَى. (٣)

---

(١) فتاوی حقانیه ج٦ ص ٢٧١ کتاب الاجارة.

(٢) وَالْحِيلَةُ فِي ذَلِكَ أَنْ يَبِيعَ نِصْفَ الْبَقَرَةِ مِنْ ذَلِكَ الرَّجُلِ وَنِصْفَ الدَّجَاجَةِ وَنِصْفَ بذر الْفُلَّيق بِثَمَنٍ مَعْلُومٍ حَتَّى تَصِيرَ الْبَقَرَةُ وَأَجْنَاسُهَا مُشْتَرَكَةً بَيْنَهُمَا فَيَكُونُ الْحَادِثُ مِنْهَا عَلَى الشَّرِكَةِ. عالمگیري ج٢ ص ٣٣٥ کتاب الشركة في الباب الخامس في شركة الفاسدة، فتاوی محمودیة ج١٠ ص ١٩٣.

(٣) الفتاوی الهندية ج٤ ص ٤٤٥ کتاب الاجارة الفصل الثالث في قفيز الطحان وماهو في معناه.

قال العلامة طاهر بن عبدالرشيد البخاري : وفي فتاوى النسفي رجل دفع بقرة الى رجل بالعلف منها صفة وهي التي بالفارسية كاونيم سود . بأن دفع على ما يحصل من اللبن والسمن بينهما نصفان فهذا فاسد . والحادث كله لصاحب البقرة . والاجارة فاسدة . (١)

**نوټ** : په فتاوى محمودية کې هم د ډيرو کتابونو په حواله په نيم کاره څاروي ورکولو ته ناجائز ويل شوي . (٢)

## د کميشن اخيستو شرعي حيثيت

که چيرته يو کاريګر بل چاله د يو دُکاندار نه څه سامان واخلي او بيا دا دُکاندار دې کاريګر له کميشن ( يعنی څه روپۍ ) ورکړي نو ددې حکم دادی چې :

که دې کاريګر ددې دُکاندار نه دا سامان د عام بازار په نَرخ ( ريټ ) واخيست ، او د مخکې نه يې ددې دُکاندار سره د کميشن خبره هم نه وه کړی نو بيا ده ته کميشن اخيستل جائز دي ، ځکه دا د تجارت په اصولو کې داخل دي ، تاجران او دُکانداران د خپل تجارت عام کولو د پاره کاريګرو ته دا کميشن ورکوي .

( البته که دا کاريګر د دُکاندار نه کميشن واخلي او دُکاندار ددې کميشن په وجه بيا په ده باندې دا سامان ګران خرڅوي ، او زور يې دريم کس ته اُوځي نو بيا دا کميشن اخيستل جائز ندي ) .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : وَلَوْ قَضَى حَاجَتَهُ بِلَا شَرْطٍ وَلَا طَمَعٍ فَأَهْدَى إِلَيْهِ بَعْدَ ذٰلِكَ فَهُوَ حَلَالٌ لَا بَأْسَ بِهِ . وَمَا نُقِلَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ مِنْ كَرَاهَتِهِ فَوَرَعٌ . (٣)

---

(١) خلاصة الفتاوى ج٣ ص ١١٤ كتاب الاجارات ومايتصل بهذا . ومثله في الفتاوى البزازية على هامش الهندية ج٥ ص ٣٧ كتاب الاجارة النوع الثالث في الدّواب . فتاوى حقانيه ج ٦ ص ٢٤٣ .

(٢) فتاوى محمودية ج٢٥ ص ١٩٢ اجارة فاسدة . عالمكيري ج٤ ص ٤٤٥ كتاب الاجارة فصل الثاني في قفيز الطحان و ماهو في معناه ، و عالمكيري ج٢ ص ٣٣٥ كتاب الشركة في الباب الخامس . شامي زكريا ج٦ ص ٥٠٤ كتاب الشركة فصل في الشركة الفاسدة ، تاتارخانيه ج٥ ص ٦٧٠ كتاب الشركة الشركة بالاعمال ، المحيط البرهاني ج٨ ص ٣٩٩ كتاب الشركة الفصل السادس الشركة بالاعمال .

(٣) رد المحتار ج٤ ص ٣٦٢ في اقسام الرشوة .

قال العلامة الكاساني رحمه الله : وَالْقِيَاسُ فِي إِسْتِئْجَارِ الظِّئْرِ بِطَعَامِهَا وَكِسْوَتِهَا أَنَّهُ لَا يَجُوزُ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ لِجَهَالَةِ الأُجْرَةِ وَهِيَ الطَّعَامُ وَالْكِسْوَةُ ، إِلَّا أَنَّ أَبَا حَنِيفَةَ إِسْتَحْسَنَ الْجَوَازَ بِالنَّصِّ ، وَهُوَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ {وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ} مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ بَيْنَ مَا إِذَا كَانَتِ الْوَالِدَةُ مَنْكُوحَةً أَوْ مُطَلَّقَةً . وَقَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ {وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ} أَي: الرِّزْقُ وَالْكِسْوَةُ وَذَلِكَ يَكُونُ بَعْدَ مَوْتِ الْمَوْلُودِ .... وَقَوْلُهُمَا: اَلأُجْرَةُ مَجْهُولَةٌ مُسَلَّمٌ لَكِنَّ الْجَهَالَةَ لَا تَمْنَعُ صِحَّةَ الْعَقْدِ لِعَيْنِهَا بَلْ لِإِفْضَائِهَا إِلَى الْمُنَازَعَةِ ، وَجَهَالَةُ الأُجْرَةِ فِي هٰذَا الْبَابِ لَاتُفْضِي إِلَى الْمُنَازَعَةِ ؛ لِأَنَّ الْعَادَةَ جَرَتْ بِالْمُسَامَحَةِ مَعَ الأَظْآرِ ، وَالتَّوْسِيْعُ عَلَيْهِنَّ شَفَقَةٌ عَلَى الأَوْلَادِ فَأَشْبَهَتْ جَهَالَةَ الْقَفِيْزِ مِنَ الصُّبْرَةِ . (١)

# د زمکې د خرڅولو او اخيستلو په وخت کميشن اخيستل جائز دي

په شريعت کې د بائع او مشتري د طرفه يو کس وکيل نشي جوړيدی ، ليکن يو کس د دواړو د طرفه دَلال جوړيدې شي . په وکيل او دَلال کې غټ فرق دی ، ځکه وکيل ته په مَبيعه کې د جائز تَصرُف کولو حق حاصل وي ، او دَلال ته په مبيعه کې د هيڅ قِسمه تصرف حق حاصل نه وي ، د دَلال کار صرف دا وي چې دې مشتري ته صرف د اخيستلو ترغيب ورکوي .

لهذا که يو کس يو دُکان کلاؤ کړي ، او دې د زمکو اخيستل او خرڅول کوي نو ده ته دا جائز دي چې د بائع او مشتري نه معلوم کميشن واخلي ، البته دا خبره ضروري ده چې د کميشن مِقدار به د مخکې نه معلوموي ، ددې د پاره چې بيا روستو جګړه جوړه نشي ( دې به زيات کميشن غواړي ، او هغه به کم ورکوي ) .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : ( قَوْلُهُ: يُعْتَبَرُ الْعُرْفُ ) فَتَجِبُ الدَّلَالَةُ عَلَى الْبَائِعِ أَوِ الْمُشْتَرِيْ أَوْ عَلَيْهِمَا بِحَسَبِ الْعُرْفِ . (٢)

---

(١) بدائع الصنائع ج۴ ص١٩٣ كتاب الاجارة مطلب فيما يرجع الى المعقود عليه . فتاوى حقانيه ج٦ ص ٢٧٢

(٢) رد المحتار ج۴ ص۴٦ كتاب البيوع .

مفتي شفيع رحمه الله فرمائلي : اگر بائع يعنی مالک کي اجازت سے خود دَلال مال کو فروخت کرے تو اس کي اُجرت اولاً دلالي بائع کے ذمے ہے، اور اگر محض کوشش کرنے والہ ہے اور معاملہ کرنے والہ ہے فروخت کرنے والہ خود بائع ہے تو عُرف اور رِواج کا اعتبار ہوگا، رواج کے موافق جس کے ذمے دلالي ہوگي اس سے لينا جائز ہوگا. (١)

## د دَلالۍ په عِوض اُجرت اخيستل

د دَلالۍ په عِوض اُجرت اخيستل اگر چې د فقهاؤ په نزد مختلف فيه دی مگر د ځه مجبوريتونو په وجه فقهاؤ ددې دجواز فتوی ورکړی، خو شرط دادی چې دا اُجرت به مُتعين وي، او د نورو مفاسدو نه به خالي وي.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : وَفِي الدَّلَّالِ وَالسِّمْسَارِ يَجِبُ أَجْرُ الْمِثْلِ، وَمَا تَوَاضَعُوا عَلَيْهِ أَنَّ فِي كُلِّ عَشَرَةِ دَنَانِيرَ كَذَا فَذَاكَ حَرَامٌ عَلَيْهِمْ. وَفِي الْحَاوِي: سُئِلَ مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ أُجْرَةِ السِّمْسَارِ، فَقَالَ: أَرْجُو أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ وَإِنْ كَانَ فِي الْأَصْلِ فَاسِدًا لِكَثْرَةِ التَّعَامُلِ وَكَثِيرٌ مِنْ هَذَا غَيْرُ جَائِزٍ، فَجَوَّزُوهُ لِحَاجَةِ النَّاسِ إلَيْهِ كَدُخُولِ الْحَمَّامِ. (٢)

قال العلامة طاهر بن عبدالرشيد البخاري : وفی الاصل اجرة السمسار و المغاري والحمامي والصکاک و مالاتقدير فيه للوقت ولامقدار لما يستحق بالعقد لکن للناس فيه حاجة جاز وان کان فی الاصل فاسدًا. (٣)

**نوټ** : د دَلالۍ د اُجرت د جواز فتوی خلافُ القياس ده ، فقهاؤ دا فتوی د عوامو د سهولت او حاجت د وجې ورکړی.

---

(١) امداد المفتين الشهير بفتاوی دارالعلوم ديوبند ج٢ ص ٨٢٥ کتاب الاجارة ، ومثله في تاليفات رشيديه ص ٤١٨ کتاب الاجارة. فتاوی حقانيه ج٦ ص ٣٢.

(٢) رد المحتار ج٦ ص٦٣ باب الاجارة الفاسدة مطلب اجرة الدلال.

(٣) خلاصة الفتاوی ج٣ ص ١١٦ کتاب الاجارات جنس آخر فی المتفرقات ، ومثله فی الاشباه والنظائر ج٣ ص ١٣٠ کتاب الاجارات. فتاوی حقانيه ج٦ ص ٢٦٠.

( قَوْلُهُ أَوْ مُدَّةٍ ) إِلَّا فِيمَا اسْتَثْنَى: قَالَ فِي الْبَزَّازِيَّةِ : إِجَارَةُ السِّمْسَارِ وَالْمُنَادِي وَالْحَمَّامِيِّ وَالصَّكَّاكِ وَمَا لَا يُقَدَّرُ فِيهِ الْوَقْتُ وَلَا الْعَمَلُ تَجُوزُ لِمَا كَانَ لِلنَّاسِ بِهِ حَاجَةٌ وَيَطِيبُ الْأَجْرُ الْمَأْخُوذُ لَوْ قُدِّرَ أَجْرُ الْمِثْلِ . (۱)

په فتاوی محمودیه کې هم لیکلي چې د دَلالۍ اُجرت اصلاً ناجائز دی ، لیکن د حاجت او عُرف په وجه فقهاؤ ددې اجازت ورکړی ، لهذا دبائع او مشتري دواړو نه د دَلالۍ روپۍ اخیستل صحیح دي . (۲)

په فتاوی محمودیه کې دا هم لیکلي چې که یو دَلال د ځاروي واله ته اووایي چې " زه به تاله دا ځاروي خرڅ کړم خو ته به ماته د هر ځاروي په خرڅولو سره مثلا پنځوس روپۍ راکوی" نو دا کمیشن یا اُجرت د دَلالۍ اخیستل جائز دی . (۳)

## په غوائي باندې د غوا مَال کولو په عِوض کې اُجرت اخیستل ناجائز دی

بعضې خلق غوائي یا سَنډا ددې د پاره ساتي چې په دې سره غواګانې یا میخې مال کوي ( یعنی غوائي په غوا خیجوي ) ، بیا ددې مَال کولو په عوض کې معلومه مزدوري اخلي نو ددې مسئلې حکم دادی چې: دامزدوري اخیستل ناجائز ده ، ځکه د اُجرت د جواز د پاره دا ضروري ده چې د څه شي نه نفع حاصلولې شي دا به دده په مِلکیت کې وي ، او د غوا حمَل اخیستل (یعنی بلاربیدل ) د هیچا په اِختیار کې نشته .

---

(۱) رد المحتار ج۵ ص ۳۲ کتاب الاجارة . فتاوی حقانیه ج٦ ص ۲۸۱ .

(۲) سُئِلَ مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ أُجْرَةِ السِّمْسَارِ، فَقَالَ: أَرْجُو أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ وَإِنْ كَانَ فِي الْأَصْلِ فَاسِدًا لِكَثْرَةِ التَّعَامُلِ وَكَثِيرٌ مِنْ هَذَا غَيْرُ جَائِزٍ، فَجَوَّزُوهُ لِحَاجَةِ النَّاسِ إلَيْهِ . شامي طبع كراچي ٦٣/٦ ، وشامي طبع زكريا ٨٧/٩ كتاب الاجارة باب ضمان الاجير مطلب في اجرة الدلالة ، الاشباه والنظائر ص ۱۴۸ الفن الثاني كتاب الاجارة . فتاوی محمودية ج۲۵ ص ۲۸٦ . دلالی کے احکام .

(۳) سُئِلَ مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ أُجْرَةِ السِّمْسَارِ، فَقَالَ: أَرْجُو أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ وَإِنْ كَانَ فِي الْأَصْلِ فَاسِدًا لِكَثْرَةِ التَّعَامُلِ . شامي طبع كراچي ٦٣/٦ ، وشامي طبع زكريا ٨٧/٩ كتاب الاجارة باب ضمان الاجير مطلب في اجرة الدلالة، مبسوط للسرخسي ج۱۵ ص ۱۱۵ باب السمسار طبع دارالفكر بيروت ، الاشباه والنظائر ص ۱۴۸ الفن الثاني كتاب الاجارة . فتاوی محمودية ج۲۵ ص ۲۹۲ . دلالی کے احکام .

لهذا په دې باندې أجرت اخيستل ناجائز دي . همدارنګې په احاديثو کې هم ددې نه سخته منع راغلى .

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : يَعْنِي لَا يَجُوزُ أَخْذُ أُجْرَةِ عَسْبِ التَّيْسِ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ « إِنَّ مِنَ السُّحْتِ عَسْبَ التَّيْسِ وَمَهْرَ الْبَغِيِّ » وَلِأَنَّهُ عَمَلٌ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهِ وَهُوَ الْإِحْبَالُ فَلَا يَجُوزُ أَخْذُ الْأُجْرَةِ عَلَيْهِ ، وَلَا أَخْذُ الْمَالِ بِمُقَابَلَةِ الْمَاءِ وَهُوَ نَجِسٌ لَا قِيمَةَ لَهُ فَلَا يَجُوزُ . وَالْمُرَادُ هُنَا اِسْتِئْجَارُ التَّيْسِ لِيَنْزُوَ عَلَى الْغَنَمِ وَيُحْبِلَهَا بِأَجْرٍ ، أَمَّا لَوْ فَعَلَ ذَلِكَ مِنْ غَيْرِ أَجْرٍ لَابَأْسَ بِهِ لِأَنَّ بِهِ يَبْقَى النَّسْلُ . (١)

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : ( قَوْلُهُ لَا تَصِحُّ الْإِجَارَةُ لِعَسْبِ التَّيْسِ ) لِأَنَّهُ عَمَلٌ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهِ وَهُوَ الْإِحْبَالُ. (٢)

په فتاوى محموديه کې هم دې أجرت اخيستلو ته ناجائز ويل شوي .

وفى الفتاوى الهندية : وَلَا يَجُوزُ أَخْذُ عَسْبِ التَّيْسِ . (٣)

په فتاوى عثمانيه کې ليکلي چې دا أجرت اخيستل ناجائز دى ، البته بغير د شرط لږولو نه که دې کس د غوائي مالک ته احسانًا څه ورکړل نو دا جائز دي .

( لَا تَصِحُّ الْإِجَارَةُ لِعَسْبِ التَّيْسِ ) وَهُوَ نَزْوُهُ عَلَى الْإِنَاثِ .... وَلَوْ أُخِذَ بِلَا شَرْطٍ يُبَاحُ . (٤)

---

(١) بحر الرائق ج٨ ص ١٩ باب الاجارة الفاسدة .

(٢) رد المحتار على الدر المختار كتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة ٩/٧٥ ، ومثله فى الهداية ج٣ ص ٣٠٣ كتاب الاجارات . فتاوى حقانيه ج٦ ص ٢٥٦ كتاب الاجارة .

(٣) عالمكيري ج٤ ص ٤٥٤ كتاب الاجارة فى المتفرقات ، تبيين الحقائق للزيعلي ج٥ ص ١٢٤ كتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة ، درمختار ج٩ ص ٧٥ كتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة ، فتاوى محموديه ج٢٥ ص ١٩٧ .

(٤) رد المحتار على الدر المختار كتاب الاجارة باب الاجارة الفاسدة ٩/٧٥ ، فتاوى عثمانيه ج ٨ ص ١٤٨ الاجارة .

## بل کس ته د دهوکې ورکولو د پاره د يو شي قيمت زياتول يا کمول

که يو کس يو څيز نه اخلي خو هسې اخيستونکي ته د دهوکې ورکولو د پاره د دې شي قيمت زياتوي . چې کله اخيستونکې دا شی ګران واخلي نو بيا دا دلال د خرڅوونکي نه د دې دهوکې په عوض کې څه روپۍ واخلي . نو دا روپۍ اخيستل ناجائز دي ، ځکه دا خو دهوکه ده ، او په احاديثو مبارکهؤ کې د دې نه سخته منع راغلی .

عَنِ ابْنِ عُمَرَ . « أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ النَّجْشِ » . (١)

(وَ) كُرِهَ (النَّجْشُ) : أَنْ يَزِيْدَ وَلَا يُرِيْدَ الشِّرَاءَ أَوْ يَمْدَحَهُ بِمَا لَيْسَ فِيهِ لِيُرَوِّجَهُ. (٢)

## د سمګلنګ په ذريعه د حاصل شوې ګټې حکم

که يو ملک په يو څيز باندې پابندي لږولې وي او يو کس غيرقانوني د سمګلنګ د لارې دا څيز راوړي نو د دې حکم دادی :

چې کله يو ملک يو قانون د معاشرتي حالاتو او مفاد عامه په وجه جوړ کړي او دا قانون د قرآن کريم او احاديثو مخالف نه وي ، او د دې په منلو کې د دې ملک ته نفع رسي نو بيا په عوامو باندې د دې قانون منل ضروري دی ، ځکه د نه منلو په صورت کې په ملک کې بدامني پيدا کيږي ، او د دې ملک په معيشت باندې غلط اثر غورځي ، نو ځکه شريعت د سمګلنګ اجازت نه ورکوي .

خو بيا هم چې د سمګلنګ کاروبار په ذريعه کومه ګټه حاصله شوې وي د دې حکم دادی چې : که دې کس دداسې شيانو سمګلنګ کولو چې هغه شی حلال ؤ ، او ده په اخيستلو او خرڅولو کې د شرعي اصولو لحاظ ساتلې ؤ نو بيا د سمګلنګ کاروبار ګټه حلاله ده ، خو بيا هم د دې نه ځان ساتل بهتر دي .

(١) صحيح مسلم كِتَابُ الْبُيُوْعِ بَابُ تَحْرِيْمِ بَيْعِ الرَّجُلِ عَلَى بَيْعِ أَخِيْهِ، وَسَوْمِهِ عَلَى سَوْمِهِ، وَتَحْرِيْمِ النَّجْشِ، وَتَحْرِيْمِ التَّصْرِيَةِ رقم الحديث ١٣ (١٥١٦) .

(٢) در مختار على الشامي ج٧ ص ٣٠٥ باب البيع الفاسد ، عالمكيري ج٣ ص ٢١٠ كتاب البيوع الباب العشرون في البياعات المكروهة ، فتاوى محموديه ج٢٥ ص ٢٩١ دلالی کے احکام .

اِنَّ صَاحِبَ الْبَحْرِ ذَكَرَ نَاقِلًا عَنْ أَئِمَّتِنَا أَنَّ طَاعَةَ الْإِمَامِ فِي غَيْرِ مَعْصِيَةٍ وَاجِبَةٌ. (١)

## په بيع کښې دا شرط لږول باطل دی چې " که ته دا څيز خرڅوی نو صرف په ما به يې خرڅوی "

بعضې خلق د يو شي خرڅولو په وخت دا شرط لږوي " چې کله ته دا څيز خرڅوی نوصرف په ما به يې خرڅوی ، په بل چا به يې نه خرڅوی " نو ددې حکم دادی چې دا بيع فاسده ده ، ځکه په بيع کښې داسې شرط لږول چې په هغې کښې بائع يا مشتري يا مَبيعې ته فائده وي دا جائز ندي ځکه په دې سره دا بيع فاسديږي .

قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : ( وَ ) لَا ( بَيْعٌ بِشَرْطٍ ) يَعْنِي الْأَصْلُ الْجَامِعُ فِي فَسَادِ الْعَقْدِ بِسَبَبِ شَرْطٍ ( لَا يَقْتَضِيهِ الْعَقْدُ وَلَا يُلَائِمُهُ وَفِيهِ نَفْعٌ لِأَحَدِهِمَا أَوْ ) فِيهِ نَفْعٌ ( لِمَبِيعٍ ). (٢)

وفى الهندية : وَلَوْ بَاعَ شَيْئًا عَلَى أَنْ يَهَبَ لَهُ الْمُشْتَرِي أَوْ يَتَصَدَّقَ عَلَيْهِ أَوْ يَبِيعَ مِنْهُ شَيْئًا أَوْ يُقْرِضَهُ كَانَ فَاسِدًا . (٣)

## د بيع قبلَ القبض (يعنی د قبضه نه کولو نه مخکښې د يو څيز خرڅولو) حکم

که يو کس د بل چا نه څه شی واخلي ، دا څيز تر اوسه مُشتري قبضه کړې نه وي بلکه اوس هم د بائع سره پروت وي ، څه وخت پس په بازار کښې ددې څيز قيمت اُوخيجي ، بيا دوباره مشتري دا څيز په بائع ورخرڅ کړي او زياتي ګټه ورنه واخلي نو دا ناجائز دی .

ځکه په شريعتِ مُقدّسه کښې په مَبيعه باندې د قبضې کولو نه مخکښې دا څيز خرڅول ناجائز دي ، وجه داده چې په دې صورت کښې مشتري ته په مَبيعه باندې قبضه نه وي حاصل ، نو دا په بَيْعُ الْمَنْقُوْل قَبْلَ الْقَبْض کښې داخله ده ، او دا ناجائز ده .

---

(١) رد المحتار على الدر المختار كتاب القضاء مطلب طاعة الامام واجبة ٨ /١١٨ . فتاوى عثمانيه ج١٠ ص١٦٨ كسب الحلال والحرام . وفتاوى عثمانيه ج٧ ص ٢٢٨ كتاب البيوع .

(٢) الدر المختار على هامش رد المحتار ج٤ ص ١٣٥ مطلب فى البيع بشرط الفاسد .

(٣) الفتاوى الهندية ج٣ ص ١٣٤ الباب العاشر فى الشروط التي تفسد البيع والتي لاتفسده ، فتاوى حقانيه ج٦ ص١٢٣ .

وفي الهندية : فَنَقُوْلُ مِنْ حُكْمِ الْمَبِيعِ إِذَا كَانَ مَنْقُولًا أَنْ لَا يَجُوزَ بَيْعُهُ قَبْلَ الْقَبْضِ .... وَأَمَّا إِذَا تَصَرَّفَ فِيهِ مَعَ بَائِعِهِ فَإِنْ بَاعَهُ مِنْهُ لَمْ يَجُزْ بَيْعُهُ أَصْلًا قَبْلَ الْقَبْضِ . (١)

قال العلامة ابن عابدين : وَهُوَ لَا يَصِحُّ بِهِ الْقَبْضُ ..... وَقَيَّدَ بِالْقَبْضِ ؛ لِأَنَّ الْعَقْدَ فِي ذَاتِهِ صَحِيحٌ ، غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَجِبُ عَلَى الْمُشْتَرِي دَفْعُ الثَّمَنِ لِعَدَمِ الْقَبْضِ . (٢)

## زمكه قَبْلَ الْقَبْض خرڅول جائز دي

اګر چې قَبْلَ الْقَبْض د يو شي خرڅول شرعًا ناجائز دي خو د اَحنافو په نزد باندې زمکه . ددې حکم نه مُستثنى ده ، يعنى زمکه قَبلَ القبض خرڅول جائز دي . لهذا که د پراپرټى واله قبل القبض زمکه خرڅوي نو دا جائز ده .

قال الشيخ عبدالرحمن الجزائري رحمه الله : أمّا بيع الأعيان غير المنقولة قبل قبضها كبيع الأرض والضياع والنخيل والدور ونحو ذلك من الأشياء الثابتة التي لا يخشى هلاكها فإنه يصح . (٣)

قال الشيخ ظفر احمد العثماني رحمه الله : والثالث لايجوز بيع مبيع قبل القبض الا الدور والارض قاله ابو حنيفة وابو يوسف رحمه الله . (٤)

## د ښځو باريک لباس خرڅول

کوم شى چې بغير د تغير او تبديل نه د ګناه ذريعه وي د هغې اخيستل او خرڅول ناجائز دي ، لهذا د ښځو داسې نرۍ جامې خرڅول چې په هغې کې د هغې ټول بَدن ښکاري ، بې حيائي او عُرياني ورسره خوربږي داسې نرۍ جامې خرڅول ناجائز دي .

(١) الفتاوى الهندية ج٣ ص ١٣ الفصل الثالث في معرفة المبيع والثمن والتصرف .

(٢) رد المحتار ج٤ ص ٤٨ مطلب اشترى دارا ماجورة لايطالب بالثمن قبل قبضها . فتاوي حقانيه ج٦ ص ١٢٣ .

(٣) الفقه على المذاهب الاربعة ج٢ ص ٢٣٤ كتاب البيع مبحث التصرف فى المبيع .

(٤) اعلاء السنن ج١٤ ص ٢٣٦ باب النهي عن بيع المشتري قبل القبض ، ومثله في بدائع الصنائع ج٥ ص ١٨١ فصل في شرائط صحة البيع ، فتاوى حقانيه ج٦ ص ١٠٥ .

ځکه په دې کې د زَنانهؤ سره د ګناه په کار کې مدد کول دي.

البته که د دې نرۍ جامو سره زَنانه نوره کپړه هم استعمالوي چې په دې سره د هغې بدن نه ښکاري نو بیا د دې خرڅول او زَنانهؤ ته د دې استعمالول دواړه جائز دي.

مَا قَامَتِ الْمَعْصِيَةُ بِعَيْنِهِ يُكْرَهُ بَيْعُهُ تَحْرِيمًا وَإِلَّا فَتَنْزِيهًا .... وقال ابن عابدين رحمه الله:

وَبَيْعُ الْمُكَعَّبِ الْمُفَضَّضِ لِلرَّجُلِ لِيَلْبَسَهُ يُكْرَهُ لِأَنَّهُ إِعَانَةٌ عَلَى لُبْسِ الْحَرَامِ. (١)

## د انسان وِينه اخیستل او خرڅول

د کوم شي اخیستل او خرڅول چې کیږي د هغې د پاره دا ضروري ده چې دا به مالِ مُتقوّم وي، او چې کوم شی مالِ مُتقوّم نه وي د هغې اخیستل او خرڅول ناجائز دي، د انسان وِینه مالِ مُتقوّم نده ددې د وجې ددې خرید و فروخت شرعًا جائز ندی

بَطَلَ بَيْعُ مَا لَيْسَ بِمَالٍ كَالدَّمِ وَالْمَيْتَةِ . (٢)

البته که یو مریض ته د وِینې کلک ضرورت وي او بغیر د روپو نه وِینه نه پیدا کیږي نو بیا دې اخیستونکي ددې د اخیستلو اجازت شته، خو خرڅوونکي ته بیا هم ددې دا روپۍ اخیستل حرامې دي.

اَلضَّرُورَاتُ تُبِيحُ الْمَحْظُورَاتِ . (٣)

ضرورت ممنوع شیان هم مباح کوي.

## د انساني اَندامونو خرڅول ناجائز دي

د انسان ټول اَندامونه مُعزّز او محترم دي، لهذا ددې خرڅول جائز ندي، ځکه په دې سره ددې اَندامونو سپک والې او ذِلت راځي. تر دې پورې چې که یو انسان سخت مجبوره شي او د ډیر مجبوریت د وجې د بدن د اندامونو خرڅولو ضرورت راشي خو بیا هم ده ته ددې

(١) رد المحتار على الدر المختار كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع ٩/٥٦١، ٥٦٢. فتاوى عثمانيه ج٧ ص ١٧٤ كتاب البيوع.

(٢) الدر المختار على صدر رد المحتار كتاب البيوع باب البيع الفاسد ٧/٢٣٥.

(٣) محمد خالد الاتاسي شرح المجلة المادة ٢١، المقدمة المقامة الاولى ١/٥٥. فتاوى عثمانيه ج٧ ص ١٧٩ كتاب البيوع.

اَندامونو خرڅولو اِجازت نشته ، بلکه د مجبوريت په وخت کې الله ﷻ طرف ته متوجه کيدل په کار دي ، الله ﷻ به رَحم و کرم اوکړي او څه بله لار به رااُوباسي خو د اَندامونو خرڅول ناجائز دي .

ولا يجوز بيع شعور الإنسان ولا الانتفاع بها ، لأنّ الآدمي مكرم لا مبتذل ، فلا يجوز أن يكون شيء من أجزائه مهانا ومبتذلا . (۱)

په فتاوى محموديه کې دا هم ليکلي چې د بل چا سترګه ځان ته لګول يا د وجود اندامونه خرڅول ناجائز دي .

فَإِيْرَادُ الْعَقْدِ عَلَيْهِ وَابْتِذَالُهُ بِهِ وَإِلْحَاقُهُ بِالْجَمَادَاتِ إِذْلَالٌ لَهُ . أَيْ وَهُوَ غَيْرُ جَائِزٍ وَبَعْضُهُ فِي حُكْمِهِ وَصَرَّحَ فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ بِبُطْلَانِهِ . قُلْتُ وَفِيهِ أَنَّهُ يَجُوزُ اِسْتِرْقَاقُ الْحَرْبِيِّ وَبَيْعُهُ وَشِرَاؤُهُ وَ إِنْ أَسْلَمَ بَعْدَ الْإِسْتِرْقَاقِ ، إِلَّا أَنْ يُجَابَ بِأَنَّ الْمُرَادَ تَكْرِيمُ صُورَتِهِ وَخِلْقَتِهِ ، وَلِذَا لَمْ يَجُزْ كَسْرُ عِظَامِ مَيِّتٍ كَافِرٍ وَلَيْسَ ذَلِكَ مَحَلّ الإِسْتِرْقَاقِ وَالْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ، بَلْ مَحَلُّهُ النَّفْسُ الْحَيَوَانِيَّةُ فَلِذَا لَا يَمْلِكُ بَيْعَ لَبَنِ أُمَّتِهِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ كَمَا سَيَأْتِي فَلْيُتَأَمَّلْ . (۲)

علماؤ تر دې پورې ليکلي چې که يو کس د مړ کيدو په وخت وصيت اوکړي چې زما د مرګ نه روستو زما سترګې يا نور اَندامونه بل ته اُولګوئ نو دده د وصيت باوجود بيا هم دا بل ته لګول ناجائز دي .

( وَلَا ) يَجُوزُ ( بَيْعُ شَعْرِ الْآدَمِيِّ وَلَا الِانْتِفَاعُ بِهِ وَلَا بِشَيْءٍ مِنْ أَجْزَائِهِ ) لِأَنَّ الْآدَمِيَّ مُكَرَّمٌ غَيْرُ مُبْتَذَلٍ فَلَا يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ شَيْءٌ مِنْ أَجْزَائِهِ مُهَانًا مُبْتَذَلًا . (۳)

---

(۱) الهداية كتاب البيوع باب البيع الفاسد ۵۷/۳ . فتاوى عثمانيه ج۷ ص ۱۷۹ .

(۲) شامي ج۴ ص ۱۴۵ الانتفاع باجزاء الادمي لم يجز ، فتاوى عالمكيري ج۵ ص ۳۶۵ كتاب الكراهية الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات ، الدر المنتقي مع المجمع الانهر ۸۵/۳ كتاب البيوع باب البيع الفاسد ، البحر الرائق ۸۱/۶ باب البيع الفاسد ، فتح القدير ۴۲۵/۶ كتاب البيوع باب البيع الفاسد ، فتاوى محمودية ج۲۷ ص ۳۱۲ أعضاء انساني اور ان كي خريد و فروخت .

(۳) مجمع الانهر ۸۵/۳ كتاب البيوع باب البيع الفاسد ، المحيط البرهاني ۸۱/۸ كتاب الكراهية والاستحسان الفصل التاسع عشر في التداوي والمعالجات ، البحرالرائق ۸۱/۶ باب البيع الفاسد .

او په داسې وصيت باندې عمل كول هم جائز ندي .

أَحَدُهَا أَنْ يُوصِيَ بِمَا هُوَ مَعْصِيَةٌ عِنْدَنَا وَعِنْدَهُمْ كَالْوَصِيَّةِ لِلْمُغَنِّيَاتِ وَالنَّائِحَاتِ فَهٰذَا لَا يَصِحُّ إِجْمَاعًا . (١)

## په كوم پروګرام كې چې ډول سُورنا غړبول شوي وي په هغې كې د شركت حكم

په كوم پروګرام كې چې ډول سُورنا غړبول شوې وي ددې خوراك اګر چې حرام ندى ، ځكه د حُرمت دارُومدار د اَصلِ مال په حُرمت باندې دى ، البته په داسې پروګرام كې شريكيدل ندي په كار ، او داسې دعوت قبلول هم ندي په كار .

بيا خاصكر كوم كس چې د قوم مُقتداء وي يعنى خلق دده پيروي كوي نو دداسې كس د پاره په دې پروګرام كې نه شريكيدل بهتر دي .

مَنْ دُعِيَ إِلَى وَلِيمَةٍ فَوَجَدَ ثَمَّةَ لَعِبًا أَوْ غِنَاءً فَلَا بَأْسَ أَنْ يَقْعُدَ وَيَأْكُلَ. فَإِنْ قَدَرَ عَلَى الْمَنْعِ يَمْنَعُهُمْ، وَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ يَصْبِرْ .

وَهٰذَا إِذَا لَمْ يَكُنْ مُقْتَدًى بِهِ أَمَّا إِذَا كَانَ وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى مَنْعِهِمْ. فَإِنَّهُ يَخْرُجُ وَلَا يَقْعُدُ. وَلَوْ كَانَ ذٰلِكَ عَلَى الْمَائِدَةِ لَا يَنْبَغِي أَنْ يَقْعُدَ. وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُقْتَدًى بِهِ .

وَهٰذَا كُلُّهُ بَعْدَ الْحُضُورِ. وَأَمَّا إِذَا عَلِمَ قَبْلَ الْحُضُورِ فَلَا يَحْضُرُ لِأَنَّهُ لَا يَلْزَمُهُ حَقُّ الدَّعْوَةِ بِخِلَافِ مَا إِذَا هَجَمَ عَلَيْهِ لِأَنَّهُ قَدْ لَزِمَهُ . (٢)

(١) مجمع الانهر ٤٥١/٤ باب وصية الذمي ، شامي زكريا ١٠ / ٤٠٣ ، ٤٠٤ فصل في وصايا الذمي وغيره ، البحرالرائق ٤٥٥/٨ كتاب الوصايا باب وصية الذمي . فتاوى محمودية ج٢٧ ص ٣٢٦ اعضاء انسالي اور ان كي خريد و فروخت .

(٢) الفتاوى الهندية ج٥ ص ٣٤٣ كتاب الكراهية الباب الثاني عشر في الهدايا والضيافات ، درمختار مع الشامي زكريا ج٩ ص ٥٠١ كتاب الحظر والاباحة فصل في الاكل ، بحرالرائق ج٨ ص ١٨٨ كتاب الكراهية فصل في الاكل والشرب .

وَإِنْ عَلِمَ الْمُقْتَدٰى بِهٖ بِذٰلِكَ قَبْلَ الدُّخُولِ، وَهُوَ مُحْتَرَمٌ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَوْ دَخَلَ يَتْرُكُونَ ذٰلِكَ فَعَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ وَإِلَّا لَمْ يَدْخُلْ، (١)

## د بې نمازه او سُود خُور د دَعوت قبلولو حکم

د قاعدې په طور دا خبره واورئ : که يو کس ته دا معلومه شي چې د فلانکي کس خوراک حرام دی نو د داسې کس د کور خوراک هم حرام دی ، او که دا معلومه شي چې دده خوراک حلال دی نو بيا دده د کور خوراک خوړل جائز دي .

او که د هغه خوراک د حلال او حرام نه د مشترکه آمدنۍ وي نو بيا په کې د غالبِ اِعتبار دی : که حلال په کې غالِب وُ نو جائز دی، او که حرام په کې زيات وو نو بيا ناجائز دی .

اوس دا خبره چې د بې نمازه او سُود خور سړي دعوت قبلول څنګه دي ؟ نو ددې حکم دادی : که انسان ته دا معلومه شي چې که زه دده دعوت قبول نه کړم نو په دې سره دده اِصلاح کيږي ، او د ګناهونو نه اَوړي نو بيا د دوی دَعوت قبلول ندي په کار . او که د دوی د دعوت نه قبلولو نه فِتنه پيدا کيده نو بيا د دوی دعوت قبلول په کار دي .

أَهْدٰى إِلٰى رَجُلٍ شَيْئًا أَوْ أَضَافَهُ إِنْ كَانَ غَالِبُ مَالِهٖ مِنَ الْحَلَالِ فَلَا بَأْسَ إِلَّا أَنْ يَعْلَمَ بِأَنَّهُ حَرَامٌ ، فَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ هُوَ الْحَرَامَ يَنْبَغِيْ أَنْ لَا يَقْبَلَ الْهَدِيَّةَ . وَلَا يَأْكُلَ الطَّعَامَ إِلَّا أَنْ يُخْبِرَهُ بِأَنَّهُ حَلَالٌ وَرِثْتُهُ أَوْ إِسْتَقْرَضْتُهُ مِنْ رَجُلٍ . (٢)

## د حرام کاروبار واله کس هديه قبلول

که د يو کس اکثره مال حلال وي نو دده هديه قبلول جائز دي ، او که اکثره مال يې حرام وي نو بيا دده هديه قبلول ناجائز دي .

---

(١) عالمگيري ج٥ ص ٣٤٣ الباب الثاني عشر فی الهدايا والضيافات من كتاب الكراهية ، مجمع الانهر ج٤ ص ٢١٧ كتاب الكراهية فصل فی المتفرقات ، زيلعي ج٦ ص ١٣ كتاب الكراهية فصل فی الاكل . فتاوی محموديه ج٢٧ ص ١٠٤ ضيافت كا بيان .

(٢) الفتاوی الهندية كتاب الكراهية الباب الثاني عشر فی الهدايا والضيافات ٥ /٣٤٢ . مجمع الانهر ج٤ ص ١٨٦ كتاب الكراهية فصل فی الكسب ، بزازية علی الهندية ج٦ ص ٣٦٠ كتاب الكراهية ، فتاوی محموديه ج٢٧ ص ١٢٠ ضيافت كا بيان .

لَا يُجِيبُ دَعْوَةَ الْفَاسِقِ الْمُعْلِنِ لِيَعْلَمَ أَنَّهُ غَيْرُ رَاضٍ بِفِسْقِهِ. وَكَذَا دَعْوَةُ مَنْ كَانَ غَالِبُ مَالِهِ مِنْ حَرَامٍ مَا لَمْ يُخْبِرْ أَنَّهُ حَلَالٌ . وَبِالْعَكْسِ يُجِيبُ مَا لَمْ يَتَبَيَّنْ عِنْدَهُ أَنَّهُ حَرَامٌ. كَذَا فِي التُّمُرْتَاشِيِّ. (١)

## د حلال او حرام مخلوط مال نه دعوت کول

ددې مسئلې څو صورتونه دي :

که د يو کس سره دوه حصې مال حرام وي او يوه حصه حلال وي او دې دعوت اوکړي نو دداسې کس دعوت قبلول منع دي .

وَكَاسِبُ الْحَرَامِ أَهْدَى إِلَيْهِ أَوْ أَضَافَهُ وَغَالِبُ مَالِهِ حَرَامٌ لَا يَقْبَلُ، وَلَا يَأْكُلُ مَا لَمْ يُخْبِرْهُ أَنَّ ذٰلِكَ الْمَالَ أَصْلُهُ حَلَالٌ وَرِثَهُ أَوْ اسْتَقْرَضَهُ . (٢)

که دده سره نيم مال حلال وي او نيم حرام ، نو دداسې کس د دعوت قبلولو نه هم پرهيز په کار دی .

وَإِنْ كَانَ غَالِبُ مَالِهِ حَلَالًا لَا بَأْسَ بِقَبُولِ هَدِيَّتِهِ وَالْأَكْلِ مِنْهَا. كَذَا فِي الْمُلْتَقَطِ. (٣)

---

(١) عالمگيري ٣٤٣/٥ كتاب الكراهية الباب الثاني عشر في الهداياوالضيافات ، بزازيه على هامش الهندية ج ٦ ص ٣٦٣ كتاب الهبة ، فتاوى محمودية ج٢٥ ص ٤٨٠ هبه اور هديه كے احكام.

أَهْدَى إِلَى رَجُلٍ شَيْئًا أَوْ أَضَافَهُ إِنْ كَانَ غَالِبُ مَالِهِ مِنَ الْحَلَالِ فَلَا بَأْسَ إِلَّا أَنْ يَعْلَمَ بِأَنَّهُ حَرَامٌ . فَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ هُوَ الْحَرَامَ يَنْبَغِي أَنْ لَا يَقْبَلَ الْهَدِيَّةَ . وَلَا يَأْكُلَ الطَّعَامَ إِلَّا أَنْ يُخْبِرَهُ بِأَنَّهُ حَلَالٌ وَرِثْتُهُ أَوْ اِسْتَقْرَضْتُهُ مِنْ رَجُلٍ. الفتاوى الهندية كتاب الكراهية الباب الثاني عشر في الهدايا والضيافات ٥ /٣٤٢.

(٢) عالمگيري ٣٤٣/٥ كتاب الكراهية الباب الثاني عشر في الهداياوالضيافات ، فتاوى خانيه ج٣ ص ٤٠٠ كتاب الحظر والاباحة مايتعلق بالضيافة ، فتاوى بزازيه ج٦ ص ٣٦٠ كتاب الكراهية الرابع في الهدية ، فتاوى محموديه ج٢٧ ص ١٢٦ ضيافت كا بيان .

(٣) عالمگيري ٣٤٣/٥ كتاب الكراهية الباب الثاني عشر في الهداياوالضيافات ، مجمع الانهر ج٤ ص ١٨٦ كتاب الكراهية فصل في الكسب ، فتاوى بزازيه ج٦ ص ٣٦٠ كتاب الكراهية الرابع في الهدية ، فتاوى محموديه ج٢٧ ص ١٢٥ ضيافت كا بيان .

که دده سره دوه حصې مال حلال وي او يوه حصه حرام وي نو دداسې کس دعوت قبلول جائز دي ، خو احتياطًا د نه قبلولو ګنجائش هم شته .

وَفِي الرَّوْضَةِ : يُجِيبُ دَعْوَةَ الفَاسِقِ ، وَالوَرَعُ أَنَ لَا يُجِيبَهُ . (١)

## د زياتې ګټې د پاره ذخيره أندوزي کول

که خلقو ته د غلې ( غنم ، جوار وغيره ) ضرورت وي ، او په دې وخت کې يو کس ډيره غله اَخلي او ذخيره کوي يې ، ددې د پاره چې ګرانه شي او زه يې خرڅه کړم نو ګټه به ډيره اوکړم ، نو دا ذخيره أندوزي کول اِحتکار دی او دا شرعًا حرام دی .

البته که خلقو ته د غَلې ضرورت نه وي ، په بازار کې په آسانۍ سره خلقو ته ملاوېږي نو بيا د ډيرې ګټې د پاره يو شې ذخيره کول خېر دی .

لما ورد فى الحديث : عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلجَالِبُ مَرْزُوقٌ. وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ . (٢)

و قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله : ويكره الاحتكار في أقوات الآدميين والبهائم إذا كان ذلك في بلد يضر الاحتكار بأهله وكذلك التلقي. فأما إذا كان لا يضر فلا بأس به . (٣)

## د جَعلي سندُونو په وجه د حاصلې شوې نوکرۍ د تنخواه حکم

دا واضحه خبره ده چې اَجيرِ خاص ته اُجرت دده د عمل په عِوض کې ملاوېږي ، لهذا که

---

(١) عالمكيري ٣٤٣/٥ كتاب الكراهية الباب الثاني عشر في الهدايا والضيافات .

وَإِن كَانَ غَالِبُ مَالِهِ حَلَالًا لَا بَأْسَ بِقَبُولِ هَدِيَّتِهِ وَالأَكْلِ مِنْهَا. كَذَا فِي المُلْتَقَطِ . عالمكيري ٣٤٣/٥ كتاب الكراهية الباب الثاني عشر في الهدايا والضيافات . فتاوى محموديه ج٢٧ ص ١٢٦ ضيافت كا بيان .

(٢) سنن ابن ماجه رقم الحديث ٢١٥٣ كِتَابُ التِّجَارَاتِ بَابُ الحُكْرَةِ وَالجَلْبِ .

(٣) الهداية ج٤ ص ٤٧٠ كتاب الكراهية فصل فى البيع ، ومثله في بدائع الصنائع ج٥ ص ١٢٩ كتاب الاستحسان . فتاوى حقانيه ج٦ ص ٣٩ .

يو کس ته يو کار سپارَل شوې وي او دې په هماغه مقرر وخت کې د هغې کار په کولو قادِر وي نو داسې کس ته دا اُجرت اخيستل جائز دي .

اوس که يو کس د جَعلي سنَدونو په ذريعه يوه نوکري حاصله کړه ، او دې ددې کار په کولو قادر وي نو بيا ده ته دا تنخوا اخيستل حلال دي ، ليکن د جَعلي سنَدونو په ذريعه نوکري حاصلول ناجائز او حرام دي ، ځکه په داسې طريقې سره نوکري حاصلولو کې به خامخا انسان دروغ وايي ، دهوکه به کوي ، او د بل په حق به قبضه اچوي ، چې دا هر يو غټ جُرم دی .

ليکن که په دې کس کې ددې سپارل شوي کار کولو صلاحيت نه وي نو بيا د جَعلي سنَدونو په وجه د حاصلې شوې نوکرۍ تنخواه هم ده ته جائز نده . (١)

## د لارو په هوټلو کې د ډرائيورانو د پاره مفت خوراک کول

په دې غټو لارو کې چې کومې هوټلې وي ، ډرائيوران چې دوی ته د سوَرلو ګاډې د خوراک کولو د پاره اُودروي نو د هوټل واله مالِکان د ګاډي په ډرائيور باندې مفت خوراک کوي ، نو ددې حکم دادی چې :

که د هوټل واله د ګاډي په مسافرو باندې د عام معمول مطابق روټۍ خوَړه او د عام معمول موافق قيمت يې ورنه اخيسته نو بيا ددې ډرائيور د پاره دا مفت خوراک کول جائز دی ، ځکه دا ډرائيور د دَلال په شان دی ، دې هم دې هوټل واله د پاره ګاک پيدا کوي ، او د دَلال د پاره اُجرت اخيستل جائز دي .

وَفِي الْحَاوِي: سُئِلَ مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ أُجْرَةِ السِّمْسَارِ. فَقَالَ: أَرْجُو أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ وَإِنْ كَانَ فِي الْأَصْلِ فَاسِدًا لِكَثْرَةِ التَّعَامُلِ. (٢)

ليکن که د هوټل واله په ډرائيور باندې مفت خوراک کولو ، خو ددې په عِوض کې يې دې نورو مسافرو ته بې کاره خوراک په ګران قيمت ورکول لکه نن صبا چې په هوټلو کې

---

(١) فتاوی عثمانيه ج٨ ص ٨٥ الاجارة .

(٢) رد المحتار على الدر المختار كتاب الاجارة باب ضمان الاجير ٩ /٨٧ .

همدا حالت دی نو بیا ډرائیور ته مفت خوراک خوړل ناجائز دي ، ځکه دا په رِشوت کې داخل دی ، (او په شریعت کې د رِشوت نه سخت ممانعت راغلی) . (۱)

## انعامي بانډز اخیستل سود او جواري ده

نن صبا په بازار کې انعامي بانډز خرڅیږي ، ډیر خلق یې واخلي بیا صرف د یو څو کسانو نومونه راوځي او نور ټول محروم شي ، ددې حکم دادی چې دا په سُود او جواری کې داخل دي . لهذا ددې اخیستل او خرڅول ، او یا دا اِنعام اخیستل ناجائز دي .

قال الله تعالى : ﴿ وَأَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ﴾ . (۲)

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ . (۳)

قال العلامة الجصاص الرازي رحمه الله : وَلَا خِلَافَ بَيْنَ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي تَحْرِيْمِ الْقِمَارِ وَأَنَّ الْمُخَاطَرَةَ مِنَ الْقِمَارِ . (۴)

په فتاوی عثمانیه کې هم د پرائز بانډ (Prize Bonds) د حُرمت د پاره ډیر وجوهات ذکر شوي . (۵)

## د اِنعامي سکیمونو یا اِنعامي ټکټونو اخیستل او خرڅول ناجائز دي

په دې اِنعامي سکیمونو او انعامي ټکټونو باندې د جواری تعریف صادِق راځي ، لهذا ددې کاروبار شرعًا ناجائز دی ، چاته چې په انعام کې دا قِسمه روپۍ ملاؤ شوې وي نو دده د پاره (د ثواب د نیت نه بغیر) ددې روپو صدقه کول واجب دي .

---

(۱) فتاوی عثمانیه ج۸ ص۱۸۷ الاجارة .

(۲) سورة البقرة آية ۲۷۵

(۳) سورة المائده آية ۹۰ .

(۴) الاحکام القرآن ج۱ ص ۳۲۹ البقرة . و مثله فی الهداية ج۳ ص ۱۳۱ کتاب الحوالة ، فتاوی حقانیه ج۶ ص۲۰۸ .

(۵) فتاوی عثمانیه ج ۷ ص ۲۹۰ .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله : اِکْتَسَبَ حَرَامًا وَاشْتَرٰی بِهٖ ....... تَصَدَّقَ بِالرِّبْحِ وَإِلَّا لَا وَهٰذَا قِيَاسٌ . وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ كِلَاهُمَا سَوَاءٌ وَلَا يَطِيبُ لَهُ . (١)

وفى الهندية : كَانَ الْمَالُ بِمُقَابَلَةِ الْمَعْصِيَةِ فَكَانَ الْأَخْذُ مَعْصِيَةً وَالسَّبِيلُ فِي الْمَعَاصِي رَدُّهَا وَذٰلِكَ هَاهُنَا بِرَدِّ الْمَأْخُوذِ إِنْ تَمَكَّنَ مِنْ رَدِّهٖ بِأَنْ عَرَفَ صَاحِبَهُ . وَبِالتَّصَدُّقِ بِهٖ إِنْ لَمْ يَعْرِفْهُ . (٢)

# د بینک د سُود د روپو حکم

کوم خلق چې په سُودي بینکونو کې روپۍ ږدي ، نو اول خو دوی ته په دې سُودي بینکونو کې روپۍ ایخودل ندي په کار ، او که چا په کې مجبورًا د حفاظت د پاره ایخي وي نو چې د بینک د طرفه ده ته کومه سُودي گټه ملاوېږي دا به د بینک واله ته نه پرېږدي ، بلکه دا به د هغوی نه راواخلي ، او د ثواب د نیت نه بغیر به یې په فقیرانو او مسکینانو باندې تقسیم کړي .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله : كَمَا لَوْ غَصَبَ عَبْدًا وَآجَرَهُ فَنَقَصَ فِي هٰذِهِ الْإِجَارَةِ .... وَإِنْ اسْتَغَلَّهُ فَنَقَصَهُ الِاسْتِغْلَالَ أَوْ آجَرَ الْمُسْتَعَارَ وَنَقَصَ ضَمِنَ النُّقْصَانَ وَتَصَدَّقَ بِمَا بَقِيَ مِنَ الْغَلَّةِ وَالْأُجْرَةِ .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : وَيُؤْمَرُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِهَا لِاسْتِفَادَتِهَا بِبَدَلٍ خَبِيثٍ وَهُوَ التَّصَرُّفُ فِي مَالِ الْغَيْرِ . (٣)

قال العلامة ابن البزاز رحمه الله : ولو بلغ المال الخبيث نصابًا لايجب فيه الزكوة لان الكل واجب التصدق . (٤)

---

(١) الدر المختار على هامش رد المحتار ج۴ ص ۲۱۹ مطلب اذا اكتسب حراما ...

(٢) الفتاوى الهندية ج۵ ص ۳۴۹ الباب الخامس عشر فى الكسب كتاب الكراهية . فتاوى حقانيه ج٦ ص ۲۱۴

(٣) الدر المختار و رد المحتار ج٦ ص ۱۸۸ كتاب الغصب .

(۴) البزازية على هامش الهندية ج۴ ص ۸٦ كتاب الزكوة الفصل الثالث فى المصرف ، فتاوى حقانيه ج٦ ص ۱۹۷ .

## په حرامې طريقې سره د حاصل شوي مال حکم

کوم مال چې په رشوت يا نورو حرامو طريقو سره حاصل شوې وي نو په اسلامي شريعت کې ددې حکم دادی چې که ددې حرام مال اصل مالک معلوم وُ نو هغه ته به يې واپس کوي، او که مالک يې معلوم نه وُ نو د ثواب د نيت نه بغير به يې صدقه کوي.

او که ده ته د حرام مال مقدار معلوم نه وُ (چې د ما سره څومره حرام مال دی؟) نو تحرّي به اوکړي، يعنی اندازه به اولږوي، د تحرّي نه پس چې ده څومره مال اَندازةً حرام راجمع کړې وي نو که ددې اصلِ مالکان معلوم وو هغوی ته به يې واپس کړي،او که مالکان يې معلوم نه وو نو بغير د نيت د ثواب نه به هغومره مال په فقيرانو تقسيم کړي.

عَلَيْهِ دُيُونٌ لِأُنَاسٍ شَتَّى لِزِيَادَةٍ فِي الْأَخْذِ وَنُقْصَانٍ فِي الدَّفْعِ فَلَوْ تَحَرَّى ذٰلِكَ وَتَصَدَّقَ عَلَى الْفُقَرَاءِ بِثَوْبٍ قُوِّمَ بِذٰلِكَ يَخْرُجُ عَنِ الْعُهْدَةِ. (١)

## په سُود باندې قرضه ورکول ناجائز ده

په سُود باندې قرضه ورکول شرعي طريقې سره قطعًا حرامه ده، په دې کې د هيڅا اختلاف نشته، په قرآن مجيد او احاديثو کې صراحةً ددې ممانعت راغلې دی، الله تعالی فرمايي: ﴿ وَأَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ﴾. (٢)

ترجمه: الله تعالی تجارت حلال کړې دی او سُود يې حرام کړې دی. (٣)

## چا ته د کاروبار د پاره قرض ورکول او مُعينه ګټه ورنه اخيستل ناجائز ده

که يو کس بل چا ته د کاروبار د پاره قرض ورکړي او ورسره دا شرط اُولږوي چې ما ته به ددې لسمه حصه ګټه راکوی نو د قرض په عِوض کې دا منافع مقررول ناجائز او سُود دی.

---

(١) الفتاوی الهندية كتاب الكراهية الباب الخامس والعشرون في البيع ٥/٣٦٧. فتاوی عثمانيه ج١٠ ص ١٧٩ المال الحرام ومصرفه.

(٢) سورة البقرة آية ٢٧٥.

(٣) فتاوی حقانيه ج٦ ص١٩٨.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعًا حَرَامٌ) أَيْ إِذَا كَانَ مَشْرُوطًا كَمَا عُلِمَ مِمَّا نَقَلَهُ عَنِ الْبَحْرِ . (۱)

قال العلامة قاضي ثناء الله رحمه الله : قوله : وَحَرَّمَ الرِّبٰوا : والمعنى ان الله تعالى حرم الزيادة في القرض على القدر المدفوع . (۲)

## بیمه (اِنشورنِس) ناجائز دی

(نوټ: په بیمه کې ډیر خلق مبتلاء دي نو ځکه دا مسئله تفصيلاً ليکم . د بیمې متعلق زه يوه خبره هم د ځان نه نه ليکم بلکه هره خبره مې د معتمدو فتاوٰ نه راجمع کړی . ابوالشمس عفي عنه)

په **فتاوی حقانیه** کې ليکلي چې : نن صبا بعضې کمپنۍ د بیمه کاروبار کوي ، ددې حکم دادی چې بیمه په سُود او جوارۍ کې داخل ده ، او دا ناجائز ده .

دبیمې طریقه کار دا وي چې يو کس په هره میاشت کې يو معين مِقدار روپۍ د يو معين وخت مثلا دوه کالو يا درې کالو د پاره د بیمه کمپنۍ سره جَمع کوي ، کمپنۍ دا روپۍ په هر قِسمه کاروبار کې لږوي که هغه د سُود وي يا بل کار کې . ددې په عِوض کې ده ته سالانه ګټه هم راځي . اوس که دا کس دا ماهانه قِسطونه پوره کړي نو د بیمه کمپنۍ واله دا ټولې روپۍ سره د ډيرې زياتې ګټې ده ته ورکوي ، او که د قِسطونو پوره کولو نه مخکې دا کس په څه حادِثه کې مړ شي نو بيا دا کمپني دده په وارثانو صرف هغه کس ته په لکونو لکونو روپۍ ورکوي د چا نوم چې دې کس دې کمپنۍ واله ته ورکړې وي .

بيا ددې بیمې مختلف صورتونه دي ( لکه د ژوند بیمه " Life insurance " يعنی لائف اِنشورنس ، د اَملاکو بیمه ، د ذِمه وارۍ بیمه ، د ګاډي بیمه ) خو په دې ټولو صورتونو کې سُود او جواري راځي چې دا ناجائز ده . (۳)

---

(۱) رد المحتار ج۵ ص ۱٦٦ باب الربوا مطلب كل قرض جر نفعا ...

(۲) تفسير مظهري ج۱ ص ۲۹۹ سورة البقرة ، ومثله فى احكام القرآن للجصاص ج۲ ص ۱۸۹ سورة البقرة ، فتاوى حقانيه ج٦ ص ۱۹۹ .

(۳) فتاوى حقانيه ج٦ ص ۲۲۰ .

په **فتاوى عثمانيه** کې ذکر دي : اګر چې د بيمه کمپنۍ والهدا خبره مشهوره کړې چې :

"بيمه د تعاون او مدد کولو يو نظام دی چې ددې مقصد د حوادثو او آسماني آفتونو نه د متأثره کيدونکو خلقو مدد کول دي "

خو ليکن دا صِرف ددې کمپنۍ دَعوې دي ، بلکه د دوی اصل مقصد د سُود او جوارۍ کاروبار ته ترقي ورکول دي ، د مصيبت زده خلقو امداد کول د دوی مقصد هرګز ندی . (۱)

په مذکوره فتاوى کې دا هم ليکلي چې دا د اسلامي فِقهې مشهوره قاعده ده :

وَالْعِبْرَةُ فِي الْعُقُوْدِ لِلْمَقَاصِدِ وَالْمَعَانِيْ لَا لِلْأَلْفَاظِ وَالْمَبَانِيْ. (۲)

په عقودو او معاهدو کې اصل اِعتبار مقاصدو ته وي ، د الفاظو اعتبار نه وي .

ځکه که په عقودو کې اصل اعتبار الفاظو ته ورکړې شي نو بيا به ډير ناجائز کارونه ( د غوَرو زيرِو الفاظو په وجه ) جائز کړې شي ، حالانکه دا صحيح نده .

په فتاوى عثمانيه کې د بيمې د ناجائز والي د پاره ډير وجوهات ذکر شوي :

۱ . په بيمه کې دا ماهانه قِسطونه د هغه روپو په عِوض کې ورکولې شي چې د هغې وجود مجهول او مشکوک دی ، ځکه د حادِثې راپيخيدل صرف احتمالي خبره ده ، بل دا چې دا کومې روپۍ چې بيا د بيمه کمپنۍ والهده ته ورکوي هغه هم مجهولې دي ، ځکه د نقصان اَندازه د کمپنۍ واله د نقصان نه روستو لږوي ، نو دا بيمه په " بَيْعُ الْغَرَرْ " کې داخله ده چې په شريعت کې دا ناجائز ده .

د مسلم شريف حديث دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْحَصَاةِ ، وَعَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ . (۳)

---

(۱) فتاوى عثمانيه ج۷ ص ۳۲۰ کتاب الربوا .

(۲) رد المحتار على الدر المختار کتاب البيوع مطلب فيمن ورث مالا حراما ۳۰۱/۷ .

(۳) صحيح مسلم كِتَابُ الْبُيُوْعِ بَابُ بُطْلَانِ بَيْعِ الْحَصَاةِ، وَالْبَيْعِ الَّذِي فِيهِ غَرَرٌ رقم الحديث ۱۵۱۳

۲ . عقدِ بیمه د بَیع الغرر په وجه په جوارۍ کې داخله ده ، او جواري په نص د قرآن سره حرامه ده . الله تعالی فرمايي :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ . (۱)

۳ . عقدِ بیمه په سُود کې هم داخله ده ، ځکه د نقصان نه روستو دا کمپني چې کومې روپۍ دې کس یا دده وارث ته ورکوي نو دا خو یقیني د هغه روپو نه زیاتې دي کومې چې دې سړي د قِسطونو په حساب جَمع کړي دي او دا بعینه سُود دی ، او که دا ددې قسطونو د روپو سره برابر وي یا کمې وي نو بیا هم په سُود کې داخلې دي ، ځکه دا نَقدي روپۍ د نَقدو په عِوض کې په قرضو خرڅول دي ، او د نبي علیه السلام مشهور حدیث " مِثْلًا بِمِثْلٍ يَدًا بِيَدٍ " په وجه ناجائز دي .

والأصل فيه الحديث المشهور وهو قوله عليه الصلاة والسلام: الحنطة بالحنطة مثلا بمثل يدا بيد، والفضل ربا . (۲)

۴ . عقد بیمه په " بَيْعُ الدَّيْنِ بِالدَّيْن " کې هم داخله ده ، او دا ناجائز ده ، ځکه د قسطونو دا روپۍ د کمپنۍ په ذِمه قرض دي ، او د اِحتمالي نقصان نه پس ورکوونکې روپۍ هم د کمپنۍ په ذِمه قرض یعنی واجبُ الاداء دي ، او په شریعت کې " بَيْعُ الدَّيْنِ بِالدَّيْن " ناجائز ده .

وقد نهى النبي صلى الله عليه وسلم عن بيع الكالي بالكالي . (۳)

لهذا د بیمه مُروّجه ټول صورتونه د شریعت مخالف دي ، د نورو جائزو کارونو په نسبت په دې سُودي کاروبار کې ځان نَخلول د عقل مندۍ خبره نده .

(۱) سورة المائده آية ۹۰ .

(۲) الهداية كتاب البيوع باب الربا ۳/۸۱ .

(۳) المصنف كتاب البيوع باب اجل باجل ۸/۹ .

البته که په یو مُلک کې بیمه کول قانوني مجبوري وي نو که یو کس د مجبوریت په وجه بیمه اوکړي نو د کمپنۍ نه به دا زیاتي روپۍ نه اَخلي. (١)

په **فتاوی حقانیه** کې د بیمې د ناجائز والي ډیر وجوهات ذکر شوي:

١. بیمه په سُود کې داخله ده، ځکه دا بیمه کمپني دې کس ته په کال کې معلومه ګټه ورکوي، همدارنګې د ټولو قِسطونو په جَمع کولو سره دا کس د خپلو روپو نه علاوه د نورو ډیرو روپو مستحق کیږي، او دا بِعینه سُود دی.

٢. داعقدِ بیمه په جوارۍ کې داخل دی، ځکه که دا کس د قِسطونو پوره کولو نه مخکې مخکې په څه حادثه کې مړ شي نو دې کس چې په خپل ژوند کې دې بیمه کمپنۍ ته کوم کس ورمَعرفي کړې وي اوس دا کمپني دې کس ته د یو امرِ اتفاقي (یعنی د حادثې په وجه) ډیرې زیاتې په لکونو لکونو روپۍ ورکوي، او بِعینه جواري ده، او جواري په شریعت کې حرامه ده.

٣. د عقدِ بیمه د ناجائز والي او حرام واله بله وجه دا هم ده چې ددې کس د مرګ نه پس د کمپنۍ واله دا روپۍ صرف هماغه کس ته ورکوي کوم چې دې کس ورمعرفي کړې وُ، دده نه علاوه دده نورو وارِثانو ته دا روپۍ نه ملاویږي، حالانکه په اسلامي قانون کې په میراث کې د ټولو وارثانو حق وی، لهذا په دې کې د شرعي قوانینو ښکاره خلاف وَرزي ده، او دا یقینًا ناجائز ده.

۴. د بیمې د حُرمت د پاره بله وجه دا هم ده چې په دې کې د یو چا سره د ګناه په کار کې مدد کول هم لازمیږي، ځکه د بیمه کمپنۍ واله دا روپۍ اکثره د سُود په کارو بار کې لږوي، او دا ناجائز دی، الله تعالی فرمایي:

﴿وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾. (٢)

ترجمه: او د یو بل سره د ګناه او ظلم په کارونو کې مدد مه کوئ.

---

(١) فتاوی عثمانیه لمولانا مفتي غلام الرحمن صاحب دامت برکاتهم العالیة ج٧ ص ٣٢٠ تا ٣٢٢ کتاب الربوا.

(٢) سورة المائده آیة ٢.

لهذا د دې شرعي قوانينو او احكامو په رڼا کې د بيمه ټول صورتونه ناجائز دي. (١)

په **فتاوىٰ حقانيه** کې يې د هغه خلقو خبره هم رَد کړی چې هغوی د بيمې د جواز د پاره دا ويلي چې: بيمه په عقدِ مضاربت کې داخلول په کار دي، او مضاربت جائز دی نو بيمه کول دې هم جائز شي. نو د فتاوی حقانيه واله دا خبره رَد کړې ده، او په ډيرو وجوهاتو سره يې دا ثابته کړې چې په بيمه او مضاربت کې ډير غټ فرق دی، لهذا بيمه په مضاربت کې نده داخله، مضاربت جائز دی او بيمه ناجائز ده. (پوره تفصيل په فتاویٰ حقانيه ج٦ ص٢٢١ کې اوګوره).

مفتي اعظم دارالعلوم ديوبند مولانا محمود الحسن ګنګوهي رحمه الله په **فتاوی محموديه** کې هم بيمې ته جواري، سُود او ناجائز ويلی. (٢)

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله هم په **امداد الفتاوی** کې پوره په تفصيل او حوالو سره دا ثابته کړې چې بيمه په جواري او سُود کې داخله ده، لهذا دا ناجائز ده. (٣)

مولانا محمد يوسف لدهيانوي شهيد رحمه الله هم په **آپ کے مسائل اور ان کا حل** کې ليکلي چې: د بيمه کمپنۍ موجوده ټول صورتونه صحيح ندي، بلکه دا د جوارۍ نوي شکلونه دي، لهذا په خپل اِختيار سره بيمه کول ناجائز دي، البته د قانوني مجبوريت په وجه که څوک بيمه اوکړي نو بيا به د کمپنۍ د طرفه زياتي روپۍ نه اخلي.

چونکه د بيمه کاروبار صحيح ندی لهذا په بيمه کمپنۍ کې ملازمت صحيح ندی. (٤)

په **فتاوی رحيميه** کې ليکلي: د ژوند بيمه (لائف اِنشورنس) که په هر قِسمه نيت او مصلحت سره وي دا ناجائز ده، ځکه په دې کې د جوارۍ او سود دواړه قِسمه ګناهونه جَمع

---

(١) فتاوی حقانيه ج٦ ص ٢٢٠.

(٢) فتاوی دارالعلوم ديوبند ج٢٤ ص ٤٥٦، وص ٤٥٤، وص ٤٥٥.

(٣) امداد الفتاوی ج٣ ص ١٦١.

(٤) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٧ ص ٣٦١ اضافه و تخريج شده ايډيشن.

دي ، او دا دواړه خطرناک ګناهونه دي ،( بيا په دې فتاوئ کې ددې ګناهونو په حرمت باندې ډير احاديث رانقل کړې شوي ) .(۱)

**نوټ** د بيمې ټول اقسام : که د ژوند بيمه ( Life insurance ) وي ، که د أملاکو بيمه وي ، که د ذِمه وارۍ بيمه وي ،او که د ګاډي بيمه وي دا ټول ناجائز دي .(۲)

**نوټ** : بعضې بيمه کمپنو واله د بيمې دجواز د پاره يوه جَعلي فتوی چاپ کړې ده کومه يې چې مفتي محمد فريد رحمه الله ته منسوب کړې ، او په هغې باندې د مفتي فريد رحمه الله دستخط او فتوی نمبر دواړه جَعلي دي .

په **فتاوی حقانيه** کې يې ددې کمپنۍ واله دا جَعلي فتوی هم رانقل کړې ، بيا يې د بيمې په ناجائز والي باندې د مفتي فريد صاحب خپله فتوی هم رانقل کړې ، چې مفتي صاحب دا په صراحت سره ذکر کړي چې بيمه په سُود او جوارۍ کې داخله ده ، او دا ناجائز ده ، او ورسره يې د ناجائز والي ډير دلائل او وجوهات هم ذکر کړي .(۳)

## د بيمه روپۍ چې وارِث ته راپاتې شي ددې حکم

که يو وارِث ته په ميراث کې د بيمه روپۍ راپاتې شي نو ددې حکم دادی چې د بيمه کمپنۍ نه کومې زياتي روپۍ راغلي دي دا دده په ميراث کې ندي داخلې ، دا به په دې وارثانو نه تقسيميږي ، بلکه دا به بغير د ثواب د نيت نه صدقه کوي ، يا به يې بغير د نيت د ثواب نه د خير په کارونو کې اولګوي .(۴)

---

(۱) ... ى رحيميه ج۹ ص ۲۴۲ باب الربا .

(۲) ف... رحيميه ج۹ ص ۲۷۳ ، ۲٦۰ ، ۲٦۷ ، ۲٦۸ .

**نوټ** : د بيمې د ټولو صورتونو د حُرمت تفصيل په همدې فتاوی رحيميه ج۹ ص۲۷۲ کې ذکر دی .

(۳) پوره تفصيل په فتاوی حقانيه ج٦ ص۲۱۹ کې اوګوره .

(۴) فتاوی رحيميه ج۹ ص ۲۷۸ باب الربا .

اَهلِ عِلمو له دا رِساله مطالعه کول مُهمه ده ، ځکه ددے رِسالے هره کلمه " مُعَرَّا " ده ، د کلامُ الله او کلامُ الرّسول د اَهمو مسائِلو او اَهمو اَحکامو ډَکه ده ، دا مُسمّٰی ده ددے اسم سره :

# د عِلم او کماله ډَکه رِساله

مُحَرِّر


نُورُالهُدٰی

د مدرسے مُعلِم

دالله د اِسم سره دا رِساله کلاؤوم . ځکه الله عام رَحم واله او کامِل رَحم واله دے

# د رِسالے اول کلام

اَلْحَمْدُ لِلّٰه . ددے رِسالے هره هره کلمه د عِلم او کَماله ډَکه ده . اول دا مطالعه کړئ . د مطالعے سره سره ددے هره کلمه اوګورئ . دا سَراسَر د کماله ډکه ده . ځکه ددے هره کلمه "مُعَرّا" ده . اَهلِ عِلمو له دا رِساله مطالعه کول مُهِمه ده .

دالله د رَحم و کرم او اِمداده علاوه دا کمال حاصلول ( هره کلمه مُعَرّا راوړل ) ، او هر کس له ددے اِراده کول محاله ده .

دا کار د هر کس د وَسه لرے دے . ځکه دا سے کمال کول د لَامَحدوده دَردو او صَدمو ډَک دے .

مګر مُحَرِّر د کم عِلمی اِحساس لرلو سره سره د کلکے حوصلے او کلکے اِرادے مالِک دے . او کلکے حوصلے سره مُهِم مسائِل حَل کول عامه مُعامله ده .

دا سے د دوه کالو را سے کلکه اِراده وه . دالله رحم و کرم ، او د والِد او والدے د دُعاؤ سره سَم الله اوس ددے رسالے اوله حصه مکمل کړه .

مګر دا رِساله د مُحرِّر د مدرسے د دَرس سره سره د اُووه ورځو کمال دے ، ځکه د اُووه ورځو علاوه د مدرسے د دَرس له اَمله مُحرِّر د دے رسالے

مَسطورول اُودرول، د اهلِ عِلمو سره دا رعده کوم که الله وَس را کړو د مدرسے د دَرسه علاوه لَمحو کارولو سره ددے رِسالے لس (۱۰) حصے کاملوم.

دا رساله مُسمّٰی ده دے اِسم سره : ''**د علم او کماله ډکه رساله**''

اګر که سَر سَر مطالعے کولو سره د داسے مُعزّا کلمو راوړلو کمال کول داسے کار دے لکه حَلواء معدے له رَسول. مګر که کوم کس ددے مُعزّا کلمو راوړلو عملاً اِراده اوکړه اوس دا ده له داسے کار دے لکه مار له لاس وَر وړَل. ځکه دا سَم د سَردَردی عمل دے.

اے الله ! د داسے رِسالو مَسطورولو او کاملولو وَس راله هره لَمحه راکوه، او ورسره ورسره د هر حاسِد د حسَده هم مالرے اُولره. ځکه حاسِد دائمًا د داسے هَم عُمره ماهِره کس سره حسَد کړے، دده د عِلم او کماله ده سَر اَړولے.

دا کُلاؤ واورئ: مُحَرِّر د کلکے حوصلے مالِک دے، ده دالله رحم و کرم سره داسے د عِلم او کماله ډکو رِسالو کاملولو مُحکمه اِراده کړے، او اَلْحَمْدُ لِلّٰه ددے سلسلے کامِلولو وَس هم الله ورکړے. مَالِکُ المُلک الله لره لاکهه لاکهه حَمد دے.

اګر که عالِم له د عِلم او کمال لوړے لوړے دعوے کول مکروهه عمل دے. مګر د مُحَرِّر سره دالله رحم و کرم ملګرے دے، ده له الله د داسے اَهمو رسالو کاملولو وَس او حوصله هم ورکړے.

**دُعا** : اے الله ! اوس ددے کم عِلمه مُحرِّر داوړوے عمَل صالِح کړه، د دوارو عالَمو سُرُور ورله ورکړه ، او ورسره ورسره دا وَړه رِساله هر کس او هر ځای له اُورسوه .

اے الله ! گواه اُوسه ، ما د اِسلام اَهم مسائِل او اَهم اَحکام د مدرسے د دَرس ، مُدَلّل کلام ، او ددے وړے رِسالے دلارے اهلِ عِلمو او عوامو له وَر اُورسول اوس راله د دَارُالسّلام د حُورو حاصلولو وَس هم را کړه ، ماله او کُلُ عالَمِ اِسلام له د دوارو عالَمو سُرُور را کړه ، ماله کامِل عِلم سره د عمَله را کړه ما د عُلماؤ سره ملګرے کړه .

اے الله ! ماله مسلسل د والِد او والدے سره د مدد کولو وَس هم را کړه.

**د دُعاؤ سائِل :**

نورالهدیٰ

د مدرسے مُعلِّم

دالله د اِسم سره دا رِساله کلاوُوم . ځکه الله عام رَحم واله او کامِل رَحم واله دے

## د رسالے اوله حصه

# د اِسلام اَهم مسائِل او احکام

اے د آدم اَولادہ ! هر کس د اِسلام دا اَهم اَحکام او اَهم مسائِل د عمل اِرادے سره واورئ :

- الله واحد او مالِکُ المُلک دے . محمّدٌ رَسولُ الله صلّی الله علیٰ رسوله وسلم دالله رسول دے .
- دالله کلام دائِمًا لولئ . ځکه دالله کلام د هر کلامه اَعلیٰ او اَکرم دے ، دا د عالَم هر ځای او هر کس له اُورسوئ .
- د رسولُ الله صلّی الله علیٰ رسولهٗ وسلم راوړے اِسلام او احکام اول اُولولئ ، او ورسره ورسره دا عملًا اداء کړئ .
- هر کار د رسول الله صلی الله علیٰ رسوله وسلم د کلام ، کِردار ، او عمَل سره سَم اداء کوئ .
- د هر کار کولو سره سالِمه اِرادہ کوئ . ځکه د اَعمالو دارومَدار د سالِمے اِرادے سره ملګرے دے .
- د حرام طعامه کلکه ډډه اوکړئ ، او ورسره ورسره هره لمحه د کور واله وُ اَحوال هم معلوموئ . ځکه د لَا عِلمی له اَمله که هر کس د دے حرامو سره

وَده اوکړه . او حرام طعام ده مَعمول اوګرځول دا د ده د دواړو عالَمو د صَدمے عمَل دے .

- اَوسطًا هره ورځ د عمَل اِرادے سره دوه رکوع کلامُ الله لُولئ . او ددے مُطالعه کوئ .
- هره ورځ " لَا اِلٰهَ اِلَّا الله " سل ( ۱۰۰ ) ځله لُولئ . ځکه دا د هر دَرد . او هرے صَدمے لرے کولو واله عمَل دے .
- هره لَمحه " اَلله . الله " کوئ . ځکه دا اعلیٰ او صالِح عمَل دے .
- هره لمحه د سردارِ دُو عالَم اِمامُ الرُّسُل محمّدُ رّسولُ الله صلی الله علیٰ رسوله وسلم د مَسرُورلو له اَمله درود و سلام لولئ .
- دائمًا والِد او والده مَسرُوره کوئ ، د دواړو مدد کوئ . او د دواړو دُعا حاصلوئ .
- د الله او د رسول د اَعداؤ سره مسلسل مَعرکه کوئ . او د اهلِ اِسلام سره دائمًا صُلحه کوئ .
- د حسَد . مکاری . حرام کاری . ګمراهی او د دُهوکے معامله د ماحوله مَحوه کړئ . د ګمراه او دُهوکے واله سرو اِطلاع حاکِم له ورکړئ . د دے هر کس اَحوال معلوم کړئ . حاکِم او سَردار له دا حواله کړئ .
- عِلم حاصلوئ . ځکه د مکے مُکرّمے د دَور اوله وَخے هم د علم حاصلولو وه

- اے عُلماؤ ! د رسول الله صلی الله علیٰ رسوله وسلم د مُصلّے اِکرام کوئ، ځکه که کلامُ الله او کلامُ الرّسول سره مو د عوامو اِصلاح وکړه د الله مدد درسره ملګرے دے.
- اے مالدارو ! که وَس مو لرلو هر کال د الله کور (مکے مُکرّمے) له ورځئ، عُمره اَداء کوئ، او ورسره ورسره د هر مَحروم کس مدد هم کوئ.
- د الله د اَحکامو عُدول مه کوئ، ځکه الله د هَمه عالَم د هر اَمر مالِک دے.
- د طَمعِ او سوال کولو لرے اُوسئ، ځکه دا د رَسواء کولو او هلاکولو واله عمل دے.
- د هر مُسلم سره د وزور وَلی مُعامله کوئ، دده سره دُهوکه مه کوئ.
- آهمے مُعاملے صُلحِ او مُکالمو سره حل کړئ، او د مَعرکو کلکه ډډه اوکړئ.
- د اِسلام د اَهمو اَحکامو معلومولو له اَمله اولاد مَدرسو راولئ، ځکه مدرسه د اِسلام اَساس دے، مدرسه داسے واحده اِداره ده که د هر عالِم کِردار د عدل، صُلحِ او صِله رَحمی واله دے، او دده هر عمل د رسول الله صلی الله علیٰ رسوله وسلم د عمَل سره سَم دے، دا کمال د همدے مدرسے د دَرس دے، ځکه هر عالِم د رسول الله ددے ګدی او مُصلّے اِمام دے، د همدے اَمله الله دده دومره اعلیٰ اِکرام کړے.
- د کور والهؤ سره عُمده سلوک کوئ.
- د دَرد، صَدمے او مکروهه کارو سره حَوصله سالِمه لرئ.

- د حرام طعام واله کس دائمًا د الله د رحم و کرمه لرے دے ، د همدے آمله معده د حرام طعامه لرے أولرئ ، او دا د الله حکم هم دے .
- سلام عام کړئ ، د أمورو إصلاح اوکړئ ، دائِمًا صُلح کوئ .
- هر کس سره د عدل معامله کوئ ، او د عدل واله کلام کوئ ،
- د گمراهه ډَلو لرے أوسئ ، د عِلم سره عمل هم ملګرے کوئ .
- د مُسلِم ورور سره هره لَمحه مدد کوئ ، دده سره د رَحم مُعامله کوئ .
- د اَودس سره مسواک هم ملګرے کوئ .
- وړوکے هلک د مکّارو سړو سره مه ملګرے کوئ .
- د لَاحاصِله کاره لرے أوسئ .
- هره لمحه د الله د دَرګاهه دا سوال کوئ : اے الله ما سره د رَحم و کرم معامله اوکړه ، ما له عِلم سره د عمله را کړه ، د هر عُمده او صالِح کار کولو وَس را کړه ، ما د حاسِد د حسده لرے أولره ، حلال طعام را کړه .

اے الله ! ما د علماؤ سره ملګرے کړه ، د عِلم سره د عمَل کولو وَس هم را کړه ، ما د ګمراهه ډَلو لرے أولره ، ما له صالِح آولاد را کړه .

اے الله ! ما مُعلِّم او مُصلِح اوګرځوه ، د هر کار کولو سره د سلیے إرادے ملګرے کولو وَس را کړه .

اے الله ! ما د عِلم ، حِلم او کماله مَالَامَال کړه ، " لَا اِلٰهَ اِلَّا الله " او ورسره آوْرَاد ے مَعمول اوګرځوه .

اے الله ! ما له او ورسره کُلَ عالَمِ اِسلام له د دواړو عالَمو سُرور را کړه.

- اے د آدم اولاده ! دا هم واوره : که هر کس د کلامُ الله او د کلامُ الرّسول ددے مسائلو او احکامو مطالعه اوکړه، ده ددے اِحساس اوکړو، او ده دا عملًا اداء کړه دا اهلِ عِلمو کلام دے : دے کس د دواړو عالَمو اِکرام سُرُور او مُراد حاصل کړو :
- اول : د اسلام اَهم مسائل معلوم کړئ، لکه : د اودس مسائل، د وادهٔ مسائِل، د سُود مسائل، د حلالو او حرامو مسائِل.
- مالدارو له د حلالو او حرامو مسائل معلومول مُهِمه معامله ده.
- اے مالدارو ! د مَحرومو سره اَحوال معلوم کړئ. د هر کس کامِل مدد اوکړئ، او ورسره ورسره عُمده سُلوک هم ورسره کوئ.
- د همدردئ او صِله رَحمئ مُعامله کوئ،
- د کِردار او عمل اِصلاح اوکړئ. اعمالِ صالحه کوئ.
- د هر کس سره د رحم و کرم مُعامله کوئ. او د عالَم اِصلاح کوئ.
- هره لمحه او هر کار سره د اَهلُ الله ؤ دُعا حاصلوئ.
- هر کار د والِدا او والدے د صَلاح او دُعاؤ سره کوئ.
- د اَعداءُ الله ؤ د مَحوه کولو او ددے عالَمه د لرے کولو مُحکمه اِراده کوئ.
- گمراه کس د حرامو کارو محرومه کړئ.
- هر کس له د اسلام د اَهمو احکامو اِطلاع ورکړئ.

- ساده طعام او ساده کلام کوئ.
- دکلاؤ هوا او ساده ماحول حاصلولو اِراده کوئ.
- هره لمحه حَمد او دُعا کوئ. ځکه د حمد او دُعا سره د الله مدد ملګرے دے.
- د علماؤ اِکرام کوئ.
- د اسلام مُسلّح عسکر آماده کوئ، او وَده ورکوئ.
- د الله د کور، د مدرسے، او علماؤ سره مدد کوئ. اول د علماؤ کلام واورئ. او ورسره ورسره دا عملاً هم اداء کړئ.
- ددے رسالے د اولے حصے حاصل دادے:

که هر کس د الله د اَحکامو اِحساس وکړو، د کلامُ الله او کلامُ الرّسول سره دَه واسطه مُحکمه کړه، او د " لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه " کلمه دَه عملاً لوَړه کړه، لَا محاله (هَرُو مَرُوْ) دَه د دواړو عالَمو سُرور حاصل کړو، اوس دا کس که هر ځای ؤ د الله رحم و کرم دده ملګرے دے، دا سے کس له الله د دَارُ السّلام (دَارُ السُّرور) د حُورُو ورکولو وعده کړے، او الله د دا سے کس د اعمالو، اَحوالو، عِلم و عمَل، مُعاملو، مُکالمو او د هر عمل د اِسلام د اَحکامو سره د سَمولو وعده کړے.

- اَلحَمْدُ لِلّٰه، دا ددے رسالے اوله حصه دَه، دا رِساله دے ځای له رارسولو سره اوس دا همدے ځای اُودروم، ځکه د مدرسے مُعلِّم له د دَرس او اَهمو

کارو سره دا سے د کماله ډَکه رِساله کاملول د سَردردی عمَل دے . که الله رحم و کرم اوکړو د همدے لړی سره سَم ددے رسالے د لسو ( ۱۰ ) حصو کاملولو اِرادہ لرم . ددے رِسالے مُحرِّر له دُعا کوئ .

**د دُعاؤ سائل** :

نورالهدیٰ

د مدرسے مُعلِّم

**اطلاع** : ددے رِسالے د اَهمے اِصلاح له اَمله ما له اِطلاع را کړئ ، ما آگاه کړئ ، او ورسره ورسره د مُحرِّر دُعا هم حاصله کړئ .

# په پښتو اَدبي ژبه کې د " یا " اَقسام

په پښتو ژبه کې دا " یا " کومکي حرف دی ، ددې څلور غټ قِسمونه دي :

۱. څرګنده یا " ي "

۲. مجهوله یا : " ې "

۳. نرمه یا : " ی "

۴. زورکی واله یا : " ۍ ، ئ "

دا ضروري نه ده چې د هرې یا د لاندې دې ټکي وي ، بلکه په پښتو اَدب کې د نرمې یا " ی " ، او زورکی واله یا " ۍ ئ " د لاندې ټکي نه لیکل کیږي ، البته د څرګندې یا " ي " او مجهولې یا " ې " د لاندې ټکي لیکل کیږي . بیا د هرې یا د پاره خپل خپل ځایونه دي . (۱)

**څرګنده یا** : د څرګندې یا " ي " نه مخکې چې کله خالِص او درُوند زېر وي نو دا ډکه او دَرنه ویل کیږي ، او ددې د لاندې دوه ټکي وي دا دکلمې په مینځ او آخر دواړو کې راځي ، په پښتو اَدب کې دا په پنځو ځایونو کې استعمالیږي :

۱. اصلي څرګنده یا " ي " . دا د مفرد نومونو او صفتونو په آخر کې د مؤنث نخه ده لکه : بِیاتي ، دوستي ... وغیره .

۲ . غیر اصلي څرګنده یا " ي " . دا د نومونو په آخر کې د نسبت د پاره راځي لکه : چرسي ، بنګي ... وغیره .

۳ . د نومونو په آخر کې د جمع مذکر نخه ده لکه : منګي ، لرګي .. وغیره .

(۱) پښتو ګرامر . د پوهاند صدیق الله رښتین کتاب ص ۳۰ ، ۴۱ ، او ص ۳۹۶ .

۴. د فعلونو په آخر کې ضمیر متصل غائب دی لکه. کیني، پاڅي ..
وغیره.

۵. د ځینو مرکبو صفتونو په آخر کې د مجرد صفت نخه ده لکه: سپین سترګي، خوابدي... وغیره.(۱)

**مجهوله یا**: مجهوله یا "ې" هم د کلمې په مینځ او آخر دواړو کې لیکل کیږي. په مینځ کې د راتلو مثال لکه: هېر، تېر- او په آخر کې د راتلو مثال لکه: پنړې، منړې.

ددې یا د لاندې هم دوه ټکي لاندې باندې په اوږدو لیکل کیږي "ې".

په پښتو ادب کې دا مجهوله یا په درې (۳) ځایونو کې استعمالیږي:

۱. د مفرد نومونو په آخر کې دا د مؤنث نخه ده لکه: ورغومې، ملګرې، ناوې... وغیره

۲. د جمع نومونو په آخر کې د جمع مؤنث نخه ده لکه: ښځې، لمنې.

۳. د فعلونو په آخر کې د مفرد مخاطب ضمیر دی لکه: راغلې، لاړې.

**نرمه یا**: د نرمې یا "ی" د لاندې ټکي نه لیکل کیږي، دا نرمه اداء کیږي. په پښتو ادب کې دا په اووه (۷) ځایونو کې استعمالیږي:

۱. اصلي ساکنه یا "ی" د نومونو په آخر کې د مذکر والي نخه ده لکه: منګی، لرګی... وغیره.

۲. غیر اصلي یا "ی" د صفتونو په آخر کې د نسبت د پاره راځي لکه: کابلی، پېښوری... وغیره.

(۱) پښتو ګرامر . د پوهاند صدیق الله رښتین کتاب ص ۳۹۷ .

۳ . د ځنې نومونو په آخر کې دا " ی " د تصغیر د پاره راځي لکه : هلکی، ټوپکی ... وغیره .

۴ . د مرکبو صفتونو په آخر کې د نسبت نخه ده لکه : سپین ګیری ، پی‌مخی .... وغیره

۵ . د مصدرونو او فعلونو په‌آخر کې د فعلي صفت نخه‌ده لکه : تللی ، راغلی ، وهلی ... وغیره .

٦ . د ځنې مصدرونو په آخر کې د حاصل مصدر نخه‌ده لکه : ورکاوی ، خلاصی ... وغیره .

۷ . د صوتونو په‌آخر کې د صوتي نخه‌ده لکه : دربی ، شرنګی وغیره .(۱)

په دې اووه واړه ځایونو کې د دې نرمې یا " ی " د لاندې ټکي نه‌لیکل کیږي .

**زورکۍ واله یا** : د زورکۍ واله‌یا په‌دوه صورتونو لیکل کیږي :

۱. " ۍ " ۲ . " ئ "

دا یا په‌ځلورو ځایونو کې استعالیږي :

۱ . اصلي " ۍ " د نومونو په‌آخر کې د مؤنث والي نخه ده لکه : چوکۍ . خولۍ ... وغیره .

۲ . د ځنې نومونو په‌آخر کې د جمع مؤنث نخه‌ده لکه : ودانۍ ، آبادۍ .

۳ . د مغیره حروفو د راتلو په‌وخت اعرابي نخه‌ده لکه : له‌خوارۍ نه .

۴ . د فعلونو په‌آخر کې د جمع مذکر ضمیر دی لکه : راځئ ، کینئ . (۲)

---

(۱) پښتو ګرامر د پوهاند صدیق الله ریښتین کتاب ص ۳۹٦ .

(۲) پښتو ګرامر . د پوهاند صدیق الله ریښتین کتاب ص ۷۳۹ .

په امر کې د جمع مخاطب د پاره په آخر کې دا د همزې واله یا ''ئ '' لیکل کیږي لکه: اوساتئ، اودریږئ، ویښ شئ، پاک کړئ، اولولئ .وغیره.(۱)

**یوه ضروري تنبیه**: چونکه د نرمې یا '' ی '' نه لاندې په اُووه (۷) ځایونو کې ټکي نه لیکل کیږي، خو چې چا د پښتو اَدب نه وي ویلی هغه دا فرق نشي کولې چې دا نرمه یا په کومو ځایونو کې لیکلې شي نو ما (ابوالشمس) صرف په دې بې نُقطو رساله (د عِلم او کماله ډَکه رساله) کې د آسانی په خاطر باندې د نرمې یا په ځایونوکې د پاکستان د پښتو ادب موافق دا پرته یا '' ے '' لیکلې ده، ځکه ددې '' ے '' نه لاندې ټکي بالکل نشي لیکلی. البته د زورکی واله یا '' ی، ئ '' مې په هماغه خپل اَدبي شکل کې لیکلی.

ابوالشمس عفي عنه

(۱) پښتو گرامر . د پوهاند صدیق الله ریښتین کتاب ص ۳۱۳، ۳۱۴.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# د خوشحالۍ خبر

اِنۡ شَاءَ الله **اووم جلد** به هم په نږدې وخت کې راأووځي ، په هغې کې به د مونځ ، روژې ، حج ، اختر ونو ، جهاد او نورو اَهمو موضوع گانو باندې د فقهي مسائلو سره سره تفصيلي تقريرونه وي ، باقي پاتې موضوع گانې به اِن شاء الله په وروستيو جلدونو کې اُوليکم .

الله رب العزت دې دا کتابونه د خپلې رَضا ذريعه اوگرځوي ، پروَردِگارِ عالَم دې دا د معاشرې د اِصلاح سبب اُوگرځوي ، او رَبِّ لايَزال دې دا کتابونه زما ، زما د والدينو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مسلمه د پاره د مغفرت او نِجات ذريعه اوگرځوي

آمِيۡن يَارَبَّ الۡعَالَمِيۡن .

رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّا إِنَّكَ أَنۡتَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ

په خپلو مقبولو دُعاگانو کې مو مه هېروئ .

ستاسو ورور

**ابوالشمس نُورالهدیٰ عفی عنه**

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې نمبر رابطه کولې شئ .

موبائل نمبر : ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

# خوشخبري

(دتقريرونو دويمه سلسله)

دتقريرونو دا اوله سلسله په همدې پنځلسم جلد باندې پوره شوه. ددينه پس به اِن شَاءَ الله دتقريرونو يوه بله سلسله شروع کوم، دهغې نوم به وي:

## ”دتقريرونو مُدَلَّلــهُ ذَخيره“

په هغې کې به هم په مختلفو موضوعګانو باندې هم دغه شان تفصيلي، مُدلَّل او جامِع تقريرونه وي، هغه سلسله به داول جلد نه شروع کيږي.

ابو الشمس مولانا نورالهدا عفی عنه
موبائل نمبر: ۰۳۰۶-۵۴۴۷۱۷۴

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797